د خوشال خان خټک د زوکړې د څلورسومې کالیزې په ویاړ



# ننګیالی د زمانې



ليکوال

سرمحقق زلمی هیوادمل

۱۳۸۰ ل کال

سرلیک | مخ


ز: ترکیب بند ۲۲۶

د خوشحال خان د سبك پیروان

۱- اشرف خان هجري ۲۴۸

۲- عابد خان ۲۴۹

۳- عبدالقادر خان ۲۴۹

۴- سکندر خان ختك ۲۵۲

۵- صدر خان ختك ۲۵۲

۶- گوهر خان ختك ۲۵۳

## اتم څپرکی

مفکر، عالم او فیلسوف خوشحال خان ۲۶۲

الف: د یني او فقهي علوم ۲۶۳

ب : تصوف ۲۶۳

ج: اخلاقي مضامین ۲۶۴

د : طب ۲۶۴

ه : هیئت او نجوم ۲۶۵

و : جغرافیا ۲۶۶

ز: تاریخ ۲۶۷

ح: اتنو گرافي او اتنولوجي ۲۶۸

ط: کلتوري انترو پالوجي ۲۶۸

ی: باز داري ۲۶۹

ك : حربي مسایل ۲۷۰

ل: ادبپوهنه ۲۷۱

۱- د ښوونې او روزنې نظریه ۲۷۳

۲- ملي نظریه ۲۷۶

۳- انتقادي مفکورې ۲۷۸

الف: سیاسي انتقادونه ۲۷۸

ب : اجتماعي انتقادونه ۲۸۰

ج: پر ځان انتقاد ۲۸۳

نتیجه او وړاندیزونه ۲۸۷

ماخذونه ۲۹۴

# دخپرندویې ټولنې یادښت

دافغانستان دکلتوري ودې ټولنې ـ جرمني لپاره دډېرې خوښۍ ځای دی چې دافغانستان دنومیالي لیکوال اوسترنابغه افغان. خان علیین مکان سترخوشال بابا د زوکړې دڅلورسومې کلیزې په ویاړ، د هېواد د نومیالي لیکوال ښاغلي سرمحقق زلمي هېوادمل دااثر(ننګیالي دزمانې) خپروي.

لکه څنګه چې څرګنده ده خوشال بابا نه یوازې دزمانې یوسترننګیالی و، بلکې یوسترفرهنګیالی هم و. بابا د پوهې، سیاست، هنراو ادب یوه لویه خزانه وه. دنړۍ ددغه سترعظیم شاعراومفکرپه باب تراوسه په سلګونوکتابونه اوپه زرګونومقالې لیکل شوي خوبیاهم دځان دژوند ټول اړخونه رابرسېره شوي نه دي اونورو څېړنو ته هم اړتیالري.

ښاغلي سرمحقق زلمي هېوادمل په یوه بې ساري زیاراو هڅې د خوشحالپوهنې په لړکې دادی یربل ګټورګام پورته کړ او داسې یو جامع اثریې ولیکه چې هم عامولوستونکوته خورا ارزښتمن دی اوهم د پوهنتون ځانګوالو محصلینوته ځانګړی ارزښت لري.

ددې اثرپه چاپ سره به د ژبو او ادبیاتو پوهنځي دمحصلینوهغه ربړه هم ترزیاته بریده حل شي چې د(خوشال پېژندنې) مضمون په برخه کې یې دیومنظم، سیستماتیك اوتدریسي کتاب دنشتوالي له امله درلودله.

موږ په داسې حال کې چې ښاغلي سرمحقق زلمي هېوادمل ته ددې کتاب دچاپ له امله مبارکي وایو، دکاراوزیارستاینه یې کوو. درنولوستونکو هم ته دیو ټکي یادول ضروربولواو هغه داچې داکتاب موږ یوځل له سریزې اواصل متن سره کمپوزکړ او بیامو په تریس کاغذ

كې راوويست، خو چاپ ته لاتللى نه و چې دبناغلي مولف له خواپه سريزه كې نوي معلومات زيات شول، ياني دپخوانی سريزې پرځاى دا اوسنی سريزه له كتاب سره مل شوه.

ددې نوې سريزې په يوځاى كېدو سره دكتاب داخځونوپه تسلسل كې بدلون پيښېده اودې سره موږ اړ وو دكتاب په كمپوزكې له سره بدلون راولو. دوخت اوكمپوزلګښت دسپما په خاطر اړ شو داخځونوتسلسل پرپخواني حالت پرېږدو، ياني داچې دعمومي اخځونوپه تسلسل كې چې دكتاب په پاى كې راوړل شوي تر(٧) شمارې اخځونه په پخوانی سريزې پورې اړوند دي چې ځينې يې په نوې سريزه كې هم راغلي خوپه تسلسل نه. خوتر(٧) شمارې وروسته اخځونه دكتاب له اصلي متن سره ښځي منظم دي او دنوې سريزې اخځونه دسريزې په پاى كې راغلي دي.

هيله ده درانه لوستونكي اوپه تېره بيا څېرمن څېړونكي دا تكى يوه تخنيكي نيمګړتيا وبولي نه علمي.

په درنښت

دافغانستان دكلتوري ودې ټولنه

# سریزه

د خوشال قدر که اوس په هیچا نشته
پس له مرګه به یې یاد کا ډېر عالم
(خ.خ.خ)

خوشحال خان ختک چې په لوړ بیت کې د ځان په باب کومه پیشبیني کړې ده ، هغه ډېره سمه وخته او ترمړینې وروسته یې په راوروسته دریو پېړیو کې بر خپلو خلکو سربېره د نړۍ ډېرو خلکو وپیژاند او د ده په خپله اصطلاح ډېر عالم یاد کړ.

د خوشحال خان تر مړینې لږ وروسته یې لمسي افضل خان ختک په تاریخ مرصع کې دده د ژوند پېښو په باب ان تر مړینې ډېرې خبرې وکښلې او د تاریخ مرصع تر بشپړېدو (۱۱۳۶ هـ ق ) کابو پنځه شپږ کاله وروسته ، د پښتو تر اوسه ښکاره منظمه تذکره پټه خزانه (د تالیف وخت ۱۱۴۱-۱۱۴۲ هـ ق ) کې د خوشحال خان احوالو ځای وموند.

د نولسمې پېړۍ په اوایلو کې چې افغانستان ته د انګرېزانو مخه شوه ، ددغو ځینو انګرېزانو او بیا وروسته د نورو اروپایانو په اثارو کې د خان په باب یادونې ، څېړنې او تبصرې نشر شوې . دده اثار په نورو ژبو ترجمه شول او په غرب کې د شرقي اثارو لوستونکي د خان له نامه او مفکورو سره اشنا شول

په اروپایي پوهانو کې مونت ستوارټ الفنستن ( ۱۷۷۹-۱۸۵۹ م ) غالباً لومړنی اروپایي پوه دی ، چې د خان ځینې اثار یې په انګرېزي وژباړل او دده په باب یې ځینې یادونې خپرې کړې د الفنستن دغه پیل کړی کار په نولسمه پېړۍ کې د انګرېزانو او نورو اروپایانو له خوا ښه وپالل شو او په شلمه پېړۍ

کې يې ساحه پراخه شوه او د ختيځپوهنې په ځينو اروپايي، امريکايي او اسيايي ځانګو کې د پښتو د تدريس او تحقيق په ترڅ کې دخوشحال خان خټك مطالعه هم مزې رواڼه شوه او تر اوسه لا يو ځای نيم جريان لري.

دختيځپوهنې په ځانګو کې د خوشحال خان د ژوند او اثارو دڅېړنې په ترڅ کې دده اثار هم په ځينو اروپايي او اسيايي ژبو وژباړل شول. ختيځپوهانو په انګرېزي ، روسي ، فرانسه يي، جرمني، ډنمارکي، ناروېژي، چکي، ازبکي ، پولينډي او ايتاليايي ژبو د خان په باب يادونې او څېړنې کړې دي او دده دکلام منتخبات يې لږ و ډېر پرې ژباړلي دي.

د شلمې پېړۍ په دويمه لسيزه کې په اوسني افغانستان کې د خوشحالپوهنې مطالعات پيل شول.

اروابناد غلام محی الدين افغان (۱۲۷۹-۱۳۳۹ هـ ق) په ۱۲۹۴/۱۹۱۵ م کال د (حالات خوشحال خان ختك) تر عنوان لاندې مقاله وليکله او په همدې کال په سراج الاخبار افغانيه کې خپره شوه . دا مقاله د ده د اثارو په مجموعه کې هم راغلې ده. (۱) د افغان تر مقالې څو کاله وروسته په معاصر افغانستان کې کښل شوې د افغاني شاعرانو او فاضلانو تذکره (سکينة الفضلا) يا بهار افغاني کې هم خوشحال خان ته ديو افغان شاعر په توګه ځای ورکړل شو (۲) دخوشحال خان په باب د سکينة الفضلا ماخذ هم د اروابناد غلام محي الدين افغان يوه ليکنه ده. د پښتو د ادبي تاريخ د منابعو پېژندنه او ارزيابي نومي اثر په ۴۳۴ مخ کې راغلي دي:

((ما په متن کې ليکلي دي ، چې مولانا دسکينة الفضلا مولف مولانا عبدالحکيم رستاقي د خوشحال خان په باب مطالب د غلام محي الدين افغان د سراج الاخبار له ليکنې اخيستي دي، دا خبره سمه نه ده د سرحد ازاد په مجله کې يې د ده له خپرې شوې مقالې استفاده کړې ده)) دا يادښت يو بل ځرك هم په لاس راکوي او هغه دا چې اروابناد افغان سرحد ازاد ته هم د خوشحال خان په باب مقاله ورکړې وه. نو پدې توګه وينو چې د معاصر دوران افغانستان کې خوشحالپوهنه افغان پيل کړې ده.

د افغان لهخوا د خوشحال دمطالعاتو پر دې ابنې خښته وروسته نورو

افغان پوهانو ، فرهنگیانو او د فرهنگ د لارې لارویانو د خوشحالپوهنې مانۍ ودانه کړه ، په لسګونو کتابونه ، رسالې په سلګونو مقالې او یادښتونه ، دخوشحال خان په باب په نورو ژبو د کښل شویو اثارو ترجمې ، دخان خپل اثار او نور په افغانستان کې خپاره شول ، د پرو تذکرو ، سیاسي او ادبي تاریخونو ته د خوشحال نامه او کارنامو لاره پیداکړه . د ادبیاتو پوهنځي په پښتو څانګه کې د خوشحالپوهنې څوکۍ پرانیستل شوه او خوشحالپوهنه د یوه ځانګړي مضمون په توګه د څانګې په درسي نصاب کې ومنل شوه . باید وواېو چې په افغانستان کې د خوشحالپوهنې کارونه په پښتو او دري ژبو شوي دي ،دتاریخي افغانستان په شرقي برخو( اوسنی پښتونخوا ) کې دخوشحال خان مطالعه تر اوسني افغانستان لږ وروسته پیل شوې ده ، زمادمعلوماتوله مخې اروابناد پروفیسورعبدالمجید افغاني (۱۸۸۲_۱۹۴۷م) لومړنی افغان دی چې په دې سیمه کې یې دخوشحال خان د مطالعې کار پیل کړی دی . ده د خان د کلیات هغې چاپي نسخې ته یوه مقدمه لیکلې ده ، چې په ۱۹۲۹ م کال په رحماني پریس خواجه ګنج هوتي کې چاپ شوې ده . پر دې نسخه د پروفیسور افغاني ۸ مخیزه مقدمه راغلې ده (۳) .

تر دې مقدمې وروسته په ټوله پښتونخوا کې د خوشالپوهنې کارونو پراختیا پیدا کړه ، د خوشحال خان خپل اثار ، دده د اثارو تر جمې چاپ شول او د خان پر ژوند ، اثارو او افکارو کتابونه ، رسالې او مقالې ولیکلې شوې ، د پېښور پوهنتون د پښتو څانګې د ماسترۍ (M.A) د تحصیلي دورې په درسي نصاب کې د خوشحال خان مطالعه مضمون شامل کړای شو .

د ۱۹۸۰ م کال د اپرېل پر دویمه د (خوشحال ریسرچ سل ) په نامه د خوشحالپوهنې دیومرکزبنسټ کېښودل شواوپه ۱۹۸۲م کال کې یې دپېښورپښتواکاډمۍ دننه په کارپیل وکړاود ۱۹۸۴م کال له پیله یې د (خوشحال ریویو) په نامه یوه دري میاشتنۍ څېړنیزه مجله هم خپره کړه (۴) .

په پښتونخوا کې د خوشحالپوهنې په اړه اثار ، په پښتو ، اردو او انګرېزي ژبو لیکل شوي او خپاره شوي دي .

د هند په نیمه وچه کې دخوشحال مطالعه له پښتونخوا سره کابو یو وخت

درې

# ننګیالي د زمانې

PROPERTY OF ACKU 9764

لیکوال

سرمحقق زلمی هیوادمل

PROPERTY OF ARIC Established 1988

۱۳۸۰ ل کال

پیل شوي ده. علامه اقبال لاهوري (۱۸۷۳ یا ۱۸۷۷ - ۱۹۳۸ م) لومړنی هندوستانی عالم دی، چې د خوشحال خان په باب یې په انګرېزي ژبه یوه مقاله لیکلې او نوم یې ورته ایښی دی، (افغان جنګیالی شاعر خوشحال خان ختک) دا مقاله په حیدراباد دکن کې دخپرېدونکي islamic culture نومې مجلې د ۱۹۲۸ م کال د جولای په ګڼه کې چاپ شوې ده.

د علامه اقبال لاهوري د مقالې د نشر پرکال ۱۹۲۸ م مېرمن خدیجه بېګم فېروز الدین په پنجاب کې پر خوشحال بابا کار شروع کړ او د خپلې د کتوری (PH.D) تیسس یې په انګرېزي ژبه د خوشحال خان پر ژوند او کار باندې لیکلی دی.

دا تیسس پر خوشحال خان لومړنی لیکل شوی تیسس دی، چې له نه کلن کړاو وروسته یې بشپړ کړی دی.

دا تیسس دوې برخې لري، لومړۍ برخه یې لس فصله لري، چې دوه یې د خان پر کورنۍ او اسلافو دي او اته بابه یې د ده پر ژوند لیکلي دي، چې له زوکړې تر مړینې ټول حالونه را چاپېروي.

علامه اقبال له دې تیسسه خبر و او مېرمن خدیجې ته یې د دې تیسس په باب مشورې هم ورکړې وې. لکه چې خدیجې د تیسس په مقدمه کې لیکلي دي: (( زما بلبه مجبوري ذاتي نوعیت لري او هغه دا چې د خدای بخښلي سر محمد اقبال سره د یوې وعدې له کبله پدې پړه وم چې زه به د خوشحال په سیاسي سرګرمیو یو باب په خپله مقاله کې ځایوم. زه امید لرم چې زما دغه ارتکاب جرم به قابل معافي وګڼلی شي )) (۴).

په دې ډول په تېرو دوو پېړیو کې په ختیځ کې د خوشحال خان ختک په باب کارونه پیل شول. دغه کارونه زیاتره په علمي او تحصیلي موسسو او اکادیمیو کې سرته ورسېدل. منفردو اشخاصو هم برخه پکې واخیسته. په پښتونخوا او افغانستان کې ځینو تعلیمیافته افغانانو د خوشحال خان په نامه ځینې فرهنګي موسسې او ټولنې هم جوړې کړې چې خپل فرهنګ ته د نورو کارونو تر څنګه د خان په باب هم کارونه وکاندي، لکه:

۱/ خوشحال اکادمي، چې بنسټ یې په ۱۹۵۱ م کال په اکوړه کې ایښودل

شوی دي او د (پاکستان ، خوشحال ادبي جرګه) د ننه فعالیت کوي. دا جرګه او اکادمي مشاعرې او غونډې جوړوي او ځینې اثار خپروي.

دخوشحال خان طب نامه (دښاغلي همېش خلیل ترتیب) همدې اکادمي او جرګې چاپ کړې ده. (فرهنګ ادبیات پښتو ۹۳/۳۰ )

۲/ مرکزي خوشحال ثقافتي او ادبي جرګه ، یوه بله فعاله ټولنه ده چې دا هم په اکوړه کې جوړه شوې ده. دا ټولنه ډېره فعاله ده ، ډېرې غونډې، سیمینارونه اومشاعرې یې جوړې کړې دي. د خان په باب یې اثار خپاره کړي دي. د (پلوشه) په نامه یوه کالنۍ خپرونه هم لري .

۳/ خوشحال فرهنګي ټولنه ، دا ټولنه په ۱۳۶۹ / ۱۹۹۰ م کال په کابل کې جوړه شوه. د شمشاد په نامه شپږ میاشتنۍ خپرونه لري. دنورو فرهنګي کارونو تر څنګه د خوشحالپوهنې مطالعاتو ته هم توجه لري.

د خوشحال خان ختک په باب او دده په درناوي د یاد غونډو، مشاعرو او سیمینارونو جوړول هم د شلمې پېړۍ له دېرشمو کلونو را پیل شوي دي ، په پښتونخوا کې دا لړۍ نو ښار پښتو ادبي جرګې ( دجوړېدو کال ۱۹۳۲ م ) له خوا رانښلول شوې ده . دې جرګې د خوشحال خان ختک پر مزار یا د غونډې او مشاعرې جوړې کړې (۵) او د دغو مجالسو رویدادونه ،مقالې او شعرونه یې چاپ کړل.

د ۱۹۵۱ م کال دجون په میاشت کې انجمن نو جوانان مصنفین په دهلي کې د خوشحال خان ختک ، کنفرانس دایر کړ، کنفرانس دوې ورځې روان و.

په افغانستان کې د خان په باب د سیمینارونو سلسله د شلمې پېړۍ په شپېتمو کلونو کې پیل شوې ده په ۱۳۴۵ هـ ش / ۱۹۶۶ م ، ۱۳۴۸هـ ش / ۱۹۶۹ م ، ۱۳۵۸هـ ش /۱۹۷۹م کال په کابل کې دخوشحال خان درې بین المللي سیمینارونه دایر شوي دي. دخوشحال خان ددرې سوم تلین په مناسبت د کابل تر څنګه په پېښور کې هم یو علمي سیمینار جوړ شو.

دهمدغو پېژندنو او څېړنو په بهیر کې دخوشحال خان ختک نامه د ختیځ او لویدیځ دایره المعارفونو او فرهنګونو ته هم لاره پیدا کړه او د شرق د یوه کلاسیک شاعر په توګه یې دمقام دتثبیت لپاره لومړني ګامونه واخیستل

شول، د ساري په ډول موږ په دې برخه کې دا لاندې دايره المعارفونه او فرهنګونه يادولای شو، چې د خان يادونه پکې شوې ده:

- اريانا دايره المعارف: دري او پښتو دواړو ايډيشنونو کې د خان يادونه راغلې دي (٧)
- اردوانسايکلوپيډيا: فيروز سنز لاهور، د ١٩٦٨ م کال چاپ.
- اردو دايره المعارف اسلاميه، په پنځم او نهم ټوکونو کې د خوشحال خان ختک په باب مواد او مطالب خپاره شوي دي (٨).
- شوروي تاجيک انسايکلوپيډيا کې د خان يادونه د افغانستان تر نامه لاندې د افغانستان په ادبياتو کې شوې او په ځانګړې ډول يې د شرق د يو ستر افغان شاعر په توګه هم يادونه راغلې ده (٩).
- د ازبکستان دايره المعارف کې خوشحال د يو ستر افغان کلاسيک شاعر په توګه پېژندل شوی دی.
- د انشنامه ادب فارسي، په دريېم ټوک کې پر خوشحال خان ختک يو اوږد بحث راغلی دی. (١٠).
- انسايکلو پيډيا اف اسلام: د دغه دايره المعارف په پنځم ټوک (١١) کې يې په ځانګړي ډول معرفي کړی دی. او فقيد پروفيسور مارګنستيرن د افغان تر نامه لاندې د پښتو ادبياتو په بحث کې خان د افغانستان دملي شاعر په حيث ياد کړی دی (١٢).
- په ستر روسي دايره المعارف کې هم د خان احوالو ته ځای ورکړل شوی دی. مېرمن ارونووا او فقيد ګيورګ فيودو رو ويچ ګيرس ورته دا احوال ليکلي دي (١٢٧١ - ١٢٧٢ مخونه).
- د اسيا او افريقا د ليکوالو فرهنګ: دا فرهنګ په دوو ټوکونو کې په چکي ژبه چاپ شوی دی. د افغانستان د ليکوالو او شاعرانو برخه يې پروفيسور دوکتور ژيري بچکا ليکلې ده. ددې فرهنګ په لومړي ټوک کې هم د خوشحال خان پېژندنه راغلې ده (١٣).
- د شرقي ادبياتو فرهنګ: په دې فرهنګ کې د پښتو د زړو شاعرانو احوال دوکتور ميکنزي لکيلي دی، په دې فرهنګ کې د خوشحال

خان لنده پېژندنه راغلې ده (۱۴) . دا فرهنګ په انګرېزي ژبه دی. د شلمې پېړۍ په جریان کې په ځینو پوهنتونونو کې د P.H.D (دوکتورۍ) د دورې ځینو محصلانو ته د تیسس لپاره پرخوشحال خان باندې موضوع ټاکل شوې ده . پر خوشحال باندې لیکل شوي ماته معلوم تیسسونه دا دي:

- د خوشحال خان خټک ژوند او کارونه : د مېرمن خدیجه فېروزالدین لکه چې دمخه یې هم یو ځای یادونه وشوه پر خوشحال خان کښل شوی ، لومړنی تیسس دی، چې د بشپړېدو کال یې پروفیسور پریشان خټک په پشتون کون ؟ (۱۳) کې ۱۹۴۲ م ښودلی دی. ما خپله پردې تیسس کومه سنه نه کړه پیدا . دوکتور اقبال نسیم خټک چې ددې تیسس مقدمه پښتو کړې ده، پدې مقدمه کې راغلي ، چې خدیجه بېګم فېروز الدین پر خوشحال خان خټک دا کار په ۱۹۲۸ م کال کې پیل کړی او له نه کلن کړاو وروسته یې بشپړ کړی دی.(۱۵) . چې په دې حساب یې د بشپړ ېدوکال باید ۱۹۳۷ شاو خوا وي . خو په همدې مقدمه کې مېرمن خدیجه علامه اقبال لاهوري مرېاد کړی دی . څنګه چې د علامه د مړینې کال ۱۹۳۸ م دی ، نوکیدای شي چې داتیسس دې په ۱۹۲۸م کې پیل شوی وي ، خوپای ته رسېدل یې تر۱۹۳۸م کال وروسته دي. مېرمن خدیجه خپل تسس په انګرېزي ژبه لیکلی دی.
- د افغان کلاسیك شاعر خوشحال خان خټك ژوند او هنري تخلیق : داروانښاد پوهنوال دوکتور ګل محمد نورزي د P.H.D تیسس دی چې په ۱۹۶۹ م کال بشپړ شوی دی او د مسکو دولتي پوهنتون ورته پرې (دوکتورۍ) ورکړې ده . دا تیسس په روسي ژبه لیکل شوی دی.
- خوشحال او جمالیات : د دوکتور اقبال نسیم خټك د P.H.D د تیسس عنوان دی ، چې د پېښور پوهنتون د پښتو اکادمي له خوا چاپ شوی دی.
- د خوشحال خټك لیریك : د ښاغلي پلوین میخاییل سرګیویچ د

P.H.D تیسس دی ، چې په ۱۹۹۲ م کال بشپړ شوی دی. او د سان پتربورګ د دولتي پوهنتون له خوا ورته پرې دوکتوري ورکړل شوې ده. دا تیسس هم په روسي ژبه دی. ددې تیسس یوه درنه برخه په یو پنډ کتاب کې په ۲۰۰۱ م کال ( د خوشحال خان ختك) په نامه په سان پترېورګ کې چاپ شوې ده.

د خوشحال خان څېړنې او خوشحالپوهنې په دې کابو درې سوه کلن بهیر کې د خوشحال خان نامه ډېرو تاریخي ادبي او فرهنګي څېړنیز و اثارو ته لاره پیدا کړې ده. په سلګونو مقالې یادښتونه او تبصرې پرې لیکل شوي دي. دغه مقالې که د خان په باب ځانګړیو غونډو ته لیکل شوې ، که سیمینارونو ته او یا ځانګړې ، ډېرې زیاتې دي. خو ددغو مقالو ځینې مجموعې چاپ دي، چا د خپلو مقالو په مجموعو کې د خوشحال خان په باب مقالوته ځانګړې ځای ورکړی دی. د خوشحال خان په باب د مقالو چاپ شوې مجموعې دادي:

- ښاغلی پښتون: دامجموعه په ۱۹۴۰ م کال د نوښار ادبي جرګې له خوا د محمد نواز خان ختك په اهتمام چاپ شوې ده (۱۶). پدې مجموعه کې د خان په باب د اروابناد سید رسول رسا ( ۱۹۱۰-۱۹۹۰ م ) یوه اوږده مقاله او د ځو شاعرانو شعرونه چاپ شوي دي(۱۷).
- د توري او قلم خاوند: د خوشحال خان د مزار د افتتاحي تقریب د تقریرونو ، مقالو او د مشاعرې د نظمونو مجموعه ده. مزار د ۱۹۴۹ م کال د مئ ۸ مه پرانیستل شوی و . دا مجموعه اروابناد محمد نواز خان ختك (۱- ۱۹۸۲ م ) تدوین کړې ده او تر (۱۹۶۱م کال پورې درې ځله د اداره اشاعت سرحد پېښور له خوا چاپ شوې ده.
- پختون اعظم: دا مجموعه د هغه کنفرانس د مقالو ، پیامونو او شعرونو مجموعه ده ، چې د ۱۹۵۱ م کال د جون پر ۱۳-۱۴ مه د دوو ورځو لپاره د انجمن نو جوان مصنفین له خوا د خوشحال خان

ختټك په باب په دهلي کې داير شوی و. پختون اعظم نومې مجموعه په ۱۹۵۱ م کال په دهلي کې چاپ شوې ده.

- ننګيالی پښتون: د خوشحال خان ختټك د نړيوال سيمينار د مقالو مجموعه ده. دامجموعه په ۱۳۴۵ هـ ش کال په کابل کې چاپ شوې ده.

- توريالی پښتون: دخوشحال خان د دويم نړيوال سيمينار د مقالو مجموعه ده. دا سيمينار په ۱۳۴۵ هـ ش کال داير شوی و، دمقالو مجموعه يې د توريالي پښتون په نامه په ۱۳۵۰ م کال په کابل کې چاپ شوه.

- فرهنګيالی پښتون: د خوشحال خان د دريم نړيوال سيمينار (په ۱۳۵۸ هـ ش کال په کابل کې داير شوی) د مقالو مجموعه ده، دا مجموعه په ۱۳۵۹ هـ ش کال استاد حبيب الله رفيع ته د بيا کتنې او چاپ ته اماده کولو په منظور ورکړل شوه. د فرهنګيالي پښتون دا نوم هم دوی ورته خوښ کړی و، خو کله چې رفيع صاحب مهاجر شو، نو بيا دا مجموعه ښاغلي عبدالواجد ته وسپارل شوه، خو چاپ شوې نه ده.

- خوشحاليات: پدې مجموعه کې دخوشحال خان له ژوند او اثارو سره د مربوطو ځينو نکتو او هم د خان د ځينو زامنو په باب لنډ لنډ يادښتونه او يا دوني راغلي دي. دا مجموعه کې په ۱۹۷۵ م کال په پېښور کې د يو ځانګړي اثر په توګه چاپ شوې ده.

د ارواښاد عقاب تر مړينې وروسته ما د عقاب له ځينو نورو مقالو سره دده د خوشحاليات مجموعه هم يو ځای کړه او د خوشحالنامه نوم مې پرې کېښود او په ۱۳۶۵ هـ ش / ۱۹۸۶ م کال په کابل کې د قبايلو وزارت له خوا چاپ شوه.

- خوشحالنامه: د خوشحال خان ختټك ددرې سوم تلين په مناسبت په ۱۹۸۰ کال په پېښور کې د جوړ شوي سيمينار د مقالو مجموعه ده. دا مجموعه په هماغه کال د اباسين ارټس کونسل پېښور له خوا

بسم الله الرحمن الرحيم

# دکتاب ځانګړنې


نوم : ننګیالی د زمانې

لیکوال : سرمحقق زلمی هېوادمل

خپرندوی : دافغانستان دکلتوري ودې ټولنه ـ جرمني

چاپچاری : عبدالغني (هاشمي)

کمپوز : کاوون کمپیوټر، جلال کوټ افغانستان

کمپوزر : عبدالهادي (شېرین)

دخپرونو لړ : (۳۱)

چاپشمېر : ۱۰۰۰ ټوکه

چاپکال : ۱۳۸۰ ل ـ ۲۰۰۱ م کال

یادونه اومننه : ددې کتاب د چاپ لپاره بناغلي ډاکټر رحم الدین یعقوب عزیز (۱۰۰۰) جرمني مارکه مرسته کړې، چې ټولنه ترې مننه کوي.

چاپ شوه. مرتبين يې پروفيسور پرېشان خټک او ظاهر غزنوي دي.

- خوشحال شناسي : د خوشحال خان په باب په اردو ژبه د تحقيقي مقالو مجموعه ده چې مېرمن زيتون بانو او ښاغلي تاج سعيد راټوله کړې ده او په ۱۹۸۲ م کال په لاهور کې چاپ شوې ده.
- جشن خوشحال : د مقالو او نظمونو مجموعه ده ، چې د مرکزي خوشحال ادبي ثقافتي جرګې اکوړه خټک له خوا د مثل خان راهي په اهتمام راټوله شوې او په ۱۹۸۶ م کال په لاهور کې چاپ شوې ده.
- درګوهر : د خوشحال خان خټک او رحمان بابا په باب د ښاغلي عرفان خټک دوې عمده مقالې دي، چې د پيل مقاله يې د خوشحال خان ده (۱۸). او تر ببلا ببلو سرليکونو لاندې يې د خوشحال خان د شاعرۍ موضوعي شننه په کې کړې ده. در ګوهر مجموعه په ۱۹۹۵ م کال په اکوړه خټک کې چاپ شوې ده.
- فرهنګيالی خټک : د خوشحال خان او د خټکو د نورې کورنۍ د ځينو شاعرانو او ليکوالو په باب د سرمحقق عبدالله بختاني د مقالو او علمي خبرونو مجموعه ده، چې په لومړۍ برخه کې يې په خوشحال خان پورې مربوطې لس مقالې خوندي شوې دي. له اصل نه عنوان خوشحال نامه
- (پنځه مقالې) : د خوشحال خان خټک په باب څلور مقالې او يوه د کرلانيو د باچهي په باب مقاله په کې خوندي شوې دی. دا پنځه سره مقالې په ۱۳۶۷ / ۱۹۸۸ م کال په کابل کې د (لس مقالې) په نامه چاپ شوي دي. پنځه مقالې د اکاډميسين پوهاند عبدالشکور رشاد د مقالو مجموعه ده.
- خوشحال او رحمان : دا د هغه سيمينار د ليکو نو او نظمونو مجموعه ده، چې د اسلام اباد پښتو ادبي سوسايټي جوړ کړی و. په دې مجموعه کې په اردو او پښتو ژبو د خان په باب ځينې مقالې شته . مجموعه په ۱۹۹۱ م کال کې چاپ شوې ده.
- خورې ورې مرغلرې : د پروفيسور پردل خان خټک د مقالو مجموعه

ده، چې لومړی ځل په ۱۹۸۹م کال او دویم ځل په ۱۹۹۶ م کال چاپ شوې ده. ددې مجموعې د پیل پنځه مقالې د خوشحال خان خټك په باره کې دي (۱۹).

- د خوشحال اخلاقي ایډیال: اروابناد کاندید اکاډمیسین سرمحقق محمد صدیق روهي (۱۳۱۲ ـ ۱۳۷۵ هـ ش) د خوشحال په باب څه یادښتونه او مقالې لیکلې دي، له هغو مقالو څخه پنځه عمده مقالې په یوه مجموعه کې راټولې دي، چې (د خوشحال اخلاقي ایډیال) نوم پر اېښوول شوی دی.
- پښتو مجله: د پېښور د پښتو اکادمي خپرني ارګان پښتو مجلې تر اوسه د خوشحال خان خټك درې ځانګړې نمبرونه چاپ کړې دي. یو نمبر په ۱۹۷۱ م کال، بل په ۱۹۷۶ م کال او دریم په ۱۹۸۰ م کال کې چاپ شوي دي. دا هر یو نمبر د ځانګړې مجموعې حکم لرلای شي(۲۰).

د خوشحال خان خټك اثارو د چاپ لړی له ۱۸۶۹ - ۱۸۷۰ م کال را هیسې را نښلېدلې ده. له هغه زمانه تر اوسه د خان د اثارو له ځینو چاپونو علمي تحقیقي مقدمې هم ملې شوې دي، لکه:

- دخوشحال خان مرغلرې او د خوشحال خان سو اتنامې سره د اروابناد پوهاند حبیبي علمي، تحقیقي اوږدې مقدمې، له دستار نامې او فضل نامې سره د عبد الشکور او نورو مقدمې او یادونې، پرکلیات خوشحال خان خټك، د اروابناد استاد کامل علمي او هر اړخیزه مقدمه له ارمغان خوشحال سره د سید رسول رسا مقدمه. له دستار نامې، طب نامې، او د خوشحال رباعیات سره د اروابناد پوهاند رښتین یادونې. له خوشحال خټك کلیات لومړي ټوك سره د دوکتور نورزي مقدمه، د کابل چاپ کلیات له دوارو ټوکونو سره د استاد روهي مقدمې، له فراقنامې، پښتو باز نامې او دري بازنامې سره د زلمي هېوادمل مقدمې، د دیوان خوشحال خان خټك له دوارو حصو سره دګڼو کسانو مقالې. له اخلاقنامې، فالنامې او له تاریخ مرصع استخراج کړیو نامو سره د استاد رفیع مقالې. له طب نامې سره د اروابناد پروفیسور تقویم

يولس

الحق کاکا خېل مقدمه . له طب نامې ، سواتنامې، اخلاقنامې، فراقنامې او باز نامې سره د بناغلي همېش خليل مقدمې . دا ګرده د خوشحال پر ژوند پېښو، افکارو او اثارو په خپله برخه کې خبرې لري او د خوشحال خان په مطالعاتو کې نښې هېرېدای.

په تېره د خوشحال مرغلرې مقدمه . د کابل چاپ سواتنامې مقدمه ( دواړه د استاد حبيبي) د کليات خوشال خان ختک مقدمه (د استاد کامل مومند) او د ارمغان خوشحال مقدمه ( د سيد رسول رسا) هره يوه د کميت او کيفيت په لحاظ د يو ځانګړي اثر په سطح د يادونې قابليت لري. پر ارمغان خوشحال د رسا مقدمه د يو ځانګړي اثر په توګه يو نيورستي بك ايجنسي پښور چاپ کړې هم ده.

د خوشحال خان ختك په باب د شلمې پېړۍ له څلوېښتمو کلونو راپدې خوا ځينې مستقل کتابونه او رسالې هم چاپ شوې دي. دغه کتابونه د خوشحال خان پر ژوند، اثارو او افکارو خبرې لري. ځينې يې دخوشحال خان د اثارو او مفکورو ځينې اړخونه راسپړي او ځينې هم د خوشحالپوهنې د ځينو ربړو له اوارولو سره مرسته کوي.

دا مستقل کتابونه ، ځينې تحقيقي او ځينې تحليلي بڼه لري ، ځينې غټ او ځينې واړه دي. دغه راز ماته معلوم مستقل اثار په لاندې ډول بنيم:

- خوشحال ختك څه وايي ؟ د اروابناداستاه بېنوا (۱۲۹۲ - ۱۳۶۳ هـ ش) اثر ، لومړی چاپ ، بمبي ۱۳۲۷ هـ ش / ۱۹۴۸ م ، دويم چاپ کابل ، ۱۳۲۹ هـ ش / ۱۹۵۰ م
- خوشحال خان ختك : په اردو ژبه اروابناد استاد کامل (۱۹۱۵ - ۱۹۸۱ م ) د ۱۹۵۱ م کال د پېښور چاپ . پښتو ترجمه يې د بناغلي لطيف طالبي ، د ۱۳۷۰ / ۱۹۹۱ م کال ، کابل چاپ.
- خوشحال ختك کيست.؟ په دری ژبه ، د مېرمن معصومه عصمتي وردګ ، د ۱۳۳۴ هـ ش / ۱۹۵۵ م کال د کابل چاپ .
- د خوشحال ختك يو شعر : د اروابناد استاد حمزه شينواري ( ۱۹۰۷- ۱۹۵۹ م) کال د پېښور چاپ ). خوشحال اقبال : د اروابناد مير

عبدالصمد خان (۱۹۱۴-۱۹۸۳ م) په اردو ژبه ، ۱۹۶۱ م کال د پېښور چاپ.

- ملي قهرمان : د اروابناد استاد الفت (۱۲۸۸-۱۳۵۶ هـ ش) د ۱۳۴۴ / ۱۹۶۵ م کال د کابل چاپ.
- افغان کلاسیك شاعر خوشحال خان ختك : د اروابناد پروفیسور عبدالحفیظ غني یف او مېرمن تمارا ابایو وا ، په ازبکي ژبه ، د ۱۹۶۷ م کال د تاشکند چاپ.
- د خوشحال خان په باب د خارجي پوهانو اثارو ته ژوره کتنه (ON A Foreign Approach to Khaushal) د استاد دوست محمد کامل په انګرېزي ژبه . د ۱۹۶۸ م کال د پېښور چاپ، پښتو ترجمه یې د جنرال شېر محمد کریمي، د ۱۳۶۳ هـ ش کال د کابل چاپ.
- اورنګزیب عالمګیر اور خوشحال خان ختك کې کشمکش. د اروابناد سر فراز خان عقاب ختك (۱۹۱۱-۱۹۸۴ م) په اردو ژبه ، د ۱۹۷۵ م کال د پېښور چاپ.
- خوشحال خان ختك او دده ادبي مکتب : د دوکتور عارف عثمان ، د ۱۳۶۱ ۱۹۸۲ م ل کال د کابل چاپ.
- زنځیري : د خوشحال خان د زنځیري خط په باب یو علمي تفسیر، د استاد حبیب الله رفیع ، د ۱۳۶۱ هـ ش / ۱۹۸۲ م کال د کابل چاپ. دویم چاپ . پېښور- پښتو اکادمي، ۱۹۸۶ م.
- خوشحال خان ختك بابای شاعري پشتو : د ښاغلي شاه جهان خان ، په اردو ژبه . د ۱۹۸۵ م کال د پېښور چاپ.
- نګاهی به اشعار دري خوشحال خان ختك : د پوهاند دوکتور جاوید ، د ۱۳۶۴ ۱۹۸۵ م کال د کابل چاپ.
- پشتو کا عظیم شاعر خوشحال خان ختك : د نعیم تقوی. په اردو ژبه لومړی چاپ، ۱۹۷۸ م کال پېښور او دویم چاپ ۱۹۸۳ م کال.
- د یو تنقید باز ګشت: د ښاغلي همېش خلیل د خوشحال خان په باب د فضل احمد غازي د یوې انتقادي مقالې په ځواب کې لیکل شوې

دیارلس

رساله د پېښور چاپ.

- عالمي ادب او خوشحال خان : د خوشحال خان او عالمي ادب په باره کې د استاد اجمل ختک يوه اردو تلويزيوني خطبه ، ښاغلی م. ر. شفق له اردو په پښتو اړولې او د يوې رسالې په ډول په ۱۹۸۹ م ل په پېښور کې چاپ شوې ده.
- خوشحال خان ختک او تاريخ نويسي : د وقار علي شاه کاکا خېل ، د ۱۹۹۲ م کال د پېښور چاپ.
- دبدبه خوشحال : دشېر افضل خان بريکوټي. د ۱۹۹۵ م کال د لاهور چاپ
- د ستر خوشحال افکار : د ښاغلي عرفان ختک . د ۱۹۹۷ م کال چاپ.
- ګام په ګام له خوشحال سره : د استاد محمد اصف صميم د ۲۰۰۰ م کال د پېښور چاپ.
- خوشحال بابا او تاريخ ګويي : د ښاغلي محمد زبير حسرت ، د ۲۰۰۰ م کال د پېښور چاپ.

له دغو لوړو يادوشويو مستقلو کتابونو او رسالو سربېره پروفيسور پرېشان ختک په خپلو دوو اثرونو :

پشتون کون ؟ (۲۱) او ( پشتو شاعري کی تاريخ ) کې پر خوشحال خان ختک ښايسته زيات اوږده بحثونه کړي دي. چې د (پشتون کون) هغې خو سوونو مخونو ته رسي او د (پشتو شاعري کی تاريخ )له داخلي مباحثو سر بېره په پای کې پر خوشحال خان يو ځانګړی بحث لري (۲۲) د پروفيسور ختک دا دواړه اثره د ځانګړيو اثارو حکم لرلای شي.

تر دې ځايه ما په اجمال د هغو کارونو يادونه وکړه . چې په وروستيو دريو پېړيو کې د خوشحال خان په باب تر سره شوي دي د کابل پوهنتون کتابخانې په ۱۳۵۸ هـ ش ( ۱۹۹۷ م ( خوشحال خان ختک د مطبوعاتو په هنداره کې ) په دوو ټوکونو کې خپور کړ. په دې دوه ټوکيز فهرست کې د خوشحال خان او کورنۍ په باب دشوي کار ۴۹۱ موارده ښودل شوي دي. له هغه وخته اوس

ښایسته کلونه تېر دي او په دې کلونو کې د خوشحال خان او خوشحالپوهنې په باره کې نور ډېر کارونه هم شوي دي او له دې سربېره د هغه فهرست دچاپ تر مهاله پورې د خوشحال خان په باب ټول شوي کارونه هم پکې نه دي یاد شوي. د دې ټولو یادوونو او یادګېرنو مقصد دا دی، چې د خوشحال خان او خوشحالپوهنې په اړه ډېر کار شوی دی. مقالې یادښتونه، تبصرې، مقدمې، ځانګړې رسالې او مستقل کتابونه په خروارو لیکل شوي دي. نو دلته پوښتنه پیدا کېږي، چې ایا له دغه ټولو موجودو کارونو سره سره بیا هم دې ته اړتیا لیدل کېږي، چې پر خوشحال خان نور کار وشي.

دې پوښتنې ته مونږ د خوشحالپوهنې په اثارو کې دوه ډوله ځوابونه موندلای شو:

۱/ د خوشحال خان په باب شوی کار کافي دی، نور کار ته اړتیا نه شته. پوهاند رښتین (۱۲۷۷-۱۲۹۸ هـ ش) په همدې ارتباط یو ځای لیکلي دي: ((د خوشحال خان په باب په دې شلو دېرشو کلونو کې دومره څه ویل شوي او دومره مقالې او کتابونه لیکل شوي دي، چې نور به هېڅ ضرورت نه وي پاتې ... یوازې ننګیالی او توریالی پښتون دوه کتابونه ... د ده د معنوي، ملي او پښتني مقام د ښودلو لپاره کافي ګڼل کېږي...)) (۲۳).

۲/ د خوشحال خان نظر یې لا تر اوسه نه دی څېړل شوی، په دې اړه لاهورو کارونو ته اړتیا شته. استاد روهي لیکلي وو: ((ده (خوشحال خان) نظر یې نه یوازې د هغه وخت پښتنو نه دی درک کړي، بلکې زمونږ په عصر کې هم. لکه څنګه چې ښایي په کافي اندازه نه دی څېړل شوی... ددې پر ځای چې خوشحال وستایو بهتره به دا وي چې هغه ویېږنو او دده نادره عقیده تشریح کړو (۲۴).

د استاد روهي د دې لوړې نظر یې له رایې نه کلونه کلونه پخوا کله چې په ۱۹۲۸ م کال علامه اقبال لاهوري پر خوشحال خان ختک مقاله کښله. نو یې په دې مقاله کې یو ځای لیکلي وو: ((زه غوارم چې د اسلامیک کلچر لوستونکو ته د خوشحال خان د شاعرۍ څخه داسې نمونې وړاندې کړم چې دهغې په قیمت او اهمیت باندې پښتانه لا تر ننه نه دي رسېدلي...) (۲۵).

پنځه لس

# نیو لیك


| سرلیک | مخ |
|---|---|
| سریزه | (الف-م) |
| **لومړی څپرکی** | |
| کورنۍ . زوکړه. دکوچني والي او نوي ځوانۍ حالونه | ۱ |
| کورنۍ حال | ۷ |
| د خوشحال خان زوکړه | ۱۲ |
| د کوچني والي ځینې مهمې پېښې | ۱۴ |
| زده کړه | ۱۴ |
| په سیمه ییزو جګړو کې لومړنی ګډون | ۱۷ |
| د خوشحال خان لومړنی واده | ۱۸ |
| د بلړ جنګ او د شهباز خان مړینه | ۲۰ |
| **دویم څپرکی** | |
| د قبیلې مشر، سردار او منصبدار خوشحال خان | ۲۲ |
| د کانګړې سوبه | ۲۳ |
| له داراشکوه سره ملاقات | ۲۶ |
| د بلخ او بدخشان جنګي پېښې | ۲۶ |
| د اصالت خان مړینه | ۳۱ |
| د هندو بار سفر | ۳۲ |
| بهادر خان ته مېلمستیا | ۳۵ |
| له شاه جهان سره ملاقات | ۳۶ |
| د بهادر خان مړینه | ۳۷ |
| د شیخ رحمکار مړینه | ۳۷ |
| له بنګښو سره جګړې | ۳۸ |
| د هند د مغلي امپراتورۍ پر تاج و تخت جګړه او د خوشحال خان موقف | ۳۹ |
| له یوسفزو سره جګړه | ۴۱ |
| د تیرا مهم | ۴۱ |
| له یوسفزیو سره جګړې | ۴۲ |
| یوه پېښه | ۴۳ |

د دغو نظریو د راوړلو تر څنګه باید ووایم چې:
د استاد رښتني خبره سمه ده، چې د خوشحال خان په باب ډېر کار شوی دی، خو که موږ ووایو چې شوی کار کافي دی او نور باید په دې اړه څه ونه کړو، مانا دا چې موږ د نویو نظریو او نویو اندیښنو مخنیوی کوو. دخوشحال په اثارو او افکارو کې ډېرې نا څېړلې خبرې شته، د ننګیالی پښتون او توریالی پښتون له چاپ اوس پنځه دېرش او دېرش کلونه تېر دي، په دې کلونو کې د خوشحال خان ځینې نا چاپ اثار چاپ شول، ځینې ورك اثار يې پيدا شول، چې دا ګرده نوي خبرې لري او دده له ژوند او نظریو سره په ارتباط کې څېړلو ته اړتیا لري. بله خبره دا چې پر۱۳۵۸ل کال د خوشحال خان خټك د درې سوم تلين نړیوال سیمینار په کابل کې دایر شو، ځینې داسې مسایل پکې مطرح شوې او ځنې داسې مقالې ورته ولیکلې شوې چې هغه مسایل او دا مطالب په ننګیالی پښتون او توریالی پښتون کې نه دي راغلي، ددې خبرې مانا دا ده چې د څېړنو کار انتها نه لري، نوې څېړنې د نویو نظریو په رڼا کې نوي مسایل مطرح کوي او نوې خبرې ترې را پیدا کېږي، موږ په هیڅ موضوع کې د څېړنو وروسته نشو تړلی.
په تېره بیا د خوشحال خان خټك غوندې یو ستر ځوبعدي شخصیت په باره کې څېړنې د توقف ور تیا نه لري، که به موږ دا خبره هم وکړو، څوك به يې له موږ سره ونه مني.
زه خپله په هره موضوع کې د نویو څېړنو پلوی یم او د خوشحال اثار د څېړنو دومره خواوې او پراخې زمینې لري، چې تر پېړیو پېړیو به خلك مصروف کاندې او له نویو، زاویو او نظریو مفکورو سره به دده په باب ډېرې نوې څېړنې وشي.
اوس راځم دې خبرې ته چې ددې حاضرې رسالې د لیکلو اړتیا څنګه پېښه شوه؟
په جرمنۍ کې دخوشحال خان خټك د زوکړې د څلورسومې کالیزې په ویاړ د جوړېدونکي سیمینار د کار ډلې په غونډو کې چې ددې سیمینار د درناوي لپاره د ځینو اثارو چاپېدل منل کېدل، نو دوکتورخوشحال روهي پیشنهاد

وکړ چې د خوشحال خان ختټک پر ژوند او اثارو دې یوه ځانګړې رساله هم ولیکل شي او پدې مناسبت دې چاپ شي دوستانو ماته مخ راواړاوه چې زه څه ووایم.

ما د کار ډلې ته وویل : د خوشحال خان پر ژوند او اثارو ډېر مستقل کتابونه او رسالې کښل شوې دي ، چې تر ټولو ښه او منلی کتاب په کې د استاد کامل مومند (خوشحال خان ختټک) دی ، چې زما په پوهه تر اوسه بې جوړې دی. غلطۍ یې ډېرې لږې دي. خو ډېر مفصل دی. دا کتاب پښتو ترجمې هم لري. چې یوه په کې د ښاغلي لطیف طالبي ده ، چې د پښتو څېړنو بین المللی مرکز له خوا په ۱۳۷۰ هـ ش کال چاپ شوه په ۱۹۹۹ م کال چې زه په پېښور کې وم ، د پېښور - پښتو اکاډمۍ علمي غړي ښاغلي پرویز مهجو رخیشکی هم دا کتاب ترجمه کاوه.

نو که تاسې غواړئ چې دې سیمینار ته دېرو مرو د خوشحال خان ختټک پر ژوند او اثارو یو کتاب چاپ شي. نو زما پیشنهاد دا دی. چې:

۱/ د طالبي ترجمه دې خلاصه شي ، یوه مقدمه دې پرې ولیکل شي. زیاتونې کېدای شي په حاشیو او مقدمه کې پرې وشي او یا دې پو تعلیق پرې وکښل شي.

۲/ که د طالبي ترجمه نه وي میسره، نو به ښاغلي مهجور ته خبر ورکړو ، چې له خپلې ترجمې یوه خلاصه تهیه کاندې او لازمې زیاتونې پرې وکړی او توضیحات ورسره مله کړي.

زما د دې خبرو پر وړاندې ښاغلي دوکتور خوشحال روهي وویل چې د استاد کامل د کتاب له چاپه ینځوس کاله تېر دي. پدې پنځوسو کلونو کې د خوشحال خان په باب ډېر کارونه شوي دي. موږ غواړو ، چې دغو نویو کارونو او دخوشحال خان نویو پیدا شویو اثارو ته په پاملرنه د خوشحال خان پر ژوند. اثارو او افکارو یوه لنډه رساله نوې ولیکل شي

د کار د ډلې د غړیو نظر دا و چې دا کار باید زه وکړم. خو زه خپله په دوو دلیلو نو دې کار ته اماده نه وم:

الف: ما د پښتو نظم تاریخ لیکل پیل کړی وو. شپږ فصله یې کابو بشپړ وو ا

اوه لس

ښه په مزې سره په کې مخ پورته روان وم، ددې کار تر څنګه مې د بل کار د پیلولو تابیانه درلوده.
ب: د خوشحال خان ختك او خوشحالپوهنې په باب لازم مواد ګرده له ماسره نه وو، نو ځکه مې دې کار ته هم زړه نه شو ښه کولای.
اما د دوستانو مکررو غوښتنو زه هم اړ کړم، چې کار ومنم. دوستانو یوازې دانه غوښتل چې زه دې رساله ولیکم، بلکه دا یې هیله وه، چې رساله دې ژر ولیکم، چې تر سیمیناره باید چاپ شي. ما دغو غوښتنو ته په پاملرنه کار پیل کړ او لومړنی کار مې دا وکړ، چې په خپلو موجود و کتابونو کې مې موضوع ته مربوط ماخذ ویلټل.
له ماسره د خان اثار ټول نه وو. خارجي منابع راسره وو او د یادښت په کتابچو کې موضوع ته مربوط کافي یادښتونه هم راسره وو. ما لومړی د ماخذ د دستي بشپړولو لپاره کار شروع کړ.
ښاغلی انځور صاحب پېښور ته روان و، ده ته مې لیکونه ورکړل، چې ځینې اثاریې راولورول. استاد رفیع د خان ځینې اثار او د استاد کامل د خوشحال خان ختك فوټو کاپي د انځور صاحب پر لاس راواستول او ښاغلي انځور د خوشحال ختك کلیات د کابل چاپ (دویم ټوك) را ته تهیه کړ.
ښاغلیو استاد صمیم اومهجورخیشکي هم ځینې اثار راتهیه کړل. په دې ډول په نسبي ډول پر ماخذنو لاس بری شوم. خو زما په ماخذو کې یوه مهمه کمبوتي د تاریخ مرصع نشتوالی و، ځکه بې د تاریخ مرصع له کتلو د خوشحال خان ختك په باب څه لیکل نیمګړې دي. خصوصا د ژوند پېښو او احوالو په باب یې ډېر څه له تاریخ مرصع څخه تر لاسه کېدای شي. خو د اندیښنه مې تر یوه حده هغه وخت رفع شوه. چې د استاد کامل د خوشحال خان ختك اردو متن فوټو کاپي راورسېده، ځکه استاد دا اثر د تاریخ مرصع پر استناد لیکلی دی. له دې سربېره په بېلا بېلو نورو اثارو کې مې له موضوع سره مربوط د تاریخ مرصع ځینې اقتباسونه هم پیدا کړل.
باید دا خبره هېره نه کړو، چې د تاریخ مرصع تر چاپ او عامېدلو د مخه چې د خوشحال خان په باب څه کښل شوي دي زیاترو څېړونکیو د انګرېزانو د

اثارو ، خورشید جهان ، حیات افغاني او دې ته ورته خینې دویم لاس او دریم لاس مواردو استفاده کړې ده او دا مواد زیاتره له غلطیو او ناسمو خبرو ډک دي. اورانباد استاد کامل یوازینی خوشحالپوه دی، چې د تاریخ مرصع تر چاپ د مخه - سره له دې چې تاریخ هم دده په همت چاپ شو - یې ددغه کتاب د خطي نسخو له مخې د همدې تاریخ په استناد ( خوشحال خان ختک ) نومې کتاب وکښل.

استاد کامل په خپل دغه مغتنم اثرکې د ټولو هغو تېروتنو او ناسمو خبرو یادونه کړې ده ، چې د ده تر کار د مخه د خوشال خان په مطالعاتو کې پېښې شوې دي. په دې رساله کې د دوی یادې شوې تېروتنې نه یادوم ، خو هغه تېروتنې چې د استاد کامل له کاره وروسته دخوشحال خان په مطالعاتو کې پېښې دي. هغه تر خپلې وسې په دې اثر کې یادې شوي دي.

د حاضرې رسالې په تاریخي برخو کې زما ډېره اتکا د استاد کامل پر خوشحال خان ختک ده او زیاتې برخې یې له همدې کتابه ترجمه شوي دي. د پروفیسور پرېشان ختک په (پشتون کون؟) کې د خوشحال برخه هم د خوشحال د ژوندانه د ځینو ځنګونو پر روښانولو کې سرې ته ډېر خه په لاس ورکوي، حتی یو نیم ځای یې د ( خوشحال خان ختک) نومې کتاب تېروتنو ته هم اشارې کړې ده. زه د خپل اثر په تاریخي برخو کې د استاد کامل له ( خوشحال خان ختک) سربېره د (پشتون کون؟) او د خوشحال له کلیات ، فراقنامې او سواتنامې څخه هم استفاده کوم که احیاناً له نورو ماخذو استفاده وشي هغه پر خپل ځای ښودل کېږي که له ځنې متنو نو او یا هم نورو څېړنو - چې اوس یې اصلي منابع زما په لاس کې نه شته - له یوې بلې لارې استفاده کوم نو په دې صورت کې زه اصلي ماخذ نه ، بلکه ددې بل دویم لاس اثر - چې ماترې استفاده کړې ده. نوم اخلم خو د اوږ اقتباسونه که زه له خپلو اثارو وکړم خو بیا اصلي ماخذ ته حواله ورکوم او هغه په دې دلیل چې هغه اثار پخوا مالیدلي دي.

د اثر په لیکلو کې له تاریخي - تشریحي میتود څخه استفاده شوې ده. خو په تشریح کې د لنډیز خیال ساتل شوی دی او په ځینو برخو کې د کره کتنې چاشني هم پر ګډه شوې ده. زه به خپل ځان ډېر بریالی احساس کړم ، که چېرې

دا اثر له هدف سره سم لیکل شوی وي.
ما دا اثر دخوشحال ختك دزوکړې د څلورسوومې کاليزې د سيمينار په غوښتنه وليکه . د ۲۰۰۰ م کال له اکتوبره د ۲۰۰۱ م کال د مې د مياشتې تر ۲۸ مې يې د موادو په مطالعه او ترتيب بوخت وم . البته رسالې مواد او يادښتونه د کلونو کلونو مطالعې نتيجه ده. ما ته دخوشحال خان ختك تلپاتې اثارو د مطالعې موقع له ۱۳۵۱ / ۱۹۷۲ م کاله ميسره شوې ده.
هغه وخت زه د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي محصل وم- پدغه کال زما استاد پوهاند عبدالشکور رشاد وظيفه راکړه . چې د خوشحال خان قصيدې له (ارمغان خوشحال ) نه راواخلم او بيا يې ټايپ ته وسپارم . چې د پښتو څانگې د څلورم صنف لپاره د درسي متن په توگه د گستنز لپاره تکثير شي.
ما د استاد په لارښوونه هسې وکړل او قصيدې مې چاپ ته اماده او د گستنر له لارې زما په اهتمام تکثير شوې له هغه وخته په دې کابو دېرشو کلو کې پر خوشحال خان د څه نورو کارونو موقع پر لاس راغله . چې تفصيل يې ددې ځای کار نه دی.
لنډه يې دا چې رساله ما د کابو اتو مياشتو په موده کې تکميل کړه او د مې پر ۲۸ مه مې د ښاغلي خوشحال روهي په ملتيا يو شناخته افغان ته وسپارله چې پېښور ته يې يوسي او هلته يې د چاپ لپاره پوهنيارمحمداسمعيل يون ته وسپاري . د ډېرې خواشينی خبره وه . چې د وړونکي د کاليو بکس پر لاره گډ وډشو او پېښور ته ونه رسېد کله چې ښاغلي انځور صاحب خبر را کړ چې بکس نه دی رسيدلی او ددوی نور ورکړې محموله يې وررسولې ده دې خبر ترسخت فشار لاندې راوستم. او هغه ټولې خوارې چې د رسالې کښلو په جريان کې را باندې تېرې وې . ټولې يوه يوه ذهن ته راغلې . هيڅ چاره نه وه. زړه ته مې الله تعالی دصبر قوت و باخښنه او پرېکړه مې وکړه . چې دوباره به يې له سره ليکم . داځکه چې پر موضوع باندې مطالعه لاهسې زما په ذهن کې تانده وه او يادښتونه هم را څرگند وو. چې چېرې دي او نور اثار هم ټول ښکاره ايښي وو. نو مې ځکه د لوی څښتن په مرسته په بيا ليکلو لاس پورې کړ او له الله تعالی نه مې د برې توفيق وغوښت.

شل

زه چې اوس د دې رسالې پر دې دویم (تحریر) دا سریزه دلته پای ته رسوم، خپله وظیفه بولم چې په سر کې له ښاغلي دوکتور خوشحال روهي مننه وکړم، چې د دغسې یو اثر د لیکلو نظریه یې راته ورانديې کړه او بیا د خان د سیمینار د کار ډلې ومنله او زه یې پر دې کار مامور کړم.

ښاغلی زرین انځور د ډیرې منندې وړ دی، چې له پېښوره یې ډېر اثار راته راورسول او د ځینو نورو ماخذونو په برابرولو کې یې راسره مرسته وکړه.

استاد حبیب الله رفیع دځینو اثارو فوتو کاپي او د ځینو متنونو د چاپي نسخو په رالېږلو زما ملاو تړله. د استاد محمد اصف صمیم او ښاغلي پرویز مهجو رښکي پېرزوینې هم دځینو اثارو په برابرولو کې د هېرولو نه دي.

اکادمیسین سلیمان لایق او ښاغلي مبارز ساپي هم د اثارو په برابرولو کې راسره مرسته کړې ده، زه له دغو ټولو ښاغلیو د زړه له کومې مننه کوم.

د رسالې د لومړي تحریراپر وخت د سید رسول رسا له جوړ کړې ( ارمغان خوشحال ) له ماسره نه و، ما چې کومې حوالې له دې کتابه ورکړې وې. هغه مې د خپلو نورو اثارو په استناد ورکړې وې . د خوښۍ خبره دا وه ، چې زموږ د دوست ښاغلي دوکتور انجنیر عزیز پکتیاني(خوستي) په کور کې مې (ارمغان خوشحال) پیدا کړ او ده په مینه راوسپاره او پدې وسیله د خوشحال خان د اثارو کابو ډېره برخه تر لاسه شوه او په دې وسیله له دوکتور عزیز نه هم د زړه له کومې مننه کوم.

د حاضرې مقدمې تر لیکلو وروسته انځور صاحب زیری راکړ، چې کتاب پیدا شو. نو ځکه دنور متن دویم تحریر ته اړتیا پېښه نه شوه. یوازې د مقدمې دویم تحریر ورسره مل شو او زړه مقدمه ترې وایستل شوه. داخبره باید ضرور وکړم ، چې دا کتاب په ډېره بیړه لیکل شوی ، د نیمګړتیاوو او تېر وتنو احتمالات په کې شته ، هیله ده ، چې په بل چاپ کې یې نیګړتیاوې پوره شي.

## کتلي اثار :


(۱) هېواد مل زلمی : د غلام محی الدین افغان افکار او اثار. کابل پوهنتون ، د لوړو او مسلکي تحصیلاتو مطبعه . ۱۳۶۰ ه ش ۷۷ ـ ۸۳ مخونه

| سرليک | مخ |
|---|---|
| له باغيانو سره مقابلې | ۴۴ |

## درېيم څپرکی


| | |
|---|---|
| د مغلي امپراتورۍ قيدي خوشحال خان | ۴۵ |


## څلورم څپرکی


| | |
|---|---|
| مبارز او ملي اتل خوشحال خان | ۶۷ |
| د لنګر کوټ ورانول | ۶۹ |
| د مور او مشرې مېرمنې مړينه | ۷۱ |
| ناروغي | ۷۱ |
| د خوشحال خان په فکر د بغاوت او سرکشۍ لومړنۍ څرګندونې | ۷۲ |
| د محمد امين خان د کابل صوبه داري | ۷۳ |
| د ايمل خان شورش | ۷۵ |
| د خيبر ستره پېښه | ۷۶ |
| د مغلو سره د خوشحال خان څرګند مخالفت | ۸۳ |
| د واکمنو په لاسوهنه د خان په خپل کورکې مخالفتونه | ۸۷ |
| ښکار او تفريح | ۹۵ |
| له افريدو سره جرګه | ۹۵ |
| د سرک جوړول | ۹۶ |
| پر نوښار حمله | ۹۶ |
| روه ته د شجاعت خان راتګ | ۹۷ |
| د کړپې جنګ | ۹۹ |
| پر کوهاټ د دريا خان ناکام برید | ۱۰۰ |
| د تيرا سفر | ۱۰۱ |
| حسن ابدال ته د اورنګ زېب راتګ | ۱۰۴ |
| د خاپښ جنګ | ۱۰۷ |
| د افغانانو پر ضد د حکومت نورې هڅې | ۱۰۷ |
| د يوسفزو سيمو ته د خوشحال خان سفر | ۱۰۸ |
| صوات ته روانېدل | ۱۱۵ |
| د ملتفت خان فوجداري او د خوشحال خان موقف | ۱۱۷ |
| د اورنګ زېب بېرته تګ | ۱۱۸ |

(۲) رستاقي ، مولاعبدالحکيم : سکينه الفضلا (بهار افغاني) ، دهلي ، جديد پريس ، ۱۳۵۰ هـ ق ، ۶۷ - ۷۳ مخونه .
(۳) رفيع ، حبيب الله : پښتو کتابښود د بيهقي کتاب خپرولو موسسه ، کابل ، دولتي مطبعه ، ۱۳۵۶ هـ ش . ۱۰۲ مخ .
(۴) هېواد مل ، زلمی : فرهنگ ادبيات پشتو ، جلد سوم ، کميته دولتي طبع و نشر ، کابل ، مطبعه دولتي . ۱۳۶۶ هـ ش ص ۹۱ .
(۵) خديجه ، بېگم فېروز الدين : د خوشحال خان ژوند اوفن (مقدمه) د دوکتور اقبال نسيم خټک پښتو ترجمه جشن خوشحال ، مرکزي خوشحال ادبي ثقافتي جرگه (اکوړه) شرکت پرنټنگ پريس لاهور ، ۱۹۸۶ م ، ۱۹ مخ .
(۶) رفيع ، حبيب الله : ژبپالنه ، د افغانستان د علومو اکامي گوندي مطبعه ، کابل ، ۱۳۶۱ هـ ش . ۱۳۷-۱۳۹ مخونه .
(۷) : اريانا دايره المعارف پښتو : پنځم ټوک ، اريانا دايره المعارف ټولنه ، کابل ، دولتي مطبعه ، ۱۳۵۴ هـ ش . ۸۶۰ - ۸۶۱ مخونه . دری ايډيشن ، ۵/ ۴۳۵۳ - ۴۳۵۴ .
(۸) اردو دايره المعارف اسلاميه : نهم ټوک ، ۴۹-۵۳ مخونه ، پنځم ټوک ، د انشگاه پنجاب ، لاهور ، ۱۹۷۱ م ، ۶۳۹ مخ .
(۹) شوروي تاجيك انسايکلو پيډيا ، اتم ټوک ، دوشنبه ، ۱۹۸۸ م - ۴۷ مخ .
(۱۰) انور شا حسن : د انشنامه ادب فارسي ، جلد سوم ، وزارت فرهنگ و ارشاد اسلامي - تهران ۱۳۵۷ ل ص ۳۷۷ - ۳۸۰ مخونه .
(۱۱) انسايکلو پيډيا اف اسلام : پنځم ټوک ، ليډن ، ۱۹۸۶ ، ۷۲ - ۷۳ مخونه .
(۱۲) مارگنستيرن ، پروفيسور گيورگ : پښتو ادبيات ، اسنايکلو پيډيا اف اسلام ، ۲۲۱ مخ .
(۱۳) بېچکا ، دوکتور ژيری : خوشحال خان خټک ، د اسيا او افريقا د ليکو الو فرهنگ لومړی ټوک ، پراگ ، ۱۹۶۷ ، ۴۰۴ مخ .
(۱۴) ميکنزی : خوشحال خان خټک ، د شرقي ادبياتو فرهنگ ، لندن ،

دوه ويشت

۱۹۷۴ م ، ۱۰۶ مخ .
(۱۵) جشن خوشحال ۱۱۰ مخ.
(۱۶) هېواد مل ، زلمی: د پښتو د ادبي تاریخ د منابعو پېژندنه او ارزیابي د افغانستان د علومو اکادمي ، د لوړو او مسلکي تحصیلاتو مطبعه ۱۳۶۷ ، ۳۹۰ مخ .
(۱۷) خټک ، خالد خان: خوشحالیات اباسین ارټس کونسل ، پېښور ، د پروفیسور پرېشان خټک او خاطر غزنوي په زیار ، ۱۹۸۰ م ، ۲۱۹ مخ .
(۱۸) خټک ، عرفان : درګوهر ، نیو صدیقي ارټ پریس ، اکوړه خټک ، ۱۹۹۵ م ، ۳ - ۱۳۴ مخونه .
(۱۹) خټک پردل خان : خوږې ورې مرغلرې ، دویم چاپ پښتو ادبي مرکز ، سرای نو رفګک ، ماسټر پرنټرز پېښور ۱۹۹۶ م ، ۵ - ۷۸ مخونه .
(۲۰) د پښتو د ادبي تاریخ دمنابعو پېژندنه او ارزیابي ۳۹۱ - ۳۹۲ مخونه .
(۲۱) خټک ، پروفیسور پرېشان : پښتون کوم؟ پښتو اکادمي ، پشاور یو نیورسټي ، جدون پریس ، پېښور ۱۹۸۴ م ، ۲۹۵ - ۵۸۴ مخونه .
(۲۲) خټک : پروفیسور پرېشان : پښتو شاعرۍ کې تاریخ ، اکادمي ادبیات پاکستان ، کرسټل پرنټرز بلیو ایریا ، اسلام اباد ، ۱۹۸۸ م ۸۳ - ۴۴ مخونه .
(۲۳) رښتین ، پوهاند صدیق الله : نومیالي شاعران ، تاج محل کمپنۍ پېښور ، ۱۳۷۰ هـ ش ، ۷۸ مخ .
(۲۴) روهي ، کاندید اکادمیسین محمد صدیق : ادبي څېړنې ، ننګرهار پوهنتون د لوړو او مسلکي تحصیلاتو مطبعه ۱۳۶۰ هـ ش ۲۳۲ - ۲۳۳ مخونه .
(۲۵) لاهوري علامه اقبال : افغان جنګیالی شاعر خوشحال خان خټک : (پښتو ترجمه) پښتو مجله د ۱۹۵۸ م کال ۲ مه ګڼه ، ۳۳ مخ .

| سرليک | مخ |
| --- | --- |


| | |
| --- | --- |
| د گنبت جنګ | ۱۱۹ |
| شهزاده معظم ته د افغانانو مهم سپارل | ۱۲۱ |
| د اميرخان سوبه داري او افغانان | ۱۲۶ |
| د ډوډې جنګ | ۱۲۸ |
| د خوشحال خان او اشرف خان خوابدی | ۱۳۰ |
| د اشرف خان نيول کېدل | ۱۳۶ |
| د افغاني نهضت ځورېدل | ۱۳۸ |
| **پنځم څپرکی** | |
| په کړاونو کې راګير خوشحال خان | ۱۴۱ |
| ( د ژوند وروستي کلونه او مړينه ) | • |
| د کورنۍ د ځينو غړيو مړينه | ۱۵۲ |
| د قهرمان مړينه | ۱۵۵ |
| د مړينې تاريخي قطعې او مرثيې | ۱۵۵ |
| د ملي اتل وروستی وصيت | ۱۶۱ |
| د ننګيالي مزار | ۱۶۲ |
| د خوشحال خان ختټک عقايد . اخلاق او عادتونه | ۱۶۴ |
| د خان اولاد | ۱۶۸ |
| **شپږم څپرکی** | |
| فرهنګيالی خوشحال خان | ۱۷۰ |
| الف: منظوم آثار | ۱۷۵ |
| ۱- کليات | ۱۷۷ |
| ۲- فراقنامه | ۱۸۴ |
| ۳- پښتو منظومه بازنامه | ۱۸۴ |
| ۴- سواتنامه | ۱۸۵ |
| ۵- فضل نامه | ۱۸۶ |
| ۶- فالنامه | ۱۸۷ |
| ۷- طب نامه | ۱۸۸ |
| ب : منظومې ترجمې | ۱۸۹ |
| ۱- تام حق | ۱۸۹ |

# (( ۱ ))

# لومړی څپرکی
# د خوشحال خان ختک ظهور

## (کورنی، زوکړه، دکوچنيوالي او نوې ځوانۍ حالونه)

په ۹۳۲ هـ ق کال په هند کې د افغانانو پاچاهي د بابر (۸۸۸-۹۳۷ هـ ق) په وسيله ړنګه شوه. ددې پاچهۍ په ړنګولو کې خپله پښتنو له مغلو سره لاس ورکړی و، د قصور او پښتانه نومې اخر ليکوال يو ځای ليکي چې خيشکو پښتنو دپاني پت په جنګ کې دمغلو په پلوي ډېرې تورې ووهلې. پدې جنګ کې اووه سوه کسه پښتانه ووژل شول او داهم وايي چې ابراهيم لودهي سليم خان زمند وژلی او له پيل نه لاندې راغوځار کړی و. وايي يو وخت دغه سليم خان د سلطان العادل شېرشاه سوري ليدو ته ورغلی و، شېرشاه ويلي وو، چې که اوس دده ګېډه څيرې شي، نو ابراهيم لودهي به پکې ښکاره شي.[۸]

خوشحال خان ختك هم د پښتنو دغه چلند ډېر صريح کړلی دی. پدې باب لوی خان ويلي دي:

---

[۸] هېواد مل سرمحقق زلمی: په هند کې د پښتو ژبې او ادبياتو د ايجاد او ودوې پړاوونه شرکت پرنټنګ پرس لاهور ۱۹۹۴ م ، ۳۲ مخ.

پښتانه په عقل پوهه څه ناکس دي
کبوتره سپي د قصابانو دجوس دي

پادشاهي يې د مغل په ټنګو بايله
دمغل د منصبونو په هوس دي

اوښ له باره په خپل کور کې ورغلي
په ولجه د اوښ د غاړې دجرس دي (۹).

علامه اقبال لاهوري د لوی خان دغه لوړه وينا يو ځای داسې راغبرګه کړې وه!

اشتری یابد اگر افغان حر
با یراق و ساز و با انبان در

همت دونش از ان انبان در
میشود خشنود با زنگ شتر (۱۰)

افضل خان ختك هم د تاريخ مرصع په مقدمه کې دې موضوع ته داسې اشاره کړې ده:

(( د پښتنو بادشاهي چې په سبب سره يې ځو کاله وکړه ، چې مدد ګار يې بيوقوف وو، خپله توره يې برهم کړه ، بيګانه يې له خپله لاسه راوستل، توره يې تلف کړه ، په دا اميد و چې توره دمغل امرايي . دموږ چې توره دمغل

---

(۹) ختك ، خوشحال خان! د خوشحال ختك کليات ، لومړی ټوك ، پښتو ټولنه کابل، دولتي مطبعه ، ۱۳۵۹ ه ش ۳۶۱ مخ

(۱۰) لاهوري ، علامه اقبال: کليات اشعار فارسي مولانا اقبال لاهوري، به کوشش احمد سروش ، تهران ۱۳۴۳ ه ش ص ۳۶۹

قايمه نه وه ، ددوی امرايي قايمه وه ، چې توره دمغل قايمه شوه ، فکر يې وکړ چې دې قوم چې خپله توره برهم کړه د موږ سره به څه وفا وکا ، لايق د امرايي نه دي . په وار وار يې امرايي ځيني واخيسته اوس يې ګاځره بها نشته .... )) [11]

په هند کې د پښتنو لوديانو دسلطنت له سقوط ( ۹۳۲ هـ ق ) وروسته که څه هم په هند کې يو ځل بيا د پښتنو سوريانو پاچهي ټينګه شوه له مغلو يې واك ببرته تر لاسه کړ سوري شېر شاه ( ۹۴۷-۹۵۲ هـ ق ) او دده اولادې څه موده پر هند حکومت وکړ ، خو دا واکمني ډېره پايښتي نه وه او د بابر زوی همايون په ۹۶۲ هـ ق کال بيا دهلي ونيو [12] . پر هند باندې د مغلو د واکمنۍ په اوږده دوران کې د تاريخي افغانستان شرقي برخې ترکابل او شاو خوا سيمو پورې ګرده دکابل د صوبې په نامه ددې واکمنۍ تر تسلط لاندې وې . د افغانستان نورې سيمې هم ځينې د هندي مغلو څه هم د صفويانو او څه هم د ماوراء النهر د خانانو ترولکې لاندې وې او پر ځينو سيمو د هندي مغلي امپراتورۍ او نور و متجاوزينو جګړې هم کېدې . تر احمد شاهي ستر واکې پورې ( ۱۱۶۰ هـ ق ) زموږ د هېواد د زياترو برخو همدا حال و .

دهند د مغلو امپراتورۍ تر ولکې لاندې افغانستان کې د امپراتورۍ د حکامو په وړاندې همېشه د پښتنو مقاومتونه موجود وو . د ساري په توګه د جلال الدين اکبر ( ۹۶۳ - ۱۰۱۴ هـ ق ) له زماني د اورنګزيب عالمګير ( ۱۰۶۸ - ۱۱۱۸ هـ ق ) ترزماني پورې يوسفزيو پښتنو په پوره متانت او خپلواکۍ دمغلي امپراتورۍ د حکامو او لښکرو په وړاندې مقاومت وکړ [13]

---

(۱۱) ختك افضل خان : تاريخ مرصع ، د دوست محمد کامل په زيار ، يونيورستي بك ايجنسي ، پېښور ۱۹۷۴ . ۱۱ مخ .

(۱۲) حبيبي ، پوهاند عبدالحی : تاريخ مختصر افغانستان ، چاپ دوم ، پشاور ، ۱۳۶۸ هـ ش ص ۲۰۱ .

(۱۳) کامل دوست محمد خان : خوشحال خان ختك ، اداره اشاعت سرحد پشاور ، ۱۹۵۱م ص ۱۸۲ .

دلسمې حجري پېړۍ په دويمه نيمايي کې د افغانستان په همدې تر مغلي واکمنۍ لاندې برخو کې روښاني غورځنګ راوټوکېد . او مغلي واکمنو ته يې د سر په کاسه کې اوبه ورکړې او د حالنا مې د لاندې بيان له مخې روښانيان او يا کاله له مغلي واکمنو سره په جګړه اخته وو په حالنامه کې راغلي دي:

(( چهار پشت خاندان پيرد ستګير قدس در قبايل افغانان حاکمی کرد و هفتاد سال کم وبيش با مردم پادشاهی عداوت وحرب داشت و ګاه غالب و ګاهی مغلوب بوده اند.... و هيچ عدو دست برايشان نيافتند که به موجب ان مغلوب ومطيع کسی شده باشد مګر به سبب مخالفتی که در ميان خاندان پيدا شد واز يك ديګر جدا شدند و اطاعت پادشاه قبول نمودند )) ۱۴

ترجمه : (( د پير دستګير دکورنۍ تر ثلور پښتو په افغاني قبايلو حکومت وکړ او زيات وکم او يا کاله يې د پادشاه له خلکو سره عداوت او جنګونه درلودل. کله به غالب او کله به مغلوب وو...... هيڅ دښمن پر هغوی بری ونه موند خو هغه مخالفت چې ددوی په کورنۍ کې پيدا شو،له يو بل نه بېل شول او دپاچا اطاعت يي ومانه)) يدې ډول موږ وينو چې د خوشحال خان خټك له زوکړې کابو ۹۰ کاله د مخه په هند کې دپښتنو واکمني پای ته رسېدلې وه او دده د ظهور په دوران کې دده پلرني ټاټوبي . تاريخي افغانستان زياتې برخې د پښتنو پر ځای ناستو . د هند مغلي امپراتورانو. حکامو او صوبه دارانو اداره کولې.افغانانو خپل حکومت نه درلود او لکه چې يې د مخه بيان تېر شو دتاريخي افغانستان زمکې دبېلا بېلو استعماري ځواکونو له خوا اداره کېدې . افغانستان او افغانان د پردو استعماري ځواکونو دظلم او جبر په ژرندو کې دل وو.

پوهاند دوکتور حبيب الله تږي د پښتانه نومي اثر د تحليلو له مخې سرې ويلای شي چې د لسمې هجري شاوخوا پښتانه کوچيان او مالداران وو.خو

---

(۱۴) مخلص علي محمد : حالنامه به کوشش نورالله ولسپال اکادمي علوم افغانستان ، ۱۳۶۴ ه ش ص ۶۳۶

کليوالي او ښاري ژوند هم رواج شوی و.[15] ځينو ورو کوزنيو صنايعو هم رواج پکې موندلی و. د دغو صنايعو په وده کې د همسايه ګانو ونډه زياته وه. په پخوانيو زمانو کې د پښتني سيمو واړه کسب ګر زياتره نور خلك وو، چې له نوروځايونو راغلي وو او د پښتنو په قبايلو کې يې ژوند کاوه.

د خوشحال خان د ظهور په دوران کې د افغاني ټولنې عمده برخه ، شپنو او بزګرو جوړولې. جاګيرداران او دقبايلو مشران د ټولنې ممتاز قشر و. جاګير دارانو به منصبونه درلودل او له ځينو قبايلي مشرانو سره يو ځای دهند د مغلي امپراتورۍ دحکامو په خدمت کې وو. د لارو ساتل ،له خلکو د باج او ماليې ټولول، راهدارۍ اخيستل . د امپراتورۍ دمخالفانو ټکول او نور د دوی په فرايضو کې شامل وو.

د افغاني ټولنې د بېلا بېلو اقشارو ځينې کسان په فوجي خدمتونو بوخت وو. روس افغان پوه پروفيسور ايګرميخايلويچ ريسنر ( ۱۸۹۸-۱۹۵۸ م ) د انګرېز ختيځ پوه ( ايروين ) دکتاب ( دهندي مغلو پوځ ) په حواله ، په خپل کتاب ( په افغانستان کې د فيوډاليزم پرمختيا او د افغانانو ددولت جوړېدل) کې راوړي دي چې د هندي مغلو دپوځ له دريوبرخو څخه يوه برخه له پښتنو قبايلو څخه جوړه وه.[16] روحانيت او ملايان دهغه وخت دافغاني ټولنې يو بل ممتاز قشر و چې ځينو به يې له جاګيرداران اوحکامو سره سازو باز درلود. دسوداګرو او کسب ګرو قشر هم دا وخت په افغاني ټولنه کې موجود و، چې په بېلا بېلو اجتماعي کارونو ، سوداګرۍ او ځينو کوزنيو صنايعو بوخت وو. له بخارا او چيني ترکستان نه د مالونو کاروانونه د کابل له لارې پېښور ته راتلل او له پېښور نه به دهندوستان ځينو سيمو ته کاروانونه له همدې ځمکې بارېدل. الفنستن ليکلي دي چې د پنجاب او شمال هندوستان تجارت له

(۱۵) تږی ، پوهاند دوکتور جبيب الله : پښتانه د پښتني فرهنګ د ودې او پراختيا ټولنه (جرمني) دانش کتابخانه پېښور، ۱۳۷۷ ه ش، ۱۶۱ مخ.
(۱۶) عثمان ، دوکتور عارف: خوشحال خان ختك او دده ادبي مکتب، دپښتو څېړنو بين المللي مرکز ، دولتي مطبعه ۱۳۶۱ ه ش ۳۹ مخ.

پېښور سره دی [۱۷] دغسې د هندي مالونو کاروانونه له پېښوره کابل او بیا مرکزي اسیا ته ورل کېدل.

ځینو پوهانو د خوشحال خان دظهور د زمان افغاني ټولنې په جوړښت کې مریيان هم شامل ګڼلي دي. مګر ځینې نورپوهان پدې عقیده دي چې په پښتنورکې مریتوب نه دی راغلی البته ځینې شواهد داسې شته چې له نورو ځایونو به یې مریيان راوستل او دلته به پلورل کېدل. د پښتني ټولنې په طبیعي جوړښت کې ددغسې را وستل شویو مریانو نقش د یادونې وړ نه دی.

دخوشحال خټك دظهور په زمان کې سواد د پښتنو په بېلا بېلو سیمو کې یو څه دا نکشاف پرلورګامونه اخیسي وو. په دیني او روحاني حلقو، د خانی او سرداری په کورنو او عامو پښتنو کې سواد یو څه خور شوی و. کتاب او لیك لوست ته خلکو یو څه اړتیا حس کړې وه.

په مسجدونو کې د دیني نصاب او دنظم ونثر کتابونو لوست او دسواد زده کړه رواج شوي او د تاریخي افغانستان په ځینو ګوټونو کې درسګا وې او مدرسې هم موجودې وې. دافغانستان په شرقي سیمو او ښارونو کې پېښور هغه زمان د دیني علومو یوه درسګاه وه. [۱۸] الفنستن چې دنولسمې پېړۍ په لومړیو کې پېښور ته راغلی و، دپېښور دعلمي حیثیت په باب لیکي: (( پېښور په ټول هېواد (افغانستان) کې تر ټولو زیات یو علمي ښار دی، له بخارا څخه هم ډېر شاګردان دزده کړو لپاره پېښور ته راځي (افغانان ص ۱۸۹). د پېښور تر څنګه په هشنغر کې هم دغسې مدرسې او د رسګاه وې موجودې وې.

دغه مهال د افغانستان په ځینو برخو کې شاعران او لیکوالو ژوند کاوه. د بایزید روښان او اخوند درویزه په کورنیو او شاګردانو کې دپښتو اثارو د ایجاد او ودې لپاره هڅې پیل شوې وې. له دې سربېره په ولس کې هم د هنر

(۱۷) افغانان ص ۲۷۴.

(۱۸) خټك، پروفیسور پرېشان: پښتون کون؟ پشتو اکیډیمي پشاور یونیورسټي، جدون پریس، ۱۹۸۴، ۳۴۶ – ۳۴۷ مخونه

د ایجاد لپاره شرایط، زمیني او اړتیاوې موجودې وې. په ولس کې نارینه وو او ښځینو خپلې ولسي سندرې ایجادولې. ولسي شاعران په کلیو او باندو کې په ملي اوا زونو پښتو شعرونه ویل. د خوشحال خان ختک په لاندې بیتونو کې د پښتو شعر همدغو ولسي جوړښتونوته اشاره شوې ده:

بند و بست د پښتو شعر ما پیدا کړ
ګنه شعر د پښتو و غیر سال

نه یې وزن نه تقیطع نه یې عروض وو
دوه مصراع یې د خفیف بحر دوه طال

که مونږ خپلو ځینو ولسي بدلو، بګتیو او چاربیتو جوړښتونه ترنظره تېر کړو نو موږ ته راښکاري چې دوې مسرې یې اوږدې دي او دوې لنډې.

دخوشحال خان ختک دظهور په دوران کې دافغانانو دهېواد ،سیاسي ،اجتماعي ، اقتصادي او فرهنګي وضع دا وړ وه،لکه چې لوړ یې یو تت انځور وایستل شو.او خان په همدې شرایطو کې د ختکو دخانۍ او سرردارۍ په کورنۍ کې دنیا ته سترګې پرانیستې.

## کورنۍ حال:

خوشحال خان ختک په دستارنامه کې یو ځای خپل نسب تر ختک پورې رسولی او خپله کورنۍ اونسب یې داسې ښودلی دی: «...... ابتدا به یې له خپله نمسیه کړم چې افضل خان دی. افضل خان د اشرف خان ، اشرف خان دخوشحال، خوشحال دشهباز خان ، شهباز خان دیحیی خان،یحیی خان د ملک اکوړي، ملک اکوړی دچنجو، چنجو دتومن ، تومن د حسن ، حسن دشیخ علي ، شیخ علي د هوتي ، هوتي دبتی ،بتی دلقمان،لقمان دبرهان ،بزهان

دري زویه : لقمان چې ختك یادیږي ،سلیمان چې افریدی دی ،اتمان چې اتمانخېل دی..... ))[19]

لوی خان چې د خپلې کورنۍ کومه شجره لوړه راوړې ده او بیا یې تر ختك او ورپسې کرلاڼي پورې رسولې ده، دپښتو د انسابو او تاریخ په کتابونو کې هم له ځینو جزیي توپیرونو سره ، دغسې ده. زما په پوهه دده دخپلې کورنۍ په اړه دا شجره د هیڅ شبهې وړ نه ده خو تر ختك او بیا کرلاڼي پورې چې دغسې شجرې رسېدلې دي ، د شك وړ دي. ځکه دا قومونه او دا نومونه ډېر زاړه او پخواني ښکاري او دا شجرې که سړی ارزیابي کړي ، هومره زړې نه راخېږي.

دا خبره باید وکړو ، چې د پښتو عنعني نسبنامې ختك په کرلاڼیو ورګډوي او کرلاڼي بیا په سړه بن پورې نښلوي.

خپله خوشحال خان هم په خپله یوه رباعي کې د کرلاڼي نسبت له سړه بن سره داسې ښودلی دی:

پښتون له اصل سړه بني دي
یا غور غوښتي دي ، یا بېټني دي

لودي، غلجي دي دبېټني له لوره
په سړه بن پورې بیا کرلاڼي دي[20]

اما خان په خپله یوه قصیده کې خپله کورنۍ داسې ښودلې ده:

---

(19) ختك ، خوشحال خان: دستار نامه ، د پروفیسور پردل خان ختك په زیار پښتو اکیډیمي ، پېښور ، حمیدیه پریس ۱۹۹۱ م کال ، ۱۵۴ مخ

(۲۰) ختك ، خوشحال خان : دیوان خوشحال خان ختك ، دویمه حصه ،محکمه ثقافت صوبه سرحد جدون پریس پېښور د چاپ کال نه لري ۱۳۳ مخ

زه خوشـــحال د شـــهباز خـــان یم
چـــې تـــورزن یم کـــان پـــه کـــان

شـــهباز خـــان دیحیـــی خـــان و
چـــې بـــل نـــه وهـــې ځوان

یحیـــی خـــان د اکـــوړي و
چـــې پـــه تـــوره شـــو سـلطان

د اکبربادشـــــــاه پـــــــه دور
شـــو دخپـــل ولـــس ترخـــان (۲۱)

دخان دکورني حال د راوړو په برخه کې زما کار هم له همدغو اشخاصو سره چې په لوړو بيتونو کې ياد شوي دي او داځکه چې دخان دکورنۍ سرداري او خاني له ملك اكوړي څخه پيل كېږي.
ملك اكوړی د درویش عرف چنجو زوی ، لومړنۍ ختك و ، چې شهرت يې وموند او د خپل خدای(ج) ورکړی استعداد او قابلیت له امله يې د جلال الدين اكبر توجه جلب کړه . ده ته ملك اكو هم وایي .
دی (تری) ختك و او د استاد كامل دخبرنو له مخې د تیري په توابعو پوري مربوط د کربوغې اوسېدونکی و ، چې لـه خپلو خپلوانو سره د خپګان په وجه له هغه ځایه (خوړې ) ته راغی او له خپل تولي سره به د سونیالی په دره کې په چپاوونو مشغول و [۲۲].

(۲۱) ختك ، خوشحال خان : دخوشحال ختك كليات دويم ټوك، پښتو ټولنه کابل ، اريانا مطبعه ۱۳۶۹ هـ ش ۹۷-۹۸ مخونه .
(۲۲) خوشحال خان ختك ، ۱۸ مخ

اما پروفیسور پرېشان خټک [۲۳] دمنشي ګوپالداس د تاریخ ضلع پشاور د ۳۰۶ – ۳۰۸ مخونو په حواله وایي چې ملك اکوړ خان دکربوغې نه و، بلکې دی دخوټرې (خوټره) اوسېدونکی و او له هغه ځایه یې کوچ کړی دی. پروفیسور پرېشان خټك له ځو تري سره ددې کورنۍ په ارتباطاتو پوره رڼا اچولې ده او دملك د اصلي ځایګي په باب یې دګو پالداس نظریې ته نور هم قوت ور بخښلی دی.

پروفیسور پرېشان هم وایي چې ملك اکوړی د چراټ خوړې ته راغلی دی، دی او ملګري به یې په چپاوونو اخته وو او د کاروانونو لار تړې خوندي نه وه.

کله چې په ۹۸۹ هـ ق کال جلال الدین اکبر د میرزا حکیم د تعاقب لپاره روه ته راغی نو ده د لویې لارې د ساتلو لپاره له سردارانو او مشرانو سره خبرې وکړې. هغوی ورته د ملك اکوړي یادونه وکړه او دایې ورته ووېل چې ملك اکوړي د پر ستر نوم پیدا کړی دی. اکبر باچا دی راوغوښت ، پرده یې زیاته مهرباني وکړه ، ده هم شاهي ملازمت غوره کړ. دا وعده یې وکړه چې دی او قبیله به یې د باچا وفادار او خدمتګار وي.

پاچا له خیراباده تر نوښاره پورې زمکه ملك اکوړي ته په جاګیر کې ورکړه . پر لاره د ځارویو دتګ راتګ دمحصول اخیستو اختیار یې ورکړ او دشاهي سړك ساتنه یې هم ده ته وسپارله.

اکبر باچا ته د ملك اکوړي د لیدلو د سپارښت په اړه د استاد کامل د (خوشحال خان ختك) په ۲۰ مخ کې راغلي دي (ترجمه) ((... اکبر باچا په نیلاب کې د شاوخوا سیمو سرداران راوبلل)) .

پروفیسور پرېشان خټك دغه موضوع لږه نوره هم څرګنده کښلې ده چې زما په پوهه یې دلې راغبرګول بې ګټې نه ایسي. (ترجمه) (( (اکبر) په نیلاب کې دربار جوړ کړی و. دشاهي سړك دساتلو پر مسأ له خبرو لپاره یې د پېښور دوادې مشران راغوښتي وو دوی ته یې وعده وکړه، چې دوی به په سړك کې

---

(۲۳) پښتون کون؟ ۳۱۳ – ۳۱۸ مخونه

بدامني نه پېښوي، خو عبدالرحمن خورنګ مير يخېل او ځينو نورو ملکانو اکبر باچا ته وويل چې موږ خو له خپله لوريه ضمانت درکولای شو، خو د ملك اکوړي ضمانت موږ نشو کولای، له هغه سره خپله خبرې وکړه ...» (پښتون کون؟ ۳۲۸ - ۳۲۹ مخونه) موږ وينو چې ملك اکوړی د خوشحال خان غورنيکه په دې ډول دهند دمغلي امپراتورۍ منصبدار کېږي.

ده د خپل جاګير په سيمه کې دلويې لارې پر سر په اوسنۍ اکوړه ختك يا پخوانۍ ملك پور کې سرای جوړ کړ او دا اوسنۍ سرای اکوړه د همدغه ملك اکوړي نامه ته منسوبه ده (خوشحال خان ختك، ۲۰مخ)

خوشحال خان ختك په دې باب ويلي دي:

رحمت په اکوړي شه چې يې ونيو ځای سرای
چې ښه فهم پې وکړې باور وکړه ځای دی ځای

تورغر يې دهودې دی تر تيراه پورې سم تللی
نيلاب ولنډي دواړو عجب سرايښی په پای

پرې سازه لويه لار د هندوستان و خراسان ده
ګذر يې داتک دی چې ترې ترس کا شاه ګدای

(دخوشحال ختك کليات ۱/ ۳۳۰)

د ملك اکوړي دغه جاګيرداري او منصبداري دده او لادې ته په ميراث پاته شوه او دده په کورنۍ کې کلونه کلونه له يونه بل ته رسېدله.

کله چې ملك اکوړی له خپل زوی يوسف خان او ملګرو سره د نازو خان بولاق ختك له لاسه ووژل شو، له ده اته زامن پاتې وو چې مشر يې يحيی خان و او قبيلې دی د خپل مشر په توګه ومانه. ده ژر د خپل پلار او ورور انتقام

واخيستې. دغه وخت دختکو دخېلونو تر منځ خپل منځي شخړې موجودې وې. ځينې خېلونه ديحيى خان پر سردارۍ راضي نه وو.
ددغو دښمنيو او شخړو درې څلور کاله شوي وو چې يوه ورځ يحيى خان نو ښار ته روان و، سينيو ختکو ورته لار نيولې وه ، دی او دده زوی عالم خان دواړه يې ووژل. ديحيى خان تر مرګ وروسته قبيلې شهباز خان ختك (۱۰۰۰-۱۰۵۰ هـ ق) خپل مشر وټاکه . شهباز خان دخپل پلار او ورور د انتقام د اخيستو لپاره د سينيو ختکو پر کليوحملې وکړې او سيني ختك غرو ته وختل دملك ښادي خان زوی ووژل شو . د ختکو سر د اري پدې توګه تر شهباز خان ختك پورې ورسېدله.

## د خوشحال خان زوکړه :

خان په خپله قصيده کې (( راشه واوره داستان ....)) کې د خپلې زوکړې کال داسې ښودلی دی:

د هجرت زر دوه ويشت سن و
چې زه راغلم په جهان

او په تاريخ مرصع ۲۵۸ مخ کې يې دزوکړې تاريخ په دري ژبه داسې راغلی دی:

تاريخ خوشحال خان ختک در ربيع الثاني
امد چون درين کهنه رباط خاني

حق ګردانا و مرد راخير رسان
تاريخش ګشت (خيرعالمياني)

(خیر عالمیاني) دده دزوکړې تاریخي ماده ده، چې دابجد په حساب (۱۰۲۲) ترې راوزي.

خوشحال خان دهمدغه ۱۰۲۲ هـ ق کال د ربیع الثاني په میاشت کې زوکړی دی.

دا چې د ربیع الثاني پر کومه ورځ زوکړی دی، پدې باب زمادمطالعې لاندې اثارو کې ما څه نه کړل پیدا. باید ووایو چې د ۱۰۲۲ هـ ق کال د ربیع الثاني میاشت د ۱۶۱۳ م کال د می په یوویشتمه برابرېږي او د جون په ۱۸ مه پای ته رسي[۲۴].

نودده زوکړه د میلادي تقویم له مخې په۱۶۱۳ م کال د می یا جون په میاشتو کې واقع شوې ده. دا چې دپښتون کون؟ په ۳۴۶ مخ کې یې دا کال ۱۶۱۷ م ښوولی دی، دتاریخي تقویم له معاد لاتو سره سمون نه لري.

دخوشحال خان دزوکړې په وخت کې ددهلي دمغلي امپراتورۍ واګې د جلال الدین اکبر د زوی نورالدین جهانګیر (۱۰۱۴-۱۰۳۷ هـ ق) په لاس کې وې. ددوی د کورنۍ دجاګیر دارۍ کابو درې دېرش کاله تېر و. پلار یې شهباز خان دده د زوکړې پرکال ددوه ویشتو کالو ځوان و. سرای اکوړه ددوی دسردارۍ مرکز و . خوشحال خان په همدې سرای اکوړه کې دنیا ته سترګې پرانیستې[۲۵].

په دانشنامه فارسي (ج ۳ ص ۳۷۷) کې یې اکوړه (الکوره) لیکلې او دا ځای یې داپرېدو سیمه مېلوولې ده دا خبرې سمې نه دي.

---

(۲۴) هاشمي، عبدالقدوس: تقویم تاریخي ، اداره تحقیقات اسلامي، اداره تحقیقات اسلامي پرس اسلام اباد ۱۹۸۷ م ص ۲۵۶ .

(۲۵) حبیبي ، پوهاند عبدالحی: پښتانه شعراء ،لومړی ټوك پښتو ادبي مرکز سرای تورنګ ، نصرت پر نټنګ پرس لاهور ۱۹۹۳ م ، ۱۳۷ مخ .

## د کوچنيوالي ځينې مهمې پېښې :

د تاريخ مرصع په ۲۷۲ مخ کې يې راوړي دي، چې خوشحال خان دشپږ اووکالو و ، چې دلنډي سين په غاړوکې يې لمبل ، دی په اوبو کې ډوب شو. ځينو مېړمنو دسيند پر غاړه کالي مينځل. د اصف مور دولتی دسيند په اوبو کې دخوشحال خان ويښتانو پورې تړلي وريښيم ليدلي وو. وريښمو ته يې چې لاس اچولی و له وريښمو سره خوشحال خان له اوبو راووت. چيغې سورې يې پيل کړې وې، نورې خدمتګارې هم راټولې شوې وې. د خوشحال خان نس له اوبو ډك و . د خولې او پوزې له لارې داوبو له وتلو وروسته په هوښ راغی ددې پېښې تاريخ ۱۰۲۸ هـ ق کال راخېژي. دا چې دپښتو ادبياتو تاريخ ( ۱۳۶مخ ) کې داکال ۱۰۲۹ ښودل شوی دی، سم نه ښکاري، غالبا چې چا پې تېروتنه به وي.

بله پېښه په اته کلنی کې ور دوخاره شوې وه. دګرمی موسم و خوشحال له ماشومانو سره ديوې خپرې لاندې لوبې کولې له خپرې پرې په ډېرې تېزی ډېره راپرېوته د تاريخ مرصع په قول چې کانی دوه ټوټې شو او د خوشحال خان وچولی يې هم دوه ځايه کړ بې هوښه شو . کابو يوه اونی له مرګ سره لاس اوګرېوان و، په اوومه ورځ په هوښ راغی او روغ شو. داپېښه به په ۱۰۳۰هـ ق کال شاو خوا واقع شوې وي.

## زده کړه:

په د ستار نامه کې راغلي دي: (( زموږ استاد شاه اويس صديقي ملتاني ډېر بزرګ متبرك سړی و. د علوم ظاهري او باطني بهره ور وه .....)) [۲۶]

[۲۶] د ستار نامه ، ۳۹ مخ.

له دې لوړې يادونې سره دومره پوهېږو چې خوشحال خان له شاه اويس ملتاني نه زده کړه کړې وه، هغه يې استاد و. خو لکه استاد کامل چې ويلي دي:

(( دانه ده ښکاره چې له هغه نه خوشحال خان کله ، چېرې او څومره وخت زده کړه کړې ده)) [27]

پروفيسور پرېشان خټک ويلي ، چې دځينو خلکو دا خيال دی، چې خان په ملتان کې هم درس ويلی دی، خو ځينې بيا وايي کېدای شي چې شاه اويس ملتاني دی په پېښور کې تدريس کاوه ځکه چې پېښور هم ددينې علومو مرکز و. [28]

د خوشحال بابا د زده کړې په باب سرې دا ويلای شي، چې ده د کور په جومات او يا سيمه ييزه مدرسه کې درس ويلی دی. اما دانه ده ښکاره چې ده څومره وخت او د ژوند تر کوم کال پورې د زده کړې لړۍ جاري ساتلې ده. په استادانو کې يې يوازې د شاه اوېس ملتاني نوم څرګند دی. نور استادان يې نه دي معلوم.

اما د خان له دې لاندې بيتونوښکاري چې دښکار مينه دومره پر ده غالبه وه ،چې درس اودعلم حصول ته يې نه پرېښود ، لکه چې يې ويلي دي:

طبيعت مې عطا يې نه د تحصيل دی
که خبريم د املا په استعمال

يو ساعت به مې په درس شل مې په ښکاروو
کله ښکار پرېښو م په کسب د کمال

[27] خوشحال خان خټک ، ۲۵ مخ .
[28] پښتون کوم ؟ ۳۴۶ – ۳۴۷ مخونه.

د جـهان تحصيـل بـه کـل واړه زمـا و
کـه اختـه تـه واى د ښکـار پـه اشـتغال

خو که چېرې سړى د خوشحال بابا ټول اثار مطالعه کړي ، نو ورته ښکاري چې دده خارق العاده استعداد د زده کړو او مطالعې له لارې روزل شوي دى او دغو زده کړو يې بيا په اثارو کې خپل ځان ښکاره کړى دى.

علامه پوهاند حبيبي د خوشحال مرغلرې د مقدمې په ۱۸ مخ کې ليکلي دي: «خوشحال خان په کوچنيوالي کې د خپلې زمانې مروج علوم ټول ويلي وو. دده له کلامه ښه ښکاره کېږي چې ده اسلامي علوم لکه : فقه ، حديث تفسير او نور عقلي او فلسفي علوم ، لکه منطق ، حکمت او ادبي علمونه، د فصاحت او بلاغت اصول ، لکه معاني، بيان ، عروض ، قافيه او نور ټوله ويلي او عالم و» [۲۹]

د خپل وخت له ځينو مشهورو عالمانو سره يې ناسته ولاړه هم درلوده. هغو څخه يو هم مولانا عبدالحکيم سيالکوټي (۱۰۶۷ هـ ق مړ) دى . دى د جهانګير او شاه جهان په دورانونو کې د نيمې وچې له جيدو عالمانو څخه و.

خوشحال خان په دستار نامه کې راوړي دي: «عالم العلما مولانا عبدالحکيم سيالکوټي مې په خپله وپوښتېده، لکه : مسطور شول....» دستار نامه ، ۷۰ مخ).

په کليات کې يې دده په باب لولو:

مولا نا عبدالحکيم — د دنيا د دين حکيم
د جوګيانو وګروه ته — په تعظيم و په تکريم
(ديوان ، ۳۵۸/۲ مخ )

[۲۹] ختک : دوکتور راج وليشاه : د پښتو ادبي تحريکونه ، پښتو اکېډيمي، جدون پرنټنګ پرېس ، ۱۹۸۹ ، ۱۵۸ مخ.

میر عبدالصمد خان په خپله یوه مقاله کې چې (لاهور خوشحال ختک کا دلپسند شهر) نومبري او په نوای وقت نومي اخبار کې چاپ شوې ده، د خوشحال خان دهمدغو یادونو له مخې دې نتیجې ته رسېدلی دی چې خوشحال خان له مولانا عبدالحکیم سیالکوټي نه ډېر متاثر و (پښتون کون ؟ ۳۲۷ مخ)

## په سیمه ییزو جګړو کې لومړنی ګډون:

خوشحال خان ختک د دیارلسو کالو و، چې باکوخان یوسفزي د بولاقو ختکو پر یوه کلي حمله وکړه. دخوشحال خان پلار شهباز خان ختک له یو وړوکي لښکر سره د باکو خان مقابلې ته ووت. خوشحال خان هم له خپل پلار سره ملګری و، دواړه خوا وې په جهانګیري کې سره مخامخ شوې. په لومړي سر کې ختک غالب ښکارېدل، خو ژر له ماتې سره مخامخ شول [30] ډېر ختک پکې ووژل شول، د ختکو پاتې لښکر له خپل سردارسره په تېښته ځان ځینې خلاص کړ. دا پېښه په ۱۰۳۵ هـ ق کې واقع شوې ده [31]

د تاریخ مرصع د بیانونو له مخې دختکو او یوسفزو منډړو دمخالفتونو یوه وجه دا وه چې د کابل دسیند هغې بلې خواته زمکې چې د یوسفزو وې، ختکو هغه ترې نیولې وې. افضل خان وایي چې ختکو یوسفزي له مصري کوټ– سرای اکوړي ته مخامخ دکابل سیند په شمالي غاړه واقع دی- نه وایستل. مصري کوټ ته اوس مسري بانده وایي.

---

(۳۰) روهي، سر محقق محمد صدیق: د خوشحال ختک لنډه پېژندګلوي، د خوشحال ختک کلیات، لومړی ټوک، پښتو ټولنه دولتي مطبعه، کابل، ۱۳۵۹ هـ ش اته ویشتم مخ

(۳۱) صمیم، محمد اصف: ګام په ګام له خوشحال سره د افغانستان دکلتوري ودې ټولنه (جرمني) ۲۰۰۰ م کال ۳ مخ.

استاد کامل ويلي دي، چې ددې مخالفتونو او جنګونو بل علت دا و، چې خټک د مغلي واکمنو پلويان وو او يوسفزي مندړ يې مخالفين او سر کشي يې ترې درلوده. (خوشحال خان خټک ۲۲ مخ) اما پروفيسور پرېشان خټک بيا وايي: شهباز خان پر خټکو د خپلې سردارۍ دمنلو او خپلې کورنۍ ته د همدردۍ د جلبولو لپاره دا لاره غوره ګڼلې وه، چې له يوې بلې پښتنې قبيلې سره بايد مستقل جنګ اختيار کاندي. شهباز خان له مندړو يوسفزو سره جنګونه دمغلي حکومت دنماينده په حيث نه، بلکې ديو خټک سردار په توګه کړي وو( پشتون کون؟ ص ۳۳۶) . بايد وويل شي چې شهباز خان تر خپلې سردارۍ د مخه لا د خپل پلار د سردارۍ په دوران کې د يوسفزيو خلاف جګړې او حملې پيل کړې وې.

ترلوړې يادې شوې واقعې ( د باکو خان د حملې) درې مياشتې وروسته. شهباز خان بيا لښکر راټول کړ او د باکو خان پر کلي مانيرۍ يې حمله وکړه. له څه قتل او غارت وروسته بېرته راوګرځېد. باکو خان هم خپلې لښکرې راټولې کړې او خټکو پسې ور رهي شول ، د دواړو خواو تر منځ چې کومې جګړې وشوې، يوسفزو ماته وخوړه او مړي يې په ميدان کې پرېښودل. د خټکو او يوسفزوتر منځ دا ډول جګړې هغه وخت روانې وې.

## د خوشحال خان لومړنی واده:

خوشحال خان خټک د اتلسو کالو و، چې لومړی واده يې وکړ. دده لومړی واده د ۱۰۴۰ هـ ق کال په وروستيو شپو ورځو (۱۶۳۱ م جون ، جولای) کې شوی دی. خان د واده ورځو کې سخت ناروغ و، په لويه تبه پروت او داسې ناروغ و، چې خپلوانو او اقاربو يې له ژونده لاس وينځلی و.

په ناوې پسې د خسر کور ته نشوای تللای ، ناوې يې انا (قذيفې) راوسته دی له تبې تاوېده لوڅاپوڅې يې درلودې. دده دخولې کولو لپاره يې مور او څو نورو ښځو برستن پر ټينګه کړه. تر دې حده چې خان خان بې هوښه داسې فکر کېده چې مړ دې وي. ښځو شور فغان پيل کا، مګر الله تعالی دی وساته

، سا پکې وغړېده . دولس ورځې وروسته خوله پر راغله . لږ پر حال راغی، خلك يې وپېژندل او خپله ناوې يې ولیده ، چې سرته يې ناسته وه.

دا و دخوشحال خان د لومړي واده لنډ بيان چې تاريخ مرصع په ډېر تفصيل او په زړه پورې بيان کړی دی. خو دابايد وويل شي ، چې خوشحال خان څو نور ودونه هم کړي وو، چې شمېر او وختونه يې څوشحالپوهانو نه دي ښودلي او دخان په اثارو کې بي هم ياد نه دی راغلی.

استاد دوست محمد خان کامل په خپل مشهور اثر ( خوشحال خان خټك) ۳۱ مخ کې ليکلي دي. چې د ۱۰۴۰ ه ق له وروستيو نه د ۱۰۵۰ ه ق کال تر وروستيو پورې شاوخوا لسو کالو په موده کې دخوشحال ژوند پېښې نه دي ښکاره .

داستاد کامل په همدې لس کلن نخښبه کړي دوران کې هم دده په ژوند کې ځينې مهمې پېښې شته ، لکه په شعر ويلو لاس پورې کول. چې دده نوم او شخصيت ته يې تلپاتې شهرت ګټلی دی.

په همدې دوران کې شهباز خان د باغي افغانانو د ټکولو لپاره تيراه ته ولاړ چې کله د تيراله مهمه بېرته راګرځېده نو ده په کوهاټ کې د تری او بولاقو سردارانوسره پر ځينو مسايلو جرګه کوله. دغه مهال شهباز خان خوشحال څو تري ته ولېږه. خان له هغه ځايه پر عيسی خيلو حمله وکړه ډېر غنيمت مالونه او روپۍ يې لاس ته راوړې او بېرته راوګرځېد. شهباز خان د خپل زوی له دې کار رواييو ډېر خوښ و. (خوشحال خان خټك ، ۳۲ مخ)

پر عيسی خېلو د خان بريد ، اروانباد عقاب خټك ( ۱۹۱۱-۱۹۸۵ م ) په ۱۰۴۲ ه ق کال کې ښودلی دی[۳۲] پروفيسور پرېشان خټك بيا ويلي دي ، چې موږ په صحيح ډول دا نشو ويلی چې خوترې ته د تګ په وخت کې دده عمر څومره و، خو له قراينو داسې ښکاري چې دده لومړنی واده شوی و. او دده دويم زوی اشرف خان هجري پيدا شوی و.[۳۳] که موږ پر عيسی خېلو

(۳۲) خټك ، سرفراز خان عقاب: خوشحاليات ،پېښور، ۱۹۷۵ م . ۲ مخ.
(۳۳) پشتون کون؟ ۳۵۴ مخ.

دخان برید د اروابناد عقاب په قول ۱۰۴۲ هـ ق کال منو او داهم ښکاره ده چې خان څوتړي ته له تګ وروسته له هماغه ځایه پر عیسی خېلو برید وکړ. نو څو تړي ته دده تګ هم باید همدغه ۱۰۴۲ هـ ق کال وي. دا مهال دده لومړی واده شوی و خو اشرف خان هجري لانه و زوکړی. ښاغلي محمد اصف صمیم هم د هجري زوکړه پر عیسی خېلو تر برید وروسته ښودلې ده[۳۴].

## د بلړ جنګ او د شهباز خان مړینه :

په تاریخي اثارو کې راغلي دي چې اکا خېلو (د مندړ قبیلې په کمال زي ښاخ پورې اړه لري) د مالیې په ورکولو کې ناغېړي کړې و. په همدې اساس نود ۱۰۵۰ هـ ق کال په رمضان (۱۶۴۰ / ۱۶۴۱ م) کې شهباز خان ختک له یوه واړه لښکر سره دیوسفزو پرسیمه ور ننه ووت. د اکا خېلو پر کلي یې یرغل وکړ. پدې یرغل کې له شهباز خان سره دده دوه زامن خوشحال خان او جمیل بېګ او وراره ساقي بېګ هم ملګري وو. یرغلګرو دا کاخېلو ډېر څاروي ونیول او بېرته ستانه شول. دشهباز خان د لښکر له ستنېدو سره سم اکا خېلو هم خپل لښکر راټول کړ او دختکو په لښکر پسې وخوځېدل. لږ وروسته یې په بلړناله نومي ځای کې د ختکو لښکر رالاندې کړ، د دواړو لوریو تر منځ همدلته جګړه ونښته.

پدې جګړه کې خوشحال خان هم زخمي شوی و، پلار یې غشي خوړلی وو او ورور یې جمیل بېګ پر لاس پر غشي لګېدلی و. په تاریخ مرصع کې راغلي، چې هیڅ سپور ختک داسې نه وو چې نه دې وي ټپي شوی.

په دې جګړه کې د یوسفزو پله درنه وه. د جګړې په پای کې شهباز خان دټپونو له لاسه پراس دسپرېدو طاقت هم له لاسه ورکړی و. کله چې شهباز خان بېرته راستون شو، حالت یې ورځ تر بلې خرابېده. د سر ټپ یې د ښه کېدو

(۳۴) ګام په ګام له خوشحال سره، ۴ مخ.

نه و او له دې سربېره فلج شوى هم و. تر جګړې پنځه ورځې وروسته د پنځوسو کالو په عمر وفات شو. خوشحال يې د مړينې تاريخي قطعه په دري ژبه داسې ويلې ده:

روز آدينه آخر رمضان | خان مارخش طرف ميدان راند
گشت فيروز بر غنيم لئيم | ليک زخمې زتير براو ماند
روز پنجشنبه اول شوال | ايزد اورا به سوى خلد بخواند
گشت سال شهاد تش زخرد | که به خمسين والف اسپ جهاند

د لوړې قطعې په لومړي نيم بيتي کې د اخر کلمه د قطعې په تاريخي ارزښتونو کې څه ستونزې پېښوي. د استاد کامل دې مسالې ته پام شوى دى او ويلي يې دي که چېرې مورږ د (اخر) کلمه او اخر واخلو، نو دا ستونزه حلېږي. د شهباز خان د جګړې او ټپي کې دلو ورځ جمعه د رمضان ۲۵ م او د وفات ورځ يې پنجشنبه دشوال لومړى ورځ ده.[۳۵]

په تاويخ مرصع کې يې پدې باب کښلي دي: ((پس له پنځو ورځو چې په اخر درمضان زخمي شوى و، په پنجشنبې د شوال له دارفنا و دار بقا ته کوچ وکړ...... )).

(۳۵) خوشحال خان خټک، ۳۶ مخ.

PROPERTY OF ACKU 9764

((۲))

# دويم څپرکی

# د قبيلې مشر، سردار او منصبدار خوشحال خان

د شهباز خان ختك څلور زامن وو: خوشحال خان او جميل بېك (له يوې مور) شمشېر خان او ميرباز خان. پدې څلورو زامنو کې خوشحال خان تر ټولو مشر و. له قبيله يې دودونو سره سم خوشحال د قبيلې مشر او سردار وټاکل شو. دا وخت په قمري حساب دی څه د پاسه اته ويشت کلن و. د ده تره بهادر خان هم له دې انتخاب سره موافق و. نوره کورنۍ او تره زامن ټول ملا تړلي ورته ولاړ وو.

تر سردار کېدو وروسته په څلوېښتو ورځو کې يې خپل زخم جوړ شو. له رغېدو دوه درې ورځې پس لومړی ښکار ته ولاړ، بيا د حضرت شيخ رحمکار کاکا صاحب ليدو ته ورغی. د هغه خدمت ته له حاضرېدو او دعا غوښتنې وروسته بېرته خپل کلي ته راغی.

له يوسفزيو نه يې د خپل پلار د غچ اخيستو لپاره لښکر راټول کړ او د يوسفزيو سيمې ته يې مخه کړه. که څه هم تره يې بهادر خان دی منع کاوه، خو دی نه منع کېده او پر يوسفزيو يې يرغل وکړ، ددوی سيمې ته داخل شو د اکاخېلو څو کلي يې وسوځول. خپل لښکر ته يې د قتل وغارت حکم وکړ. له مرګ ژوبلې وروسته يې اکاخېلو ته نژدې د يوسفزيو دوه درې نور کلي هم وسوځول او مازيګر بېرته له خپل لښکر سره خپل کلي ته روان شو.

د شا وخوا کمال زيو، امازيو او سه صديو چې دا حال وليده، نو يې ډېر ژر يو شپږ زره کسيز لښکر تيار کړ او په خټکو پسې روان شول. خټکو چې د دوی لښکر وليد، بېرته ورپسې راوګرځېدل، د اتفاق له مخې د واړه لوري بيا په (بلړناله) کې سره مخامخ شول او دا هغه ځای و چې شهباز خان پکې ماته خوړلې وه او تېښې شوی و. په دې جګړه کې يوسفزيو ماته وخوړه ډېر مړګ ژوبله وشوه او ډېر کلي وسوځېدل. خوشحال خان په دې ډول دمخنۍ جګړې د ماتې او د خپل پلار غچ واخيست او بېرته خپل کلي ته راوګرځېد.

همدا مهال د ده په نامه د هند د مغلي امپراتور شهاب الدين شاه جهان فرمان هم راورسېد چې ده ته يې سرداري او منصبداري ورکړې وه.

خوشحال خان هم په خپله يوه قصيده کې ويلي دي:

| | |
|---|---|
| هغه کال پوره پنځوس و | چې شهيد شو شهباز خان |
| دهغه دور بادشاه و | قدردان شاه جهان |
| د پلار ځای يې وماته راکړ | په ولس شوم حکمران |

(د خوشحال خټک کليات ۹۸/۲)

تر دې وروسته به مونږ وګورو چې خان د خپلې سردارۍ او منصبدارۍ د پاينښت او سمبالښت لپاره څه کړي دي؟

## د کانګړې سوبه:

د قبيلې له مشرۍ او سردارۍ سره سم د هند مغلي واکمنو ته د خوشحال خان د لومړني خدمت زمينه د کانګړې مهم برابره کړه. پېښنه داسې وه:

راجه جګهت سنګه د پيتهان زميندار و. دده زوی راجه روپ د باچا له خوا د کانګړې د غره دلمنو فوجدار مقرر شوی و. دده دفوجدارۍ په وخت کې د کانګړې د لمنو د زميندارانو تحفې شاهي دربار ته نه وې رسېدلې. راجه

روپ اوازه خپره کړه چې دده او پلار جګهت سنګهه تر منځ خوابدي پېښه ده. له بلې خوا راجه جګهت سنګهه له باچا نه غوښتنه وکړه. چې که د کانګړې دلمنو فوجداري ده ته وسپارل شي، نو د زمینداراتو او نورو بقایاوې به ـ چې څلور سوه زره روپۍ کېږي ـ هر کال شاهي خزانې ته سپاري.

باچا دده غوښتنه ومنله او د کانګړې فوجداري یې جګت سنګهه ته ورکړه. راجه جګهت سنګهه د فوجدارۍ له تر لاسه کولو وروسته په ښکاره د باچا مطیع و. مګر په پټه یې د بغاوت لپاره کار کاوه.

لومړنی کار یې دا وکړ، چې د تاراګړ ورانه کلا یې بیا ډېره کلکه له سره جوړه کړه او خپل مرکز یې دلته غوره کړ. باید ووایو چې تاراګړ کلا په ختیځ پنجاب کې د چنبې د ښار جنوب ته او د ډلهوزي جنوب ختیځ ته واقع ده. له دې سربېره جګهت سنګهه دوې نورې ټینګې کلاوې هم درلودې. یوه د (نورپور) او بله د (مئو). دا دواړه کلاوې د تارا ګړه جنوب لویدیځ ته دچنبې له حدودو د باندې واقع دي.

کله چې باچا د جګهت سنګهه له ذغو سرګرمیو خبر شو، نو دده د ټکولو لپاره یې درې لښکرې د سید خان جهان، سعید خان او اصالت خان په مشرۍ مقررې کړې او ددې درې واړو لښکرو قوماندان یې خپل زوی شهزاده مراد بخش وټاکه. او وروسته بهادر خان روهیله هم د باچا په حکم له درې زره سپرو او درې زره پلو سره شهزاده ته ورغی. د غو فوجونو د نور پور کلا ووهله او وړاندې روان وو.

راجه جګهت د تاراګړه کلا ته ورغی. دا کلا د یوه غره د پاسه جوړه شوې وه. ډېر استحکامات یې درلودل او نیول یې اسان نه وو.

زموږ شاعر خوشحال خان خټک هم د نورپو له فتحې وروسته له خپل دوه زره کسیز لښکر سره له شاهي پوځونو سره ملګری شو. دی دا صالت خان په وسیله پدې مهم کې شامل شوی و.

خوشحال خان په خپل بياض کې پدې باب يو بيان لري، چې لنډيز يې زه د استاد کامل د (خوشحال خان خټک) له مخې د لته راوړم (( کله چې ورسېدم . بهادر خان او اصالت خان دواړه يو ځاى اوسېدل

ټول هندوستاني لښکر پر يوې مورچې ځوځله ځانونه سترې کړل. سټر جنګونه به وشول .خو برى به نه و.زه يې نوى راغلى وليدم. نو يې ددې مورچې کار ماته راوسپاره. دوه زره هندوستاني توپچي پوځ هم له ماسره و- د يوې د مړى هم نه وو- ما بې له کوم عذره دا کار ومانه . زه لاړم مورچه مې ټينګه کړه ، د جګهت سنګه ټولولښکرو يوځل پر موږ حمله وکړه.هندوستاني توپچيان ډېر بد و تښتېدل ،اولوى پوځ ته يې ځانونه ورسول .زماپه ملګروکې چې نامردان ووهغوى هم له هندوستانيانو سره وتښتېدل. پوازې پنځوس ځوانان له ماسره په مورچه کې پاتې شول. زما ملګرو هم وويل چې نن ورځ دجنګ نه ده، که ځان خوندي کړو دا به غنيمت وي. مګر ما وويل چې دا زما لومړنى خدمت دى، دټول هندوستاني فوج سترګې ماته دي په داسې حال د ژوندي پاتېدو لپاره تېښته ؟ له دې کاره مړينه بهتره ده.زما ملګرو هم مرګ ومانه او دايې وويل چې ته مړې نوزموږ هم مرګ قبول دى. دښمن چې زموږ دلښکرو تېښته وليده ، نو سملاسي راورسېدل او زموږ پر سرونو ودرېدل . موږ هم يو ځل حمله پر وکړه ،خبره له ټوپکه او غشو ووته دتورو اوجمدړو وار راغى. دښمن په تېښته پيل وکړ، ډېر کسان تورو وخواړه.چې پاتې شول په ځنګل کې يې ځانونه پټ کړل. بيا يې هم زموږ دمورچې خواته مخه ونه کړه )).

په همدې مهم کې خوشحال د بهادر خان له لښکر يانو سره ديوې بلې مورچې په ساتنه کې هم مېړانه وښوده او دمورچې په ساتنه کې برى ور په برخه شو. د تلوا ګړه په مهم کې دخوشحال خان دټولو کوښښونو بيان باچا ته

وشو او باچا ده ته فاخره خلعت ورکړ او منصب يې ور زيات کړ.[37] دا پېښه په ۱۰۵۱ هـ ق کال کې پېښه ده[38]

## له داراشکوه سره ملاقات:

شاه جهان باچا خبر شوی و چې د پارس صفوي باچا ډېر لوی پوځ له توپخانې سره د سپه سالار رستم خان په مشرۍ د کندهار د نيولو لپاره رهي کړی دی.

شاه جهان غوښتل چې خپله دده مقابلې ته ورشي. خو وليعهد داراشکوه ورته وويل چې دی دې په لاهور کې پاتې شي او دا مهم دې ده (داراشکوه) ته وسپاري. شاه جهان باچا دوليعهد خبره ومنله او دی يې د ۱۰۵۲ هـ ق د محرم پر ۲۰ له يو فوج سره هغې خواته ولېږه. خوشحال خان خټک دکوهاټ په ريسۍ کې له دارا شکوه سره وليدل. ددولت بېك قاقشال او مرزا خان کوهاټي په وينا دارا شکوه محال تری بولاق له خوشحال خان نه واخيستل.

## د بلخ او بدخشان جنګي پېښې:

د توران حکمران نذر محمد خان به هر وخت د هند دمغلي سلطنت پر حدودو تېری کاوه. په بلخ او بدخشان کې فساد او بد امني خواره وو. د ۱۰۵۵ هـ ق کال د ۱۶۴۵ م کال په اوايلو کې باچا خپله غوښتل کابل ته ولاړ شي او له شهزاده ګانو يوځوك دبلخ او بدخشان دتسخيرلپاره واستوي. اصالت خان يې له عليمر دان خان سره د مشورې او ځينو ضروري کارونو دسرته رسولو په منظور دمخه کابل ته ولېږه. پدې مهم کې خوشحال خان

[37] خوشحال خان خټك: ۴۶ مخ، پښتون کون؟ ۳۷۰-۳۷۲ مخونه

(۳۸) دخوشحال خټك کليات مقدمه نه ويشتم مخ

هم له اصالت خان سره و. زموږ شاعر پدې سفر کې له هندوکش او یا د خان دخپل ضبط له مخې له هندوکوه واوښت ، درې شپې یې د غاښي (کوتل) پرسر تېرې کړې او بیا له اصالت خان سره یو ځای اندراب ته ورسېدل. کومې مقابلې چې مغلي لښکرو له مقامي خلکو سره وکړې، د خوشحال خان کوښښو نه پکې څرګند وو.

پدې سفر کې شاهي لښکرو له چور اوتالان وروسته بېرته راستون شو څه کسان یې هم له ځانه سره راوستل د پنجشېر له لارې کابل ته ورسېد. لس پنځلس ورځې په کابل کې وو، د کابل له میوو یې خوندونه واخیستل، خوشحال خان له اصالت خان نه اجازه واخیسته جلال اباد ته ولاړ او اصالت خان چې لاهور ته تلونکی و، نو یې خوشحال خان ته وویل، چې په ده پسې دې لاهور ته راشي.

خوشحال خان د جلال اباد له سیمو دبېړې په وسیله دسیندله لارې خپلې سیمې ته روان شو او له هغه ځایه په اصالت خان پسې لاهور ته ولاړ. باچا یې په منصب کې اضافه وکړه، دخوشحال خان د قبیلې لسو، دولسو تنو ته یې منصبونه ورکړل، دوې میاشتې په لاهور کې واوسید او له هغه ځایه بېرته افغانستان ته راغی.

د ۱۰۵۵ هـ ق ذیحجه (د ۱۶۴۶ م کال فروری) شاه جهان شهزاده مراد بخش له پنځوس زره پلي او لس زره پیاده پوځ سره د بلخ او بدخشان د نیولو لپاره مامور کړ. ډېر لوی لوی مسلمان او هندو امرا هم ورسره ملګري وو.

شهزاده امر کړی و، چې څه لښکر دې د پېښور له لارې او څه دې هم د بنګښو له لارې ولاړ شي. د لښکر دواړه برخې دې په کابل کې سره یو ځای شي.

د شرقي افغانستان قبایلو لکه غوریه خېلو ، ګګیانیو، مامنزیو ، اپربدیو، ورکزیو او بنګښو ته هم د لښکرو د برابرولو حکم شوی و او پر

خوشحال خان یې هم د زړو تنو پلیو اوسپرو د برابرولو حکم کړی و او نه زره روپۍ دضروري لګښتونو لپاره ورکړې وې.

ددې مهم د نګرانۍ لپاره شاه جهان خپله د ۱۰۵۶ هـ ق کال د صفرې ۱۸م ( ۱۶۴۶ م اپریل) له لاهور نه راوخوځېد، د ربیع الاول په ۲۳ م تاریخ حسن ابدال ته ورسېد. له هغه ځایه یې شهزاده ته (خاصه خلعت) او فرمان ور واستاوه او ورته یې لیکلي وو. څومره ژر چې کېدای شي له پېښور نه کابل او له هغه ځایه خپل منزل مقصود ته ځان ورسوي. لښکرې له امراوو سره له دواړو لارو کابل ته ورسېدې. شهزاده هم د پېښور نه کابل ته ولېږدېد او بیا یې له کابله کوچ وکړ او په پای منار کې یې منزل ونیو. ځینې امرایې ولېږل.

خوشحال خان خپل زیات سړي، وروسته بهادر خان ته پرېښودل. اوخپله یې له پنځوسو سپرو او څو پلیو سره په بیړه ځان اصالت خان ته ورساوه. اصالت خان دا وخت پنجشېر کې و. د جون میاشت وه ،څو غاښي له واورو ډك وو. اصالت خان خوشحال خان ته حکم وکړ چې د راجپوتانو تر شا دې ولاړ شي. خوشحال خان له څو ځوانانو سره له واورو ډکو لارو تېر شو او له غاښي واوښت او د غاښي بل اړخ ته یې د غره په یوه څمڅه کې ځای ونیو. د څو ړك لپاره ورسره څه نه وو. خپله د غاښي په شمال کې سراب ته ورغی، څو هلته یې هم څه ونه موندل ، بیا یې داندارب او سراب شاوخواته په غلې پسې سړي واستول. څو څه یې ونه موندل. خوشحال خان او سړي یې له لوږې او سړو بدحال درلود دښیند غارې ته راغلل. لرګو ته یې اور واچاوه او شاوخوا پې کښېناستل. خوشحال خان اودس وکړ او دوه رکعته لمونځ یې وکړ او د لوی خدای( ج ) دربار ته یې دعا وکړه چې ای مسبب الاسبابه زموږ درزق دروازه پرانیزه. دا چې تر دې وروسته څه پېښ شول دخوشحال خان ختك په خپلو الفاظو یې ولولئ:

(( په دامیان کې یو شخص د تاجك پسه تر ګردن نیولی په لور دهغې دره چې پکې (قلعه ) د راجپوتانو وه ته .هغه شخص مې ځان ته وباله هر چې یې غوښتل هغه مې ورکړه اومنت مې یې په ځان بار. کړ ،پسه مې هغه زمان

زبح کړ، لړ مون مې چې په اور واچوه لړ ځه وريت شه. له اوره مو راواخيست او اور دلوړې مو پرې مړکړ.......)[39]

بيا يې يو من اوړه پيدا کړل و دپسه له ځه پاتې غوښې سره يې پاخه کړل او وې خوړل او د لښکر خواته روان شول. دا وخت نو لښکر له غابنې اوښتی او د سراب حدودو ته داخل شوی و. خوشحال خان داصالت خان او بهادر خان د اوسېدن ځای نه ځان خبر کړ او له خپلو ملګرو سره هلته ورغی. له بهادر خان او اصالت خان سره يې وليدل. دخان د مړيو په باب ځه غلط فهمی پيدا شوې وې هغه يې خان ته وريادې کړې.

په دې کې خوشحال خان له اصالت خان سره اندزاب ته ولاړ او له هغه ځايه نهرين ته ورغی. دا وخت د شهزاده لښکر هم هلته ورسېد. دخوشحال خان د لښکر پاتې سړې هم ورسره وو.

د خوشحال خان دلښکر له رسېدو سره سم، اصالت خان ده ته د مقامي خلکو د سرکوبۍ حکم ورکړ. دسيمې هزاره وو له جګړې پرته مورچې پرېښودې. دخوشحال لښکرو پر هغې سيمې يرغل وکړ، مرګ ژوبله وشوه. ځه خلك ونيول شول ځه ځاروي او مالونه يې غنيمت ونيول. د مرګ ژوبلې ګزارش اصالت خان ته ورکړل شو او غنيمت مالونه يې د خپلو سړيو تر منځ ووېشل.

همدا مهال اصالت خان خوشحال خان شهزاده ته وړاندې کړ. شهزاده اصالت خان ته دکندز دتللو حکم وکړ. خو شحال خان له اصالت خان سره. کندز ته ولاړ. له کندز نه تاشقرغان ته ولاړل، بيا بېرته امام صاحب ته را ستانه شول. ځه وخت وروسته بېرته بلخ په لوري وخوځېدل. دا وخت شهزاده هم د بلخ خواته مخه کړه. همدا مهال ورته دنذر محمد خان په نامه د باچا خط ورسېد. دا خط ايلچي نذر محمدخان ته ورساوه. نذر محمد خان د پاچاهي خط له امله دا ومنله چې کله شهزاده بلخ ته راشي. نو بلخ او بدخشان دواړه به ورته

(۳۹) تاريخ مرصع، ۲۱۰ - ۲۱۱ مخونه

حواله کړي. د جمادی الاول پر ۲۸م شهزاده له امراوو او پوځ سره په خورا دبدبه بلخ ته روان شول.

خپله شهزاده د ښار له دروازې دباندې ځای ونیو او ځینې امرا یې د ښار دتصرف لپاره د ننه واستول اونذرمحمدخان ته یې ایلچي واستاوه او دا یې ورته وويل چې زما ستا دملاقات شوق دی که غواړې تشريف راوړې نوماته اطلاع راکړه زه به تاته ښه راغلاست ووايم. له دې پيغامه نذر محمد خان خوا بدی شو، او وتښتېد. ځکه ده دا ګڼله چې دی مشر دی او شهزاده به ده ته ورشي.

کله چې د نذر محمد خان د تېښتې حال ښکاره شو نو امرا د علي مردان خان پر کورراتول شول او فيصله يې وکړه چې بهادر خان او اصالت خان دې د نذر محمد خان تعقيب وکړي. اصالت خان او بهادر خان له لښکرو سره په نذر محمد خان پسې روان شول. زموږ خوشحال خان خټک هم له اصالت خان سره ملګری شو د شپې په تيارو کې اصالت خان او بهادر خان او لښکرو سره ورک کړل. پرېشانې پيدا شوه.

شمشېر خان ترين ، علاول خان او خوشحال خان درې واړو مشوره کوله چې څه بايد وکړي. علاول خان مشوره ورکړه، چې بېرته به ښار ته ځو. خوشحال خان دا تجويز و نه مانه او دا يې خوښه کړه چې «خپل لټون جاري وساتو لوی خدای (ج) هادي دی ، ان شا الله العزيز په خپل تلاش کې به بريالی شو» شمشېر خان د ده مشوره ومنله درې واړه خوشحال خان ، شمشېر خان او علاول خان د لويديځ خواته لاړل چې د سهار رڼايي خپره شوه ، نويې وليد چې اصالت خان اوبهادر خان دواړه د يو سيندګي پر غاړه د لمانځه لپاره اودسونه کوي. دوی هم هلته ولاړل ، او دسونه او لمونځونه يې وکړل. غرمه په يوکلي کې کوز شول . له څه ارام وروسته يې د ماسپښين لمونځ وکړ او بيا په نذر محمد خان پسې وخوځېدل. په لاره کې خبر شول چې نذر محمد خان په شبرغان کې دی. سره له دې چې له اصالت خان اوبهادر خان سره پاچاهي لښکر لږو، خو دواړو خانانو فيصله وکړه چې جنګ به کوي ، د شبرغان په

لور وخوځېدل. نذرخان محمد ماته ومونده او ازبکانو تېښته وکړه بهادر خان او اصالت خان شپږ ورځې له خپل لښکر سره په شبرغان کې واوسېدل. دا وخت د شهزاده حکم راغی ، چې بهادر خان دې د اندخوی پر لوري کوچ وکړي بهادر خان هسې وکړل. خو کله چې د شبرغان او اندخوی تر منځ یو باغ ته کوز شو ، دوې درې ورځې هلته و ، چې د بېرته ستنېدو لپاره د باچا حکم ورته راغی.

تر دې وروسته د بلخ او بدخشان دمهم په اړه ځینې نور واقعات هم پېښ شول. دشهزاده او باچا تر منځ خوابدي راغی - تفصیل یې ددې ځای کار نه دی - استاد کامل وړاندې لیکلي دي(( کله چې د ۱۰۵۶ هـ ق په جمادی الثاني کې مراد بخش اصالت خان او بهادر خان ته دشبرغان او اندخوی تر منځ سیمې نه د بېرته ستنېد و حکم وشو او خوشحال خان هم چې ددوی ملګری و ، بېرته راستون شو ، پدې مهم کې د خوشحال خان کوم ځانګړی کردار نظر ته نه راځي )) .[۴۰]

له دې بیانه څرګنده شوه ، چې خان په دې مهم کې له کابله تر شبرغانه او بیا یو څه دمخه اندخوی ته نزدې زمکو پورې ځایونه تر پښو وایستل. ده په خپل بیاض کې د اسفرونه او واقعات کښلي دي چې افضل خان ترې په تاریخ مرصع کې اقتباسونه کړي دي.

## داصالت خان مړینه :

د ۱۰۵۷ هـ ق کال د ربیع الاول پر ۲۲ م (۱۶۴۷ م اپرېل) اصالت خان په خپل مرګ ومړ. دی زموږ د شاعر خوشحال خان محسن او مربي و. له دربار سره دده د اړیکو جوړوونکی همدا اصالت خان و.

---

(۴۰) خوشحال خان خټک ، ۵۷ مخ ددې بخث زیاتره برخې د استاد کامل دهمدغه کتاب له اردو متن نه پښتو ترجمه شوې دي.

ځو ځله چې خوشحال خان له درباره مواجب اخيستي او منصب يې لوړ شوی . باعث يې همدا اصالت خان و.

## د هندو بار سفر:

اروانښاد استاد دوست محمد خان کامل کښلي دي: (( د ۱۰۵۸ هـ ق کال ربيع الاول د ۱۶۴۸ م کال د اپريل دويم موړ خوشحال خان د اټک په بله غاړه کې مومو. پدې سفر کې ده يو اوږد نظم د ميرزا ابو الحسن اصف خان دکوم شاندار محل ، د محل د باغونو او د باغونو د زړه وړونکو مناظرو په ستاينه کې ليکلي دي )) همدې استاد بيا يو بل ځای ليکلي دي : (( د شاهنشاه شاه جهان خسر ميرزا ابوالحسن اصف خان ، خان خانان په دهلي ، اګره او کشمير کې ځوعمارتونه او باغونه جوړ کړي وو او نوه حويلۍ يې په لاهور کې په شل لکه روپو جوړه کړې وه...... له دغو ودانيو څخه ديوې عالي شانې ودانۍ ، باغونو ، نهرونو ، او زړه وړونکيو مناظرو په باب خان يوه ۳۱ بيتيزه قصيده ويلې ده. د قصيدې له دريم او ځلورم بيت څخه ځرګندېږي چې دا قصيده د همدغې ودانۍ شاوخوا ويلې شوېده (خوشحال خان خټک ۱۳۶۵.۵۷۰ (مخونه) دخان ددې قصيدې څه برخې لاندې وړاندې کېږي:

چې موسم مې د ګلونو د ګلزار شي
نرم نرم تر شح په مرغزار شي

دهغه له بختــه ځوک برابري کا
چې په هسې وخت يې سير په ګلزار شي

نن زما طالع له ماسره مدد کا
بخت دې هر کله داهسې مدد ګار شي

چې مې ناسته دصورت په هسې ځای ده
چې ثنــايې پـــه لټـــه دهندوبارشـــي

پـــه داځای چــې دا بدالـــو نظـــر وشـــو
عــاقبت بــه پــه همـــه جــهان اوځارشــي

په چمـــن کـــې يــې اوبــه درومــي روانـــې
پــه سبزه بــاندې نــارې د جويبـــار شـــي

پـــه دا هســـې پـــاکيزه اوبـــو سلســـالو
شـماتت يــې دکشـــمير پــه شـــاله مارشـــي

دسرې سترګې روښانـــې زړه خوشـــحال کـــا
چـــې اوبــه دفـــوارو ســـره تارتـــار شـــي

چې لـــه پاســه نـــه اوبـــه راځي پـــه کښته
وايـــي ســـپينې مرغلـــرې دي نثـــار شـــي

هغـــه ځای چـــې د مرمـــرو فـــوارې دي
ترغـــه ځای دې د ارم تماشـــه خار شـــي

تـــه بـــه وايـــې د اســـمان تنـــاغو راشـــوه
چـــې اوبـــه تـــرې را روانـــې دابشارشـــي

چې په سر يې د حوضونـــو خوک ګذرکـــا
وايـــي پـــاس پـــه اينـــو بـــاندې رفتارشـــي

مرغاوي يې په حوضونوکې غوټې لي
دمحل په مخ کې نلست دباز وښکارشي

ته به وايې د نمرود د اور لمبې دي
سره لاله چې په چمن کې انتشار شي

په اطراف د هر چمن شګفته شوي
د زنبقو دسوسنو هم ديدار شي

په دا باغ کې دګلونو کمي نشته
دهمه واړو دچا په ژبه شمار شي

که سل برګکه بنفشه که ارغوان دی
دهر ګل په ننداره خاطر قرار شي

د هغه صانع تر صنعه صدقه شم
چې يې هسې دقدرت په لاس نګار شي

واړه ونې يې اسمان سره سيالي کا
ولې فرق پکې د ولې دچنار شي

په هزار رنګه نوا شي دمرغونو
هغه دم چې په چنارو کې چغارشي

دا مکان به دبهشت سره داخل کا
که رضوان يې له نشاطه خبردار شي

دابناد اصف خان له لاسه شوې
اوس په حکم دخرم پکې دا کار شي

زر اته پنځوس کالونه دهجرت وو
دنوروز په دولسم چې دا ګفتار شي

په خوشحال وو هم داهومره چې ویل شول
نوردعقل حکم نه دی چې تکرار شي

(خوشحال ختك کلیات، ۲/۱۶۶-۱۶۷ مخونه)

## بهادر خان ته مېلمستیا :

د ۱۰۵۹ هـ ق د محرم پر ۱۲ مه د ۱۶۴۹ م کال دجنوري پای لاهور ته خبر راغی ،چې شاه عباس ثاني پر کندهار حمله کړې ده.شاه جهان هم شهزاده اورنګزېب ، له بهادر خان او نورو دېرو هندو اومسلمانو امراوو سره دشاه عباس مقابلې ته واستاوه.

کله چې بهادر خان له اباسینه راتېر شو ،نو هغه اخلاص چې یې له خوشحال خان سره درلود ، سرای اکوړې ته ورغی او دخوشحال خان مېلمه شو. خان دخپلې قبیلې واړه اوغټ ورته رابللي وو. خان په مېلمستیا کې افغاني او مغلي دواړه ډوله خواړه تیار کړي وو.بهادر خان دهندوستاني افغانانو په ډول ډوډۍ خوړه. تر مېلمستیا وروسته بهادر خان دشېخ رحمکار کاکا صاحب د لیدو لپاره دهغه کلي ته ورغی.

## له شاه جهان سره ملاقات :

د ۱۰۵۹ م کال ربیع الاول (۱۶۴۹ م کال دمارچ اواسط) شاه جهان باچا له لاهور نه دکابل په نیت روان شو اودربیع الثاني په اواسطو کې له اباسین پوریووت ،خوشحال خان دپاچا استقبال وکړ او باچا ومانه . تر ډېره ځایه دپاچا له سورلی سره روان و. باچا په تخت روان کې ناست و. باچا له خوشحال خان نه لومړی دیوسفزیو د سیمې د رسم و رواج، سردارانو او پوځي قوت په باب پوښتنې وکړې.

خوشحال خان ورته ویلي وو: په غرنیوسیموکې د یوسفزیو سرداران : کچی،حمید او کاچودي ،په میداني سیمه کې : حبیب ،بهاکو اوظریف دي . په ترتیب سره پنځه زره او پنځه سوه سواره میدان ته حاضر ولای شي.

پاچا له خان نه دا هم وپوښتل چې دی ولې له یوسفزیو سره جنګېږي ؟ خوشحال خان ځواب ورکړ:

دا ځکه چې یوسفزي یاغي دي او دی دولتخواه دی .پدې اساس ورسره جنګېږي.

شاه جهان باچا له خوشحال خان نه د هغو ختکو په باب هم پوښتنه وکړه چې د پنجاب دخوشاب او بهیرې پر سیمو باندې یرغلونه کول. دغوختکو ډېر اعوان یرغمل نیولي وو او ډېرې سیمې یې ورانې کړې وې. خوکله چې خوشحال خان سر دار شو ، نوبیا ختکو پردې سیمو له تاراج او یرغل نه لاس واخیست .

پاچا ،خوشحال ته داهم ویلي وو چې له هغو ختکو سره دده څه اړیکه ده؟ خوشحال خان ورته ویلي وو، چې زه هم ختك یم اوهغوی هم ختك دي . شاه جهان خوشخال خان له ډکې بیرته رخصت کړ. کله چې باچا کابل ته ورسېد ، نو خوشحال خان کابل ته ورغی اوله باچا سره یې ولیدل په هغو ورځو کې دبهاکوخان یوسفزي زوی دحکومت ملازمت منلی و، دیوسفزیو بل سردار حبیب دکینې له مخې په شاوخوا سمیوکې بدامنې جوړه کړې وه او د چوراو

تالان بازار تود و . د همدغو پېښنو له امله مير بخشي له باچا څخه وغوښتل چې د يوسفزيو دسيمې د نظم و نسق کار دي خوشحال خان ته وسپارل شي.
خوشحال خان هم په همدې سلسله کې کابل ته تللی و . دميربخشي د سپارښت له مخې باچا ددې سيمو دانتظام چارې خوشحال خان ته وسپارلې.
کله چې خوشحال خان بېرته خپلې سيمې ته راغی، ديوسفزيو د سيمې په نظم او انتظام بوخت شو ، څه موده وروسته چې باچا له کابله راستون شو ،خوشحال خان بيا باچا ته ورغی او ورسره يې وليدل. باچا ديوسفزيو حال ترې وپوښته ،خوشحال خان ورته وويل چې د يوسفزيود قبيلې چارې به په تدريج په يو کال کې پای ته ورسېږي.
خوشحال خان باچا ته وويل چې له ما سره توپچي لږ دي ماته دې توپچي راکړل شي باچا ورته وويل : انتظام به يې وشي.
خوشحال خان ديوسفزودسيمې بندو بست په ډېر ښه شکل وکړ. خو لږه موده وروسته داراشکوه د بهاکوخان طرفداري وکړه او داسيمه يې د خوشحال خان له جاګيره وايسته .

## دبهادر خان مړينه :

په ۱۰۵۹ هـ ق کال کې بهادر خان هم دسالندۍ له امله ومړ. د اصالت خان ترمړينې وروسته خوشحال خان په درباري امراوو کې خپل دويم دوست هم له لاسه ورکړ.

## دشيخ رحمکار مړينه :

د ۱۰۶۳ هـ ق کال د رجب د مياشتې پر ۲۴ مه نېټه (د۱۶۵۳ م کال جون) دجمعې ورځ دخوشحال خان پير و مر شد او ستر پښتون ستانه او ولي

الله حضرت شيخ رحمکار کاکا صاحب د اتيا کالو په عمر وفات شو. د هماغې ورځې مازيګر خاورو ته وسپارل شو. د تکفين او لمبولو چارې يې مولانا قاضي ولي محمد خان سرته ورسولې ،زموږ شاعر خوشحال خان هم په اخري وختونو کې دحضرت شيخ په خدمت کې حاضر و. دعا وې يې ورته کړې وې. خان يې په جنازه کې ګډون درلود او د جنازې د بازو د جګولو نېکمرغي يې په برخه شوې وه.

خوشحال خان يې دمړينې تاريخي قطعه داسې ويلې ده:

چو رفت از جهان شيخ دين رحمکار
رجب بود، جمعه به سه وسه هفت

چو احوال تاريخ جستم زعقل
چنين گفت باما که ((بافقررفت))

((بافقررفت)) يې دمړينې تاريخي ماده ده چې ۱۰۶۳ ه ق ترې راوزي.

## له بنګښو سره جګړې:

په ۱۰۶۳ -۱۰۶۴ ه ق ( د ۱۶۵۳ د دسمبر - د ۱۶۵۴ م کال د نومبر ) کې د بنګښو له يو سردار شېر محمد خان کوهاټي سره جګړې وشوې. ددې جنګونو سبب داو چې شېرمحمد خان له باچا نه د کال دېرش زره روپو په بدل کې محال ترى بولاق اخيستل غوښتل. پخوا محال ترى بولاق د بنګښو په علاقه کې شامل و. په ۱۰۴۷ ه ق کال کې د ترى اوبولاقو سردارانو له شهباز خان څخه غوښتي وو چې دا سيمه له بنګښو څخه بيله کړي. بيا نو دا سيمه دشهباز خان او وروسته د خوشحال خلن په جاګير کې وه. خو په ۱۰۵۲ ه ق

کال د دولت بېك قاقشال او مرزا خان کوهاټي په وينا دا سيمه داراشکوه د خوشحال له جاګيره وايسته.

کله چې خوشحال خان او نور ختټك سرداران د بنګښو د سردار له دې ارادې خبر شول، نو يې په خپلو کې مشوره سره وکړه. د محال تري بولاق خلکو خوشحال خان ته احوال ورکړ، چې ته د خپلې کورنۍ يو سړی ولېږه، مونږ مرسته ورسره کوو. خوشحال خان خپل تره بنادي خان له څو سپرو سره دوی ته ولېږه، د ختټکو او بنګښو ترمنځ دجنګ په پيل کې دشېر محمد خان يو خپلوان تري بولاقو وو اژه څو تنه نور بنګښ هم ووژل شول. تر دې وروسته شېر محمد خان يوبل لښکر راټول کړ، خوشحال خان چې خبر شو نو يې خپل مشر تره بهادر خان له خپل زوی اشرف خان اويو لښکر سره جنګ ته ولېږه. شېرمحمد خان له ختټکو سره د جنګ لپاره له کوهاټ د باندې ووت. په دې جګړه کې دشېر محمد خان يو تره چې هغه هم بهادر خان نومېده ووژل شو. په دې جنګ کې هم ميدان ختټکو يوور. په دې جګړه کې اشرف خان څرګنده توره وکړه او غوښتل يې چې بنګښ پسې تعقيب کړي، مګر نيکه يې بهادر خان اجازه ورنه کړه. څه موده وروسته د خوشحال خان يو بل تره بنادي خان تر قيادت لاندې دختټکو لښکرو بنګښو ته ماتې ورکړه. په دې جنګ کې د بنګښو درې سوه تنه سړي ووژل شول او ډېر مالي زيانونه هم ورواوښتل.

## د هندمغلي امپراتورۍ پر تاج و تخت جګړه او د خوشحال موقف:

د ۱۰۶۷ هـ ق کال د ذی الحجې پر ۷ مه (د ۱۶۵۷ م کال سپتمبر) شهاب الدين محمد شاه جهان د رنو متيا زو د بندښت په ناروغۍ اخته شو او د دنيا له کارو باره يې لاس وکېښ.

دا وخت نو دده ترټولومشر زوی او ولیعهد دپنجاب اوملتان صوبه دار و، دبنګال صوبه دار، محمد شجاع د دکن او ګجرات د صوبو چارې په ترتیب سره د اورنګزېب او مراد بخش په واك کې وې.

د شاه جهان دناروغۍ په مهال داراشکوه په دربار کې موجود و. د تاج وتخت د وارث په توګه یې داموقع غنیمت وګڼله او دسلطنت واګې یې عملاً قبضه کړې [41]

تاج و تخت ته درسېدو دا جګړه ډېر اوږد او غم لړلی د استان لري ،چې دلته یې بیان موږ له موضوع څخه لرې کوي. خو دومره باید ووایو چې د تاج و تخت دنیولو په دې اخ وډب کې دارا شکوه او شجاع یوې خواته وو، اورنګزېب او مراد بخش بلې خواته . اورنګزیب دخپلې حکمت عملی، حیلو او تذویر په مرسته په سختۍ او بېرحمۍ پر ټولو بریالی شو او میدان یې وګاټه : خپل پلار شاه جهان یې چې د دارا شکوه پلوی و، بندي کړ، دارایې وواژه اوشجاع یې ورك کړ. بیا وروسته پخپل ملګري مراد بخش هم بدګمانه شو لومړی یې بندي کړ او بیا یې وواژه [42]

اوس موږ ګورو چې د خپلې زمانې اتل خوشحال خان پدې اخ و ډب کې څه موقف درلود؟

افضل خان په تاریخ مرصع کې راوړي دي. چې کله په سموګړه کې د اراشکوه له اورنګزېب او مراد بخش نه ماتې ومونده نو یې د پنجاب خواته تېښته وکړه . دایې غوښتل چې د کابل صوبې ته مخه کړي. له لاهور نه یې یو سپور له خپلې نخښې سره خوشحال خان ته واستاوه او دایې ترې وغوښتل که ستا خوښه وي نو زه ستاسیمې ته درځم. څنګه چې خوشحال خان د محال ترې بولاق او دیوسفزیو دسیمې دجاګیرونو پرسر له ده خوابدی و، نو یې دده

(۴۱) خوشحال خان خټك ۶۷ مخ.

(۴۲) هېواد مل، زلمی: د فراقنامې مقدمه . کابل پوهنتون ، دلوړو او مسلکي زده کړو مطبعه کابل ۱۳۶۳ هـ ش ، ۲ مخ.

سرې ته وویل چې داراشکوه ته ووایه دې خوا ته مه راځه . ددې سیمې زمیندار ستا خلاف دی.

بلې خواته بهاکو خان یوسفزي د داراشکوه په مشوره اټك ته راغی او د اباسین د غاړې موجودې بېړۍ یې ټولې قبضه کړې او په اټك کې د بېره شو د داراشکوه انتظار یې ایست. خوشحال خان خپل تره فیروز خان د دارا له پلوي بهاکو خان سره دجنګ لپاره واستاوه . جنګ وشو بهاکو خان پکې ټپي شو او ورور یې سید خان ووژل شو [۴۳] ددې پېښې تاریخ ښاغلي صمیم ۱۰۶۹ هـ ق د رمضان ۲۴ مه (د ۱۶۵۹ م کال جون ) ښوولی دی. [۴۴]

## له یوسفزیو سره جګړه:

له لوړو یادو شویو پېښو لږ وروسته له امازیو او کمالزیو سره دخوشحال خان جګړه پېښه شوه. پدې جګړه کې یو سفزیو ماته ومونده دري سوه تنه یوسفزي ووژل شول چې ځینې لوی لوی سرداران لکه : ملك چانم امازی ملك پیرو کمالزی ونیول شول، په اټك کې د وژل شویو له سر ځلی جوړ شو [۴۵]

## د تیرا مهم :

په ۱۰۷۰ هـ ق (۱۶۵۹ م کال د تیرا اپریدیو او ورکزیو ځه شورش کړی و او ځه بدامني یې پیدا کړې وه. دا وخت مهابت خان میرزا لهراسپ چې د شاه جهان په وروستیو ورځو کې د کابل صوبه دار مقرر شوی و - د پېښور حاکم میر یعقوب له یومغلي پوځ سره د باغیانو د ټکولو لپاره تیراه ته واستاوه.

---

(۴۳) پشتون کون ؟ ۳۸۴-۳۸۵ مخونه

(۴۴) ګام په ګام له خوشحال سره ۹-۱۰ مخونه.

(۴۵) خوشحال خان خټك ۸۱ مخ.

دمير يعقوب له خوشحال خان سره دوستي وه خوشحال خان هم لـه شاهي پوځ سره تيراته ولاړ. شاهي پوځ پدې مهم کې بری وګاټه او خوشحال خان د ۱۰۷۰ هـ ق کال د رجب په مياشت کې د شېر محمد خان کوهاټي دمور بي ـ بي دور په بلنه له تير انه کوهاټ ته راغی. شېر محمد خان کوهاټي دا وخت له مهابت خان سره د شخصي مخالفت او يا سر کشی له امله مغضوب او په هندوستان کې و. دقبيلې د سرداری چارې يې مور بي بي سرته رسولې ( پښتون کون؟ ۳۸۵ مخ)

## له يوسفزيو سره جګړې:

د اورنګزېب عالمګير د واکدارۍ په لومړيو کالونو کې يوسفزيو خپلې باغيانه سرګرمۍ برابرې جاري ساتلې او وخت په وخت به يې د حکومت له پلو يانو سره نښتې کېدې. د تېرا ترمهم وروسته په (۱۰۷۰ هـ ق) کال يوسفزيو ته ماتې ورکړه په دې جګړه کې دخان زامن اشرف خان ،سعادت خان او بهرام خان هم ورسره وو.

بهاکو خان څه د داراشکوه د پلوي په وجه او څه له خوشحال خان نه دخپلې زخمي کېدنې او د خپل ورور سيد خان دوژل کېدو ه انتقام اخيستو په منظور په ۱۰۷۲ هـ ق کال (د ۱۶۶۱ م کال د اګست ۲۷مه د ۱۶۶۲ م کال د اګست ۱۵ مه ) د اکوزيو او مندړو يو لوی لښکر جوړ کړ. د پرې بهرې يې جوړې کړې وې او دايې اراده وه چې په همدې بهريو کې به ګنبهنې پر خير اباده نوښار ، نرۍ او نورو کليو به يرغلو نه کوي اوزيان به وررسوي. يومياشت د يوسفزيو او ختکو تر منځ جګړې وشوې. بلاخره ، بهاکو خان ماتې وخوړه او ناکام بېرته ولاړ ( خوشحال خان خټك ، ۸۲ مخ).

## يوه پېښه :

له جنګي پېښو سربېره، خان په خپل ژوند کې له ځینو نورو پېښو سره هم مخامخ شوی دی، خو الله تعالی په خپل فضل او کرم بچ ساتلی دی. په لومړي څپرکي کې تاسې دده له ژوند سره ځینې مربوطې پېښې ولوستې .لکه:

په کابل سیند کې ډوبېدل . له څېرې پرې دکاڼي لوېدل ، د لومړي واده په شپو ورځو کې مرګونې ناروغي . له دغسې مرګونو پېښو د یو شخص نجات سړی پدې باوري کوي، چې الله تعالی دی د عظیمو کارنامو دسرته رسولو اوپښتني فرهنګ ته د وجاهت ورکولو او بدایتوب په منظور له مرګه ژغوره.

د عمر په پنځوسم کال ۱۰۷۲ هـ ق کال د لړم په میاشت کې یوه ورځ دمازیګر تر لمانځه وروسته په بېړۍ کې کېنېناست او دسیند له لارې اټک ته روان شو.

پدې ورځو کې د اورنګزیب یو داروغه محمد حسین د اټک کلا ته راغلی و، خوشحال خان غوښتل چې له یوسفزیو سره دخپلو جګړو او بریو په باب هغه ته اطلاع ورکړي.

پدې سفر کې دده زامن سعادت خان او بهرام خان هم ورسره ملګري وو. خیراباد ته نږدې ددوی بېړۍ له یوې غټې ډبرې سره ولګېده ، دوه نیمه شوه، خوشحال خان له دوه درې سړیو سره د بېړۍ پر یوه تخته پاتې شول.

څوك چې دا ټك خواته ولوېدل بچ شول، دخوشحال خان دوه زامن سعادت او بهرام خان اوځونور صحیح اوسلامت اټك ته ورسېدل خو هغه کسان چې د خیراباد خواته تل شوي وو ډوب شول. محمد خان په دې واقعه کې ډوب شو او بنادي خان بهر ته راووت . په تیاره شپه ، سړو اوبو او سړه هوا کې خوشحال کابو یو ساعت دهمدې ماتې بېړۍ د تختې له پاسه پاتې شو . دا تخته د دوو ډبرو تر منځ بنده شوې وه. خوشحال خان د سړو له لاسه بد حال

درلود ، خو الله تعالی ده ته نجات ورکړ او اوبو ته غوځار نه شو، پدې کې يوه جاله راغله پرې کښېناست او د سيند کنارې ته ووت.

افضل خان ختك په تاريخ مرصع (۲۷۴ مخ) کې دا پېښه د خوشحال خان له خولې بيان کړې ده. خوشحال خان ويلي وو کله چې ببړی دوه نيمه شوه ما فکروکړ ، چې لاړې مړ شوې، خو وروسته مې احساس کړه ، چې پر تخته ناست يم مړ نه يم نور و ملګرو او زامنو ته پرېشانه وم . له يخنی ړچېدم ، خو پدې کې مې زړه ته يو قوت پيد اشو ، حواس مې ارام شول تخته په ارامه ولاړه وه. دخدای حکمت ته ګوره چې کله موږ په جاله کې کښېناستو هغه ببړی هم روانه شوه.څنګه چې زما پلار پنځوس کلن مړشوی و، زه هم داوخت پنځوس کلن وم ، نو دامې انګېرله چې همدا د شهادت وخت دی خو الله تعالی له مرګه وژغورلم (پشتون کون؟ ۳۴۰ مخ ).

## له باغيانو سره مقابلې:

په ۱۰۷۳ ه ق کال ( د ۱۶۶۲ م کال د اګست ۱۶ مه د ۱۶۶۳ م کال د اګست ۴ مه ) کې د سرکښو يو سفزيو او د هغوی له ملاتړو ګوجرو سره دختکو مقابلې شوې دي، پدې مقابلو کې دختکو پله درنه وه.

له يادوشويو جنګونو سر ببره له يوسفزيو سره ځينې کمې سترې نورې جګړې هم شوې دي او ددې ټولو جنګونو نتيجه داشو ه چې دحکومت پلويانو باغيان مات کړل (خوشحال خان ختك (۱-مخ ).

((۳))

# درییم څپرکی

# دمغلي امپراتورۍ قیدي خوشحال خان

**نوره واړه پښتو نخوا په ځای میشته ده**
**خو یوزه دې زمانې پکې منصور کړم**

خوشحال خان ختټك دوه پنځوسو کلونو ته رسېدلی و، او ددغه دوه پنځوس کاله عمر زیاته برخه د هند دمغلي امپراتورۍ په منصبدارۍ او دولتخواهۍ کې تېره شوه او کورنۍ یې د ملك اکوړي له وخته د همدې امپراتورۍ په خدمت کې وه. خو ناڅاپه په همدې دوه پنځوس کلنۍ کې یې پر ژوند د غم لړې راخورې شوې او د مغلي حکامو له خوا ونیول شو.

د خوشحال خان د نیول کېدو د علتونو په باب سرې په بېلا بېلو اثارو کې بېلابېلې نظریې مینځلای شي. دا نظریې ځینې د ملي اند هېنتو تر اغېز لاندې ارائه شوې دي او په ځینو کې دیني عقایدو تر اغېز لاندې او ځینې هم په بې بنیاده هوایي خبرو متکي دي. خو په ځینو کې بیا د خان د خپلو اثارو او تاریخ مرصع له مخې تنظیم شوې دی. دا نظریات تر کومه حده چې ماته څرګند وو ما د فراقنامې په مقدمه کې راوړي دي [۴۶]

[۴۶] د فراقنامې مقدمه ، پنځم-شلیرویشتم مخونه .

په دې نظريو کې زما په پوهه هغه نظريې د ويسا وړ دي، چې د خان د خپلو اثارو او تاريخ مرصع له مخې تنظيم شوې دي. په نورو کې د حقايقو روښنايي ډېره تته او په ځينو کې ګرد سره نشلته.

اروانباد استاد دوست محمد کامل مومند لومړني خوشحال پوه دی، چې دده د قيدو بند عوامل يې د خان د خپلو اثارو او تاريخ مرصع له مخې ښودلي دي، ورپسې بيا ځينو نورو هم دا کار کړی دی.

استاد کامل په خپل مشهور اثر خوشحال خان ختک [47] خپله مهمه مقاله (خوشحال اور اوسکي شاعري) [48] او د کليات خوشحال خان ختک په مقدمه کې دغه نظريات راوړي دي.

زه ددې اثر د تاليف له شرايطو سره سم د خوشحال خان د بند عوامل پر (کليات خوشحال خان ختک) د استاد کامل د کښلې مقدمې له مخې راوړم:

((په سنه ۱۰۷۴ هـ ق کال کې سيد مير خوافي المخاطب په سيد امير خان چې د کابل صوبه دار و، د بادشاه سره وليدل او ورته يې ووی چې څو پورې بعضې زميندارانِ ګرفتار او بندي شوي نه وي، نو تر هغه وخته پورې د راهدارۍ د باج د ممانعت د احکامو نفاذ نشي کېدای. ددغسې غشي نخښه په اصل کې خوشحال خان و، په دوهم جلوس (د ۱۰۶۹ هـ ق رمضان – د ۱۰۷۰ هـ ق رمضان) کې بادشاه د غلې او نورو اجناسو د راهدارۍ د معافی حکم کړی و، ددې حکم سره عوامو ته ډېره فايده رسېدلې وه او سرکاري امدن کې د ۲۵ لکو روپو کمی راغلی و او لکه چې ښکاره ده، ددې حکم اثر د زميندارانو او جاګير دارانو په امدن هم پرېوته، خو ددې خبرې هيڅ قسم شهادت نشته چې ددې حکم د نفاذ نه پس خوشحال خان د څه قسم سرکشی يا نافرمانی اظهار کړی وی. بلکې هغه هم هغسې دحکومت فرمانبردار او وفادار و، او د حکومت مخالفانو سره به يې جنګونه کول.

---

[47] خوشحال خان ختک، ۸۵-۸۸ مخونه.

[48] کامل، دوست محمد خان: خوشحال خان اور اوسکي شاعري، اټک کې اسپار، درضا همداني او فارغ بخاري په زيار، ګوشئه، ادب، لاهور ۳۹۰-۳۹۲

خبره دا ده چې داخل سيد امير خوافي د خپل نايب ميرزا عبدالرحيم - چې پېښور کې و - او د خوشحال خان په منځ کې د خفګان او د خوشحال ترونو بهادرخان او فېروز خان سره دسازش په سبب جوړ کړي و.

ميرزا عبدالرحيم ، سيد امير خان خوافي ته ويلي وو، چې تر څو پورې چې يو څه لوی لوی سړي بنديان نه کړې ، تر هغې ستا د صوبه دارۍ نقش نه شي کښېناستی او د خوشحال خان ترونو ورسره پنځوس زره روپۍ کړې وې. سيد امير خان بادشاه ته مبهمه او مجمله وينا کړې وه، نه يې ورته دچا خاص سړي نامه اخيستې وه او نه يې د چا د ګرفتارۍ اجازت اخيستی و، خو ورته يې وويل چې د راهدارۍ د باج دممانعت دا حکامو د نافذ کولو د پاره د زبر دستۍ د عمل ضرورت دی او چې بادشاه ورته ددې اجازت وکړو ، نو پېښور ته راغی او خوشحال خان يې د صلاح مشورې په بهانه راوغوښتو » (۴۹).

خوشحال خان خپله يو ځای دده په نيولو کې د ساز شيانو يا دونه دا ډول کړې ده:

پنډ بدروز بکر حيران بهادر خان
هدايت ترين سوخته و ترداميان

شيخ ستار ماشه توپک عبدالرحيم و
د توپک ګنده خدای يار جامګی کامران

د تسمو پر ځای ګويا دا نور عالم و
اسفنديار غوندې يوخوګيدې پاجيان

---

(۴۹) کامل ، دوست محمد خان : کليات خوشحال خان ختک ، (مقدمه) ، اداره اشاعت سرحد ۱۹۵۲ م ، ۱۷-۱۸ مخونه

په داهسې غرڅه رخ دګوزار نه و
په ازار به یې خدای ګډوډ کا جهان

په مثال خواجه خضري غرڅه خوشحال و
چې ګوزار وربانديې وشه ناګهان

(دخوشحال خټك کلیات ۱\۱۵۶ مخ)
د غزلې په لومړی نیم بیتي کې (بد روز) فېروز خان ته ویل شوی دی (دکلیات خوشحال خان خټك مقدمه ، ۱۸مخ)
خوشحال خان د ۱۰۷۴ هـ ق کال د جمادي الثاني پر ۱۲ مه نېټه د جمعې ورځ له کوره پېښور ته ولاړ، دريې ورځې وروسته د مغلي حکامو په امر ونیول شو.
دده دخپلې وینا له مخې یې پنځیری ښېړۍ ور په پښو کړې . د همدې شپږمې میاشتې پر ۱۹ مه یې منصب ظبط شو (۵۰)
خوشحال خان په خپل مشهور ترکیب بند ذولقافیتین کې د خپلې نیونې بیان راوړی دی. چې ځینې برخې یې زه دلته را اخلم :

څه د بدو خوب و، چې مې ولیده سحر
سترګې مې رڼې کړې نا قرار شوم په بستر

پاڅېدم له کته لکه خوږ شي د چا سر
هسې شان او تر شوم نه مې لیر لیده نه ور

(۵۰) خټك سرفراز خان عقاب . خوشحال نامه ، د زلمی هیواد مل په زیار، د قبایلو وزرات ،کابل ، دولتي مطبعه ۱۳۶۵ هـ ش، ۲ مخ.

لازم تـر مـبرزه هسـې راغلمـه او تـر
غسل مې پـر ځاى کـړ پـه سنت د پيغمبر

درست خلق ويـده وو واړو خـوب کـاوه خرخـر
هيڅوک خبر نه و، اشرف خان مـې کـړ خبر

هـر چـې نصيحـت و ،لکـه بويـه د پـدر
مـاپـه کتـابت ورتـه ادا کـړ مختصـر

جوړ شوم پـښور تـه چې راوامې خيست جمدر
ونـړل سـروې نـازه پـه دوه ځايـه مکـرر

ورځ وه د جمعـې رجـال الغيـب وو برابـر
تلـه مغـرب رويـه وو پـه دامانـه کـړ نظـر

څوک بـه وجـار باسـي مـبرم حکـم د داور
ډېر دې فراسـت لـري هـنر ګنـج و لښکـر

لازم تـر مسـجده نمونـځ مـې وکـړ پـګه تـر
سور شوم پـه سيلى نـور مـې واچـوو پـه لـير

هسې پـه هـوا تلم، لکـه بـاد درومـي صرصـر
ګوښې تنـها تلمـه پـه نـو ښهـر وخـوت نمـر

نـه ولا دوپـهر چـې مـې ځاى شـو پـښور
واسـتاوه مغـل تـه مـا هغـه سـاعت نفـر

وې مې دايم راغلم ستا په خط ستا په خاطر
کوم ساعت حاضر شم په ماکومه لرې چر

دا ځواب يې راغی چې راتله دې وو بهتر
ګانده په ديوان دې رابنکاره کړه خپل پيکر

درې ورځې شوې ديوان نه کړ ګيدی ضر
دی په څو وماته زه له خانه بې خبر

شيخ دګجرات دده پښدست ويو بشر
سر تر پايه واړه په ديدن کړ يه نظر

ده وې تر ماراشه چې ګنګاش کړو مقرر
بيا به دې نواب ته ويل کړو زيرو زبر

ورغلم تر ده پورې زه پاک په خپل باور
ترونه مې نا اهل مغلي شوي په داشر

لور په لور مغل تر ما چاپير شه په هنر
مفت يې په لاس کښبوتم په حکم د قدر

رغ وشو په ښهر دا خبر شه منتشر
هيچا نه پسندو په خدای پسنده وو مکر

کوز يې ګړم له کوټه چې يې کښېوتم په جال
زر يې را په پښو کړې پنج سېرې بېړې کوتوال (۵۱)

ما تر دې دمخه يوځای د سرفراز خان عقاب خټک د خوشحالنامې په حواله کښلي دي چې: ((... د ۱۰۷۴ هـ ق د شپږمې مياشتې په ۱۲ مه نېټه د جمعې ورځ په پېښور کې دهند د مغلي حکامو له خوا اونيول شو)) (۵۲). دا خبره د خوشحال خان له وينا سره سمون نه لري. ځکه دی پدې ۱۲ م تاريخ پېښور ته راغلی دی، درې ورځې ديوان نه لګېده، درې ورځې وروسته نيول شوی دی. نو ځکه يې ۱۲ م تاريخ دنيولو تاريخ نه دی، بلکې بايد د مياشتې اواسطو کې په ۱۵ م يا ۱۶ م تاريخ به نيول شوی وي.
خوشحال خان ترنيول کېدو وروسته دوه مياشتې په پېښور کې و، پنځوس زره روپۍ يې ترې غوښتې وې، خو خوشحال خان نه وې منلې، نو يې ځکه هند ته روان کړ، لکه چې ده ځپله ويلي دي.

تېرې شوې په بند کې زما دوه مياشتې په شمار
ملک واړه ويران شو خلقه شوه په کهسار

وغوښتې پنځوس زره روپۍ صوبه دار
ما وې دربه نه کړم يو پوچک نه يو دينار

دواړه لور يه وکړه سره داقول اقرار
يو مغل بې پته بل مې تر ونه شرمسار

(۵۱) خټک، خوشحال خان: ديوان خوشحال خان خټک، دويمه حصه، محکمه ثقافت صوبه سرحد، جدون پريس پېښور ۴۳۱-۴۳۲ مخونه
(۵۲) په هند کې دپښتو ژبې او ادبياتو د ايجاد او ودې پړاوونه، ۲۰۰ مخ

اوس خو بايده دا دی چې يې خای وي هندو بار
زړ يې فکر بويه په تعجيل او په تلوار

زه په دا لاخوښ وم چې که ورشم تر دربار
د عمر دولتخواه وم د عزت وم طمع دار

هند ته يې روان کړم بدرقه مې مستجاب
هم ملک هم خان هم د همه غوري ارباب

(ديوان خوشحال خان ختك ۴۳۳/۲)

استاد کامل په دې اړه کښلي دي: ((کله چې خوشحال خان هند ته بيول کېده نو د ساتنې لپاره يې له مغلي سپاهيانو سربېره ، دمحب خېلو مومندو پېره وه ، د غوريه خېلو سردار مستجاب مومند او ورسره مضري خان داود زی له خپلو سړيو سره د ده بدرقه و)) [۵۳]. نوره کيسه ټوله دخوشحال خان په ترکيب بند ذوالقافيتين کې راغلې ده. چې دی يې څنګه له پېښوره روان کړ، چېرې يې شپه وکړه ، کله چې يې له خپل کلی سرای اکوړی نه تېراوه ، ده څوك وليدل او کوم حال پرطاري و. [۵۴]

خوشحال خان د شعبان په مياشت کې لاهور ته رسېدلی و، په خپله يوه قصيده :

((زمانې له ښو يارانو نه مهجور کړم
څه بلا يې مبتلا په ډېر ضرور کړم))

کې ويلي دي:

---

(۵۳) خوشحال خان ختك ، ۸۹ مخ.
(۵۴) ديوان خوشحال ختك ، ۴۳۳-۴۳۴ مخونه

دا بيان مې دغعد په کال ويلی
په شعبان چې د لاهور په سيند عبور کړم

(خوشحال خان ختك کليات ، ۷۷/۲-۷۹ مخونه)

بايد ووايو چې له غعد نه دا بجد په حساب ۱۰۷۴ هـ ق راوزي. دخوشحال خان ختك کليات (کابل چاپ ۷۹/۲ مخ) په متن کې (غغد) او په حاشيه کې (عقد) راغلی دی. په هند کې د پښتو ژبې او ادبياتو د ايجاد او ودې پړاوونه (۲۰۱ مخ) کې هم (عقد) راغلی دی. درې واړه ځايه سم نه دي.

خوشحال خان تر مغلي پيرو لاندې هند ته روان و، چې ورور يې ميرباز خان، د تره زوی باقي خان او زوی يې سعادت خان درې واړه لاهور ته ورپسې ورسېدل خو دهلي ته د خان تر رسېدو د مخه دوی درې واړه د هلي ته رسېدلي وو او د اورنګزېب د درباريانو له ډلې يې له محمد امين خان مير بخشي سره ليدلي وو، هغه دوی ته ډېره تسلي ورکړې وه او دايې ورته ويلي وو، چې تاسې اندېښنه مه کوئ، کله چې خوشحال خان دهلي ته ورسېږي خوشې کېږي. خوشحال خان د رمضان المبارك په اواسطو کې (وسط اپريل) دهلي ته ورسېد.

محمد امين خان له خپلې وعدې سره سم باچا اورنګزېب ته د خوشحال خان د خوشې کولو سپارښت وکړ. باچا په ضمانت د خوشحال خان د خوشې کېدو حکم کړی و، خو مخکې تر دې چې خوشحال خان خوشې شي. باچا ته د امير خان خوافي عرضد اشت ورسېد. په عرض داشت کې يې کښلي وو، چې د خوشحال خوشې کېدل د اختلال سبب ګرځي.

خان په دې باب ترکيب بند ذولقافيتين کې ويلي دي:

زه هم په وسط درمضان کوچمال کوچمال
ورغلم دربارته زر ځلور او يا وکال

ډېر ردوبدل شو په دامنځ کې ځواب سوال
حکم د خلاصي په ضمان وشو په اجمال

ځای په حویلي کې تر خپل څنګ راکړ کوتوال
جوړشو ضماني ته سید شمس دجلال

موږ په دافکرت وو چې په میاشت دشوال
راغي عرضداشت د سید میر په دامقال

مه پرېږده خوشحال دده پرښودل دي اختلال
بیا په منځ کې پریووت د خلاصي ډېر جنجال

دې بلې خواته دخان زوی اشرف خان دده له مصلحته پرته دجګرام هندو او خدای یار خلیل په وینا سید امیر خوافي صوبه دارته کابل ته ورغی خو صوبه دار دی هم ونیو او بیا د بهادر خان داودزي د زوی د لبر همت چې هغه وخت په کابل کې و - په ضمانت خوشې شو.

په تاریخ مرصع کې په دې اړه راغلي دي: ((په دا منځ کې خان جنت نسبتان خلاف له مصلحته د خان علیین مکان د خدایار خلیل د جګرام هندو په قول راغی. لار یې ودانه کړه. امیر خان د خان علیین مکان په رنګارنګ بدوکښه. په حویلي کې د کوتوال ناست و. دخلاصي کار یې کېده، چې د امیر خان کښل ورغلل. بندیخانه شه ..... خان جنت نښان هم په مغل وږغی، ویې تاړه ... دلبر همت چې د بهادر خان زوی و. ضامن شه. خان جنت نښان یې له قیده خلاص کړ....)) [۵۵].

---

[۵۵] انځور، زرین: د زنځیرونو شاعر، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه، کابل، ۱۳۶۴ هـ ش ۲۵ مخ. (د تاریخ مرصع لوړه اقتباسي ټوټه له همدغه اثره اخیستل شوې ده)

استاد کامل لیکي : (( د خوشحال خان او اشرف خان د ګرفتارۍ په وجه بدامني پیداشوې وه. د خوشحال خان نا لایقو ترونو انتظام نشو کولای . د حالاتو دښه کولو لپاره هم سید امیر خوافي د اشرف خان خوشې کول مصلحت ګڼل ))[56]

په دهلي کې محمد امین خان د خوشحال د خوشې کېدلو لپاره خپله هڅه جاري ساتله. یو ځل بیا یې دمیر میران میر خان په ضمانت باچا ته دخوشحال خان سپارښت وکړ. باچا وویل چې که خوشحال خان خپله کورنۍ (ښځې- اولادونه ) دیرغمل په توګه هندوستان ته راولي ، نو به خوشحال خان خوشې کړای شي. دغسې یو فرمان یې سید امیر خوافي ته هم واستاوه میر باز خان سعادت خان او باقي خان لاتړ دې وخته په دهلي کې وو د باچا له دې حکم خبر شول. خوشحال خان یې هم خبر کړ. د خان هدایت سره سم ( د ۱۰۷۵ ه ق کال صفر) بېرته روه ( افغانستان ) ته روان شول ، چې د باچا د حکم له عملي کېدو دمخه د خان کورنۍ یوه خوندي ځای ته ولېږدوي.

دخوشحال خان اوښی حمزه خان ا وملك الله داد خان له ډېرو راښیزیو او باېزیو سره راغلل او دخان کورنۍ یې سیکرۍ ته ولېږدوله (سیکرۍ د مردان شمال دغره په لمن کې دجمال ګرهۍ او کاټلنګ تر منځ له مردان نه کابو یوولس میله د باېزو په تپه کې واقع ده) ( خوشحال خان خټك ۹۴ مخ ) یوسفزو د خان له کورنۍ سره خپله پښتنو ډېره ښه وپالله او هغو پخوانیو جنګونو او هډ ماتیو ته یې ونه کتل.

دا جریان د خان په خپلو وینا وو کې داسې راغلی دی:

زه وم په دهلي کې ګرفتار په دا زحمت
تېرې شوې په بند کې پنځه میاشتې زیادت

---

[56] خوشحال خان خټك ، ۹۴ مخ

بیا دمیر جمله زویه بادشاه نه په خلوت
عرض یې زما وکړ د میرخان په کفالت

دا ووې بادشاه فلانه به خلاص کړم سلامت
زن بچه که راولي وهند ته په سرعت

حکم یې داوکړ امیرخان ته وشول کښل
زه په بند بندي زما کور ونه راوستل

واورېده داحکم سعادت باقي میرباز
راغله یکایک یې حقیقت کړ را اغاز

میاشت وه دصفرې چې درې واړه لکه باز
ویې کړو وطن ته په رخصت زما پرواز

لاړل تر وطنه په شل ورځې یکه تاز
یو په ځای رانغی چې زموږ وو سرراز

* * *

ځای په ځای پوځونه په خوکی کې کښیناستل
لار د سرای نیولې مسافر یې چلول

جوړ شول یوسفزي ختک سرای ته په وهل
خو ټهوان یې بوتلل په سحر ترې وختل

زه د یوسفزي په خان زهر وم قاتل
بل مقصود مې نه و په خدمت کې د مغل

ډېر شاهان ځوانان مې یو دبله ووژل
تېر ساعت ارمان دي پښېماني نشته حاصل

دا په خیال د چا وو یا په فکر جار وتل
خواست رضا د خدای وه په هر شان چې شوي شول

شا باش په هغه شه چې د ننګ وکا پالل
راغله یوسفزي لکه پېښ شو کار مشکل

یو وو بایزي رانیزي ورسره مل
لوی هلک مې واړه تر دریاب پوزې وتل

لاړل تر سیکري ورسره مل کورونه سل
نور ختک مې واړه په خپل ځای ودرېدل

(دیوان ـ ۴۳۶ ـ ۴۳۸ مخونه)

د خان له لوړې وینا ښکاري چې د خان له کورنۍ سره سل کوره نور ختک هم له سینده پورې وتل او د یوسفزو سیمې ته ورغلل. خان د یولوړ انسان په حیث په لوړو بیتونو کې پر خپلو اشتباهاتو اعتراف کړی او د یوسفزو ننګ پالنه یې ستایلې ده.

خوشحال خان ختك د ۱۰۷۴ هـ ق کال د رمضان له اواسطو د ۱۰۷۵ هـ ق تررجب (۱۶۶۵ م / جنوري ـ فبروري) پورې په دهلي کې پاتې شو. د

۱۰۷۵ هـ ق کال درجب پر څلورمه بندیوان رنتهبورته ولېږدول شو (۵۶) او د ۱۰۶۷ تر ذیقعدې پورې دهند د راجستان د ایالت په یوې ګوښې کې دسوای مادهپور د رنتهبور په غریز مهیب کوټ کې بندي و.

د خوشحال خان د بند ځایکی په ځینو اثارو کې د رنتهبور کوټ په ځای دګوالیار کوټ نیوول شوی دی. استاد کامل په خپل کتاب خوشحال خان ختک کې ځینو دغسې تېروتنو ته اشاره کړې ده. د استاد کامل له سمون سره سره په ورو ستیو اثارو کې بیا هم دا ځای ګوالیار راغلی دی،لکه:

ددوکتور عارف عثمان، : خوشحال خان او دده ادبي مکتب ۲۴ مخ کې د افغانان ، په ۱۹۳ مخ کې. باید ووایم چې د (افغانستان) نومي کتاب د الفنستن دکتاب د کابل سلطنت دری ترجمه ده. البته د الفنستن دې تېروتنې ته استاد کامل اشاره کړې ده.

دغه راز د استاد کامل دکتاب خوشحال خان ختک تر لیکلو دمخه چې د( نن او پرون ) مجلې د ۱۹۴۲ م کال د فروري د لسمې ګڼې ( ۱۹ ګڼه) په ۱۹ مخ کې هم راغلی دی، چې خوشحال خان په ګوالیار کې نظر بند و.

په یوه قطعه کې یې تر دغه مهاله د خپل بند په باب ویلي دي:

په وسط د څلورمې خود په بند شوم
په رجب د بل کال وختم په ګړې

د ذی القعدې په پنځم له ګړې کوز شوم
دوه کالونه پنځه میاشتې شي دترې

خان د رنتهبور له کوټ نه ترکوز بدو دوه دوه نیمې میاشتې دمخه د ۱۰۷۶هـ ق کال د رمضان المبارك پر ۲۰مه له همدې کوټه دعمر خان اسمعیل خېل ختك پر لاس اشرف خان ته یوه وصیت نامه ولېږله.

---

(۵۷) خوشحالیات، ۴ مخ.

خوشحال خان په فراقنامه [۵۸] کې یو ځای د رنتهبور د کوټ او ځان په باب ویلي دي:

یک تنها په کټ کې پروت یم
بندیوان د هند د کوټ یم
دا مې حال دامې احوال دی
که وایه شي ډېر مقال دی
چې په ما باندې دا حال دی
څه د پاسه یو نیم کال دی
په دا کوټ کې بندیوان دي
مسلمان دي که هندوان دي
لږ تر دوه سوه نه کم دي
بند په ظلم په ستم دي
چې یې وخت د پلار نیکه وو
هومره بند په دا ځای نه وو
چې بادشاه د هند اورنګ شو
بېدادي شوه جهان تنګ شو
د کوټو بندیان ډېر شول
تر حساب تر شماره تېر شول
هم راني راجه ګان بند دي
شیر خواره هلکان بند دي
دا چې بندله ماسره دي
په هر سنه له ما سره دي.

(۵۸) ختك ، خوشحال خان فراقنامه ، دزلمي هېواد مل په زیار ، کابل پوهنتون ۱۳۶۳ هـ ش.

خوشحال خان د ۱۰۷۶ هـ ق د ذيقعدې پر پنځه د رنتهبور له کوټه راکوز کړی شوی او بيا اګرې ته بيول شوی، هلته يې پنځې خلاصې شوې دي . بيا دهلي ته لېږدول شوی دی ، د ۱۰۷۷ هـ ق کال په رجب کې يې موږ په دهلي کې مومو. خان يوه قصيده د همدې مياشتې په څلورمه په دهلي کې ويلې ده او زه يې هغه بيتونه را اخلم چې د بند حالت يې ځينې څرګند بړي.

هند په ما باندې دوزخ شه
که په نور عالم جنت دی
بنديوان ورلره راغلم
دا يو څو مياشتې فرصت دی
هغه شان،لکه بندي وم
ترې مې لا بتر محنت دی
هره ورځ ورتله دربارته
ګوره دا څه مشقت دی
دبل حکم پرې زندان شي
چې په خپل حکم عادت دی
که بادشاه دی که خانان دي
رانبکاره يې حال حالت دی
دهيڅا برکت نشته
خان خاني شوه قيامت دی
ما چې داقصيد ووی
په دهلي مې اقامت دی
څلورمه درجب وه
زر اوه او يا هجرت دی

نـــور څه مـــه وايـــه خوشـــحاله
کـــه څه وايـــې قبـــاحت دی

(خوشحال ختك كليات ۱۴۶/۲ مخ)

د خان له لوړو بيتونو ښکاري چې دا وخت په دهلي کې نظر بند وو هره ورځ يې بايد دربارته حاضري ورکړې وای.

خان لا په هندوستان کې و، چې دې خواته د امپراتورۍ د کابل صوبې د يوسفزيو په سيمه کې د بهاکو خان يوسفزي او ملا چالاك تر قيادت لاندې يوسفزيو خطر ناك شورشونه پيل کړل او يو ګمنامه ځوان يې دمحمد شاه په نامه خپل باچا اعلان کړ. ډېر پاچاهي پوځونه اوجاګير دارانو لکه اشرف خان جنګي سرې يې مصروف وساتل. ډېر مرګ ژوبله وشوه، په يوه جګړه کې يوسفزو ماته وکړه کابو دوه زره يوسفزي ووژل شول.

د اټك فوجدار کامل خان د څلورو سوو يوسفزو سرونه پرېکړل او پېښور ته يې ولېږل او له نورو سرونو يې کله منارونه جوړ کړل. (خوشحال خان ختك، ۱۱۳ مخ) له يوسفزو سره پدې جګړو کې داټك د فوجدار له پوځونو (دسيمه ييز جاګيردارانو د جنګي سړيو په شمول) سربېره، د کابل د صوبه دار له خوا او هم د پېښور د حاکم عبدالرحيم له لوري لېږل شوې لښکرې هم اخته وې او محمد امين خان له نه زره پوځ او حربي سامان سره له هنده راروان شوی و. دغو ټولو پوځونو تر سواته پورې د يوسفزيو پر ښېلا ښېلو سيمو باندې چپاوونه وکړل او د غو پوځونو د يوسفزيو او ددوی دسيمې په بربادولو هيڅ صرفه ونکړه.

محمد امين خان چې بېرته هند ته ولاړ نو ديو سفزيو ټول حالونه يې دربار ته ورسول.

افضل خان ختك په تاريخ مرصع کې راوړي دي چې د يوسفزيو د بغاوت په وجه په ملك کې فتور پيدا شو.

باچا خوشحال خان وغوښت او ترې وپوښتل چې دا څه وجه ده ، چې ستا د عمل په وجه يوسفزي دشاه جهان مطيع وو او اوس سرکښه شوي دي.

خوشحال خان ته هم موقع په لاس ورغله نويې باچا ته وويل ، سيد امير خوافي غافل او مغرور سړی دی. او تل دشرابو په نشه کې ډوب وي. او نايب يې ميرزا عبدالرحيم هر وخت دهلکانو په ډول چرګان جنګوي. باچا له هغوی څه توقع لرلای شي. که چېرې دا صوبه نوره هم دده تر لاس لاندې وي ، نو فساد به نور هم زيات شي. که چېرې په سيد امير خوافي کې لږ هم عقل او تميز وای نو زه چې له څو پښتونو د باچا خانه زاد يم. څنګه يې بې ګناه قيدولم؟

باچا ترې پوښتنه وکړه ، چې که داسې وي. نو بيا ستا په خيال د کوم صوبه دارعمل ښه کار ورکولای شي؟

خوشحال خان ځواب ورکړ، چې د مهابت خان عمل ښه په درد لګي. ځکه کله چې د تاج و تخت دجنګونو په وخت کې په هندوستان کې بدامني خوره شوه، ده په صوبه کې ډېر ښه امن ټينګ کړی و.

په همدې اساس باچا د ګجرات صوبه دار مهابت خان راوغوښت او خوشحال خان ته يې وويل چې د مهابت خان د راغوښتو به چا ته نه وايې مبادا چې د مهابت خان تر رسېدو دمخه به په کابل کې فساد جوړ شي.

کله چې مهابت خان دربارته حاضر شو نو يې له باچا څخه وغوښتل چې خوشحال خان ته دې هم له ده سره د تګ اجازه ورکړل شي. باچا دا خبره ومنله، خو مهابت خان ته يې وويل چې خوشحال خان بې ګناه ډېر ځورېدلی او کړېدلی دی، دا خبره به دده په زړه کې وي، داسې څه کول په کار دي چې دا خبره يې له زړه ووزي . مهابت خان باچا ته ويلي وو ، چې دی ( خانه زاد) دی ، دده زړه کې هيڅ هم نشته.

د مهابت خان له دې چلند خوشحال ناخوښی و اوشکايت يې وکړ چې باچا زما په حق مهرباني کوله او تا کولای شو چې مالپاره څه وغواړې. مهابت خان

وويل چې که ما داسې نه واى ويلاى نو باچا په زړه کې شك كاوه او تا ته يې له ماسره د تګګ اجازه نه درکوله.

خوشحال خان ته دخلعت او دده زامنو ته د نوکرۍ دورکو اختيار، باچا مهابت خان ته ورکړى و.

استاد ، دوست محمد خان کامل مومند کښلي دي ((دا نه ده څرګنده چې خوشحال خان د ۱۰۷۹ هـ ق کال په کومه مياشت ګې وطن ته راستون شو. افضل خان ليکلي دي چې خان په ۱۰۷۹ هـ ق کال له عمدة الملك مهابت خان سره وطن ته راورسېد او د همدې کال د ربيع الاول پر (۱۰ مه) د خان د هندوستانى مايني له بطنه يې فرحت خان زوى وزوکېد)) (خوشحال خان ختك ، ۱۱۹ مخ).

دسرفراز خان عقاب ختك د خوشحالنامې د يو يادښت له مخې (۲مخ) خوشحال خان د ۱۰۷۹ هـ ق د درېمې مياشتې (ربيع الاول) پر لسمه نېټه بيا عالمګيري منصبدار شو . نو بنايي همدا مهال به دى بېرته خپل هېواد ته ستون شوى وي.

خوشحال خان په خپلو دېرو پاړکولو کې د خپل بنداو قيد په باب خبرې کړي، په يوه پاړ کې يې ويلي دي :

قسمت څو چارې راوکړې
ننداره ددرست جهان شوم
عالمګير چې په تخت کښيناست
له قرانه په قران شوم
له بګرامه پښنې ترلې
هندوستان لره روان شوم
په دهلي په رنتهبور کې
درې څلور کاله حيران شوم

په اګره کې مې پښې وا شوې
بيا نوکر د يد سلطان شوم
د شجاع په شرو شور کې
خپل وطن ته راروان شوم

(ديوان خوشحال خان ختك ۲/۳۲۰)

د خان دلوړ پاړ کي په وروستي بيت کې د شجاع د شرو شور يادونه شوې ده له دې شرو شور څخه مراد دا دی چې کله د اورنګ زېب ورورشاه شجاع په بنګال کې ځان ورك کړ. نو يو سړی د يوسفزو په سيمه (سوات) کې څرګند شو او ځان يې شجاع وښود. يوسفزيو او ددوی خپلوانو قبايلو يې مرسته وکړه.

دخان د سواتنامې په دا لاندې بيت:

(( هر مغل چې په سوات ورشي شهزاده شي
هر سړی يې ومنصب ته اماده شي))

کې هم په سوات کې دهمدې جعلي شاه شجاع څرګندېدوته اشاره شوې ده.

د خان دنيولو، نظر بندۍ او قيد زمانه ټوله کابو د پنځو کالو شاوخوا کېږي، پروفيسور پرېشان ختك پاو کم پنځه کاله او يا څلور کاله او نه مياشتې ګڼلې ده.[۵۹]

پوهنوال دوکتورګل محمد نورزي دا دوره څلور کاله بللې ده او يو ځای يې ليکلي دي: (( او له څلور کاله بند وروسته يې بيا هم ارام ته پرې نښود ))

(۵۹) پښتون کون؟ ۳۹۴ مخ.

^(٦٠)^ د پروفیسور پرېشان ښودلی وخت واقعیتونو ته نږدې دی او د د دوکتور ګل محمد نورزي هغې له پېښو سره سمون نه خوري. دخوشحال خان د بند ځلور کاله ذ ۱۰۷۸ هـ ق کال په شپږمه میاشت کې پوره کېږي . حال دا چې د افضل خان د شهادت له مخې خان په ۱۰۷۹ هـ ق کال خپل هېواد ته راستون شوی دی.

تر اروابناد ګل محمد نورزي دمخه په پښتانه شعراء (۱ / ۱۳۹ مخ) او تذکرة الشعراء [٦١] کې هم دغه موده ځلور کاله ښوول شوې ده. ددغو لیکوالو پاملرنه ښایي د خوشحال بابا یوې یادونې ته وي چې په اجمالي ډول یې یو ځای ویلي و ، چې درې ځلور کاله په بند شوم. په دانشنامه ادب فارسي (ج ۳ / ۳۷۸) راغلي دي چې خوشحال خان په یوه وینا دوه کاله اوپه بله ځلور کاله بندنه وروسته ازاد شو. خو تر ۱۰۸۰ هـ ق پورې خپل کورته د بېرته ستنېدو اجازه نه درلوده.

د نن پرون په یوه مقاله کې یې ویلي دي: ((او پوره اوه کاله یې په فید کې تېر کړل)) [٦٢] دا ټولې خبرې سمې نه دي لکه چې یې د مخه بیان تېر شو ، د خان د بند او نظر بندۍ ټوله موده ځلور کاله نه میاشتې کېږي

که څه هم خوشحال خان په دې شاو خوا پنځو کلونو کې بې حده وحصره کړاوونه او غمونه وګالل. له خپله هېواده او له خپلو خلکو لرې له خپلې کورنۍ بېل و، پرکورنۍ او بچو یې هم بدې ورځې راغلي خو له دې ټولو سره سره ، دبند ددې دورې ګټه پښتو ژبې او پښتني فرهنګ ته ورسېده.

خوشحال خان د دستار نامې غونډې یو ابتکاري اثر. دفراقنامې غونډې یو انتقادي او تاریخي وطني اثر ، دترکیب بند ذوالقافیتین غونډې یو

---

(٦٠) نورزی، پوهنوال ګل محمد : سریزه ، دخوشحال ختک کلیات ،لومړی ټوک ، کابل د افغانستان دعلومو اکاډمي ۱۳۵۹ هـ ش. ۲۱ مخ

(٦١) سعید سراج الدین او هوتك مولوی صالح محمد : تذکرة الشعراء دځېړندوی بختانی په زیار ،د هېواد ورځپانه دولتي مطبعه کابل . ۱۳۶۶ هـ ش. ۲۲ مخ

(٦٢) نن پرون ، د ۱۹۴۲ کال فبروري ۱۰ مه ، ۱۹ ګڼه ۱۹ مخ

واقعاتي روېداد او ځینې نور متفرق اثار همدا د رنتهبور په کوټ کې لیکلي دي. په پنجاب ،دهلي او د هند او د هند په نورو ځایونو کې یې ویلې غزلې قصیدې او ټوټې هم زموږ په واك کې دي ، چې ځانګړي فکري او هنري ارزښتونه لري.

د لوی خان بند دده فکر او نظر ته یوه نوې ځلا وربخښلې ده او هغه سوی او درد چې دده د دې دوران په اثارو کې منعکس شوی دی. دده اثارو ته یې د څېړنې او مطالعې نوي ورونه پرانیستي دي.

# (( ۴ ))

# څلورم څپرکی
# مبارز او ملي اتل خوشحال خان

**د افغان په ننګ مې وتړله توره**
**ننګيالی د زمانې خوشحال خټک يم**

د خوشحال خان خټك د قيد اونظر بندۍ د دوران په شعرونو يا حبسياتو کې يوه د ا لاندې قطعه هم راغلې ده:

پس له بنده دی دا عزم — د خوشحال د خاطر جزم
يا نيولی مخ مکې ته — يــا مغولــو ســره رزم
يا يو کنج د غره نيولی — لمونځ روژه د لوستو بزم

(دخوشحال خان خټك کليات ۲/ ۲۳۷-۲۳۸مخونه )

ددي قطعي له لوستنه سړی لږ تر لږه پدي پوهېدلای شي.چي لوی خان دقید او نظر بندي په دوران کي د تر بند وروسته ژوند لپاره خپله تګ لاره ټاکلي وه.

د مغلو له منصبه يې لاس مينځلی و او داپي غوښتل چي يا به مبارزه کوي او يا به دلوی خدای (ج) په عبادت مشغولېږي او د غره په ګوښه کي په لوستو خپل بزم تود ساتي.

اوپه يوه بله قطعه کي چي يې غالبا ترهغي لوږې قطعې وروسته ويلي ده. په ،هغي کي يې دخپل راتلونکي ژوند پيشګويي داسې کړې ده.

ته ناست يې په اګره کې — دا هم بويه په حساب
کړته ګرځه يو څو ورځې — سعير څه وکا شهاب
خو دادرې دي بله نشته — او اخر دی پېچ و تاب
يا خواه نا خواه منصب دی — يا يو کنج په لاس کتاب
يا رغ د سپينې تورې — کوهستان مرجع مآب

(ديوان ، ۲/۳۵۸)

دا ډول پرېکړې موږ ته دلوی خان په افکارو او نظر يو کې ديو لوی تحول ډراتګ څرك په لاس راکوي او ددي تحول زړی که هر وخت د خان په ذهن کي زرغون شوی وي ، د قيد او نظر بندی پدي څه کم پنځه کلن دوران کي پخوالی اوڅمر ته رسېدلی و.

د خان ددغه فکري تحول په اړه د دوکتور راج وليشاه تعبير زما په پوهه زموږ د تيسس له پياوړتيا سره مرسته کوي ده ليکلي دي: (( د خوشحال خان نه وړاندې د پښتو د تهذيب يوه پوړۍ ختمه شوې وه، بله لا رسېدلې نه وه.په دغه عبوري دور کي پښتانه د يو مکمل انتشار صورت حال سره مخ شوي وو. خوشحال د خپلې ځوانی تروختنه شايد دمنصب د ذمه واريو اوتقاضوله سببه دي صورت حال ته پام شوی نه وي ولې ښکاري داسې چي هغه تري يو

شعوري تاثر ضرور اخیستی و . او شاید د غه وجه وه. چې کله موقع راغله. نو هغه د یو ملي تهذیب سازولو بیرغ پورته کړو. د هغه ذهن لاشعوري طور دې منزل ته دراتلو د پاره تیاریدو او چې کله تیار شو. نو بیا ورته منصبونه او جاګیرونه هیڅ بنکاریدل . قبیلوي تعصب یې له ذهن ځخه وتی و [۶۳]

خودخوشحال خان له بنده خلاصون اوهېواد ته بېرته راستنېدل - لکه چې په تېر فصل کې یې بیان تاسي ولوست - تر داسې شرایطو لاندې واقع شو چې د منصب لـه بېرتـه منلو یې چاره نه درلوده ځکه باچا اورنـګزیب د خلاصون تر وخته پر ده شك درلود. له دې سربېره د خلاصون او بېرته هېواد ته دستنولو په کار کې یې د مهابت خان او تر دې دمخه د محمد امین خان او میر خان هڅې خوشحال خان ته د یوپښتانه منشر په حیث مد نظر وې . نوځکه کله چې خان بېرته هېواد ته راستون شو په لومړي سرکې یې ځه په احتیاط قدمونه وچتول تردې چې یې د مبارزې علني کېدلو ته زمینه برابره شوه.

اوس به موږ د خان د ژوند ددې دوران پېښې پرله پسې سره تعقیب کړو او وبه ګورو چې زموږ پر اتل څه رادرومي: [۶۳]

## د لنګر کوټ ورانول:

کله چې مهابت خان لرغوني افغانستان (روه) ته راورسېد نو یې داورنګزېب له حکم سره سم د یو سفزیو تر فشار لاندې نیولو او کابو کولو لپاره د مردان په اوسني ګړهي کپور کې د کلا د ودانولو اراده څرګنده کړه. خوشحال خان ته یې دهزاري منصب او د یوسفزیو د سیمې دسرداری اوله ده (مهابت خان) سره د مرستې وړاندیز وکړ.

---

[۶۳] د پښتو ادبي تحریکونه . ۱۵۹ مخ.

(۶۳) ددې فصل زیاتې برخې د استاد کامل له خوشحال خان ختیك نومي کتاب نه په لنډیز ترجمه شوې دي. کوم ځای چې له نورو ماخذو استفاده شوې ده حواله لري

خوشحال خان په ځواب کې ورته وویل: پنځوس کاله زه دولتخواه وم، یوسفزي یاغیان وو. ما هغوی وژل اوپدې ډول مې د باچا اطاعت ته اړ کول. له سرو مې یې ځلي جوړول. زه بې ګناه قید شوم. زما قبیله خوره شوه.خوله دې ټولو د ښمنیو سره سره یوسفزي زما په کار شول ،اوس زه څنګه مخالفت کولای شم؟ باچا ته هم مناسب نه ایسي چې دا کلا جوړه کړي، یوسفزي ستره قبیله ده. ددوی په منځ کې دا کلا قایمه نشي پاتېدلای او اخر به ناسور شي او په دې اړه یې په دري ژبه وویل:

چند کاه ګل مې نمایي بی بقاد یوار را
ګرتو لنګرکوت خواهی قلع کن دمغار را

خوشحال خان مشوره ورکړې وه چې لنګرکوټ پر ځای دې په دمغار (د سوات کوهستان) کې کلا جوړه شي.دلته همدا دنوښار چوني کافي ده. شمشېر خان حیات ترین چې دا وخت پدې مجلس کې حاضر و.د خوشحال خان د رایې مخالفت وکړ. شمشېرخان هیله درلوده چې که دا کلا جوړه شي. نو انتظام به یې باچا ده ته وسپاري.
خوشحال خان، شمشېر خان مخاطب کړ او ورته یې وویل:

مهم د یوسفزي درته وایمه ښکاره
دخره خسي کول دي لاس ګنده ګریوان پاره

مهابت خان د خوشحال خان له رایې سره موافقه وکړه او باچا ته یې ولیکل چې بهتره به وي د کلا د ودانولو اراده پرېږدي. اما شمشېر خان اوحیات ترین په پټه باچا ته لیکلي وو، چې د یوسفزو د مهم لپاره ددې کلا جوړول ضروري دي. باچا د شمشېر خان رایه ومنله او مهابت خان ته یې د کلا

دجوړولو د کار پیل حکم ورکړ. مهابت خان د کلا د جوړولو چارې پیل کړې او په ۱۰۸۰ هـ ق ۱۶۶۹ م کال کې یې جوړول بشپړ شول.

## دمور او مشرې مېرمنې مړینه:

د لنګر کوټ د ودانولو پر کال ۱۰۸۰ هـ ق خوشحال ته دوې واقعې پېښې شوې یوه دمور مړینه او بله د مشرې میرمنې. مور یې د پلار شهباز خان ترمړینې دېرش کاله وروسته مړه شوه.
خوشحال خان دخپلې مور دمړینې په باب ویلي و:

**چې د پلار دمرګمې تېر شو په قرن**
**د صفرې په میاشت ومړه زمامور**

مشرې مېرمنې یې هم دغه مهال له دنیا سترګې پټې کړې دي . خان ویلي دي:

**پوره زر اتیا کلونه دهجرت وو**
**چې د مور په خوا مې ومړ مشر کور**

## ناروغي:

خوشحال خان ته په ۱۰۸۰ هـ ق کې د اسهال ناروغي پیدا شوې وه او پوره دوه کاله په دې رنځ مبتلا و. ۱۰۸۱ هـ ق په وروستي میاشت کې له دې رنځه روغ شو. خان خپله په دې اړه ویلي دي:

**که دعا ده که توبه ده که دارو**
**وخوشحال خټک ته خدای ورکړه شفا**

په دوه کاله د اسهال په رنځ اخته و
تري خلاصي په ذولحجه و دغفا

•

(د خوشحال ختټك کليات ۲/ ۲۱۵)

## د خوشحال خان په فکر کې د بغاوت او سرکشی لومړنی سپرغی :

ددې ځپرکي په پیل کې مو دخان د خپلو یادونو په استناد ولوستل چې د بند او زندان په دوران کې دمغلي واکمنو. خپل منصب او خپل سر نوشت په باب ځینوپوښتنوډده په مغزو کې سراوچت کړی و اوشرايطو ته په پاملرنه يې دموقع انتظارايست. د ستر خوشحالپوه اروانباد استاد کامل دکښنو مطابق: خوشحال خان دا مصلحت وګڼله . چې بادشاهي ملازمت اختيار کړي، له مغلو سره موافقه وکړي. هېواد ته له رسېدو وروسته،سره له دې چې په زړه کې يې دغچ اخيستو اور په لمبو و،خو ده له تحمل نه کار واخيست. خو پدې کې پېښه داشوه چې مغلي واکمنو د لنګر کوټ کلا دجوړولو تابيا وکړه او خوشحال خان پدې لاره کې حکومت سره له مرستې ځرګند انکار وکړ. ده دا انګار په داسې شرايطو کې وکړ، چې دمغلي حکومت ملازم و. دې انکار د پاچهي احکامو په وړاندې د احتجاج مانا درلوده، خو سره له دې يې هم تر دغه وخته د يو عملي اقدام کول مناسب نه ګڼل.

خان دلنګر کوټ له جوړلو سره د خپل مخالفت په اړه ديوه اوږده بيان په ترڅ کې ويلي دي:

لنګر کوټ مغلو ساز کړ ... زه په ننګه د افغان شوم
که یوسف و،که مندړ و ... زه ددواړو نګهبان شوم

(ديوان ۲/۳۲۱)

## د محمد امين خان د کابل صوبه داري:

زمور اتل (خوشحال خان) لا د غچ اخيستلو او صبر په کش مکش کې اخته و چې دخان بل محسن امين خان د اورنګزېب له خوا د مهابت خان پر ځای د کابل صوبه دار مقرر شو.

محمدامين خان (۱۰۸۱ هـ ق کال د ربيع الاخر پر لسمه د ۱۶۷۰ م کال. اګست) پېښور ته ورسېد. دا مهال شمشېر خان ترين دمغلو له لوري پر يوسفزو حکمران و. سره له دې چې د يوسفزيو شورش تکول شوی و. خو په سيمه کې بحران اوګړبړ موجود و اوشمشېر ترين ورسره دوچار و.

خوشحال خان په خپله يوه قصيده کې د سيمې وضع او خپل موقف داسې بنيي:

شل زره ځوانان لرم همه له يوه ذاته
واړه يګانه شا په خدمت کې راته خمه

څه شو شمشېر خان ترين که پوخ پنجهز اري دی
ما وته هيڅ نه دی مګر بې او منه شلغمه

ځوبه دمنصب په زور زمها برابري کا
څه محال دګدې چې سيالي کاله ضيغمه

خوار شه يوسفزي چې ترين يې حاکمي کا
اوس که ښکارد باز کاندي هيلۍ نه ده ګرمه

زه د شاه جهان بادشاه د ننه دزړه سر وم
چار مې اورنګزېب په ناداني کړه برهمه

دم وهلی نشم څوک مې داد دلاسه نه کا
داغ لرم په زړه کې بې طبیبه بې ملهمه

څو زره سواره دي سرګردانه په څوکاله
زه که په زړه روغ وای چار به ولې وه درهمه

سل کاله که تېر شي دا مهم به فیصل نه شي
دا رنګه چې کېږي ګوره څه وشي له همه

څوچې په څوکاله شمشېر خان ترین کارکړي
مابه په څومیاشتې واړه چار کړه مستحکمه

دا مکر فرېب چې د حیات ترین هنر دی
کلبه دا د مزد دی، دا دبنځې دی عالمه

پوهه تمیز نشته دافلک په سترګو ړوند دی
ښځه دځاینې په خطاب کامکرمنه

دا انشاء املا واړه چې دي د شیطانی کا
تل باندې نفرین اوري له لوحه له قلمه

(د خوشحال ختک کلیات ۲/ ۱۳۱ ۱۳۲ مخونه)

د ۱۰۸۲ هـ ق کال د صفر د میاشتې ۱۴. مه / ۱۶۷۱م کال جون ، محمد امین خان په دربار کې لیدل کېږي . پدغه کال باچا ده ته وزارت ورکاوه . خو ده باچا ته ځینې داسې شرطونه وړاندې کړل ، چې د اورنګزیب خوښ نه وو. نوېې د کابل پر صوبه داری وټاکه. په روه یا افغانستان کې ځینې پېښې

دده دصوبه داری له دوران سره تړاو لري ، او دغو پېښو په سیمه کې دیو عظیم شورش زمینه مساعده کړه نو ځکه ددغو پېښو له یاده هم چاره نشته .

## د ایمل خان شورش:

د محمد امین خان دصوبه داری په دوران کې یو ځل پښتانه مشران ، جمرود ته دده لیدو ته ورغلي وو. محمد امین خان شراب څښل او د کونړ فوجدار حسین بېګ هم ورسره حاضر و ، فوجدار په نشه کې ډوب صوبه دار ته وویل چې د نواب سپي سلام لپاره راغلي دي. پښتانه دفوجدارله خبرې او د صوبه دارله رویې ډېر خوابدي شول.

پدې کې بله پېښه دا وشوه چې د کونړ په ساپو کې یوې میشتې پراچکۍ [۶۴] د یوې پوځي څوکۍ خوا وشا ده څه پلورلو پېر ودلو لپاره تللې وه. سپاهیانو ددې پراچکۍ بې عزتي وکړه ساپو ددې نجلۍ دغچ اخیستو لپاره له سپاهیانو سره جګړه پیل کړه او په جګړه کې سپاهیان ومړل او ساپي وتښتول. حسین بېګ د ساپو له مشرانو وغوښتل چې قاتلان ده ته وسپاري ساپو ځواب ورکړ. چې ستا سپاهیانو چې کوم بد کار کړی و نتیجه یې دا شوه.

حسین بېګ ته غصه ورغله د پوځي څوکۍ شاوخوا نور پښتانه یې راوبلل او پر ساپو یې لښکر کشي وکړه. هغه پښتانه چې په لښکر کې راټول شوي وو، د لښکر کشۍ د علت پوښتنه یې له یو بل نه وکړه. چې له پېښې خبر شول . نو یې ساپو ته احوال واستاوه ، چې تاسې ښه کار کړی دی. موږ ستاسې دښمنان نه یو، کله چې فعلي لښکر سره ستاسې مقابله راشي موږ د ملاتړ په بانه بېلېږو . ستاسو چې څه زړه غوارې له مغلو سره هغه سلوک وکاندي. پښتنو همداسې وکړل او مغلو د مقابلې تاب رانه ووړ او په تېښته

(۶۴) پښتون کون؟ ۴۲۵ _۴۲۷مخونه .

يې پيل وکا، د پر لښکر يان ومړل. له ماتې وروسته حسين بېګ پښتانه مشران ځانته وبلل.چې کله پښتانه مشران دحسين بيګ دېرې ته ورغلل . ناڅاپه اوازه شوه .چې مشران يې قيدکړل، پښتنو دحسين بېګ ديره محاصره کړه او پدې کار دپښتنو او مغلو بې اعتباري نوره هم زياته شوه. پښتانه مشران چې خپلې دېرې ته بېرته ستانه شول . نويې مشوره سره وکړه چې نور پر مغلو اعتبار نشته د خير د عا به وکړو او خپل کورونه به خوندي کړو. حسين بېګ نورهم تلولی شو. په هغوشپو کې محمد امين خان صوبه دار پېښور کې و. دا ټولې پېښې يې هغه ته وليکلې او وروې لېږلې [۶۵]

## دخيبر ستره پېښه :

د کابل صوبه دار محمد امين خان د (۱۰۸۲ هـ ق - ۷۲-۱۶۷۱ م) د يخنۍ موسم په پېښور کې تېر کړی و او دا وخت يې نو کابل ته دکوچ و. چې پدې کې د افغانانو له خوا دحسين بېګ خان له ماتې خبر شو .دغه خبر دی د افغانانو خلاف سخت برهم کړی و.

صوبه دار له خپل فوج سره د کابل لوري ته روان شو. له ده سره د سيمې اپريدي، ورکزي او ځينې نور افغان سرداران لکه خوشحال خان خټك او ارباب مستجاب خان مومند هم شامل وو.

محمد امين خان په جمرود کې له افغان مشرانو سره مشوزه وکړه . خوشحال‌خان ترې وغوښتل چې له افغانانوسره جنګ اوسخته رويه نه کېږي .دوی حکومت دمقابلې خلك ندي. محمدامين خان چې له افغانانوسره دخوشحال خان په همدردی پوه شو. نو يې ورته وويل: (( يو سړی خلك ليدل چې مار وهي او په کانو يې ولي. دې سړي مار جګ کړ او په توبره کې يې ځای ورکړ او له خلکو يې وساته خو همدې مار چې وخت پيداکړ خپل محسن

---

[۶۵] پشتون کون؟

يې وچيچه)) د محمد امين خان دا اشاره خوشحال خان ته وه. ځکه محمد امين خان دخوشحال خان دقيد او بند په دوران کې له ده سره ښه احسان کړی و. خوشحال خان چې ذا پيغور واورېد. نو يې ځواب ورکړ. که د نواب همدا خيال وي، نو زه له ټولو مخکې ځم. شاهي لښکر پېشقدمي اختيار کړه، او افغانانو ته چې د صوبه دار اراده څرګنده شوه، نو دوی هم دمقابلې تياری شروع کړې او له خپلو لښکرو سره خيبرته را روان شول.

استاد کامل مومند دمينوکي په حواله کښلي دي. چې په مغلي لښکر کې څلوېښت زره سپاره او دوه سوه زره پياده موجود وو. خو خوشحال خان دحکومت ځواك څلوېښت زره مغل ليکلي دي.

محمد امين خان ار باب مستجاب خان له ځينو نورو با رسوخه کسانو سره مخالفو افغانانو ته واستول او دا يې ورته وويل چې د پوځ د تېرېدلو لپاره دې لار خوشې کړي او دوی بېرته شي. په هر صورت جرګه ناکامه بېرته راغله.

محمد امين خان د توري په زور د لارې خوشې کولو او د افغانانو د شړلو لپاره له خپل پوځ سره پېشقدمي وکړه خو کله چې شاهي لښکر لنډکاني ( غريب خانه ) ته ورسېدل نو دافغانانو لښکر چې مومند . شينواري او اپريدي پکې وه د ايمل خان تر مشری لاندې لوړو ژورو کې د مقابلې لپاره تيار وو. شاهي پوځ چې دوی وليدل له ښې اوکيڼ لوري يې پر افغانانو حمله وکړه . افغانانو پرشاهي پوځ دتېږو باران جوړ کړ. د ډبرو اوروول ډېر موثر ثابت شول. شاهي پوځ يې وارخطا کړ. پيلان اسونه او سړي يو پر بل لوېدل. د پيلانو داسالي قوماندان محمود خان خيشکی- چې هندوستاني افغان و- له خپلو ډېرو ملګرو سره ووژل شو. او پاتې سپاهيان يې له پيلانو سره په شا شول. دشاهي پوځ دې ډول ماتې د افغانانو حوصلې ډېرې لوړې کړې.

مغلي فوج بيا تياری وکړه او مقابله يې پيل کړه. تمامه ورځ جګړه وشوه. په شاهي پوځ کې شاملو افغانانو له جنګه ډډه کوله. يوازې خوشحال خان او ذده سړيو دمغلو په طرفداري ډېر زيار ويوست . خوبې ګټې . په پای

کې مغلي فوج له زیاتې تباهۍ وروسته د نورې مقابلې تاب رانه ووړ او په تېښته یې پیل کړه. محمدامین خان دخپل غرور اوغیرت له امله دجنګ له میدانه ژوندی تلل نه غوښتل خو نوکرانو یې دی په مشکل د بلا له خولې راویوست. مات لښکر پر بېلا بېلو لارو روان شو ،پر پاتې فوج په تاتره کې افغانانو تباه کنه حمله وکړه، تارو مار یې کړ او پدې ډول د خیبر ستره پېښه پای ته ورسېده.

پدې جګړه کې له ټول پوځ نه ډېر لږ خلك بچ شول. په زرګونو مړه او څه اسیر شول، ټوله خزانه او مالونه د افغانانو لاس ته ورغلل.

پدې پېښه کې د محمد امین خان یوه وړه لور، خور، مور او ځینې نورې ښځې افغانانو اسیرې کړې وې، مېرمن زوی او دخور مېړه یې په دې پېښه کې ووژل شول.

خوشحال خان او نواب مستجاب خان له پاتې فوج سره د تاترې له لارې مخ په پېښور روان شول، خوشحال خان له خپلو زامنو سره - چې په جګړه کې ورسره وو- په مشقت پېښور ته ورسېد. ارباب مستجاب هم ورسېد . په پېښور کې خوشحال خان مستجاب خان د مشورې لپاره وباله . خو هغه زانغی څنګه چې مو ولوستل خوشحال خان - له مغلو سره ضدیت سره سره - په دې جګړه کې دمغلو په پلوي په جنګ کې شامل شو. که څه هم خوشحال خان صوبه دار محمد امین خان له افغانانو سره له نښتې منع کړی و. خو هغه پیغور ورکا او وده ته یې خپل احسانونه وریاد کړل. خوشحال خان د خپلې شخصي دوستۍ په وجه ورسره ودرېد او چې کله ورسره ودرېد لکه یو افغان مشر یې ورسره دو رنګي ونه کړه او له زړه وجنګېد خو بې فایدې. خان د خیبر پېښه په یوه قصیده کې بیان کړې ده، او هلته یې ویلي دي:

چې دانـــا تـــر نـــادان لا وژنـــي بـــتر
مـــګر نـــه دی دا ژونـــدون څه معتـــبر

چې مې فهم فکر وکړ باور وکړه
په داباغ کې ګل له خار دی برابر

چې له کومو غرونو راغی چېرته درومي
ابا سيند لاپه دا هيڅ نه دی خبر

د شلمان غرونه په دا کله خبر دي
په شلمان کې چې زرګونه شول ډېر

نه اسمان ځينې خبر دی نه دا زمکه
چې عالم شو په توفان زېر و زبر

په يوه زمان کې څه قدرت ښکاره کا
څه قادر دی توانا الله اکبر

مکافات د کوم ګناه د کوم شامت دي
چې ډېر د مير جمله شو د رست تبر

چې دا هسې يې پيرې کړلې بنيادې
د فلک په سرکې شته څه شوروشر

نه په ډېر ده نه په لږ د خدای په کړه ده
لږ لښکر په ډېر لښکر مومي ظفر

څه شينواري څه مومند څه اپريدي وو
چې يې مات کړ دصوبې واړه لښکر

دا توفان چې په مغولو باندې ساز شو
په کشتن په او لجو هيڅ مه کړه نظر

که اسونه که پيلان که اسبابونه
په انبار انبار سپين زروو يا سره زر

هغه ښې پرې پيکرې د پالکيو
همګي پرې پورې لال وو، درګوهر

په زرګونو ښتنو کړې تر ځان لاندې
دابه څوک کا د مغول له زړه بدر

داکينه به يو په سله ترې وباسي
که يې لاس شي پر جمله ښتانه بر

ښتنو څخه که شته څه عقل پوهه
ابل،ياغي دې ځنې کاندي اوس حذر

دامتل دزماني دی څه اوس نه دی
چې نامرد ضر به پالان وهي نه خر

مستجاب مومنـــد کــه چــرګه د مغـل ده
زه خوشحال ختک خو باز يم ،ځای مې غــر

(دخوشحال ختك كليات ۲/ ۳۰-۳۱)

استاد کامل ليکلي دي: (( د قصيدې له مضمون او لب ولهجې څخه ښکاره ده ، چې له خپل دوست او محسن محمد امين خان سره يې همدردي کړې ده)) . (خوشحال خان ختك . ۱۴۲ مخ).

اما د سر او لاف کرو په پښتانه کې يوځای حتی خوشحال نه ددفاع په مورد کې راغلي دي، چې خوشحال دمحمد امين خان پر ماتې خوښي څرګنده کړه( پښتانه، ۳۶۰ مخ) دا قصيده ، لکه څنګه چې استاد کامل ويلي دي، دمير جمله دټبر پر د پرېدو د افسوس څرګندونه کوي، نه دخوښۍ.

د خان په ربا عياتو او ټوټو کې هم د خيبر ددې پېښې يادونې شوې دي. په يوه رباعي کې يې ويلي دي:

کــامل د غفـج و پــه خيــبر کــې هـــورې
مغلــې بنــد شــوې هــم ګونــډې بـــورې

مومنـــد ، شـــينواري ، څو افـــرېدي وو
واړه وهلـــــې د يـــــاد و تـــــورې

بايد ووايو چې د خوشحال خان ديوان ۲۴۲/۲ مخ کې د (غفج) پر ځای (غفد) راغلي دی چې سم نه دی ځکه بايد ووايو چې په خپله بله قطعه کې ددې پېښې ، کال مياشت او روځ داسې ښودلې دي:

دويم د محـرم ، ورځ دشنبه کـــال دغفـــج
نه غشي وو نه تــورې چــې مغولـو وکړ پـج

شینوارو اپریدیو د ډکې خوارو مومندو
روپۍ په خروار یووړې مهران واړه په چج

(دخوشحال ختټك کلیات، ۲/ ۲۱۶)

د خوشحال خان ختټك له لوړې یادونې ښکاري چې په لنډي خانه او تاتره کې دمغلي فوج د ماتې دا پېښه د ۱۰۸۳ هـ ق کال د محرم پر دویمه واقع شوې وه. خو باچا ته ددې ماتې خبر د محرم پر ۱۲ مه ورسېد (۱۶۷۲ م ،مې) نو د احتیاط له مخې یې له محمد امین خان سره دمرستې لپاره د لاهور والي فدایي خان ته حکم وکړ. چې پېښور ته ولاړ شي، که چېرې افغانان بیا کوم یرغل کوي او یا دپېشقدمۍ نیت ولري، نو به یې مدافعه وشي.

فدایي خان دمحرم په ۳۰ مه له لاهوره د پېښور په نیت روان شو. له ده سره خزانه هم وه. خوشحال خان دا وخت په نظام پور کې و. د قبیلې خلکو ورته مشوره ورکړه، چې خزانه باید لوټ شي . خوشحال خان ورسره موافقه ونه کړه او دایې وویل: زما زړه له مغول داغ داغ دی ،بې ګناه یې قید کړم . خو د خزانې لوټول نمك حرامۍ سره مترادف کار دی. سره له دې چې دده ماغزه مغلو ته له غیظ و غضبه ایشېدل ا و ددوی خلاف یې د عملي ګام وچتول هم غوښتل، خو ده دنمك او خپل محسن محمد امین خان پاس درلود. خان د دومره عالي اخلاقو او سجایاوو خاوند و، چې د دښمن په وړاندې یې له داسې وسیلو او وسلو کار نه اخیست چې دده له شان سره به برابر نه وو.

همدا مهال دخان مشر زوی اشرف خان دوه ځله د صوبه دار دلیدو لپاره پېښور ته ورغی ،صوبه دار ډېره مهرباني ورسره وکړه اود خوشحال خان د احوالو پوښتنه یې ځینې وکړه. خان علیین مکان که هر څو مغلو غوښت ، خو دی نه ورته او دا به یې ورته ویل، چې زما خپله قبیله قیام ته اماده ده ،چېرې فساد جوړ نه کاندي . د قبیلې بندو بست کوم.

کله چې فدایي خان له اباسینه واوښت اوخیر اباد ته ورسېد، اشرف خان هجري یې هرکلي وکړ اوتر پېښوره پورې ورسره ولاړ. فدایي خان له اشرف

خان نه د محمد امين خان د ماتې او دشاهي پوځ د تباهي حال وپوښت او بيا يې له نورو خلکو څخه هم هغه څه واورېدل. چې اشرف خان ورته ويلي وو. فدايي خان چې پېښور ته ورسېد. نو ارباب مستجاب خان يې وواژه . دده له وژنې او ځينو ضروري کارونو له انتظام وروسته له پاچهي فرمان سره سم بېرته هندوستان ته ولاړ.

دا وخت صوبه دار محمد امين خان هم هندوستان ته دتللو اراده وکړه، د تللو په وخت کې يې له ښاره بهر په شاهي باغ کې له خوشحال خان سره وليدل خوشحال خان بيا زيار وايست ، چې دی له افغانانو سره له جنګه واړوي،خوده بيا خوشحال خان ته پېغور ورکړ. او دواړه دوستان داسې سره جلا شول چې بيا يې سره ونه ليدل.

د ارباب مستجاب خان مومند تروژلو وروسته دده تره بازيدخان اونورو مومندو مشرانو له خوشحال خان سره وليدل ، خبرې يې سره وکړې. دغه وخت خان خپله کورنۍ له سرای نه خوړې ته انتقال کړه، ځکه چې سرای دلارې پر سر و او له مغلو سره د دښمنۍ په صورت کې داځای خوندي نه و. خان غوښتل چې اټك ونيسي او د مغلو د تګ راتګ لار وتړي. خو په صوبه کې د محمد امين خان موجوديت دې عملي اقدام ته نه پرېښود.

## له مغلوسره دخوشحال خان څرګندمخالفت:

که څه هم محمد امين خان له اورنګزېب نه غوښتنه کړې وه چې ده ته دې د افغانانو سره دجنګ بيا يو ځلي موقع ورکړل شي، څو دی دتېرې پېښې تلافي وکاندي. مګر پاچا د مير خان په مشوره دده غوښتنه رد کړه او مهابت خان يې دکابل صوبه دار مقرر کا،ده درې ځله دمخه د افغانانو پر ولايت حکومت کړی و.

کله چې مهابت خان دافغانانو ولايت ته راغی،نو ده دافغانانو خلاف دتوږې په نسبت سياسي چالونو او نيرنګونو ته ترجيح ورکړه.

هغه مومند ملکان- د مستجاب خان دترونو بوچه خان او بازيد خان په شمول- چې د ارباب مستجاب تر وژلو وروسته خوشحال خان ته راغلي وو،

هغو د مغلو پر دولتخواهۍ رضا شول. خوشحال چې له دې خبرې خبر شو، دهیښتیا یې حد نه و.

کله چې مهابت خان له هندوستان نه روانېده، نو یې خوشحال خان ته پرله پسې د خطونو لېږل پیل کړل.

خوشحال خان ته یې لیکلي وو. زه ستا پر دوستۍ ویاړ کوم، ته زما هر کلي ته راشه، دواړه به دملك پر بندوبست مشورې کوو. خوشحال خان دابلنه ونه منله اوپه ځواب کې یې ولیکل:

ګفتم که مغل شوم به شمشیر زدن
افغان را که بس بریدم ګردن
اخر نشدم مغل همان افغانم
حیف است زکس کوشش بی جا کردن

(تاریخ مرصع . ص ۲۹۹)

دا وخت د اباسین ته بازید خان، خوشحال خان ته لیك واستاوه او د سلا مشورې لپاره یې وغوښت، خو خان له ورتګ انکار وکړ.

د خوشحال خان له وینا وو ښکاري چې دی دا وخت نور د مغلو ملازمت اختیارولو او د مهابت سره مرستې ته تیار نه و.

کله چې خوشحال خان د مهابت خان د دوه رنګیو نیرنګو نو او چالونو، دمغلو اوافغانانو تر منځ یو بل دنه باور او خرابو اړیکو یادونه کوي.نو ورسره هغه احسانونه هم یادوي چې مهابت له بنده دده دخلاصون اوخپل هېواد ته د بېرته ستنېدو په لاره کې له ده سره کړي وو.

خوشحال خان په خپل بیاض کې دا هم لیکلی دی، چې زما پر ده اعتبار نه و، ځکه وخت نازك و او د افغان مغل ترمنځ، اعتبار ختم شوی و. خو زه د ده بدخواه نه وم. ما اراده وکړه، چې دده له مخې لرې شم، د ترې بولاق تر منځ چې کوم نفاق پیداشوی و بېرته یې په اتفاق کړم. دهمدې مقصد لپاره خان علیین مکان لاچی ته ولاړ.

تاسې ذهمدې څېركي په پيل کې ولوستل چې دلنګر ګوټ د ودانولو په وخت کې هم خوشحال خان له مهابت سره مرستې او د منصب له منلو انكار كړی و، او اوس يې هم غاړه وغړوله. مهابت دخوشحال خان له دې رويې څخه سخت برهم شو: او دخوشحال خان پرېشانولو ته يې لاس واچاوه.

خوشحال خان په لاچۍ كې و، چې يې مشر زوی اشرف خان د مهابت خان مخې ته خير اباد ته ورغی، هر كلی يې ورته ووايه. كه څه هم مهابت خان له خوشحال خان سره دخوابدۍ په وجه د اشرف خان هم مخالف و، خود مصلحت له مخې يې خلعت وركړ او تر نوښاره يې له ځان سره بوته او له هغه ځايه يې رخصت كړ، خو د رخصتۍ پر وخت يې د ا ضمانت ځينې واخيست چې پلار به په خپله سيمه كې نه پرېږدي. خوشحال خان ليكي چې ده ته مناسب نه وو، چې دا ډول ضمانت وركړي او كولای يې شول وليكي: «زه ددې خبرې ضامن يم چې دی به شورش نه كوي».

دا وخت خوشحال خان په لاچۍ كې ناروغ پروت و، د ناروغۍ په حالت كې خوړې ته لاړ. له اشرف خان نه د نارضايت او غصې په حالت كې يې دافيصله وكړه، چې ارام به اوسي.

د اشرف خان دضمانت وركولو له غندنې وروسته خوشحال خان ليكي: «زما زړه د اورنګزېب له بې انصافۍ نه داغ داغ و، او دامې ارمان و، چې يوځل د مغلو خلاف تورې ته لاس كړم. خو د قبيلې ګارو او زړ بودۍ او .... د نمك حق، ما بې وفايي ونه كړه. زما ارا ده وه چې د هغوی نوكري به نه كوم او په يو ګوښه كې به كېښنم او پاتې عمر به د خدای تعالی په عبادت كې تېروم، دزامنو روزنه به كوم. كله چې له لاچۍ نه نظام پور ته راغلم ما دا غزل وويله:

د فساد فكر مې نشته خدای حاضر دی
خپل ساعت به تېروم عمراخر دی
اطاعت داولولامر څكه نه كړم
خليفه دزمانې په زړه كافر دی

پلار يې وو اژه په بند ورونه په توره
په ازار د مومنانو بهادر دی
د ابليس غونډې مکرونه يې په زړه کې
په فريب کې تر ابليسه لا ماهر دی
په باطن يې ودانی ته نظر نشته
په ظاهر کې و داتيه ته ناظر دی
د چاړه به څينې روغ په دنيا نه وي
دخوشحال خټک چې چاو دځينې خاطر دی))

( خوشحال خټک کليات ۱/ ۳۲۹ )

سر او لاف کړو په خپل اثر ( پښتانه ) کې دخيبر تر پېښې وروسته له مغلي واکمنو سره د خوشحال خان د ښکاره مخالفت د علتونو په اړه ليکلي دي : (( خوشحال خان يقيناً چې د پرديو پر ضد په خپله وينه کې تضاد درلود او دا د ټولو پښتنو نژادي خصلت دی. خوشحال خان دهر بل پښتانه په شان د پرديو منت اوجګ رغ پر ځان نه مانه .داسې خلك يوازې په دوستی او احترام کې وفادار پاتې کېږي. وفاداري ددوی شخصي ملکيت دی.له چاسره يې کوي هغه هم ددوی دزړه غوښتنه ده.دابېخي ګرانه خبره ده. چې دسعرې وينې امپراتور او سرزوري قبيلوي خان دې سره جوړ شي. دپښتونولی ويار دې تر پښو لاندې کړي او امپراتور ته دې سر ټيټ کړي. درې سوه کاله دمخه په ډېره عادي خبره قبيلوي خلك راپاڅېدل او د خپلې ازادی لپاره يې هر ډول ترون او ساخت و بافت له منځه وور. دوی په خپله قانون وو او ددوی يوازينې اطاعت ننګ او پښتو ته و او بس. ننګ د پښتنو شرف او عزت و. خوشحال خان بله لار نه درلوده بې له دې چې د خيبر له جګړې وروسته د امپراتور پر ضد بغاوت

وکړي . ځکه که خوشحال خان ارام پاتې وای نو دامپراتور ساره منطق به دا ښودله چې خوشحال خان ريا کاري کوي.....)) [66]

د سراولاف کرو لوړ تحليل د پښتنو له اجتماعي روحيې او ځانګړنو څخه ، رنګ اخلي او تر ډېره حده پر ځای دی، خو لکه چې دمخه يې د خوشحال خان د خپلو يا دونو او خوشحالپوهانو له اثارو يادونه وشوه.خوشحال خان له اورنګزيب سره دتول نفرت تر څنګ له ځينو امراوو سره شخصي دوستي ، احسانونه او د نمک حق تل په پام کې وو، او ديوه احسان منونکي افغان مشر په توګه يې خپله مبارزه په دلايلو او منطق برابره پيل کړه.

## د واکمنو په لاسوهنه دخان په خپل کور کې مخالفتونه:

په مخني بيان کې تاسې ولوستل ،چې د کابل مغلي صوبه دار مهابت خان، اشرف خان د خپل نوميالي او ننګيالي پلار پر ضد وهڅاوه. خو لکه چې استاد کامل کښلي دي، مهابت خان د اشرف خان له کارونو مطمين نه و او د پلار پر ضد د تښې ضمانت ورکول يې کافي نه ګڼل. نو د خوشحال خان د زياتې پريشانی په خاطر يې دده له درېيم زوی بهرام خان سره ساز و باز پيل کا.

بهرام د سرداری ډېر شوقي و. ځنګه چې د خوشحال خان د بند پريشانی په دروان کې مغلي واکمنو د قبيلې او سيمې سرداري اشرف خان ته وسپارله ، خوشحال خان هم دده پر سرداری راضي و. بهرام له پلارنه هم پدې رويه ناخوښی و. نوځکه دی مهابت خان ته ورغی او هغه ته يې ډاډ ورکړ چې پلار پر ضد هر اقدام ته تيار دی، که اړتيا پېښه شي . پلار او اشرف خان دواړه به بنديان کاندي. مهابت خان هم له خپله لوري بهرام ته د مرستې ډاډ ګيرنه ورکړه .بهرام له صوبه دار نه يوفرمان تر لاسه کړ او رخصت شو.

---

[66] کرو. پښتانه ، د شېر محمد کريمي ژباړه، د افغانستان دکلتوري ودې ټولنه (جرمني)دانش کتاب پلورنځی پېښور ۱۳۷۸ش ۳۶۱ مخ

استاد کامل په دې عقيده دی، څنګه چې بهرام هر څه دمغلي حکومت په مرسته کول، نو له همدې ځايه د خوشحال او مغلو تر منځ عملي دښمني پيل شوه. (خوشحال خان ختك ۱۴۸ مخ).

- خبره دا ده چې دمخالفت اغاز د لنګر کوټ د جوړېدو له پيل شوی و .د محمد امين خان ترماتې وروسته، چې مهابت بياصوبه دار شو، خان يې مخې ته ورنغی دا دمخالفت بل علني پړاو وههاعه و، چې مغلو دده پريشانی ته ملاوتړله او اشرف خان يې په شا وتپاوو. پروفيسور پرېشان ختك په دې عقيده دی چې دخوشحال په ژوند کې د اشرف خان او بهرام خان تر منځ دمنصب دحاصلو لو لاتجه روانه وه، مغلو يوله بل سره جنګاوه، کله به يې يو ليرې کړ بل يې راووست او کله بل. څو کورنې جګړې جاري وي (پښتون کون؟ ۴۶۲ مخ).

کله چې بهرام د پلار او ورور پرضد عملي اقدامونوته اماده شو او له مهابت نه يې فرمان تر لاسه کړ، نو دده او پلار تر منځ جګړې هم پيل شوې. تر دې وروسته پېښې داسې راغلې دي:

- د ۱۰۸۳ هـ ق په ذيقعده / ۱۶۷۳ م کال مارچ کې د خوشحال خان او بهرام خان تر منځ څه وړې غټې جګړې وشوې، دخان پله ډېرنه وه.
- د ذيحجې په مياشت کې د خان زوی عابد خان پر پاچاهي لاره حمله وکړه، لس پنځلس مغل او لاروي ووژل شول.
- دذيحجې پر ۱۶ مه (اپريل اوايل) عابد خان او ورور يې عبدالقادر خان پر خير اباد حمله وکړه. د کلا دروازې يې ماتې کړې دننه ننوتل. له سلو) زيات کسان ومړل، غنميت مالونه غوايي، اسان او اوښان يې تر لاسه کړل.
- د ۱۰۸۴ هـ ق کال محرم کې دخوشحال خان اوبهرام تر منځ جنګونه وشول، خوشحال خان بريالی شو.
- همدا مهال خوشحال خان ته د دريا خان اپريدي ليك راورسېد. دريا خان له مغلو سره دښولې په باره کې د خوشحال خان مشوره غوښتې وه، ابمل

خان او دریا خان دواړو دا وخت له مغلو سره د سولې فیصله کړې وه. ځکه د دریا خان ورور تاتار خان او د ایمل خان وراره له مغلو سره وو. خوشحال خان اشرف خان هجري د سولې د خبرو لپاره دریا خان ته واستاوه، خو هغه سوله ونشوه.

- د ۱۰۸۴ هـ ق کال د ربیع الاول اوایل د ۱۶۷۳ م کال جون د خوشحال خان او بهرام خان تر منځ بیا له سره جنګونه پیل شول.
- په هغو شپو ورځو کې خوشحال خان د چراټ په غرونو کې د توتکۍ په کلي کې اوسېده - دا سیمه د ختکو او اپریدو پر برید واقع ده- مهابت خان بهرام ته درکه کړې وه، چې که پلار له دې سیمې ونه باسي نو سرداري به اشرف خان ته وسپاري.
- د چراټ د اوسنی چونی جنوب ته په بېلا بېلو ځایونو کې له دواړو لوریو واړه، غټ جنګونه وشول او خوشحال خان بریالی شو.
- تر دې وروسته خوشحال خان څه موده له اپریدو سره واوسېد، کوهاټ ته ولاړ، په بېلو بېلو ځایونو کې تر قیام وروسته، خو تیرې ته ولاړ. دا وخت دی د لښکر په ټولولو او جرګه بوخت و. د کوهاټ له سیمو نظام پورته راغی او بیا یې له بهرام سره د جنګونو اراده وکړه. بهرام په سونیاله کې و، خو په ځان کې یې د مقابلې تاب نه لیده، له هغه ځایه وتښتېد او (مراجې) ته ولاړ. خوشحال خان د چراټ چونی په شمال کې واقع شاه کوټ ته مخه کړه. له ده سره د ختکو او اپریدو څلور زره لښکر هم و. په دې لښکر کې درې سوه سپاره او نور پیاده وو. په لاره کې یې بختي کلی وسوز اوه، د شاه کوټ هم همدا سرنوشت په برخه و، بیا یې سپین ګانۍ وسوزاوه او بیا یې مراجې وسوزاوه او بهرام له دې ځایه هم وتښتېد. دلته خوشحال خان ته وویل شول، چې د دښمن د لښکر تعقیب لپاره دې سواره وټاکل شي. خو خوشحال خان ځواب ورکړ، (( هغوی نه کافر دي او نه مغل، بدبخت ختک دي که هغوی ووژنم، نو ګویا خپل قوت له لاسه ورکوم)) له مراجې نه د کاکا صاحب زیارت ته راغلل او پر دښمن یې

هجوم ور وور، ځینې پیاده کسان ځینې ووژل شول او څه یې ونیول شول او څه غنیمت هم لاس ته راغی. تر دې فتحې وروسته خوشحال خان د زیارت کاکا صاحب شمال ته په ولی کې قیام وکړ، له هغه ځایه سرای ته روان شو، پر سرای یې - د پلار نیکه دمسکن په توګه - تعرض ونه کړ. کوز ایسوړی، ډنګرزی، شیدو او نړی کلي یې وسوزول. تر دې وروسته خوشحال خان خیراباد ته لاړ، پردې ځای یې هم اور ولګاوه. مخامخ د اټک له کلا نه توپو نه سرشول او نغارې ووږغېدې. دخوشحال خان لښکر هم د برې شادیانې وکړې. دغه پېښې چې د ۱۰۸۳ ه ق کال له اواخر و پیل شوې وې د ۱۰۸۴ کال تر نیمایي زیات وخت یې ونیو. په دغه نقل وحرکت کې د خان کورنۍ هم له ده سره وه او په لښکرو کې اپرېدي او مومندي خټک شامل وو.

- د همدغو پېښو په دوران کې خان خپله ډېره لوړه او غرا قصیده وویله چې له مغلو سره یې د جنګ اعلان پکې کړی دی. افغانان یې اتحاد او دمغلو پر ضد جنګ او مبارزې ته بللي او هم یې د ازاد او باعزته ژوند تېرولو بلنه ورته ورکړې ده. دخان قصیده داده:

پــروردہ کــه دمغلــو پــه نمــک یم
د اورنګ لـه جـوره هم لـه غریـوه ډک یم

په نــاحق یې په زنـدان کـړم یـو څوکالـه
خدای خبردی که په خپل ګناه زه شـک یم

پښتنــو ســره زړه تــور دی دمغلــو
خبردار یې په نیتونو یــک پــه یــک یم

که سره که ناسره راته معلوم نه دي
په داکارکې په معنی لکه محک یم

یازه باز وم یا شاهین و شاه جهان ته
اورنګزېب وته کارغه یا مېنګیرک یم

هغه زیست چې د عزت له مخه ځوي
چې یې کا په هغه زیست پورې هک پک یم

اور یې پورې په منصب په نوکري شه
چې تر فهم و تر نظر دمغل کک یم

په خپل نام وننګ چې راشم لېوني شم
خبر دار کله په سود و زیان دلک یم

چې په تمه د اورو ځغلي وشت ته
ګومان مه کړه چې هغه ناپوه سمک یم

تر قضا پورې د هیچا چاره نشته
اوکه نه تر زاړه ذئب لازیرک یم

وبینا ووته سور مهر یم د زرو
په دلیل د نابینا لکه پوچک یم

هيڅ لـه قـدره مـې وګړي خـبر نـه دي
کـه رښتيـا وايم د سـترګو مردمـک يم

د چنبـې ترکلـو ډېر دی زمـا قـدر
و بې شـناختوو تـه ګل د پېـرک يم

لکـه باز پـه لـوی لـوی ښکـار زمـانظر دی
نه چې ګرځي ګونګټ نيسـي بـادخورک يم

چې په غوښوېې روزګار هغـه مـزرې يم
نه چې ولې د وښو خـوري هغه مږک يم

پـه داسـپينه ږيره شـرم عـزت بنه دی
څه به نورې چارې کـرم مکر خـوردک يم

په دانش پـه شعورنه ده پـه قـسمت ده
چې داهسـې سـرګردان لکـه پـتک يم

هـر پښتـون چـې د مغلـو نوکـري کـا
کـه دې زده دهغـو وارو بـهترک يم

چې منصـب مې دمغـل خـور يـو ملک وم
چې منصـب د مغـل نشـته يـو ملـک يم

د فرمـــان د پروانـــې حکــم يـــې نشـــته
شکر داچې په خپل حکـــم پـه خپـل وک يم

نه مې کار په خاص و عام نه پـه ديـوان دی
نه پـــه ور ولاړ دهـــر يـــوه مـــردک يم

نه تصديق شته ، نه ياداشت شته نه توجيه شته
نـــه پـــه فکـــر دسنـد نـــه د دســـتک يم

هر ګيدی به چـــې لـه مـا سرکوزي غوښتـه
دهغـــه دســـر يـــا تـــوره يـــا کوتـــک يم

هـــر ســاعت رابـــاندې عيدداســـتغنادی
که پـــه نـــور عـــالـه ژړازه پـــه فرســـک يم

ښتانـــه لـــره شـــړی انـــدړی بـــس دی
نـــه پـــه فکـــر دګليـــم نـــه د توشـــک يم

ازادي ده پـــه ســـاده ســـپينه جامـــه کـــې
خـــلاص لـــه غمـــه د زربفـــت او دميلـــک يم

د ونو جونـــګړې هســـې راتـــه ښې شـــوې
وايـــې ناســـت پـــه محلونـــو د لهـــک يم

که اوګره د ښوشته په شرمبو سپینه
د مغلو پولاوپاتوډېرپري ډک یم

چې نیولی مې دا هوډ دننګ و نام
که له خپله هوده واوړم کنیزک یم

دا قصیده ټوله ۵۲ بیته ده ، ټوله د راوړو وړ ده ، خو زه دلته دطوالت دمخنیوي لپاره د پای د برخې څو بیته را اخلم:

مومندي زما دکډې لاس وپښې دي
راضي من داپرېدیو په کمک یم

ډېر چېنې چې تر اوش وکا دریاب شي
چې لیده شم اوس خو دایم یو بولک یم

کرلاني سړبن هرڅوکه پښتانه دي
زه د ننګ په کاز له واړو مشترک یم

دافغان په ننګ مې وتړله توره
ننګیالی د زمانې خوشحال خټک یم

(دخوشحال خټك کلیات ۲/ ۸۳ - ۸۷ مخونه )

دا قصیده اروانباد استاد کامل یوه ملي ادبي شهپاره بللې ده. د استاد خبره پر خپل ځای سمه ده. سړی چې اوس داقصیده لولي، په وجد راځي. باید ووایو چې داقصیده یې په ۱۰۸۴ هـ ق کال کې ویلې ده .

## ښکار او تفریح:

له دغو ټولو کړاوو او مصروفیتونو له فراغت وروسته ، خوشحال خان د ښکار او تفریح لپاره (زیړه) ته ولاړ ، څو ورځې یې هلته ښکار او تفریح دواړه وکړل ، غرڅنې او ځنګلي وزې یې ښکار کړې او بیا بېرته کورته راغی.

## له اپریدو سره جرګه:

همدا مهال خوشحال خان ته د شاه بېګ خان لیکونه پر له پسې رسېدل او ترې غوښتل یې چې پر کوهاټ برید او له ما سره مرسته وکړه.

خوشحال خان پدې باره کې دریا خان اپریدي ته لیک واستاوه ، هغه خپل ورور تاتار خان او ځینې اپریدي خوشحال خان ته واستول ، خو شحالخان په راجګړ کې اپریدو ته میلمستیا وکړه او بیا یې له خپلو مېلمنو سره جرګه وکړه ، او په اتفاق سره یې پر کوهاټ دحملې فیصله وکړه دا جرګه په ۱۰۸۴ هـ ق کال شوې وه. خوشحال خان لښکر تیار کړ او پر کوهاټ د حملې لپاره د ادم خېلو اپریدو سیمې ته تر کنډیالی پورې ورغی. داوخت ملک لعل بېګ سعید خان او ملک خواص خان کوهاټي د یو وفد په توګه خوشحال ته راغلل او وې ویل چې د افغاني ننګ خاطر وکړئ. هغه مغل چې له موږ سره مقیم دي ، هغه وباسئ. خوشحال خان له کنډیالی نه شاه بېګ ته سواره ولېږل او ورته یې احوال وکړ چې ستا مد عیان راغلي دي ، ته هم راشه ، څنګه چې ستا خوښه وي هغسې به وکړو. یوه شپه تېره شوه ، خو شاه بېګ رانغی ، دویمه شپه هم په انتظار کې تېره شوه په پای کې خوشحال خان یو خط او نور سواره واستول ، مګر هغه بیا رانغی او په پای کې یې خوشحال خان ته یو خط وروستاوه او دایې ورته وکښل چې لعل بېګ او دانور ووژنه او ته له لښکر سره د کوهاټ خواته راشه ، زه ستا مرسته کوم او کلا نیسو.

خوشحال خان د شاه بېګ په لیك برهم شو او د اپریدو جرګه یې راوغوښته . د شاه بېګ خط یې ورته ولوست جرګې هم دا خبره بده ومنله . جرګې ټول اختیار خوشحال خان ته ورکړ.

خوشحال خان لعل بېګ او سعیدخان رخصت کړل، او د شاه بېګ خط یې هم دوی ته ورکړ. هغوی د ېر خوشحاله ترې رخصت شول.

## د سرک جوړول:

کله چې خان بنګښ مشران رخصت کړل ، نو غوریزو ته راغی اوله هغه ځایه یې د ختیځ لور ته تر اباسینه پورې دیو سړك د جوړولو اراده وکړه. د سینیو ختکو یوې ډلې ته یې دا کار وسپاره او اصف خان نومی یې پرې نګران مقرر کا او خپله بېرته راځکړ ته راغی.

## په نوښار حمله:

خوشحال خان له اپرېدو سره بیا بله جرګه وکړه او پدې جرګه کې یې پر نوښار د حملې فیصله کړې وه ، تاتار خان د خوشحال خان له کوره له بېرته ستنبده سره سم د اپریدو لښکر تیار کړ او خوشحال د تري بولاقو ختکو لښکر تیار کړ او د خوړې خواته یې وخوځاوه. او له هغه ځایه یې قرمزي ته اوبیا ډاګ اسمعیل خېلو ته راغی. په همدې وخت کې د اپریدېو لښکر هم راورسېد او دواړه لښکرې دلته یو ځای شوې. د اپرېدو او ختکو د لښکرو مجموعي شمېره شپږ اوو زرو ته رسېده. له سلامشورې وروسته یې ډاګ اسمعیل خېلو نه د جبې خواته کوچ وکړ او له هغه ځایه جلوزو ته راغلل ، لس سواره یې ملك سلیمان ترقومنداني لاندې واستول اوجلوزو پر کورونو یې اور ولګاوه. بیا پیریاني ته ورسېدل، پیریاني هم وسوزاوه او له هغه ځایه مخ په نوښار وخوځېدل . په رڼا ورځ د نوښار کلا ته نزدې شول. خوشحال خان د ټوپکو ګولۍ وویشلې. اپرېدي د جنوب ختیځ له لارې او ختکو د شمال

لويديځ له لاړي پر کلا حمله وکړه. په کلا کې د ننه نږدې درې زره مغل او افغانان وو. لومړی ختهك او بيا اپريدي کلا ته ننوتل. ددواړه لوريو تر منځ سخته مقابله وشوه. په کلا کې لاجنګ روان و، چې اپريديو د غنيمت مالونه اوږوته کړل او د باندې ووتل ، ختهك يوازې پاتې شول او دوی د کلا خلکو پرشا وتمبول. خوشحال خان چې دا حالت وليده خپله د کلا د دروازې خواته راغی، دوه زامن يې عبدالقادر خان او عابد خان هم ورسره وو، د ښمن د دروازې له سره غشي ويشتل او ډبرې يې اورولې، خو ختهکو ځوانانو دروازه ماته کړه او د ننه ور داخل شول. مرګ ژوبله وشوه او غنيمت مالونه يې تر لاسه کړل. خوشحال خان د کلا افغانان وبخښل. خوشحال خان غوښتل چې په نوښار کې تم شي، خو مازيګر د کوچ نغاره وشوه، ځکه چې اپريدو له کلانه ځوافغاني مېرمنې نيولې اوځان سره بيولې وې. دهغو ښځودخلاصولو لپاره خوشحال خان په اپريدو پسې وخوځېد. خوشحال خان وايې چې زما په زړه کې د هغو ښځو احترام و. څه اسيران چې له ختهکو سره وو هغه يې خوشې کړل.

خوشحال خان غوښتل چې بېرته نوښار ته لاړشي او څه ودانيو ته اور واچوي ،خو زوره ور باران وشو، نويې د بېرته تګ اراده پرېښوده او په هغه باران کې يې ځان نظام پوړته ورساوه اوبيا له هغه ځايه راجګړ ته لاړ،ځکه چې کورنۍ يې هلته وه.

د نوښار تر جګړې وروسته ډېرو افغانانو د دوابې په سيمه کې د مير حسين تر قوماندې لاندې مغل پوځ ته ماتې ورکړه، ددوابې جنګ پر مغلو د افغانانو دويم لوی بری و. استاد کامل ليکلي دي، چې ددې جنګ حال نه دی ښکاره. (خوشحال خان ختهك ۱۵۵ مخ)

## روه ته د شجاعت خان راتګ:

په ماثر عالمګيري کې راغلي دي چې مهابت خان ، لکه څنګه چې ښايېدل، افغانان سرزنش او پايمال نه کړل. بلکې حريف ته يې (( مابه خيرو شما به سلامت)) ووېل او خپله کابل ته روان شو.

د باچا دا چلند خوښ نه شو، نو يې د افغانانو د تنبيه لپاره د ۱۰۸۴ هـ ق کال د شعبان پر ۱۶ مه ، ۱۶۷۳ م نومبر شجاعت خان دې خواته راولېږه او د جمرود تهانه دار مهاراجه جسونت سنګهـ ته هم له شجاعت خان سره د مرستې حکم ورکړل شو. زموږ د داستان اتل خوشحال خان د نوښار تر جګړې وروسته په کور کې و، چې لږ وروسته دشجاعت خان تر قوماندې لاندې هندوستاني لښکر له خپل سازوسامان سره اټك ته راورسېد. خوشحال خان ته يې ليك واستاوه، چې تسلي او مهرباني يې هم درلودې او ورسره اخطارونه هم. خوشحال خان دغه ليك ته زړه ورجواب ورکا. شجاعت خان او جسونت سنګهـ څه موده په خيرآباد کې پاتې شول. د خوشحال خان د مقابلې لپاره يې لښکر واستاوه، خوشحال خان هم خپل لښکر برابر کړ، خو مغلو له خوشحال خان سره دجنګ اراده پرېښوده او پېښور ته لاړل.

له همدې باچا هي پوځ سره شېر محمد خان بنګښ هم له هندوستان نه راغلی و. اپرېديو خوشحال خان ته مشوره ورکړه چې پرده بايد حمله وشي، ځکه دی له هندوستاني پوځ سره راغلی دی او د هغو ملګرتيا کوي. خوشحال خان ځواب ورکړ، چې دی پښتون دی، او وه لس اته لس کاله يې له هېواد لېرې په هندوستان کې د اورنګزېب د معتوب په توګه تېرې کړې دي. له دې اوږدې پرديسۍ نه وروسته بېرته راغلی دی، نو دا مړنتوب نه دی ، چې موږ ورته لار ونيسو.

د کوهاټ بنګښ او ځينې خټك ، چې د خان مخالف وو، د شېر محمد خان هر کلي ته ورغلي وو، دی يې کوهاټ ته ورساوه، د خوشحال خان ددغه لوی نيت تر څنګه ، شېر محمد خان خارو و، چې پر خوشحال خان بريد وکړي.

خوشحال خان دا وخت له راجګړ نه د (زيړه ) نومې سيمې مندونۍ ته راغلی و او څو د شمارمومندي خټك ورسره وو.

شېر محمد خان ته دا خبر رسېدلی و چې دی له لږ و نفرو سره په مندونۍ کې دی، نو يې دا وخت د خان لپاره سازګار وګاڼه او د بنګښو له راټول کړي لښکر سره يې د خوشحال خان د نيولو لپاره پرده بريد وکړ. احمد او جندول

اپريدي چې د شير محمد خان له حملې خبرشول ،دشيرمحمدخان تر رسېدو دمخه له خپلو ملګروسره دخوشحال خان مرستې ته ورسېدل . خوشحال خان دشيرمحمدخان دمقابلې لپاره الله داد کلي ته ورغی خو شيرمحمد خان چې خوشحال خان ته د مرستې له رسېدو خبر شو، بې مقابلې بېرته واوښت.

تر دې وروسته خوشحال خان ځوترې ته لاړ. احمدخان اپريدي له سلو سپروسره دخان دليدولپاره ځوترې ته لاړ . خوشحال خان ده ته هدايت وکړ، چې لاړ دې شي او د اپريدو لښکر دې تيار کړي، چې له يوې خوا ختټک او له بلې خوا اپريدي پر کوهاټ حمله وکاندي. ځينو بنګښو هم خوشحال خان ته اطلاع ورکړې وه چې پدې مهم کې به دده ملګري وي.

## د کړپې جنګ:

کله چې شجاعت خان پېښور ته ورسېد ، لږې ورځې هلته تم شو، او له خپل پوځ سره د ګنداو له لارې کابل ته روان شو، پوځ د ۱۰۸۴ هـ ق د ذيقعدې پر ۱۸ / د ۱۶۷۴ م کال فبروري د کړپې له غاښي تېرېده.

ايمل خان پر شاهي پوځ بريد وکړ، له دواړو لوريو سخته مقابله شوه، افغانانو پر شاهي پوځ ګولۍ او ډبرې اورولې او د شاهي پوځ له سازو سامان سره يې مقابله کوله. خو د افغانانو د مقابلې تاب يې ونشو کړای . د پاتې شپې د تېرولولپاره پاتې پوځ پرشا ولاړ، سبا افغانانو له هرې خوا پرشاهي پوځ حمله وکړه. جسونت سنګهـ چې دا حال وليد پنځه سوه سواره يې له توپونو سره مرستې ته راولېږل، له دې پنځو سوو څخه دوه سوه پاتې شول، هغه هم له پاتې مغل پوځ او جسونت سنګهـ سره وتښتېدل او نور زيات شمېر پوځ له شجاعت خان سره پدې جګړه کې له منځه ولاړ او لوی برې د ايمل خان مومند په برخه شو.

## پر کوهاټ د دريا خان ناکام بريد:

د خوشحال خان او دريا خان تر منځ پر کوهاټ د بريد په باره کې خطونه او پيغامونه تبادله شوي وو او خوشحال خان په څو تره کې احمد خان ته داپريدو د لښکر د تياری خبره په همدې منظور کړې وه.

خوشحال خان او دريا خان دواړه منلې وه، چې د ستر اختر په ورځو کې به د کوهاټ پر کلا بريد وکړي خو ده مخکې له مخکې تياری وکړه او له تا-کل شوې نيټې نه څو ورځې دمخه يې داپريدو له لښکر سره پرکوهاټ بريد وکړ. شېر محمد خان بنګښ د مغلی حکومت په پلوي د هېواد پالو سخته مقابله وکړه او هېواد پال اپريدي يې مات کړل. لږ و ډېر سل کسان يې ووژل شول، ددريا خان ورور تاتار خان هم پدې جګړه کې ووژل شو. مغلو شېر محمد خان ډېر ونازاوه ، خلعتونه او انعامونه يې ورکړل.

خوشحال خان په څوتره کې د لښکرو په تياری بوخت و، چې پر کوهاټ د دريا خان له بريد او ماتې خبر شو. ده اول باور نه کاوه، خو وروسته معلومه شوه ، چې دا خبره سمه ده، پدې کې ددريا خان خط هم ورته راغی ، په خط کې يې ورته کښلي وو چې له لښکر سره راشي. دخان په خيال دده داغوښتنه سمه نه وه، خو ده د خپل ملګري په خاطر څه سواره ورولېږل . دغوسورو د بنګښو څوکلي وسوزول. تر دې وروسته خوشحال خان زيار ويوست چې د خټکو او اپريدو لښکر سره راټول کاندي او پر کوهاټ حمله وکړي خو د مخالفينو د لاسوهنو له امله ، د خان خپلې قبيلې هم په دې برخه کې مرسته ونه کړه او د اپريدو لښکر هم خور شو، نو ځکه په کوهاټ حمله ونشوه.

خوشحال خان په دې عقيده دی، چې په کړ په کې د پاچاهي پوځ تباهي او د ايمل خان بری د دريا خان په زړه کې څه رخه پيدا کړه ، او اراده يې وکړه چې ، لکه خوشحال خان په نو ښار کې مغلو ته ماتې ورکړه، دغسې زه هم بايد دکوهاټ کلا يوازې فتح کړم، په همدې اساس يې نو د خوشحال خان لښکرو ته معطلي ونه کړه او يوازې يې له خپل لښکر سره بريد وکړ او مات شو.

تر دې پېښې وروسته خوشحال خان د کوهاټ د جنګ د وژل شويو د فاتحې لپاره دريا خان ته ورغی. تر فاتحې وروسته دويمه جرګه هم وشوه او په جرګه کې فيصله وشوه چې خوشحال خان دې تېراه ته لاړ شي. تر دې فيصلې وروسته خان (خوړې) ته ورغی، خو نظام پورته نه ولاړ او څو شپې په (نانو) کې پاتې شو.

## دتيرا سفر:

دمخه مو ولوستل چې د خان او اپرېدو تر منځ په جرګه کې فيصله شوې وه چې خان بايد تېراته لاړ شي. خان چې کله خوړې ته ورغی هلته دېر پاتې نه شو د ۱۰۸۵ ه ق کال دمحرم پر وروستۍ ورځ د تېرا په نيت روان شو.

پروفيسور پرېشان خټک ليکلي دي چې خپل زامن جلال خان، سکندر خان، ګوهر خان، عجب خان او ددوی ميندې هم پدې سفر کې ورسره ملګري وو. د صفر مياشت ټول پر لاره تېره شوه، دربيع الاول په مياشت کې تېراه ته ورسېد او بيا د تېراه ميدان ته داخل شو، پوره څلور مياشتې يې هلته تېرې کړې اپرېدو يې ښه ميلمه پالنه وکړه. (پښتون کون؟ ۴۹۴ مخ)

خان پخپله يوه قطعه کې هم ميدان ته د رسېدلو تاريخ داسې ښوولی دی:

| | |
|---|---|
| مياشت د ومړی خور وه | چې داخل شوم په ميدان |
| کال څه و؟ هفغ و | بيا تحويل د سرطان |
| هسې شان ساړه وو | لکه نرم زمستان |
| سرې ورښې لو وې | غنم داړه تنکي شان |

(ديوان ۳۸۹/۲)

کله چې خان ميدان ته ورسېد. خبر شو چې اورنګزېب لاهور ته راغلی دی.

پروفيسور پرېشان خټک زياتوي: ((خوشحال خان ته د يوسفزو ملکانو ليکونه ورسېدل چې زموږ سيمې ته راشه، او د جسونت سنګه په معرفت د

اورنګزېب لیکلي پېغام هم ورسېد ، که ماته راشي ،نو په انعام او اکرام به دي سرفراز کړم)) (پښتون کوڼ؟ ۴۹۵ مخ)

خوشحال خان دغه مهال د تیرا په میدان کې خپله یوه غرا قصیده وویله ، چې ځینې برخې یې دلې راوړم:

چې په خـواب خـاطر نـه هسې عیان شـي
ځینې څه چـارې پیـدا پـه داجـهان شـي

پـــه لا چـــی پـــه چوتـــره وګرځېدلم
اوس مـې ګشـت د اپرېدیـو پـه میـدان شـي

لکه بـاز پـه یـوه غـره نظـر پـه بـل کـا
بیـا زمـا نظـر د سـوات پـه کوهسـتان شـي

د مغل منصب مـې پرېښود هسې خوښ شـوم
لکـه خـلاص د لویـه بنـده بندیـوان شـي

دا نـــادره عقیـــده ،لکـــه زمـــا ده
لا عجب کـه بـل پیـدا هسې افغـان شـي

کـه مـې چېرتـه ننګیالي پـه لاس کـښېوزي
پـرې بـه لـیرې دازمـا د زړه ارمـان شـي

د مغلـو نـه بـه هســې کـار ښکـاره کـړم
چې راضي را څخـه روح د فریـد خـان شـي

په اعوذو به يې فتح کړم که خدای کا
په دا کار کې که څوک ماوته شيطان شي

که فرښته وي بې بدي به ښکاره نه وي
چې قرين ورسره هر کله بدان شي

چې يې خپله پوهه نه وي ښه هغه دی
چې د بل سري په بند پسې روان شي

اورنګزېب بادشاه زړه ډک په لاهور راغی
ګوره څوعاله به وران څو به ودان شي

ډېرو تا و ته نن لاپې د ياری کا
ګانده ستا و سرته کښېني غليمان شي

دمزريومړنتوب په لښکر نه وي
مټ يې هر کله يوازې په خپل خان شي

په جهان د ننګيالي دي دا دوه کاره
يا به وخوري ککری يا به کامران شي

د بازونو د کارګانو مصاف وينم
تر دامنغ به يې د وينو رود روان شي

عاقبت به خدای (ج) ظفر کا د بازانو
تار په تار به اواره واړه کارګان شي

چې و کار ته يې حيران دي دا خولې دي
ډېر عالم به وخوشحال وته حيران شي

(د خوشحال خان ختك کليات ۲/ ۱۶۸-۱۶۹ مخونه)

## حسن ابدال ته داورنګزېب راتګ :

په افغانستان (روه) يا دهغه وخت په اصطلاح دکابل صوبه کې د هند د امپراتورۍ د پوځونو پرله پسې ماتو . لکه په خيبر او تاترو کې د مخمدامين خان صوبه دار د پوځونو او په کړپه کې د شجاعت خان د پوځونو او خپله د شجاعت خان وژل کېدو د امپراتور وقار او حيثيت ته ډېر زيان رسولی و او اورنګزېب يې تر دې خده هيجاني کړی و، چې خپله له لوی پوځ سره سيمې ته راغی.

اورنګزېب د ۱۰۸۵ هـ ق کال د محرم د مياشتې پر يوولسمه (د ۱۶۷۴ م کال اپرېل) له پايتخت نه دحسن ابدال لوري ته وخوځېد. لکه چې مود خان په قصيده کې ولوستل. زموږ شاعر يې لاهور ته له رسېدو د تېرا په ميدان کې خبر شو. ښکاري داسې چې د ربيع الاول په مياشت کې به لاهور ته رسېدلی وي.د ۱۰۸۵ هـ ق کال د ربيع الثاني پر دويمه (د ۱۶۷۴ م کال د جولای اوايل) له ډېر لوی پوځ، حربي سازوسامان او توپ خانې سره حسن ابدال ته ورسېد او هلته ديره شو. (خوشحال خان ختك ۱۶۵ مخ).

حسن ابدال ته په رسېدو سره اورنګزېب د افغانانو دټکولواومطيع کولو اود هند د مغلي امپارتورۍ پر ضد د پيل شوې مبارزې د سرکوبولو لپاره پوځي او سياسي کارونه پيل کړل.

پېر محمد اغر خان یې ددې مهم لپاره له دکن څخه راوغوښت. دغه اغرخان پخوا د یوسفزیو د شورش په تکولو د افغانانو پر ضد څرګندې کارنامې درلودې.

اورنګزیب په خپل دغه سفر کې نه یوازې له وسلې او جنګ څخه کار واخیست، بلکې د زور، انعامونو او جاګیرونو د ورکړې له لارې یې هم ډېر پښتانه د ځان کړل.

جادو ناته سرکار لیکلي دي چې یوسفزو د مشر بهاکو خان زوی او د خوشحال خان زوی پاچاهي ملازمت اختیار کړ. او د دریا خان اپریدي ملګرو له پاچا سره وعده وکړه، چې داېمل خان سر به پرې کړي او پاچا ته به یې راوړي، خو که پدې شرط چې ددوی پخوانۍ خطاوې پاچا وبخښي.

د خوشحال خان او اشرف خان په حوالو کې کوم ځای نیم دا خبره راغلې ده، چې په ۱۰۸۵ ه ق کال کې خوشحال خان سرداري اشرف خان ته وسپارله.

ارواښاد سرفراز خان عقاب ختک، چې د خوشحالیات نومې رساله - په خوشحال خان نامه کې غبرګه شوې- د خان د ژوند پېښو کومه لنډه کرونولوژي وړاندې کړې، نو یې هلته دا خبره کړې ده( خوشحالنامه . ۲ مخ).

ښاغلی محمد اصف صمیم هم له یادې شوې منبع د خوشحال خان د ژوندد ۱۰۸۵ ه ق کال په واقعاتو کې راوړېدي: (( خپله خاني یې اشرف خان هجري ته ورکړه)) (ګام په ګام له خوشحال سره . ۲۳ مخ).

خو ـلکه چې مو د جادوناته سرکار په بیان کې ولوستل . هجري پداسې حال کې مغلوته ورغی، چې پلار یې له مغلو سره په مبارزه اخته و. اشرف خان پاچاهي ملازمت اختیار کړ او د فدایي خان په سرېو کې شامل و.

پروفیسور پرېشان ختک هم پدې باب یو تفسیر لري، چې د خوشحال خان د ملي مبارزې په دوران کې د اشرف خان د موقف ښه ښکارندویي کوي: ((د خوشحال خان تحریک پر مخ روان و، چې په دوران کې اشرف خان یوځل بیا له مغلو سره دمنصب لپاره رابطه وکړه. ځکه مغلوهغه منصب له ده

ښخه اخيستی و او بهرام ته يې ورکړی و. خوشحال خان ته د اشرف خان دا پيغام ورسېد، چې زما په منصب کې اضافه شوې ده. مغلو تری اوبو لاڅ ماته راکړل. تاريخ مرصع، خوشحال خان منسوبه دا جمله ليکلې ده، چې په دې کار ټول خوشحاله شول)). (پشتون کون؟ ۴۸۱ مخ).

اورنګزېب په افغانستان کې د ننه د پوځي عملياتو لپاره ددې سيمې مختلفو سمتونو ته پوځي ډلې واستولې، لکه:

- اغرخان، نصرت خان، ميرزا سلطان او نور امرايې له پوځي ډلې او مناسب سازو سامان سره دجمرود اوخيبر افغانانو دټکولو اوتنبيه کولو، لپاره واستول. پېښور ته نژدې مومندو پرې حمله وکړه.
- اورنګزېب د افغانانو مهم شهزاده محمد اکبر ته وسپاره، او له اسد خان سره يې کابل ته ولېږه. شهزاده او اسد خان دواړه د کوهاټ له لارې کابل ته لاړل. دې کار هغه حمله عملي نه کړه چې خوشحال خان اوملګرو پرکوهاټ ګوله .دوی غوښتل چې په مني کې پر کوهاټ بريد وکړي.
- اورنګزېب په خپل دغه سفر کې بل کار دا وکړ چې د مهابت خان پر ځای يې د ۱۰۸۵ هـ ق کال د رجب پر اوومه (۱۶۷۴ م اکتوبر) فدايي خان دکابل صوبه دار مقرر کړ. له زيات ساز و سامان او لښکر سره يې دې خوا ته راولېږه

ده څو مياشتې په جمرود او ايلم ګودر کې تېرې کړې. همدا مهال ده د خان مشر زوی اشرف خان ته حکم وکړ، چې دخوړې له لارې پر ادم خېلو اپريديو حمله وکړي. اشرف خان دصوبه دار فدايي خان حکم پر ځای کړ خو داپرېدو له لاسه يې ماتې وخوړه.

فدايي خان خپل دې سفر کې دېبلا بېلو سيمو او بېلا بېلو قبيلو دافغانانو له مقابلو سره مخامخ شو.

## د خاپښ جنګ:

د ۱۰۸۶ هـ ق کال په ربیع الاول (د ۱۶۷۵ م کال جون) کې یې مکرم خان، میر محمد اسحق، شمشېرخان او میر محمد یعقوب له لوی پوځ سره دخاپښ د کوتل له لارې پر افغانانو د برید لپاره ولېږل.

مکرم خان د کرپې له لارې خاپښ ته مخه کړه. په خاپښ کې د ایمل خان او دریا خان له مکرم خان او شمشېر خان سره جنګ وشو. مغلو ته یې ماتې ورکړه. شمشېرخان ددریا خان له لاسه ووژل شو، مکرم خان باجوړ ته وتښتېد.

د پاچاهي پوځ یوه لویه برخه په خاپښ کې له منځه لاړه. څه چې پاتې وو. پر هغو هم افغانانو پر لارې حمله وکړه، د پاتې لښکر ډېره برخه پر لارې تباه شوه. له ځاني زیان سربېره مغلوته ستر مالي زیانونه هم ورسېدل او افغانانو ډېر غنیمت مالونه تر لاسه کړل. دې جګړې ته له مومندو اپریدو سربېره د باجوړ تر کلاني هم راغلي وو.

اورنګزېب دپاچاهي لښکر له دې ماتې د ۱۰۸۶ هـ ق کال په ربیع الاول کې خبر شو.

## د افغانانو پر ضد د حکومت نورې هڅې:

د خاپښ تر جنګ وروسته دافغانانو پر ضد د کابل د صوبه دار او دحکومت هڅې سرې داسې خلاصه کولای شي.

- د همدې کال دربیع الاول پر د ېرشمه سر بلند خان له یو ستر پوځ سره د افغانانو په ټکولو مامور شو. اغر خان ته د جلال اباد تانې داري ورکړل شوه. هر بزخان دچګدلك تانه. دار شو او فراق خان یې دلغمان تانه دار مقرر کا. الله داد خان یې دلندي خاني تانه دار اوخنجر خان د بنګشاتو.
- د همدې ۱۰۸۶ هـ ق کال د ربیع الاخر په ۱۷ م تاریخ فدایي خان له پوځ سره له پېش بولاق نه کابل ته روان شو، پر لارې یې له افغانانو سره ډېرې جګړې وشوې. استاد کامل دمستعدخان په حواله لیکلي دي چې

فدايي خان په دې سفر کې د خپلو بهادرو سپاهيانو په مرسته افغانان ډېر پايمال کړل او کورونه يې ورته تاخت وتاراج کړل. اورنګزېب دفدايي خان له دغو مظالمو دومره خوښ شوی و، چې ده ته يې داعظم خان کوکه خطاب وکړ (خوشحال خان ختټک ۱۷۴ مخ).

- د ۱۰۸۶ هـ ق کال د جمادي الاخر پر ۱۴ مه باچا ته خبر ورسېد، چې د جګدلك د تانه دار هربزخان او افغانانو تر منځ مقابله شوې ده، هربزخان له خپل زوی او ډېرو نورو سورو سره وژل شوي دي. د باجوړ د اتمان خېلو د سيمې تانه دار عبدالله خان خيشکي تانه پرېښوده وتښتېد او زيات ملګري يې قيد او ووژل شول.

## د يوسفزوسيمې ته د خوشحال خان سفر:

موږ د مخه ولوستل چې خوشحال خان په تيرا کې و. چې د يوسفزو ملکانو بلنې ورته رسېدلې وې او له خان نه يې غوښتلي وو، چې د دوی سيمې ته سفر وکړي. خان په هماغه تيرا کې و، چې داورنګزېب له راتګه خبر شو

سيمې ته د اورنګزېب راتګ دهغه وخت پر حالاتو او د خان پر کارونو او هځو خپلې ځانګړې اغيزې درلودې نو ځکه مو خوشحال خان په تيرا کې پرېښود او د اورنګزېب دراتګ او دده د کارونو يولنډ جاج مو واخيست او دادی بېرته دخپل اتل يو نليك له تيرا نه پسې تعقيبوو.

خوشحال خان د۱۰۸۵ هـ ق کال له ربيع الاول نه دجمادي الثاني تر پايه څلور مياشتې په تيرا کې تېرې کړې. خوشحال خان د جمادي الثاني په پای کې ايمل خان او دريا خان ديوسفزو ملکانو له ليکونو، پيغامونو اوبلنو خبر کړل (خوشحال خان ختټک، ۱۶۵ مخ).

خوشحال خان د راز علي او حسن په ملګرتيا د اوښانو له کاروان سره ديوسفزو دسيمې د سفر په نيت له تيرا نه روان شو اوبازار ته ورسېد. په بازار کې له ايمل خان سره مخامخ شو. نور بيان دخان د کښنو له مخې د تاريخ

مرصع په ۳۲۳ -۲۴ مخونو کې داسې راغلي دي: (( سره کښېناستو ، خبرې مو سره وکړې، دجاروتو يې راته وويل، خو ماورته وويل ، چې که زه پوهېدلای ، چې تـه بـه راځې ، نـو درتـه ايسـار شـوی بـه وای، اپـرېدو ډېر ستنولم ، خوستون نه شوم ، اپرېدي مې رخصت کړل، د څخو بي پر لار د ايمل خان سرې راسره ډکې ته راغلـه، شپه مې هلتـه تېره کړه ، سبا بېرې راغله پکې پورې وتم پر موموندو تېرېدو ، ټولو ښه پښتونولي راسره کوله . مېلمستيا يې کوله. موموندمې ښه عـالم وليد . خصوصا نظر مومند عجب ځوان و، کمال خان يې ورور و، زما ډېر خوښ شو. ډېر ننګيـالي مېړه و. د پنډيالي پر لار تر سيند پورې و تو. په ملا ګوريو کې موشپه وکړه. د چنـده پـه لار توتي او د ختکو سيمې ته راغلم ))

(ګا م په ګام له خوشحال سره، ۲۳مخ) . خوشحال خان څو شپې په ختکو کې وکړې او بيا له هغه ځايه د يوسفزيو سيمو ته ولاړ.

څنګه چې يې د مخه تاسې بيان ولوست د تېرا له سفر وروسته د يو سفزو سيمې ته د خان د ورتګ په شپو ورځو کې ، اورنګزېب په حسن ابدال کې ديره و او دلر غوني افغانستان شرقي برخوان تر کابله پورې سيمو غرواو درو تـه متوجه و، او لـه بېلو بېلولاريو يې د افغـانـانو دايلو لو منصوبې جوړولـې اودغه جنګي کار وايي د ۱۰۸۶ هـ ق کال تر جمادي الثاني پورې روانې وې - اجمالي بيان يې د مخه تېر شوی دی- خوشحال د ۱۰۸۶ هـ ق کـال په جمادی الاول کې د مردان شمال د ۲۵ ميلۍ په (برمول) کې و، او هلتـه يې شپې وې. ده هلته برمول کې يوه دده د لوړو خيـالونو ښکارندويه قصيـده وويلـه او د مبارزې او نـهضت جريـان يې پکې ان د خـاپښ تـر جنګه پورې بيـان کـړ. دا قصيده يې د ۱۰۸۶ هـ ق د دريمې خور په لومړي تـاريخ ويلې ده ټول بيتونـه يې ۴۶ دي ، چې ځينې برخې يې زه دلته را اخلم:

بيـا لـه کومـه راپيـدا شـو دا بـهار
چې په هر لـوري يې ملک کـړ يـو ګلزار

ارغوان دي ، ضميران ، سوسن ريحان دي
يا سمن دي.نسترن ، نرګس ګلنار

د پسرلي ګلونه ډېر په هرهر رنګ شته
ولې سره لا له دي لاپکې او خار

جونه موتی موتی ګل ږدي په ګريوان کې
د ځوانانو ګلدستې دي په دستار

مغني په چغانه ليندی کښېږده
په نغموپه پردو وغورزه هرتار

ساقي راشه ډکې، ډکې پيالې راکړه
چې دميوپه مستي شمه سرشار

پښتنو زلميو بيا لاسونه سره کړل
لکه باز منګولې سرې ګاندي په ښکار

سپينې توري يې ګلګونې کړې په وينو
په کړپه يې هم روان کړ دندوکار

ايمل خان دريا خان دواړه مرګيي مه وای
هيڅ تقصير دواړه ونه کړ وار په وار

دخيبر دره يې سره کړله په وينو
په کړ په يې هم روان کړ دندوکار

ترکړپې تر باجوړه سمې غرونه
په لړزه په زلزله شول په باربار

په هغه لوري چې کېږي پنځم کال دی
هره ورځ دسپينو تورو خر پهار

چې په دا لوري زه راغلم حبطه شوم
زه مرداريم که داخلک دي مردار

په لښکر، لښکر ناري شوم ورته ستړی
ها کانه را ته نه مرکوايي نه خار

چې احوال ديوسفزيو رامعلوم شو
لوا غرو ماته بنه و نه مغار

د ختکو سپي بهتر تر يوسفزيو
که ختک دي هم په خوی تر سپي بيکار

درست پښتون تر کندهاره تر اټکه
سره يو دننګ په کار پټ و اشکار

ګوره څو جنګونه وشول په هر لوري
ولې هيڅ ديو سفزيو نشته عار

اول جنګ د لوړې شا دتهترو و
چې څلوېښت زره مغول شول تار په تار

خويندې لونه يې په بند دپښتنو شوې
اس ، اوښان ، هاتيان او لجه قطار قطار

دويم جنګ مير حسيني په دو ابه کې
چې يې وټکېده سر لکه د مار

بيا له پسه دنوښار دکوټ جنګ و
چې مې وکېښ تر مغولو خپل خمار

بيا له پسه جسونت سنګه شجاعت خان وو
چې ابمل يې په ګنداب ويوست دمار

شپږم جنګ مکرم خان شمشير خان دواړه
چې ابمل کړل په خاپښ کې تار په تار

چې زما په ياد دي لوی جنګونه دادي
د هلکو په هر لوري نشته شمار

همېشــه فتـح و نصــرت دي لا تراوســه
پـس لـه دا ده بيـا تكيـه پـه كــردګار

اورنګزېب راته يو كال وشو چـې پـروت دی
پـه صـورت حـيران پرېشـان پـه زړه افـګار

كـال پـه كـال امرايـان دي چـې پريــوزي
چې توفان شـولې لښكـرې كـوم يـې شمار

خزانـې د هندوسـتان دي راخـورې شـوې
سـره مـهران دي ننــوزي پــه كهســار

بله هيڅ ليدلي نـه شـي پـه دا منځ كـې
يـا مغل لـه منځه ورك يــا پښتـون خــوار

په داهسې وخت چې وخت د نام وننګ دی
دا بــې ننـګه پښتانــه كــاڅه رفتــار

پښتانـه چـې نـورڅه فكر كـا نـاپـوه دي
بې دتـورې خلاصـی نشته پـه بـل كـار

پښتانـه پــه تــوره ښه دي ترمغلــو
كـه پـه پوهــه پښتانـه وي څه هوښيــار

( د خوشحال ختك كليات ۳ / ۲۶ -۲۸ مخونه) :

د معاصر دوران ستر خوشحالپوه ارواښاد استاد کامل ددې لوړې قصیدې په باب لیکلي دي: (( دخوشحال خان دا نظم د بیان د قوت د ښیالونو دلوړوالي، د جذباتو د شدت او تاریخ له پلوه د خوشحال خان له بهتر ینو نظمونو څخه یو دی)) ( خوشحال خان خټک ، ۱۷۵ ) مخ

فقید سر او لاف ګرو، پر همدې لوړه قصیده یوه کوچنۍ تبصره لري ، چې راوړل به یې موږ له مقصده لرې نه ګاڼدي : (( دا شعر د ستاینې وړ او ډېر لوړ شعر دی. پدې شعرکې پخپله د خوشحال خان شخصیت او د پښتون کرکتر بیان شوی دی. دا شعر د پښتانه حماسه ، ننګ ، مېړانه او غیرت ښیي خوښحال خان سازشونه غندي ، توره او مېړانه بریالیتوب خوښوي . خدای (ج) ته معتقد او وفادار ملګري ستايي......)) (پښتانه ، ۳۵۷مخ ).

د استاد کامل بیان دی : (( په برمول کې ددې لوړې قصیدې تروخته خوشحال خان دیوسفزو په سیمه کې څه کم یو کال اوسېدلی و)). خو دکوم مقصدلپاره چې دی یوسفزو ته تللی و، هغه مقصد پوره نشو، ځکه په یوسفزو کې داخلي رقابتونه وو. که څه یوه ډله دخوشحال خان طرفداره شوه بله به یې په مخالفت راولاړه شوه نو ځکه د مغلو خلاف- لښکر و د ټولو په چارکې بریالی نه شو.

د خوشحال خان د خپل بیان مطابق د ۱۰۸۶ ه ق کال د جمادی الاول پر اوومه سربلند خان له ډېر درونډ پوځ سره د باچا له خوا پرډې مامور شو ، چې په باجوړ کې بند ا مراء لکه مکرم خان او نور راخوشې ګاڼدي.

ایمل خان او دریا خان هم مقابلې ته تیار ناست دي. ماته یې هم پدې مهم کې د شاملېدو په اړه لیکلي دي. د یوسفزو د سیمې ملك عبدل‌اختر او طالع ماته راغلي دي. غواړي ما لپاره لښکر برابر ګاڼدي ( پښتون کون؟ ۵۰۶ مخ )

د تاریخ مرصع د ۳۲۷ د بیان له مخې (( زه هم ددوی په مصلحت دایم سوات لره روان یم . هر چې د خدای رضا وي هغه به وشي)) (ګام په ګام له خوشحال سره ۲۵ مخ).

## سوات ته روانېدل:

مخکې تر دې چې خان علیین مکان سوات ته لاړ شي، دی به په برمول او یا د یوسفزو په کومه بله سیمه کې د مغلو خلاف په کار لګیا و، چې د خوان زوی نظام له مړینې خبر شو، دا وخت د خان عمر د څلوروشپېتو کالو و، پداسې عمر کې د داسې ستر غم برداشت ګرانه خبره ده، اما خان په خورا صبر، سکون او حوصله دا غم وګاله. خان چې د نظام کومې مرثیې ویلې دي، په یوه کې یې دا افسوس کړی دی، چې دی لس میاشتې ناروغ و او زه ورسره نه وم.

خان چې دنظام کومې مرثیې ویلې دي ، یوه پکې قصیده ده، چې څو بیته یې دلته را اخلم:

څه داغونه ږدې په زړه زما فلکه
چې نظام دې له مابېل کړ خوایې ډکه
کشکې ځوان د پښتانه په ننګ کې مړ وای
نه چې ګور لره روان شو له تلتکه
چې د قام په ننګ کې ومړ هغه زویه
په عالم کې د خپل پلار غاړه کالکه

(د خوشحال خان خټک کلیات . ۲/ ۱۲۲مخ)

• د لوړو بیتونو له لوسته ، سړی د خان د وچتو ملي افکارو اندازه ځانته لګولای شي، چې خپل هرڅه یې د ملي هدف په تر لاسه کولو کې قرباني کول غوښتل. د زوی ملا ماتوونکې مړګ د خان ملي اراده ضعیفه نه کړه، بلکې د ملي هدف لپاره یې خپل سفر ته دوام ورکړ او سوات ته ولاړ.

خوشحال خان ته په سوات کې هم د یوسفزو د نورو سیمو په څېر . د مغلو خلاف دلښکرو په ټولولو کې مشکلات پېښ شول • دیوسفزو مشرانو تر منځ نفاق او شقاق او د حکومت د لاسپوڅو د لاسوهنو له امله له دې سفره هم د

ملي هدف لپاره په زړه پورې نتيجه پر لاس رانغله . سره له دې چې خان له ډېرو ستړو ارزوګانو سره سوات ته تللی و.

دده دا هیله له دې لاندې بیته ډېره ښه ښکاري

چې د ننګ توره دې واخيسته خوشحاله
دړومه سوات ته څه خټک څه يې لښکرې

په دې سفر کې خان ته يوه بله ناوړه داپېښه شوه. چې د حکومت پلویانو پر خان د کفر او رفض تورونه ولګول. اصلي خبره دا وه ، چې د سوات خلکو اخوند درويزه او دده مخزن ته زيات درناوی درلود او هغه يې په عقايدو کې د سند په توګه مانه . او خان ته د کربلا د پېښو په اړه د اخوند نظر د اعتراض وړ او دا هل بيت د مينې منافي يې باله.

يوه ورځ يې پر اخوند او مخزن دواړو ځينې خبرې کړې وې.

له دې اعتراضونو دسوات د خلکو پير. ميانور خبر شوی و. ميانور که له يوې خوا د اخوند درويزه (رح) اراد تمند وله بله پلوه دحکومت سړی و او د هېواد پالو پرضدېې له حکومت سره سروباز درلود . نو ددغه ميانور خلکو په خان پسې ډنډورې ووهلې.

خان د لنګر خټک په کلي کې اوسېده ، يوه ورځ خان د توت د يوې ونې لاندې استراحت کاوه ، چې ملك سنګر ، ميا خان او مانکی خوشحال خان ته راغلل، دی يې پاخاوه او ورته يې وويلې ټول سوات کې دې هنګامه جوړه کړې ده، ته لاخوب کوې هيڅ تشويش درسره نشته . بيا يې خوشحال خان ته وويل چې موږ د قوم دمشرانو په توګه دا وظيفه لرو ، چې د فساد مخنيوی وکړو، نو ته يا داخوند درويزه کتاب ومنه او يا د شيخ ميانور د اعتراضو ځواب ووايه . خان د اخوند د کتاب له منلو انکار وکا او بالاخره د ميانور او خوشحال خان تر منځ مناظره وشوه او شيخ ميانور ډېره بده ماته وموندله. بيا خلکو د دواړو تر منځ صفايي وکړه.

خوشحال خان له شيخ ميانورنه دا غوښتنه هم وکړه . چې له مغلي حکومت سره به سازوباز نه کوي. په څرګنده خو شيخ ميانور له مغلو سره د خط کتابت نه کولو وعده وکړه. خو نيت يې ښه نه و او په پټه يې خپل کار کاوه.

خوشحال خان په سوات کې له اوو مياشتو اوسېدو وروسته د مندړو سيمې ته راغی. له سوات نه دخان تر روانېدو وروسته يوسفزيو لښکر راټول کړ او په خان پسې راغلل. مندړو هم لښکر تيار کړ. شهبازګړهی ته نږدې د مغلي حکومت د سړيو او افغانانو تر منځ جګړه وشوه ، دحکومت څه سړي او د لنګرکوټ بخشي په دې جګړه کې ووژل شول. او پدې ډول خوشحال خان ديوسفزو او مندړو په سيمو کې هم حکومت ته يو کوچنی ماته ور په برخه کړه.

تر دې وروسته دخوشحال خان ملګرو او پلويانو غله ډېر ته نږدې پر مخالفو ګوجرو لښکر وخېژاوه. ګوجرو سخته مقابله وکړه . هېواد پال افغانان خوشحال په جوش راوستل نو يوه درنه حمله يې پر وکړه. ګوجر تاب رانه وړ او وتښتېدل. درې سوه ګوجر ووژل شول او ډېر غنميت مالونه افغانانو ته په لاس ورغلل.

## د ملتفت خان فوجداري او د خوشحال خان موقف:

اورنګزېب دګنج علي خان پر ځای ملتفت خان د لنګرکوټ فوجدار مقرر کړ.

بايد ووايو چې داملتفت خان دخوشحال ديو محسن اصالت خان زوی و. خوشحال خان خپل زوی اشرف خان ته ته چې پخواهم دحکومت ملازم و وليکل چې له ملتفت خان سره مرسته وکړه. دا وخت نو يوسفزو هم نور جنګ کول نه غوښتل او يوڅه د اصالت خان د زوی خاطر هم و، په همدې اساس دجنګ ميدان يو څه سوړ شو.

باید ووایو چې کله خان د یوسفزو سیمې ته د تللو اراده وکړه. نو دمغلي حکومت له خوا ده ته دنقدو روپو ورانديزونه وشول، تحفې ورته ورانديې شوې، خو ده هیڅ ونه منل.

امّا دخپل یو پخواني مره دوست اصالت د زوی ملتفت خان د نېکنامۍ لپاره يې د يوسفزو له سيمې څخه د وتلو اراده وکړه. له دې څخه ښکاري چې له خان سره څو مره د احسان او خپلو محسنانو خيال و.

خان د یوسفزو له سیمې نه دختکو دسيمې ډنګ نګ ته راغی. (خوشحال خان ختك ، ۱۸۵مخ)

پدې توګه خوشحال خان له یوه اوږده سفره وروسته د خپلې قبیلې سیمې ته راستون شو. تیرا او سوات ته د خپلو سفرونو نتیجه يې په يوه رباعي کې ډېره ښه موږ ته انځور کړې ده

| | |
|---|---|
| تېرا مې وليده راغلم تر سواته | پښتون مې وليده دلوى لوى ذاته |
| عقل همت مې د چا ونه لیده | په بيار ته راغلم ناست يم ملاماته |

## د اورنګزیب بېرته تګ:

اورنګزیب د ۱۰۸۶ هـ ق کال دشوال پر پنځلسمه د ۱۶۷۵ م کال د دسمبر اخر. له حسن ابدال نه وخوځېد او د ۱۰۸۷ هـ ق کال د محرم پر ۲۲ مه پایتخت ته ورسېد. مورخين ليکي، چې اورنګزېب په خپل دغه مهم کې د افغانانو خلاف کوم څرګند برى تر لاسه نه کړ. زموږ شاعر هم په سواتنامه کې ويلي دي چې اورنګزيب ناکام او خاورې پر سر لاړ.

د اورنګزیب تر تګ وروسته ، د لنګر کوټ فوجدار ملتفت خان باچا ته وليکل چې د یوسفزو له سیمې نه دخوشحال خان په ایستلو کې بریالی شوی يم. باچا دانبه ونه ګڼل ، ځکه باچا غوښتل چې خوشحال خان له خپلې قبیلې نه لیرې وي، نو يې ځکه ملتفت خان ته په ځواب کې وليکل چې ته خوشحال خان ته وليکه چې بېرته د يوسفزو سيمې ته راشي. د باچا د همدې

خواب پر اساس ملتفت خان خوشحال خان ته د يوسفزو سيمې ته د بېرته تګ بلنه ورکړه . خوشحال خان دا دعوت ونه مانه.

## د ګنبت جنګ:

شېر محمد بنګښ د مغلي حکومت حامي او وفادار و. دده په وجه د بنګښو قبيله هم دمغلو وفاداره وه. خوشحال خان غوښتل چې د بنګښو په سيمه کې د حکومت وقار او اقتدار دلړولو او د بنګښ د حکومت له حمايت نه دلړولو او د حاميانو دقوت د لړولو لپاره پر دې سيمه بريدونه وشي. کله چې خان لَه سوات نه بېرته راوګرځېد لږه موده وروسته يې له شېر محمد خان بنګښ سره د جنګ په خاطر لښکر تيار کړ. لـه کنډيالـي نـه تـېر شـو او د کوهاټ سيمې ته ننوت . څنګه چې له شېر محمد خان بنګښ سره هم څه ختک ملګري وو، نو ځکه ددغو ختکو پر اعتماد، دی د ختکو سيمې ته وړاندې ولاړ. او په ګنبت کې - چې د تېري په سيمه کې واقع دی - د هبواد پالو او د حکومت د طرفدارانو تر منځ جګړه وشوه.

پدې جګړه کې خوشحال خان او زوی يې عبدالقادر خان زخميان شول، د ختکو يوسلو څلويښت تنه پدې جنګ کې ومړل. د خوشحال خان بـل زوی عـابد خان هم پدې جنګ کې شامل و. ده په ميدان کې د خپـل پـلار غـچ واخيست د بنګښو سردار شېر محمد خان يې لـه اسـه راګوزار او تيې کر. دا جنګ د ۱۰۸۶ هـ ق کال د ذيحجې پر ۹ مه واقع شوې ده پدې جنګ کې ختيان مات شول تر دې جنګ وروسته خوشحال خان خوښۍ نه ولاړ. دګنبت دجنګ بيان خان په يوه اوږده قطعه کې کړی دی، چې څو بيتـه يې دلتـه را اخلم:

چې په توره يې شېرخان پر پوست له اسـه
پـه ميـدان د عـابد خـان پـهلواني وه

چې سردار د بنګښ پرېوت خټک مات شه
په داهسې رنګې چارې حيراني وه

عابد خان چې په مردي راغی له جنګه
وخپل پلار وته يې ښه ارمغاني وه

پروکلي پروکې يې د بوشالونه لاړل
په سرو وينو يې چهره ارغواني وه

لاس په لاس يې انتقام د بابلواخيست
په دا کار باندې سزا ثنا خواني وه

چې يې جنګ په ميدان کړ يوځو سواره وو
نور د وار و بخره تېښت تن اساني وه

د خټکو په سورو باندې لعنت شه
په يوه جلويې تېښته ځانځاني وه

چې اول ماتې يې ګډه په سورو کړه
په سورو کې چار د جت د عثماني وه

ښه ځوانان چې د ګنبت په ميدان ومړل
دهر ځوان په زړه کې ننګه افغاني وه

همګي خوانان زما دزړه ارمان دي
پکښې ښه دعبدل تانده خواني وه

د غلیم سره په اس غاړه غړی شو
د عبدل د مړنتوب بخره کاني وه

ما داهسې جنګ هر ګز لیدلی نه و
څومې عمر، څو ختک څومې خاني وه

( ديوان ۲/ ۳۵۱مخ)

## شهزاده معظم ته دافغانانو مهم سپارل:

د ۱۰۸۷ هـ ق کال د شعبان پر ۱۷ مه \ د ۱۶۷۶ م کال د اکتوبر ۲۵مه اورنګزېب شهزاده معظم ته د شاه عالم بهادر لقب ورکړ او د افغانانو مهم يې وروسپاره. له لويو اميرانو ،خزانې توپخانې او جنګي سازو سامان سره يې د کابل په لوري روان کړ.

د ۱۰۸۸ هـ ق کال په محرم \ د ۱۶۷۷ م کال مارچ کې د شاعالم بهادر په سپارښتنه امير خان د اعظم خان کوکه (فدايي خان ) پر ځای دکابل صوبه دار مقرر شو. اورنګزېب امير خان هم له شهزاده سره له هندوستانه رخصت کړ.

کله چې اټک ته ورسېد . نو يې خوشحال خان ته ددوستۍ په خاطر ليک واستاوه او هغه يې وغوښت . د مخني فصل کې مو ولوستل چې دغه امير خان د محمد امين خان په ملګرتيا له بنده د خوشحال خان په خلاصون کې ډېرې منډې کړې وې، او له دې سر بېره دا امير خان د خوشحال خان د مربي او محسن اصالت خان وراره و.

د خوشحال خان مخې ته د امير خان خپل احسانونه او بيا دده د تره اصالت خان او پلار خليل الله خان دوستي او احسانونه پراته وو. نو يې په جواب کې ورته ليکلي وو، ((ما په ګوښه کې پرېږدئ، که پخوامې بد کړه د تاسې سره يې نه کړم)).

خو له دې ټولو سره سره کله چې خوشحال خان ته د اميرخان خط ورسېده، نو ناچاره پېښور ته ورغی او د شاه علم بهادر ملازمت يې اختيار کړ. امير خان له شهزاده نه د مخه خيبر ته کوچېدلی و. تر دې وروسته چې شهزاده وکوچېد نو خوشحال خان هم له ده سره و. امير خان په غريب خانه کې د شهزاده هر کلی وکړ. کله چې امير خان، خوشحال خان وليد، نو د ډېرې خوښۍ اظهار يې وکړ او دغېږې ستړي مه شي يې ورسره وکړه. دوه زره روپۍ يې د خرڅ لپاره ورته ورکړې. کله چې اورنګزيب ته ښکاره شوه، چې خوشحال خان دشهزاده ملازمت اختيار کړی دی، نو يې امير خان او شهزاده دواړو ته وليکل چې خوشحال خان له لاسه مه ورکوئ، په څه ډول او په کوم منصب چې دی خوشحالېږي هغه راضي کړئ. کله چې دا پيغام امير خان او شهزاده ته ورسېد، نو شهزاده د سيف خان په وسيله خوشحال خان ته احوال ولېږه چې پاچا تا ته تر دوه زري پورې منصب درکول منظور کړی دی. تاسې يې قبول کړئ. خوشحال خان وويل چې د باچا له خوا پر ما ظلم شوی دی، زه د باچا د نوکرۍ خواهش نه لرم، که خدای (ج) ته پادشاه کړې نو په زړه بودۍ کې دې هم نوکري کوم.

امير خان له خوشحال خان نه دا غوښتنه کړې وه، چې تر کابله پورې له ده سره لاړ شي، څو دده په وسيله له نورو افغانانو سره هم سوله وسی. خوشحال خان د کابل تګ ته اماده نه شو او ځواب يې ورکړ چې زما مقصد ستا ليدل وو، هغه وشول، پاتې شوه دسولې خبره له دې سره زما څه کار نشته. خوشحال خان له فتح اباده بېرته رارخصت شو او زوی يې سکندر خان ورسره کابل ته ولاړ.

درخصتېدو په وخت شاه عالم بهادر خوشحال خان ته يو اس ،خلعت او مرصع خنجر ورکړل، يو اس او سرو پا راجا جسونت سنګه ورکړل. دوه زره روپۍ او سرو پا امير خان اويوه سروپا راجا رام سنګه ورکړل.

له دې سولې د مخه شپږ اووه مياشتې پرله پسې باران نه وشوى.دقحط او وچکالۍ له امله د دواړو خواوو تر منځ جنګ نه و شوى. خوشحال خان ددې وچکالۍ او دې سولې په باب يوه قطعه لري چې څو بيتونه يې دلته را اخلم:

شپږ اووه مياشتې پـه هنـد پـه خراسـان
چرتـه ونـه شـه پـه سـم پـه غـره بـاران

د اوبــو د ونو دېر كمــــامت وشــــو
ځاى په ځاى شول دغلې نرخونـه ګران

چې باران په جـهان وشـو پس لـه ياسـه
فتـح البـاب و پـــه تحويـل د ســرطان

داسد تـر نـه ويشـتمه ورځ پـه ورځ شـي
په باران سـره نـهال شـو درسـت جـهان

په داكال چې شاه عالم راغى لـه هنـده
صلـــح وشــوه د مغـــل و د افغـــان

دا سر كال چې يې تاريخ رحمت تم دي
پــه وګړي مبـــارک دى پــه هـــر شــان

(ديوان ، ۲ / ۳۳۷-۳۳۸ مخونه)

د وچکالي ، څو کاله پرله پسې جنګونو، دوارو لوریو ته داوښتو زیانونو دپیښتو او وسیلو له لارې په سمیه کې د وطن دوستانو مخې ته د مشکلاتو ایجادولو او همدارنګه د ډېرو افغانانو بې حسي او ورسره د خان د خپلې قبیلې او زامنو بې اتفاقي او د مغلو نوکري، خوشحال خان انعطاف ته مجبور کړ. ده په خپله یوه غزله کې چې یې له چوترې شهزاده ته تر ورتللو وروسته لیکلې ده. د خپل زړه خبرې داسې کړې دي:

د بـې ننـګو پښتنـو لـه غمـه مـا
لویـې پـرېښوه، ونیولـه کمـه مـا

دا هم ښه که په داکار کې هومره کار وي
چې کـه واخیسـت انتقـام لـه کرمـه مـا

چې د ننګ ګوهر مې مات شو د واړه سترګې
پـه ژړانـه کـړې یـو دم بـې نمـه مـا

هغـه درمـې پـه لاس نـه راغـی، ښېړیـه
ایسـتاده کـړه پـه سـاحل لـه یمـه مـا

هغه ملا مې چې په هود سره لوی غر وه
پـه ناکـام کـړه ومغـل تـه خمـه مـا

هم دبخـت و ماتـه شاشـوه هـم دخلکـو
پـه مغـول کـړ خکـه مـخ لـه همـه مـا

که مې لاس وای په رضا مې به کېښول
دمغـــول پــــه لــــوري دود قدمــــه مـــا

دهغــــو د خولــــې کــــړې خــــبرې اورم
چـې خـبره ورتـه نـه کـړه سـمه مـا

دم د خپلــو دپردیــو رامعلـــوم شـــو
کـه هـر څو ساته خپل ځان لـه دمـه مـا

پــه هغــو لویــو خــبرو شرمســار یم
چـې هـر چـا و تـه ایسـتې لـه فمـه مـا

ســل غندنــې ، پېغورونـــه راڅوڅارشـــول
چـې بــه ځان سـاته همـېش لـه ذمـه مـا

دا الم مــې هیــڅ الم ســره سـم نـه دی
کــــه لیــدلی دی هــزار المـــه مـــا

مــګر بخــت راســره بیــا مــدد اغــاز کــا
چـې فـارغ کـا دانـــدوه لـــه ســمه مــا

هــاتي څکـه پـه سـرلوني تـورې خـاورې
چـې خـبر کـړ د خوشـحال لـه غمـه مـا

(خوشحال ختك کلیات. ۱/ ۱۹-۲۰۹ مخونه)

ددې لوړې غزلې لوست سړی پدې باوري کوي، چې حالات او شرایط څنګه یو عظیم انسان دې ته اړ باسي چې ملي رسالت پرېږدي او د خان په اصطلاح (کمه) ونیسي. د غزل له لوسته سړی د لوی خان رواني حالت او هغه درد ښه احساسولی شي چې د غره هسې ملا بیا خپل خصم ته ټیټوي، او چې داوعده یې هم کړې وي:

ومغل ته به خبرې په وربوز کړم
سرمې پرېوزه که به سر ورته بیا کوز کړم
چې پښتون شوم په دا هسې سپینه ږیره
نور مې خدای (ج) مه کړه مغل وایم په خیره
ومغل و ته به نن کړم اټک پوله
ملک به خلاص کړم دمغل له غلا غوله

دا لوړ بیتونه په سواتسنامه کې راغلي دي، ۶۹،۷۷ او ۹۰ مه نومره بیتونه.

## د امیر خان صوبه داري او افغانان:

شاه عالم بهادر د ۱۰۸۸ هـ ق کال د جمادی الاخر د ۱۶۷۷ م کال د اګست ۲۵مه کابل ته ورسېد. په کابل کې ترڅو میاشتې اوسېدو وروسته د ۱۰۸۸ هـ ق کال د ذی حجې پر ۶مه (۱۶۷۸ م کال دجنوري د برشمه ببرته دهلي ته ستون شو. او امیرخان د۱۰۸۹هـ ق کال دربیع الاخر په ۲۷مه ۱۶۷۸م کال دجون ۱۸ مه خپل ځای ته راغی او د صوبه دارۍ کارونه یې تر لاسه کړل.

په همدې وختونو کې اغر خان په لغمان کې یوه کلا جوړه کړه، افغانان چې د کلا له تعمیره خبر شول نو یې پر اغر خان دحملې فیصله وکړه. په اغر نامه کې ددې کلا او د افغانانو دعکس العمل خبرې داسې راغلې دي:

حصاري دران عرصه بنیاد کرد  به اندک توجه قلعه اباد کرد
چو ان قلعه گردید انجام تمام  شدش زان سبب اغر اباد نام

* * *

افاغين زهر سوبر انګيخت سر — همه بسته برخون اغر کمر
زحد اټک تاحد قندهار — بد بد امد لشکر بي شمار
همه جمع ګشتند بهر مصاف — تو لشکرمګو بلکه يک کوه قاف
مسلح همه ګشته از بهر کين — رسيد ند بر حد لمغان زمين

کله چې امير خان پر اغرخان باندې د افغانانو د حملې له نيته خبر شو، نويې توپ خانه او زر سواره د اغرخان مرستې ته ورولېږل. اغرخان هم خپل پوځونه تنظيم کړل. له بلې خوا ايمل خان هم خپل پوځونه مرتب کړل او په زور او شور جنګ ته اماده شو.

د مقابلې په دوران کې هېواد پالو پاچاهي پوځ ته زيات زياتونه واړول، خو وروسته حکومتي پوځ غلبه وکړه او د خافي خان په قول، چې د خيبر او لغمان د افغانانو له ماتې وروسته ايمل خان پر خپل ځای تينګ ولاړ و. اغر خان د ښمنان (افغانان) وژل. نږدې و، چې ايمل خان هم ووژني. خو ځينو افغانانو دی دجنګ له ميدانه ويوست. افغانان په درو اوغرونو کې پټ شول. اغرخان ددې فتحې عرضد اشت له ډيرو قيديانو او اووه لس سوه سرونو سره پاچاته واستول. او د باچا د عنايت وړ وګرځېد.

ددې پېښې بيان او پر افغانانو د مغلو د بري کوم حالونه چې خافي خان ليکلي دي استاد کامل هغه مبالغه امېز بللي اوداېې ويلي دي، چې پدې بيان کې حقيقت فوت شوی دی. استادکامل پر مخ ليکي چې جادو ناتهه سرکار د امير خان د صوبه دارۍ په وخت کې د پاچاهي پوځونو اوافغانانو د جنګونو تفصيل نه دی ليکلی او صرف دومره يې ليکلي دي، چې کله د جلال اباد ضلع کې د ايمل خان پر ځواکونو د امير خان لومړنی حمله ناکامه شوه، بيا نو امير خان د افغانانو خلاف له سياسي حربې نه کار واخيست. که څېرې موږ د خافي خان لوړ بيان ومنو هم، نو له دې خبرې انکار نشو کولای چې خافي خان دمغلو برې ډېر غټ کړی دی. بايد وويل شي چې مغلو پر افغانانو

برې د جنګ په میدان کې نه بلکې د سیاست په میدان کې حاصل کړي (خوشحال خان خټک ۱۹۵-۱۹۸ مخونه).

## د دوډې جنګ:

د ګنبت په جنګ کې د خټکو له ماتې وروسته . خټکو څو ځله پر بنګښنو حملې وکړې، خو پوره غچ یې نه و اخیستی. په ۱۰۹۱ هـ ق کال خوشحال خان د شپږ اووه زره خټکو لښکر تیار کړ او د بنګښنو پر علاقه یې برید وکړ. په دې جنګ کې دیوې ډلې قومانده دخان د لمسي افضل خان په لاس کې وه. افضل خان په بنیادي پور کې و او له هغه ځایه یې د بنګښنو په سیمه کې پیش قدمي وکړه. د بنګښن پرڅو کلیو یې تالان ګډ کړ ډېر افراد یې مړه او اسیر شول. څه چې بچ شول، د دوډې په کلا کې یې پناه واخیسته . خټکو له دوو لوریو پر کلا برید وکړ. محاصره شوي بنګښن په تنګ شول او پناه یې وغوښته . خټک سواره او پلي کلا ته نږدې ورغلل او د کلا پر خلکمو یې ګولۍ وچلولې، په زور کلا ته داخل شول. (۱۶۰) تنه پکې ووژل شول، څوک چې پاتې شول، امان ورکړ شو. اسیران یې ازاد کړل او ډېر غنیمت مالونه یې تر لاسه کړل. په دې جنګ کې د خان دوو زامنو عابد خان او صدر خان هم برخه درلوده.

خوشحال خان ددې جنګ په اړه یوه اوږده قصیده لیکلې ده چې ۷۶ بیتونه لري، او څو بیته یې زه دلې را اخلم:

خو وانخلي له غلیمه انتقام
مرد نه خوب کا نه خوراک کا نه ارام

چې د ننګ او د ناموس اندوه یې نه وي
د هغه سړي به نه وي احترام

که همت اوحميت غيرت پکې وي
تر ښښتنه نه بهتر ګنه غلام

په ورو ورو پرې قدم ږدي ورباندې خېژي
په يوه ځله څوک نه خيژي په بام

په طلب کې که سستي نه وي باورکړه
د ژوندون اوبه به بيا مومې په کام

واړه ورځې سره نه دي برابرې
کله درد کله دارو کله ايام

د مردي د نامردي تر منځ ميل نه دی
تفاوت يې په زړه دی يا په ګام

چې د بل تر لاسه ورغی د بل شو
مردبه خپل لري د خپل فکر زمام

* * *

د ګنبت غصه مې ووته له دله
خدای(ج) چې راکړ په دوړه د فتحې کام

چې په مخ يې فتح دورمي عابد خان دی
په هر ځای د خپل بابا کا تازه نام

* * *

د قصيدې په پای کې يې ويلي دي:

ددې جنګ نارې به دروميي په ملکونه
پرې خوښېږي به همه پښتون په نام

چې ددې سوبې او از وشي په هند کې
بيا به زغ شي دبادشاه په خاص و عام

چې په نام پښتون غوځېږي پرې خوښېږي
اورنګزېب هسې بادشاه دی د اسلام

د اسد تحويل زر يو نوي رجب و
په دريم د جنګ اغاز شو دا کلام

په کاغذ کښلي خبرې پاتو کېږي
د ابيان په بياض ځکه شو ارقام

په غليم باندې دې هسې فتح تل وه
لکه دا فتح چې وشوه والسلام

(خوشحال خان کليات ۲/ ۷۰ –۷۶ مخونه)

## د خوشحال خان او اشرف خان خوابدی:

د ډوډې له جګړې د مخه د خان او مشر زوی اشرف خان تر منځ ځينې غلط فهمی او خوابدی پيدا شوې وې. ددې خوابديو علت دا و ، چې خان له خپلو ځو زامنو سره تری اوبولاقو ته راغلی و او ديوټ په مقام کې ديره شوی و، پدې کار کې له اشرف خان سره مشوره نه وه کړې. د ډوډې له جنګ نه

وروسته د پلار او زوی تر منځ خوابدی نورې هم زياتې شوې او حتی د پوځي کار واييوتر حده ورسېدې. خو اشرف خان خپله د پلار مقابلې ته رانغی. خوشحال خان په لاچی کې د اشرف خان سرې محصور کړل. اشرف خان خپل زوی افضل خان ته ويلي وو، چې لښکرې تيار کا او محاصره شوي دې راخوشې کا او يا دې له نيکه سره مصالحه وکړي.

محاصره شويو د امان غوښتنه وکړه ، خوشحال خان د لاچی پر کلا تالان ګډ کړ. داشرف خان سړيو هم پر کليو چپاوونه وکړل او په لاچی کې د تانې په جوړولو کې بريالي شول. د ترې او بولاق خلکو هم دې خواته رجوع وکړه.

بيا دغو خلکو خپلو کې سلا او مشوره وکړه او يوې کې خوشحال خان ته جرګه ورغلل. تاسو خپل منځ کې زوی او پلار ياست ، خوستاسې له بې اتفاقی نه موږ برباد يوو. تاسې په نظام پور کې چې څه غوارئ په خپلو کې يې سره وکړئ ، خو موږ مه پايمالوئ. د خلکو په غوښتنه خوشحال خان بېرته نظام پورته ورغی.

د افضل خان له ليکنو سره سم اشرف خان د خپل پلار دلجويي وکړه ( خوشحال خان ختک ۱۰۲ مخ ). خان دا وخت په نظام پور کې خپل حال په يوه رباعي کې داسې ښودلی دی:

مغل بې قدره پښتون بې ننګه
توبه له تورې توبه له جنګه
تسبيح په لاس کې په نظام پورکې
ناست په مسجد کې جمدر تر څنګه

(ديوان ۲/ ۷۲ مخ )

تر دې پېښو لږ وروسته له فوجدار ترين خان سره د بنګښو مخالفتونه پيل شو. امير خان صوبه دار اشرف خان ته امر وکړ چې د ترين خان مرسته وکړي. اشرف خان د ترين خان مرستې ته روان و، چې شګی ته ورسيد. او غوښتل يې له پلاره سره ووينې، مګر هغه ونه مانه. دا خبرې د افضل خان د تاريخ

مرصع په ۳۵۰ مخ کې دا ور راغلي دي: ((خان جنت مکان (اشرف خان) چې په شګۍ ورغی چې له نظام پوره دوه کروه فاصله لري. زه افضل خان يې وخان عليين مکان واستولم چې کـه حکـم وشـي چـې زه د خـان عليـين مکـان پـه ملازمت ورشم، خان عليين مکان په سبب د ازرده ګۍ ليدل د خان جنت نښان قبول نه کړ. ويي فرمايل : هر ګاه چې له دې مهمه راوجار وزي . بيـا دې هالـه ما ووينې.

خان جنت مکان هم په فرموده د خان عليين مکان په کناره تېر شه ښادي پورته ، زه بيا ورغلم د خان عليين مکان ليدوته. د شال څېره يې راوغوښته ازروی مهرباني يې په خپـل لاس دستار زمـا پـه سروتړله او راتـه يـې وفرمـايل چې پلار دې يعنی خان جنت مکان ته ما سرداري نه ده ورکړې په خپل اختيار سردار شوی دی.تاته سرداري ما درکړه . تسليمات مې په ځای راوړل . چې له خان عليين مکان رخصت شوم، ووتم د ستار مې لـه سره کوز کړ په بغل کې مې کښېښوه د نيلاب په غاښې چې په خان جنت مکان پسې ورسېدلم ، دی د غاښي په سر ناست و، تماشا يې د ملك کړه، چې زه يې وليدلم تبسم يـې وفرمايه چې خان دې وليد؟ د ستار مي له بغله وکښه. هـر چې خـان عليـين مکان فرمايلي وو په عرض مې ورسول خوشحال شه . ويې فرمايل چې دا د- ستار تبرك دی، کښې يې ږدئ. نور خان جنت مکان له ډېر لښکر سره پـه ګنبت ورغی...)) (دزنځيرونو شاعر، ۳۲، ۳۳ مخونه).

تاسې لوړ د افضل خان په بيـان کې و لوستل ، چې خوشحال خـان خپـل لمسي افضل خان ته ويلي و چې ستا پلار تـه مـا سرداري نده ورکړې. استاد کامل په دې ارتباط د (خوشحال خان ختك) پـه ۲۰۱ مـخ پـه حاشيـه کـې ليکلي دي: ((خوشحال د اشرف خان پر سرداری راضي و)).

خان نظام پورته تر راتګ وروسته يوه اوږده (۱۵۷) بيتيزه قصيده ويلې ده. پدې قصيده کې يې د خپل ځان کورنۍ د حالونو د بيان تر څنګه له خپلو مشرانو زامنو په تېره اشرف خان نه ډېر سرټکولی دی او سړی پوهېږي چې خان خپل کور کې څه ډول مشکلاتو سره مخامخ و.

ددې قصيدې مطلع ده:

راشه واوره دا داستان | نېک وبد پکې بيان
ځينې برخې يې دلته راوړل کېږي:

چې په عمر شوم اتلس | د شباب په عنفوان
راکړه راغله جينی | پلار نيکه يې بدذاتان
بل هنر کسب يې نه و | سفيهان و پاده وان

* * *

مشران زويه مې واړه | خدای (ج) ددې نه کړل عيان
ددې هسې مور پنځه دي | چې دا شان لري سګان
زړه مې خوږ په يوه نه شو | خوږ دزړه دي خوږ د ځان
واړه يوتربل اخته دي | په خپل کور کې جنګ جويان
نه يې ننګ شته نه يې شرم | څه نابود دي داسګان
زه غليم داورنګزېب يم | تل په غره په بيابان
زه په ننګ دپښتانه يم | دوی نيولي مغولان
لکه سپي هسې جاروزي | د مغول په اش و نان
دمنصب په اضافو دي | تل په ماپسې روان

* * *

چې يې پلار سره غليم وي | هم هغه يې زړه اوځان
چې په واړو کې ارشد دی | نن يادېږي اشرف خان
په ژوندون مې خپل ځای ورکړ | باندې زه شوم مهربان
زر يې تول کړه په لکونو | طبيلې يې عراقيان
لوی زما په نوم په توره | خواروي مې فرزندان

* * *

دی نامرد له نامردی،
تل لــه ورونو نــه ترســان
ښه لایق زویه مې نور دي
ولې خــدای(ج) کــړل کشران
زین د زرو په خره پروت دی
پـه ښه اس بـــاندې پـــالان
تربیت زما په ده و
پـــه ښوره بـــاندې بـــاران

* * *

زه په لویو اندېښنو کې
دی پـه کـور کې دی غــران
په دا دوه کاره خو ښېږي
دا احمــق ســفله نـــادان
چې زما سره څوک نه وي
بل چې سوږ مې وي دېګدان
زما زویه له ما نیسي
اقربـــا بـــــرا دران
و مغلو ته مجرا کا
چې خپل پلار مې کـړ داشـان

* * *

د مغل په زورېې لاندې
زما ملـک کـړ درسـت تـرخان
نه یې مال و ماته پرېښه
نـــه نوکرنـــه غلامـــان
رسوایي شوه تر منځ پېښه
نــه څه ورک نــه یې څه زیـان
چې اساس د تورې کښېږدم
دا نـــامرد یــې کـــا غلطـــان
که کښېنم نام و ناموس ځي
کـــه پـــاځم پـــاخي توفـــان
په دې کش مکش کې تېر شو
پـــه مـــا عمـــر رایـــګان
ښتنو وکړې ګټې
زمـا کـور دی هســې وران

(خوشحال ختك کلیات ۲/ ۹۷-۱۰۹ مخونه)

دا قصیده په یوه خاصه زماني مقطع کې د خان د ژوند یو څنګ روښانوي. هولو هغو دسیسو ته اشارې لري، چې د مغلي حکومت چارواکو ده ته کولې، د هغو اورونو شغلې پکې سرې ويني چې ده ته په خپل کور کې بل شوي وو.

ددغو حالاتو تر څنګه دده هوډ هم سړي ته ښکاري، چې لا پرخپل ځای دی او
خان د مغلي باچا دښمن بولي.
الفنستن ددې قصيدې څه برخه په خپل کتاب (د کابل سلطنت بيان)
کې اخيستې ده. پر دې قصيده د تبصرې په ترڅ کې ليکي: «دی (خوشحال)
پدې قصيده کې د يو وا لاس Wallace شاعر په توګه په ډېر زړه ور توب او د
هېواد پالنې په روحيه خپلې مجاهدې بيانوي». (افغانان ۱۹۳ مخ).
ددې لوړې قصيدې په باب يوه بله يادونه دا ده، چې د خوشحال خان
دکليات په زياترو چاپونو کې ددې قصيدې هغه مسرۍ چې تاريخ لري داور
ده : «کال زريونوي هجرت دی» (کليات ۵۸۳ مخ ، ګام په ګام له خوشحال
سره ، ۲۸ مخ).
په مرغلرې کې داسې راغلې ده (کال يوزز نوي هجرت دی») خود
خوشحال خان خټک کليات (د کابل چاپ) په ۱۰۰ مخ کې دا مسرۍ په دې
ډول ثبت ده (کال زر دوه نوي هجرت دی») داسمون يې د ۱۰۹۹ هـ ق ليك
قلمي نسخې له مخې کړی دی. خو د خوشحال خان د ژوند پېښو له تسلسل
او د ډوډې له جنګ وروسته نظام پورته راتګ او له اشرف خان سره خوابدي
ګرده ښيي چې قصيده به د ۱۰۹۱ هـ ق کال په رمضان کې ويل شوې وي. که
څه هم د قصيدې په لومړيو برخو کې خان له خپلو ټولو مشرانو زامنو- دتوتيا
له نسه -سرټکولی، خو ډېره برخه يې اشرف خان ته متوجه ده او د مخه مو د
خان او اشرف خان د خوابديو يو بيان هم ولوست. بهرام هم په خپل وارخان
ته مشکلات پېښ کړي وو. داوخت حال دا وړ و: هغه مهال چې د خوشحال
خان او مغلو سوله وشوه ، په هغوشپو کې بهرام د پلار مطيع و.
کله چې خوشحال خان د يوسفزو په سيمه کې دلښکرو په ټولولو بوخت
و، بهرام په جلبۍ کې و او د اشرف خان سړيو پرې له سرای نه بريد وکړ. بهرام
وتښتېد او پلار ته ورغی ښو ته يې ولوېد. خوشحال خان يې خطا وې و-
بخښلې ،کله چې خان د يوسفزو له سيمې بېرته راوګرځېد ، نو بهرام يې له
ځانه سره راووست . اشرف خان ته يې دده سپارښتنه وکړه ،دمشر ورور ښې

يې هم ونيولې، اشرف خان هم وباخښنه. کله چې امير خان د کابل صوبه دار شو، نو يې صوبه دار ته د بهرام د منصب سپارښتنه وکړه او منصب يې بيا مونږ. بهرام په څرګنده د پلار او مشر ورور منونکی و. خو په پته يې ريښې ځغلولې چې د اشرف خان منصب او جاګير ده ته تکيه وکړي.

استاد کامل ليکي چې په ۱۰۹۰-۱۰۹۱ هـ ق کلونو کې موږ بهرام د خپل پلار (خوشحال خان) پر ضد په جګړه اخته مومو.

(خوشحال خان ختګ ص ۲۰۲)

د پښتنو او افغانانو د تاريخ او ادبياتو په څېړنو کې تل بهرام د يوې تورې څېرې په توګه ياد شوی دی. پدې کې شک نشته چې خان ترې سرټکونې لرلې دي، چې دا سرټکونې له نورو هم دي او له اشرف خان تر نورو زياتې. مګر دده په باب زياتره نظريې د تاريخ مرصع د کښنو مطابق قايمې شوې دي. ځينې مؤرخين لکه پروفيسور پرېشان ختګ پدې باب ځينې خبرې لري چې د اورېدو او پاملرنې وړ دي. پروفيسور ختګ ليکلي دي: افضل خان همېشه د بهرام له نامه سره بد فرجام ليکي. هغه مؤرخ چې د نامه له ليک سره چاته ښکنځل کوي، نو له هغه سره به انصاف څنګه وکړي؟ افضل خان چې د بهرام څېره څه ډول انځور کړې ده له بده مرغه وروستيو مورخينو هم پر افضل خان اعتماد کړی او دايې هغسې ښودلی دی او له بهرام سره يې انصاف نه دی کړی.

موږ ته ښايي چې د کورني رقابت د دوران ټول حالونه او پېښې په پام کې وساتو او بيا رايه ټينګه کړو. (پښتون کون؟ ۴۵۳ مخ).

## د اشرف خان نيول کېدل:

اميرخان صوبه دار په دوو درېو مسالو کې له اشرف خان نه خوابدی شو، يو دا چې د اشرف خان خېښ ازاد ګکياڼي له امير خان نه سرکشي وکړه او بله دا چې امير خان له اشرف نه غوښتلي وو، چې له ده سره کابل ته ولاړ شي ورسره نه ولاړ. په همدې اساس يې له باچا نه دده د نيولو اجازت واخيست او

دي یې ونیو. د نیولو جریان یې په تاریخ مرصع په ۴۹۱-۴۹۵ مخونو کې راغلی دی. یوه برخه یې دلته رااخلم: (( د خان جنت مکان شکوه شکایت د پر ور وکوېښی، باچا اختیار ورکړ چې ته صوبه دار یې ، هر چې پوهېږې هغه کړه. د خان جنت نښان حکم یې د قید راجه رام سنګه ته چې په جمرود و واستوه ، هغه زمیندار وقبول یې نه کړ، چې دا کار د ما نه دی. بیا یې سید بهولا چې د شهامت خان زوی و، په پېښاور کې هغه ته یې وکښل چې په هر فن و فرېب خان جنت نښان قید کا. راجه رام سنګه خان جنت مکان په د پر خواهش جمرود ته وباله . دده په زړه کې هیڅ نه وو، دپادشاه په دولتخواهي مغرور ورغی. په سن زر دوه نوي اخر ثوریا اول جوزا راجا رام سنګه یوسروپای، یواس اویوه غاړې دهدهکی ورکړه. نورېې رخصت کړ ورته ا- شارت وکړ چې په پښا ورمه ګه بېرون درومه ، اخراز راه دولتخواهي ورغی د سید بهولا کره، پخپله ورغی چې اشنادی دی وګورم ، نور به درومم ، هغه له خدای تعالی همداغوښتل ورته یې وویل چې ((ته کښېنه ، زه کور ته لاړ شم چې طعام راستوم . طعام وخوره هاله درومه . دی یې کښېناوه ،نور یې خلق ترې چاپېر کړل، پروانه یې دامیر خان ورښکاره کړه په قید یې کړ)) ( د زنځیرونو شاعر ، ۳۶-۳۷مخونه)

خوشحال خان دا وخت په نظام پور کې و، افضل خان له کورنۍ سره نیکه ته ورغی. خوشحال خان خپل لمسی افضل خان له عابد خان سره سرور میلې ته واستاوه او خوشحال خان هم وریسي سرور میلې ته ورغی. هلته څه جرګې وشوې او خوشحال خان بهرام د جرګې لپاره زیارت کاکا صاحب ته راوباله .خوشحال خان هم دقبیلې له خلکو سره هلته ورغی او افضل خان په سرور میله کې پاتې شو.

په دې جرګه کې خاني بهرام ته وسپارله شوه اوداهم وویل شول چې بهرام دې له خپله رسوخه په استفاده حکومت ته ووایي چې اشرف خان راخوشې کا او منصب دې ورته ورکړي او دا هم وویل شول چې د باچا په حضور کې دې واوسي.

تر جرګې وروسته خوشحال خان سرور ميلې ته ولاړ او بيا له هغه ځايه له افضل خان سره نظام پورته ورغی. تري اوبولاق خوشحال خان. بهرام ته وسپارل. پدې کې خبر را ورسېد چې اشرف خان يې په ګواليار کې قيد کړی دی.

تر دې وروسته افضل خا د خوشحال خان ا وعابد خان په ملتيا د سلو تنو شاو خوا يو لښکر تيار کړ او اټك ته نږدې يې پر پاچاهي لاړ حمله وکړه. تر دې وروسته له بهرام سره ځينې جنګونه وشول. بهرام خان چراټ ته نژدې په لاشوړه کې ماتې وخوړه او وتښتېد.

دا وخت بهرام د غوريه خېلو او يوسفزو يوه جرګه خوشحال خان ته ولېږله او خان ته يې پيغام واستوه ، چې زه دې زوی او افضل خان دې لمسی دی، خوښه ستا ده ،چې سرداري چاته سپارې. خوشحال خان جرګې ته وويل چې خبره د سرداری نه ده، بلکې خبره دا ده چې اشرف خان په کومه ګناه قيد شوی دی.

خوشحال خان جرګې ته ټولې هغه سپارښتنې وريادې کړې، چې د زيارت کا کا صاحب جرګې د اشرف خان په اړه بهرام ته کړې وې، تر دې وروسته جرګه ولاړه شوه.

## د افغاني نهضت خورېدل:

امير خان صوبه دار پر افغانانو د جنګ په ميدان کې قاطع بری تر لاسه نه کړای شو، خو دی ارام کښېنناست ، بلکې له سياسي حربو او نورو نيرنګونو يې کار واخيست او پدې وسيله يې هغه څه تر لاسه کړل چې يې د جنګ په ميدان کې نشوای تر لاسه کولای.

ده د افغاني قبايلو له مشرانو .سره د دوستی جالونه خواره کړل. پيسې يې خورې کړې، موږ وليدل چې زموږ له شاعر او ملي اتل سره په همدې دوران کې څه وشول؟

نواب صمصام الدوله شاهنواز خان په ما ثرالامرا کې ليکلي دي چې امير خان و حشي نژادي په دوستی او اخلاص داسې ښکار کړل، چې اوس يې ځانونه د اطاعت په غمچينه ترلي دي. امير خان د خپلو دوستانو په وسيله په قبايلو کې مخالفتونه او نفاق راوپارول او افغانان يې له حکومت سره د جګړې پر ځای په خپلو کې په جګړه اخته کړل. جالبه لا دا وه چې د منازعې هره خوا به د مشورې او سلا لپاره امير خان ته ورتلل. خو له دغو تولو ناخوالو او دمغلي حکامو له شيطانتونو سره سره ايمل خان وکولای شو، چې افغانان د مغلو خلاف سره يو ځای کړي.

او ورو ورو دده دا جمعيت دومره ستر او ځواکمن شو، چې امير خان نې د صوبې پر پوځونو مقابله مصلحت نه ګڼله.

د امير خان مشاور پښتون عبدالله خان خيشکی و، له هغه سره يې له مشورې وروسته په تدبر دافغانانو تولی داسې سره خور کړ، چې بيا يې يو ځای کول ممکن نه وو.

عبدالله خان خيشکي د قبايلو مشرانو ته خطونه واستول، چې موږ له پخوا منتظر وو، چې د افغانانو خپل سلطنت قايم شي الحمد لله چې دا پخواني اميد مو پوره کېدونکی دی. خو ستاسې باچا (ايمل خان) له طور طريقو موږ خبر نه يو که هغه د باچا هی وړ وي، نو موږ ته هم خبر راکړئ، چې هغه ته ځان ورسوو، موږ دمغلو نوکري له مجبوريته غوره کړې ده.

د قبايلو مشرانو په ځواب کې د ايمل خان توصيفونه وکښل او د مغلي حکومت اميرانو ته يې د راتګ بلنه ورکړه.

عبدالله خان خيشکي بيا ددوی په ځواب کې وليکل،څه چې تاسو ليکلي دي سم دي ، خو حکومت لپاره عدل ، انصاف او مکافات ضروري دي. ددغو خبرو داندازه کولو لپاره تاسې ايمل خان ته ووايا ست ، چې نيولې زمکې ستاسې تر منځ وو ېشي.

قبايلي مشران د عبدالله خان خيشکي د غولونې په دام کې ګير شول او له ايمل خان نه يې وغوښتل ، چې له مغلي حکومت نه ازادې کړې سيمې دې

، ددوی تر منځ وویشي. ایمل خان په لومړي سر کې داخبره نه منله ، خو وروسته دقبایلي مشرانو د اصرار په وجه یې دا کار وکړ.

د ماثر الامراء مولف لیکي چې ایمل خان په دې وېش کې د خپلوانو او خپلي قبیلې زیات رعایت وکړ، نو د قبایلو تر منځ اختلاف پیداشو او ټول ناخوښي خپلو سیمو ته ولاړل.

له دریا خان سره هم داسې څه وشول.مغلو پر تیرا حمله وکړه ، دریا خان د مغلو مقابله وکړه ، پخپله په جګړه کې ټپي شو او حامیان یې خوست ته ولاړل. (خوشحال خان خټک، ۲۰۶ مخ ) پدې ډول مغلي واکمنو هغه افغاني نهضت چې د خوشحال خان ، ایمل خان اودریاخان تر مشرۍ لاندې د تاریخي افغانستان په شرقي برخو کې ان تر کابله پیل شوی و او کلونه کلونه یې اورنګزیب ناارامه کړی و، په دسیسو او توطئو کې خور کړ.

# پنځم څپرکی

## (( ۵ ))

## په کړاوونو کې راګیر خوشحال خان

### ( د ژوند وروستي کلونه او مړینه)

درزي لاګز لري مقراض سوزن لري
یو جمدرګوټی خوشحال خیرن لري
کوچ یې اسان دی مشکل هیڅ نه دی
غم د یارانو درد د وطن لري
(خ.خ.خ)

د خوشحال خان د اثارو له مطالعې دا خبره په وضاحت څرګندېږي ، چې د خان دژوند وروستي کلونه د مصیبتونو او کړاوونو په ملتیا تېر شوي دي. که څه هم دده ټول ژوند دمصیبتونو او کړاوونو داستان دی او د استاد کامل خبره : (( د خوشحال خان د ژوند د استان له پیله تر پایه ، ټول له مصایبو ، تکلیفونو ، ازمېښتونو او ازموینو څخه ډك دی. خو د مصیبتونو

په تیارو کې کله د بریو رڼا یي او د تکلیفونو په تورتمونو کې د کامیابیو رونبنایي هم لیدل کېږي. اما دخوشحال خان د ژوند وروستي کلونه، چې کابو لس کاله کېږي، په کلي ډول د غمونو الامو او ناکامیو زمانه ده)) [67]

هغه منظوم اثار چې خوشحال خان له ۱۰۹۱ هـ ق نه وروسته لیکلي دي . ښکاري چې د مصیبتونو ورته مخه ده او د ژوند له ډېرو کړاوونو سره مخامخ دی. (راشه واوره دا داستان) قصیده پدې برخه کې ډېره لاربنوونه کولای شي.

په ۱۰۹۲ هـ ق کال کې د هجري نیول کېدل - بیان یې په تېر فصل کې تېر شو- دده د رنځونو په زیاتولو کې بې پدله نه و.

خان د خپلې هغې اوږدې قصیدې (زه د شعر په کار هیڅ نه یم خوشحال) په پای کې چې څه ویلي دي، له هغو څخه موږ د ده د پرېشانۍ او کړاوونو اندازه لګولای شو. دا قصیده خان د ۱۰۹۵ هـ ق کال په محرم کې ویلې ده. د قصیدې د پای بیتونه دا دي:

قدردان زما د کار شاه جهان و
د اورنګ بادشاه ښکاره دی خود احوال

چې دده د بادشاهۍ دور وشو
په دوران یې لور په لور دی اختلال

په دوران یې درست جهان سره ګډوډ شو
ته به وایې زما نه شوه د دجال

چې په خپل بابا یې نه ده صرفه کړې
د جفا یې په دانو ورځه اهمال

[67] خوشحال خان ختك ، ۲۰۸ مخ.

چــې د ښو ســړيو قدربــاندې نشـــته
ځکــه زه ورځينـــې ګرځم پــه جبـال

لکــه دی زمــا زوال وتــه نــاظر دی
زه لا نـــه غـــواړم دده هســـې زوال

داهمــه زمــا د تــورې صدقــه ده
پښتانــه چـې پرګنـې خـوري ليورغـال

نن به درسـت دهندوستان دولت ددوی و
پښتانه کـه کـم همـت نـه وای جـهال

يګانـه ځوانـان کـه زر لـه ماســره وای
نــور زمـا بــه وپنجـاب بـاندې يرغـال

کـه هـرڅوپـــې ســازوم رانــه ســاز پرې
پښتانـــه دي د نــړو کـــانيو ديوال

هو مـره قـام هومـره عـالم سرداري هسې
ســرګردان ګرځه پـه تيښتــه د امنـــوال

د دانـا ســردار دتيښتـــې شــرم نشــته
چـې عــلاج ګـا د غليـم د اسـتيصال (٦٨)

(٦٨) د خوشحال خان ختك کليات ٢ / ٦٠-٦١ مخونه

سره له دې چې پدې بیتونو کې له خپلې اواره ګۍ او دخپل قام له کم همتۍ او ناپوهۍ شکوې لري، خو له دې سره سره اراده او عزم یې لوړ دی. په همدې قصیده کې یو ځای بل هم د اورنګ هجولري.که چېرې موږ د خان د وروستي ژوند کړاوونه شمارو، نو هغه هم په لاندې ساحو کې لیدلای شو.

(۱)د قام په حیث د پښتنو بې اتفاقي ، بیا د قبیلو خپل منځي شخړې او نفاقونه ناپوهي او د حکومت د پیسو او منصب په وړاندې سرټیټول او د خپلو مشرانو په وړاندې درېدل، هغه عمده رنځ و، چې خوشحال خان غوندې یو بهادر تنګیالی یې چې د پنجاب د نیولو عزم یې په سر کې پاله او مغول ته یې اټك پوله کوله ، ډېر ځوراوه. د خان د ځوانۍ او مبارزې په دوران کې هم دې قوم دا رنځونه درلودل. خو دده د زړبودۍ په دوران کې په تېره له ۱۰۹۰ هـ ق کال نه وروسته دومره ډېر او هراړخیز شول، چې بالاخره یې نهضت پای ته ورساوه.

(۲)د مبارزې دملګرو، لکه ایمل خان او دریا خان مړینه ، استادکامل لیکلي دي . چې دجمعیت افاغنه له خورېدلو او دحکومت له بري وروسته د ایمل خان او دریا خان حالونه پټ دي او د خوشحال خان له کلامه دومره ښکاري چې د افغانیت د پساله دا دوې مرغلرې او د خوشحال خان وفا دار ملګري ، له دنیا تللي دي، خو د مړینې وخت او نور تفصیل یې نه دی ښکاره .[۶۹]

خوشحال خان په خپلو دوو غزلونو کې د ایمل خان او دریا خان د مړینې یادونه کړې ده.

نه مې زړه په سر دار ییې څه خوشحال دی
نه زما د خیلخانې څه حال احوال دی

---

[۶۹] خوشحال خان ختك ، ۲۰۸- ۲۰۹ مخونه.

د خټک ولس په ننګه نه پوهیږي
کار يې درست د نادیده وو په خصال دی

پښتانه لکه مګس وربانديې ګرځي
ورته ایښی د مغل د حلوا تال دی

نورې واړه تکيې تار په تار خورې شوې
اوس په منځ کې یو کرم د ذولجلال دی

ایمل خان ، دریا خان دواړه خور د بین لاړل
اوس خو پاتو و مغل ته یو خوشحال دی

چې خون په غاړه کیږي له دې کاره څه خوغم دی
یاران زما په ګور کې زه په ګور کې یم ستم دی

چې هومره ښه مخونه په داخاوره کې په ګور دي
چې دوی لره ورد رومم ګور و ماوته ارم دی

پیري راغله زبون شوم، که څه نور څه علالت شو
چې زه کړم هغه نه شي هغه ملک هغه عاله دی

که ښه وایم و چاته هم يې بدنيسي په زړه کې
یا بخت دی د مغلو یا زما څه عقل کم دی

نه بخت دئ د مغلو نه زه هیڅ په عقل کم یم
دا کل واړه پیري ده چې مې کار درهم برهم دی

مغلو ته چې ګورم هغه هسې مغل نشته
د تورو واریې تېر شو او س ورپاتې یو قلم دی

پښتون په زرو نیسي په فریب په تیټالونو
په ما یې اثر نه شي لا په ما د خدای (ج) کرم دی

نه مچ یم نه کارغه یم چې په کړو مړو ګرځم
یا باز یم یا شاهین یم په خپل ښکار مې زړه خرم دی

که ما غوندې نورهم وای په دا کار به ډېر خوشحال وم
چې ماغوندې څوک نشته، ځکه پروت راباندې غم دی
ایمل خان، دریا خان دواړه په ښه رنګ تېر شول په ننګ کې
د دواړو په فراق کې زما تل اه وماتم دی (۷۰)

لوستونکیو ته به ښکاره شوې وي چې پدې دواړو غزلو کې دخپلې مبارزې د قهرمانو ملګریو : ایمل خان او دریا خان د فراق د ویر تر څنګه د هغه دوران حاکمه وضع هم ښیي، د پښتون حال هم څرګندوي او دا ټولې کمبوتې ده ته درد او رنځ زېږوي. خو ورسره دده ثبات لوړ عزم او استقلال هم ترې زبا تېږي، چې لا په زړبودی کې هم مصایبوته لکه غرهسې ټینګ ولاړ دی.

(۷۰) دخوشحال خان ختك کلیات ۱/ ۳۱۵-۳۱۶ : ۳۴۷-۳۴۸ مخونه.

(۳)د کورنۍ بې اتفاقي . لکه چې تاسې د مخه ولوستل دا بې اتفاقي مغلي حکامو د خان په کور کې هغه وخت پيدا کړه، چې خان په ملي مبارزه بوخت و او د مغلو پر ضد يې د پښتنو پر ګنې سره يو کولې او د افغان په ننګ يې ملا تړلې وه.

د مبارزې په دوران کې د اشرف خان او بهرام خان تر منځ پر منصب ، جاګير او سرداری دا کش مکش روان و. د اشرف خان تر نيول کېدو وروسته ، د خان د ژوند په وروستيو کلونو کې د بهرام او افضل خان تر منځ دا لانجه روانه وه او کړاوونه يې ننګيالی او اتل خوشحال خان ته متوجه وو. د خان دا لاندې غزل به تاسې ته هر څه پخپله په ډاګه کړي:

نن زما په خېلخانه کې څو مره غم دی
چې حيران زموږ په کار پورې عالم دی

د اشرف د ملکونديو غم لرنه و
د افضل د اغزکيو لاستم دی

نا خلف زويه اغزي کري خپل پلار ته
د خلف زويه ګلزار له عمره سم دی

نا قابل فرزند دوزخ غوندې پيدا شي
ښه قابل زويه په خونه کې ارم دی

ښه فرزند د پلار په خونه کې څراغ دی
بد فرزند د پلار په خونه کې تورتم دی

په لويـوالي کې يې خـوی د دام و دد شـي
اوس د زويـه خوبـي هومـره وي چې کـم دی

نـا لايـق زويـه نـنک نـام بابـا بدنـام کـا
کـه ولاړ يـې د نيکـه دپـلار علـم دی

د قـابل سـره بـه غـم د نـام و ننـگ وي
نـا قـابل پـه غـم نيـولی د شـکم دی

چې داهسې رنگه سپي ځنې پيـدا شـول
لا په شک يم چې خوشحال کلـه ادم دی [۷۱]

د خان دژوند په وروستيو دوو دريو کلونو کې دخان پرضد د بهرام شرمناکې هڅې ډېرې دردونکې وې.

استاد کامل ليکلي دي: د اشرف خان تر بندي کېدو وروسته، خوشحال خان غوښتل ،چې سرداري د اشرف خان مشر زوی افضل خان ته وسپاري، خو افضل خان ته د تره په وړاندې مقابله گرانه وه، چې لا د حکومت مرسته هم ورسره وه. بلـه دا چې د قبيلې تمايل هم دا و چې بهرام خان سردار شي. په همدې اساس يې افضل خان ته وويل چې له سرداری نه لاس په سر شي. افضل خان د نيکه خبره په اکراه و منله. له دغو پېښو ښکاره څرگند يږي چې دحکومت پيسو دده قبليه تر کومه حده پورې رام کړې وه.

د خوشحال خان دا خيال و چي بهرام ته به د سرداری په رسېدو سره خپل ذليل حرکتونه پرېږدي او قبيله به له خانه جنگی او مرگ ژوبلې وژغورل شي. خو بهرام خپل دغه بری کافي ونه گاڼه ،بلکې د خپل سپين ږيري او واجب الاحترام پلار د ترخه ژوند د لا تريخوالي لپاره يې متې راونغښتې ، په

[۷۱] دخوشحال خان ختك كليات ۱/ ۳۴۷ مخ.

تېره د خان د ژوند په وروستيو دوو کلونو کې دا ناروا وې خورا زياتې شوې.
٧٢

يو ځل يې خپل زوی مکرم خان له زولنو او يوې ډلې وسله والو سره په خان پسې واستاوه، چې دی ونيسي. په دا ورځ له خان سره يې دوه زامن ګوهر خان او نصرت خان هم وو. کله چې دوی مکرم خان وليد، درې واړو ټوپک راواخيستل، دغره لور ته ولاړل، مورچې يې ونيوې. خان عليين مکان پر مکرم او ملګرو رږغ کړ که نران وئ زما مقابلې ته راشئ، خو دوی د خان په وړاندې دکوم اقدام جرأت ونه کړای شو، او مکرم خان بېرته ولاړ. وايي چې بهرام خان له خپله زويه خوابدی شو، او دويم ځل يې له لښکر سره واستاوه، چې خپل نيکه ونيسي.

په دې شپو ورځو کې افضل خان لوړې ته راغلی و. خوشحال خان، ګوهر خان افضل خان ته استولی و، او نصرت خان هم ورسره نه و. خان په يوازې ځان دې ته اړ و، چې مقابله وکړي.

افضل خان خټک په تاريخ مرصع کې راوړي دي چې لښکر و ځوکۍ جوړې کړې او پدې فکر کې وو، چې خان غافل شي او وې نيسي. د لمانځه وخت شو، پر لښکر يې غږ وکړ، چې نا اهلو دومره وخت راکړئ، چې زه اودس او لمونځ وکړم، داځل هم د بهادر خان سړي بريالي نشول چې خان ونيسي. خان يې له منګولو ووت.

بهرام خان دا وخت امير خان صوبه دار ته وليکل چې خوشحال خان دده په محاصره کې دی، د نيولو لپاره سړي راولېږئ–

. چې وی نيسو. خوشحال خان بيالړه موده وروسته توتکي ته ولاړ داسيمه د چراټ جنوب ته دختېکو او اپرېدو د سيمو پر بريد واقع ده. افضل خان له لوړې نه دده ليدلو ته راغی، او زړه يې وروساته.

خوشحال خان له توتکي نه له خپلو زامنو: ګوهر خان صدرخان او نورو سره زېرې ته لاړ، دلته نو د بهرام سړيو له سرای اکوړي بريد پر وکړ.

---

(٧٢) خوشحال خان خټک، ٢١٠ مخ

خوشحال خان پر لاس نه ورغی، خو د خان ځو ملګري چې د بهرام سړيوته په لاس ورغلل هغه يې مړه کړل. خوشحال خان بريالی شو، چې داپرېدو سيمې ته ځان وباسي. داخل يې موسی درې ته نژدې د ډنبرې په غره کې پناه واخيسته. خان په خپلوشعرونو کې د اشرف خان په څېر د بهرام هم ډېره هجو کړې ده.

څه نمونې يې دا دي:

بهرام هغه خنزير دی
چې لايق دی د تفنګ

---

دا هم ځای دی د تعجب دی که يې وينې
چې لښکرې په خوشحال کابهرام خان

---

نه دايوعيب زمانه سل هنره
چې بهرام زماپسرزه يې پدريم

په يوه غزله کې څېره داسې رابښيي:

تا هنر د سرداری نه زده بهرامه
سرداري دې په خپل دور کړه بدنامه

هم تمامې خېلخانې لره بلا شوې
هم خپل ځان لره بلا شوې بد فرجامه

تاطاهردکم عقلی په جرګومرکه
اوس فارغ شوې دطاهرله انتقامه

تـا خپـل ځان لـره د مــرګ‌رخنـه پیـدا کـړه
خپلخانـه دې پـه بدخـــوی کـړه بـې ارامــه

پـه دا هسې بدخویـــی بــې بختــه نــه یــې
چې لانـه یــې د خونـې هــاتې تــر ژامــه

مشر ورور دې پـه زنـدان کـړ تـه خـاني کـړې
داَ خــاني دې شــه پــه ځان پــورې حرامــه

چـې خانـی تـه دې هـوس د زړه پــه زورکـړ
لا ځایــې وه ستـا د زړه انـــدېښنـــه خامــه

نـور دې نـوم زمـا د زویــو پــه شـمارمه شـه
دخوشــحال خـــتک ویـنــاپــه دا تمامــه

(خوشحال خان ختك کلیات، ۱ / ۲۳۷ مخ)

دا فضل خان او بهرام خان د رقابتونو په اړه د پروفیسور پریشان ختك د لاندې بیان په راوړو دا بحث پای ته رسوم (( دهغې زمـانې (دخـان د ژونـد وروستي کلونـه ) د حالاتو پـه اړه چې کـوم تفصیلونـه افضـل خـان پـه تـاریخ مرصع کې لیکلي دي، مرکزي نکته یې یوه ده . خپله بنېګنه او د بهرام بدګنه ... په هغو ورځو کې د افضل خان او بهرام خان تر منځ زرګړی جنګ په زور کې و. دواړو د اکو ښنې کاوه ، چې څنګه د کابل مغلي صوبه دارته دا باور ورکړي ، چې دسر داري او منصب لپاره یو له بل نـه زیات موزون او حقدار دي. خوشحال خان ددواړو پـه منځ کې نښتـی و)) .دپروفیسور پریشـان دا لـوړ تحلیل په خپل ځای سم دی. په تاریخ مرصع کې د افضل خپلو ځینو لیکنو

او د خان د يوې نيمې يادونې پر اساس افضل خان هم لوی خان ته څه کړاوونه ور پېښ کړي وو.

ما نا دا چې د خوشحال خان د سرداری دعوېدارانو ، اشرف خان ، بهرام خان او افضل خان درې واړو په خپل خپل وار خان ته ستونزې او مشکلات ورپېښ کړي وو.

## د کورنۍ د ځينو غړيو مړينې:

د کړاوونو او مصيبت په دې کلونو کې د خان د کورنۍ ځينې غړي هم وفات شول ، چې د غو مړينو يې هم کړاوونه او رنځونه ورزيات کړي وو.

۱/ په ۱۰۹۷ هـ ق کال سيمې ته قحط راغی اوبيا وبا راغله. دې وبا د لوی خان د کورنۍ ځينې غړي هم ور څخه بېل کړل ، لکه:

- درويشت کلن ځوان زوی بختناك يې وفات شو. خان دده پر مړينه ويلي دي:

بختناک په دوه هفتې شي — تر فاني جهانه تېر
ژونديې و درويشت کاله — زلميتوب شو باندې زلېر
د پلار په زړه يې مرګدی — لکه زخم د شمشېر
که ډېر وو تور تمونه — په دا غم شول واړه هېر

(دخوشحال خان کليات ۲/ ۲۸۰)

- د بختناك مور او د بخت ناك يوزوی همدې وبا د مرګ کومې ته وغورځول ، خان ويلي دي:

دغواض دکال وبا — خدای يې مه راولـه بيا
بختناک مې پکې ومړ — مور يې هم بوته قضا .

يو هلک يې و راپاتې | ورپسې شه ژر فنا
---|---

(ګام په ګام له خوشحال سره، ۳۱ مخ)

- د خان يو لمسى سرفراز خان ( دسعادت خان زوى) لېونى سپي وچيچه، هغه هم مړشو. خان يې ياد داسې کړى دى:

سرفراز د سعادت و | بنه نمسى مې و زيبا
---|---
په دا کال له ما قضا کړ | په ارمان ارمان جدا

په ۱۰۹۸ هـ ق کال کې هم پر خان ځينې نور درانه غمونه راغلل خو ده يې سهلوته سينه سپر کړې وه.

- په همدې کال د بهرام خان زوى معظم خان وفات شو. دا لمسى، لکه افضل خان، خوشحال خان ته ګران و، او د اينده خانى لپاره يې خپل اميدونه ورسره تړلي وو. لکه چې ويلي يې وو:

د بي بي اولاد همه ګيدړ ميدړي | په افضل په معظم لګي نظر
---|---

دمعظم مرثيه، خوشحال خان ويلې، چې مطلع يې دا ده:

څه د بدو رغ وچې ماښام رابانديې وشو
تندر او يا توپ و پرې مې تخنې تخنې زړه شه

دا مرثيه د کابل چاپ کليات لومړى ټوك د ۱۸۱ مخ په (و) رديف کې چاپ شوې ده. سمه نه ده. دا غزله بايد د (ه) په پټى کې چاپ شوې واى.

- په دغه کال د خان زوى عابد خان بې لارې شو. تر دې چې د ستر خوشحال خان سره به له ګستاخى هم نه شرميده ده به کله له بهرام سره او کله له افضل خان سره سرخو ځاوه او کله به نظام پور ته راته، دا وخت خوشحال خان په نظام پور کې و. ده مومندي ختك ډېر تنګ کړي وو، د هغوى پر

درمندونو به يې اسونه تېوان خوشې کول او داسې پسې نور.....
مومندي تنګ شول بهرام خان ته يې شکايت وکا. بهرام ورته وويل چې تاسې يې اسونه زخمي کړئ او که هغه خپله راشي ، هغه هم مه پرېږدئ. مومنديو دغسې وکړل اود عابد خان ځينې اسونه يې زخمي کړل. عابد دخپلې کورنۍ ځينې ځوانان پسې ولمسول او د مومنديو پر درمندو نو يې اور ولګاوه. مومندي هم په دوی پسې راووتل. پدې نښته کې د خوشحال خان ځوان زوی طاهر خان ووژل شو. (خوشحال خان ختک ۲۱۲ مخ)

خان د خپل زوی طاهر خان مرثيه ډېره دردناکه ويلې ده او خپل نور دردونه او غمونه يې هم پکې ښه رانښوولي دي:

ډېر مېين په تازه مينه سره تېرشي
په هجران يې خوږ ژوندون زهر و ګند هېر شي

لا پوغم مې تمام نه وي څه نصيب دی
چې ناڅاپه نور غمونه را برسېر شي

زه په وير د معظم په غم کې ډوب وم
خبرنه وم چې طاهر به تېروبېر شي

لګېه ربېره د طاهر نوې په زنې
د هر هر وبنته يې غم رابانديې ډېر شي

خدايه هسې غم بل ماته پيدا مه کړې
چې په ده مې طاهر خان له دله هېر شي

(کليات ۱/۳۸۹)

## د قهرمان مړينه:

په تېر بحث کې مو ولوستل چې خان د بهرام له ازار اوشرارته د اپرېدو دسيمې (ډنبره) نومي ځاى ته ولاړ. دا نورډده دژوند وروستي وختونه وو. نور ډېر ژوندى پاتې نه شو.

د ۱۱۰۰ هـ ق کال د ربيع الثاني پر اته ويشتمه. دجمعې ورځ (د کب اول) د ۱۶۸۹ م کال د فبروري ۲۰ مه د اته اويا کاله پر باره ژوند نه وروسته له سترو ملي ارمانو نو او وچتو ارادو سره دکړاوونو اوبې ارزۍ په يوه تورتم کې له دنيا نه سترګې پټې کړې او سرى فکر کولاى شي ، چې د ژوند په هغو وروستيو شپېو کې به يې خپل دابيت:

((پښتانه چې بې ننګي کا څوك يې څه کا ګورستان لره به درومو له ارمان)) په مغزو کې را ګرځېده.

د ننګيالي ځوان خان مړينه په داسې حالاتو کې واقع شوه ، چې د خپل مرګ په باب کړې پېش ګويي رښتيا راوختله ده ويلي و:

چې جامه يې پاتې نشي مرده شوى ته
خدايه ورکړې وخوشحال هسې رحلت

## د مړينې تاريخي قطعې او مرثيې:

د ستر خوشحال خان خټك دمړينې درې تاريخي قطعې ، اشرف خان هجري ويلي دي. هجري دا وخت په بيجا پور کې بندي و. دا درې سره قطعې په دري ژبه دي او ده په دري ديوان کې خوندي دي. [۷۳] يوه قطعه يې دلې را اخلم:

---

(۷۳) هجري ، اشرف خان : ديوان اشرف خان هجري (فارسي) به کوشش هميش خليل . اداره علم وطن پاکستان ، پشاور ،جدون پريس ۱۹۹۴ ،ص ۱۴۳

رفت ان میرروه شاه ختک — که به خوبي امیر افغان بود

بلکې افغان همه چون تن بوده — اندران اوبه رتبه جان بود

ماه و تاریخ فوت او جستم — خردم زین قبل سخن ران بود

روز ادینه از ربیع دوم — بیست وهشتم اوان اذان بود

سال هجران او اګر خواهي

(( موطن خیر، مجد و احسان )) بود

د خان بل زوی ګوهر خان ختک هم دده د مړینې تاریخ په یوه دري مثنوي توګه کې ویلی دی چې دلې یې راوړل دبخث دتکمیل لپاره لازمي ایسي:

خـــان خانـــان و قـــدوه افغـــان
ان حکیمـــی ســـرخرد منـــدان

چـون بـه هفتادوهشت سـال شـده
چـو الـف بـود همچـو دال شـده

روز ادینـه بـــودچـون زجـهان
رفـت و مـاندیم مـا بـه اه و فغـان

غـرۀ مـاه مـهر بـود ان حـوت
کـه بـه لـب مینـهاد مـهر سـکوت

بیسـت وهشـتم ربیـع اخـر بـود
کـه امیـن جـان پـاک او بربـود

چــون ز تــاريخ فــوت خــان خــبرم
شد زما رفــت زيــن جـهان پــدرم[۷۴]

د خان پر مړينه ښايي ډېرې مرثيې ويل شوې وي، تر اوسه موږ ته دا لاندې مرثيې ښکاره دي:

(۱)اشرف خان هجري چې د پلار پر مړينه کومې رثائيه قصيدې ويلې دي[۷۵] دمرثيه نګارۍ د ادابو د کلماتو د انتخاب او په قصيده کې موجود درد و سوز له اصله د پښتو په ډېرو عالي مرثيو کې حسابېږي او په خپل ادبي قوت کې دشيخ اسعد سوري له رثائيه قصيدې سره اوړه وهي. پدې دوو کې يوه دوه ويشت بيته ده. چې څو بيته يې دلته را اخلم:

دهــنر بحــر چــې تــاليده ســراب شــه
هغــه ښهــر د عظمــت ګوره خــراب شــه
هغــه تــن چــې همــه کــان د مــروت وه
نــن پــه خونــه د لحدمــوتی تــراب شــد

د خټکــو ولــس ســنګ و بــې وقــاره
هغــه ســنګ يــې لــه مجلســه زرنــاب شــه

خــان پــه قصد د ارم کــوچ وکــړ لــه دهــره
پســتنه يــې ولــس ډوب پــه اوبــه اب شــه

(۷۴) تاريخ مرصع، ۴۸۲ – ۴۸۳ مخونه.
(۷۵) هجري اشرف خان: ديوان هجري (پښتو) د هميش خليل په زيار، شاهين برقي پريس، پښور، ۱۹۵۸، ۱۳۹ – ۱۴۸ مخونه.

رفت ان میرروه شاه ختک | که به خوبي امیر افغان بود
بلکې افغان همه چون تن بوده | اندران اوبه رتبه جان بود
ماه و تاریخ فوت او جستم | خردم زین قبل سخن ران بود
روز ادینه از ربیع دوم | بیست وهشتم اوان اذان بود

سال هجران او اګر خواهي
(( موطن خیر، مجد و احسان )) بود

د خان بل زوی ګوهر خان ختك هم دده د مړینې تاریخ په یوه دري مثنوي توته کې ویلی دی چې دلې یې راوړل دبخث دتکمیل لپاره لازمي ایسي:

خـــان خانـــان و قـــدوه افغـــان
ان حکیمـــی ســـرخرد منـــدان

چـون بـه هفتادوهشـت سال شـده
چـو الـف بـود همچــو دال شـده

روز ادینــه بــودچــون زجــهان
رفـت و مـاندیم مــا بــه اه و فغـان

غـرۀ مـاه مــهر بــود ان حــوت
کـه بـه لـب مینــهاد مــهر سـکوت

بیســت وهشـتم ربیــع اخــر بــود
کــه امــین جــان پــاک او بربــود

مسافر شه هغه شيرد جبالونو
چې زهره ځيني اوبه د اورنګشا ده

نه يې زويه پرې حاضر نه برادر وه
سايي قبضه له غمونو په صحرا ده

نه يې مخ د خپلو وليده په سترګو
نه يې کړې چاپه رنځ کې دلا سا ده

لايې رب په حال خبر يازه پوهېږم
چې له خپلو يې ليدلې څه جفا ده

پروفيسور محمد نواز خان طاير د اشرف خان هجري ددې مرثيې په باب په يوه لنډه تبصره کې ويلي دي: (( د جذباتو احساساتو د زور سره سره چې کومه فني ښکلا په دې مرثيه کې موجوده ده ، دپښتو ژبې د پرېِّ کمې مرثيې ددې همسري کولی شي . په دغې مرثيه کې ټول يو کم پنځوس اشعار دي ، هر يو شعر يې لکه چې خان جنت نښان اشرف خان هجري د خپل زړه په وينو ليکلي وي )) (۷۶)

(۲)عبدالقادر خان ختك د خپل توريالي پلار په وير کې يوه قصيده لري، چې څو بيته يې دلته را اخلو:

اوښکې هم د وچېدو له وېرې ولاړې
له تودې تبغنې مې ګرمه تر لا ده

(۷۶) طاير، پروفيسور محمد نواز: روهي ادب ، پښتواکادمي ، پېښور . جدون پريس ، پيښور ۱۹۸۶ ، ۲۹۸مخ

د فراق په اور دې وسونو مې وچ شو
اوس مې تل په وچو سترګو ستا ژړا ده

په بهانه راه خپل دم راځني درومي
له همدمو بېهوده ګيله زما ده [77]

(۳) داستان پر داز صدر خان ختك ، هم د خپل باتور پلار پر مرګ په يوه قصيده کې ژړلي دي. دده رثائيه قصيده استاد حبيب الله رفيع راپيدا کړې او خوندي کړې ده (۷۸) څو بيته يې دا دي:

چې سرته د پښتانه وې ځينې ولاړې
ځکه اوس واړه بې سره پښتونخواده

که ته باز دپښتانه د غرونو نه وې
سکه بې تاپې دغرو چار سپکه چراده

که لويي دغره د چارې له تا نه وه
چار يې ولې اوس ترسمې کوزه لاده

که ته شېر د پښتانه د درک نه وې
پکې ولې دګيدړو اوس غوغاده

(۷۷) ختك ، عبدالقادر خان : د عبدالقادر خان ختك ديوان ، دنورالله ، ولسپال په زيار ،پښتو ټولنه ،کابل ، د ولتي مطبعه ، ۱۳۶۸ ه ش .

چې پخوا د مغل دم خوت په دا ورځ کې
اوس بې تـايې لـه چالـړ کلـه پـرواده

هونيره درګوهر پـه نظـم شـول لـه کومـه
کـه سـينه د تانـه بحـر نـه دريـا ده

## د ملي اتل وروستی وصيت:

د افغانستان دتاريخ په ځينو کتابونو او دخوشحال خان دژوند پېښو په ځينو اثارو کې دخوشحال خان ختك وروستی وصيت هم راغلی دی.

د پښتانـه شـعراء پـه لومـړي ټوك( د خوشـحال خـان برخـه ) ۱۳۲۰ ش / ۱۹۴۱ م کال چاپ کې دا وصيت داسې راغلی دی: (( ماهلته ښخ کړئ، چې دمغلو سيوری مې په خاوره ونه سي او دمغلو دسپرو دپښو ګرد مې په هديره ونه لوېږي )) (ادبي سوغات ، ۱۱۸ مخ)

استاد اجمل ختك چـې د پښتانـه شـعراء د لومـړي ټوك کومـه خلاصـه دپېښور د اداره اشاعت سرحد لپاره تياره کړې اومنځ منـځ کې يـې خپلـې سمونې او زياتونې هم پکې کړې دي ، هلتـه يـې بيا راوړي دي: (( ما خپل وطن ته ورسوئ او هلته مې په داسې ځای کې ښخ کړئ ، چې د مغلو سيوری مې په خاوره ونه شي او دمغلو دسورو ګردونه مې په قبر نه پرېوزي)) (پښتانـه شعراء ، ۱/ ۱۴۰) .

استاد کامل بيا د(خوشحال خان ختك) په ۲۱۶ مخ کې دا وصيت په ډېرو الفاظو کې لږ نور هم په تفصيل راوړی دی چې ترجمه يې زه دا وړ کولای شم (( زما قبر پـه داسې ځای کې جوړ کړئ، چې دمغلو سيوري قدرې هم پر ونه لوېږي ، او دمغلو سپرو د اسونو دپښو ګرد زمـا قبر تـه ونـه رسـي. مـا د مغلو بهترين پوځونه د خلو خاشاکو په دود الوزولي دي، نو په دې اساس زماقبر پټ وساتئ، چې يې بې احترامي ونه کړي)).

دخان بابا دې وصيت ته علامه اقبال لاهوري اردو نظم جامه وراغوستې او دعلامه په بال جبريل نومې مجموعه کې راغلی دی. د علامه اقبال ددغه اردو نظم پښتو ترجمه اروانباد قاضي عبدلحکيم اثر ( ۱۹۱۰-۱۹۸۷ م ) داسې کړې ده:

دملت په يو وحدت کې قبايل دې ورک کړي خان
چې پرې نوم دافغانيانو په دنيا کې شي بلند

زه په هغو تورزنانو شاه ځلمو باندې مين يم
اچوي چې کوم په ستورو داسمان باندې کمند

له مغل ځينې هيڅکله لاندې نه دي په يوځيز کې
دادغرونو نازولي چې په غرونو کې کړي ژوند

ای ملګريه وبه وايم تاته زه دزړه خبره
خوشحال خان هغه مدفن کړو خپل ځان لره پسند

چې سيلی د غرونو هلته زما لورته راوړی نشي
دمغلو شهسوارانو دوړې پښونه د سمند

(د پښتو شعر د ادب تاريخ ، ۳۱۴ مخ )

## دننګيالي مزار:

د خوشحال خان ختك د احوالو په زياترو کتابونو او مقالو کې راغلي دي، چې د خوشحال خان مړی يې د اپرېدو له سيمې څخه سرای اکوړې ته راووړ او د خپل کلي اکوړې نه جنوب اړخ ته غره کې د ايسوړو او چشمې منځ ته داسې ځای کې ښخ کړ چې (( د زمانې خيرن بادونه ا وسپېره سوری نه ورسي )) .
( پښتانه شعراء ۱/ ۱۴۰ )

استاد کامل هم دغه ځای ښودلی او ليکلي دي: ((د خان عليين مکان لاش يې داپرېدو له ولايت نه راووړ او له سرای اکوړي نه څو ميله لرې، جنوب لور ته لږکی ختيځ ته اسوړي بالاکې خاورو ته وسپاره او ترکافي عرصې پورې ددغه قبر پټ وساتل شو)) ( خوشحال خان ختک ۲۱۷ مخ ).

د اروابناد استاد رښتين په نوميالي شاعران نومي اثر ۷۸ مخ کې راغلي دي: ((اود هو ډي د غره تر څنګ د ابدي ارام غېږې ته وسپارل شو)). کله چې د استاد رښتين د پښتو د ادب تاريخ درېيم ځل چاپ شو، نو هلته يې هم ليکلي دي: ((او په هوډي کې ښخ دی)) [۷۹] . په درېيم چاپ کې ددې جملې په لوست سره مې په ذهن کې وګرځېدل، چې په لومړي چاپ کې به يې په دې باب څه ليکلي وي. خو چې لومړی چاپ مې وکوت په ۴۶ مخ کې يې راغلي دي چې په سرای کې ښخ دی.

پدې ورځو کې زموږ دخوشحال فرهنګي ټولنې ملګرو، چې په پېښور کې د خوشحال خان ختک د زوکړې دڅلورسومې کاليزې په مناسبت کوم سيمينار جوړ وي، دمقالو په لست کې يې يو عنوان داسې دی: ((دخوشحال خان زيارت په ډمبره که په اکوړي کې)) ددې عنوان له لوسته ماته داسې ښکاره شوه، چې لاځينې خلک ښايي په دې عقيده وي، چې د خان مړی به يې له ډنبرې څخه نه وي راوړی او هلته به ښخ وي؟

په هر صورت اوس همدامقبره چې د اکوړي جنوب ته په غره کې د ايسوړو او چشمې په منځ کې واقع ده، د ستر خوشحال خان بابا مبارک مزار منل کېږي او د نوښار پښتو ادبي جرګې (۱۹۳۲ م کال تاسيس) له خواپرې د شلمې پېړۍ په لومړۍ نيمايي کې مشاعرې جوړې شوې دي. ښاغلی پښتون نومی مجموعه دهمدې ټولنې له خوا په ۱۹۴۰ م کال کې چاپ شوه. پدې مجموعه کې دخوشحال خان بابا په باب د اروابناد سيد رسول رسا (۱۹۱۰ -

[۷۹] رښتين، پوهاند صديق الله: د پښتو ادب تاريخ درېيم چاپ پېښور، ۱۳۷۷ هـ ش ۴۸ مخ.

۱۹۹۰ م ) يوه مقاله او د څوتنو شاعرانو شعرونه راغلي دي. ( خوشحالنامه ، ۲۱۹ مخ ) .

پردې مقبره دا څه د پاسه شپېته کاله مشاعرې کېږي. غونډې پرې جوړېږي، عام وخاص ورته ورځي او دخپل ننګيالي ،توريالي او فرهنګيالي بابا اروا ته دعاوې کوي.

د خوشحال خان پر قبر يوه وړه ګومبتي ودانې جوړه شوې ده. دقبر تعويز يې د افغانستان له مرمرو په کابل کې جوړې شوې او د پښتو ټولنې ديوهيئت له خوا پښتو نخوا ته وړل شوي او بيا نصب شوي دي. استاد اجمل ختټک يې د نصبولو افتتاح تاريخ ۱۹۴۸ م کال ښودلی دی [۸۰]

## د خوشحال خان خټک
## عقايد ، اخلاق او عادتونه

خوشحال خان خټک سني ، حنفي مذهبه مسلمان و. دده د کلياتو او ځينو نورو اثارو له مطالعې داخبره څرګنده ښکاري. دده په ديوان او نورو اثارو کې دده د اسلامي عقايدو په اړه ډېرڅه سرې پيدا کولای شي. دا څو نمونې راوړل ماته بې ځايه نه ښکاري:

زما دايمه خدايه موجوده
وجود د هر چا دی ستاله وجوده
معبود بل نه لرم معبود مې ته يې
معبود مې بل مه کړه زما معبوده

زما دايمه قايمه خدايه
په خپل صفت کې قدرت نمايه

(۸۰) ختټک : اجمل : لعل او ايرې ، پلوشه ، کليزه ګڼه ، ۱۹۹۸ م ، ۹ مخ.

تا مسلمان کړم، تا زه کامران کړم
عزيزدې راوستم عزيزمې بيا يه

( ديوان ۲/ ۹۸)

که په مينه د صديق ولاړ صادق يم
هسې مانګنه په مهر دعمر
په عثمان باندې به څه وايم چې څويم
په هزار رنګه مين يم په حيدر
محبت د خاندان لرم په زړه کې
دولس واړه امامان مې دي بصر
پاکيزه سني مذهب يم نور څه نه يم
چې مې نور څه ګني خاورې يې په سر
رافضي خارجي دواړه توکه نه دي
ديوه سترګې په سيخ د بل څګر
زه خوشحال چار ياري يم خوښ له خدايه
چې سني راغلم په دين د پيغمبر(ص)

ديوان ۲/ ۳۵۶ مخ

استاد کامل کنبلي دي، چې د خان په کلام کې ځينې داسې اشعار هم پيدا کيږي ، چې دځينو شيعي عقايدو مظهر دی ، خو د خان د نورو صريحو او څرګندو بيانو نو له مخې موږ دی له سني پرته بل څه نشو منلای ( خوشحال خان ختك ، ۲۱۹ مخ)

خان سخي ، فياض ، خو د دار ، دلوړې ارادې خاوند تينګ عزمنی اومبلمه پال انسان و. ددې تولې خانی او سردارای سره سره قرباني او زکوة پر ادا نه و مکلف مانا دا چې دنصاب خاوند نه و. د ډېر سخاوت په باب يې يو ځای ويلي دي:

سخاوت مې په تقلید په رسم نه دی
زه له ځایه د سخي بابا پسر یم
نه زکوة په ما واجب شو
نه په درست عمر قربان

خان په خپل ټول ژوند کې له ځوانی تر پېری پورې درې عمده مینې پاللې دي. ده یو ځای ویلي دي:

دایم راغلم په دا عمر چې مې وینې
زلمیتوب را څخه یوور، پېرې سپینې
یو د ښکار، بل دکتاب بل د دلبرو
په جهان کې نورې نه شوې دا درې مینې
دهمت جامه مې سپینه پاکیزه ده
پرې دوستې دزرو څه وه لکه وینې

(د خوشحال خان ختك كليات، ۱۰/ ۴۶۱).

د خان، عاداتو، اخلاقو او عقایدو په باب اروا ښاد استاد کامل په خپل ډېر مهم اثر (خوشحال خان ختك) سربېره د خوشحال خان ختك كليات په مقدمه کې ډېرې کوټلې خو جامع خبرې کړې دي. زه دخان دسیرت ددې بحث د بشپړ تا به لپاره هغه خبرې راوړل دلته لازم گنم. استاد کامل لیکلي دي: ((خان د نمونځ، اودس او روژې ډېر پابند و، او د سخاوت یې دا حال و، چې سره د امیرۍ او خانۍ او سردارۍ صاحب نصاب شوی نه و، وضع فقیرانه وه. ډېر رښتینی او صاف گوسړی و. اګر که جنسي جذبات پرې ډېر غالب وو، خو هغو دتسکین دپاره یې ناجایزې طریقې نه وې استعمال کړې. په حرم کې یې وینځې هم وې، خو ددې دپاره د هغه زماني دمعاشرت حالات ذمه وار وو. که په دې کې خان په خپلو ځینو مزاحیه اشعارو او هزلیاتو کې مبالغه کړې وي، نو له هغو به څه نتیجه اخذ کول محفوظ نه وي. خان د ارادې ډېر

کلك او مضبوط ډېر توررزن ، شجاع او خود داره سړي و... خان دښکار ډېر شوقمن و، د توپك غشي او باز هر قسم ښکاربه يې کولو. بازونه او اسونه به يې ډېر ساتل. په کتاب ، سرود او ښايست ډېر مين و، دغه شوقونه تر اخره عمره په ځاى وو)) ( خوشحال خا ختك کليات ۲/اتم ، نهم مخونه ، مقدمه ).

دا بحث به پدې خبره پاى ته ورسوو، چې زموږ اتل شاعر سره له دې چې له دربارونو ، امراوو او دهغه زمان نورو سترو رجالوسره يې سروکار و، خو ده ،لکه نورشعراء د چا مدح نه ده کړې، په ځينو ځايو کې بې خپل محسنان په ښو نو مونو ياد کړي دي او داکار هم دده د عالي اخلاقو ښکارندويي کوي.
ما نا دا چې خان سره له دې چې مداح نه و، احسان فراموش هم نه و، د چا لږ ښه يې ډېر ډېر يادول او خان يې دهغه مرهون ګاڼه . خان په خپله يوه قصيده کې ويلي دي:

زه مداح د هيچا نه يم بې د ښکليو
د نور چا په صفت نه لرم يو قال
زه څه خداى په ښکلي مخ باندې مين دى
ګوره احسن القصص په استدلال
نه مې تمه له چاده چې مدح ګوى شواى
نه مې چاسره لبناس شته نه تيتال

( دخوشحال خان ختك کليات ۲/ ۵۸ - ۵۹ مخونه ) .

يو بل ځاى يې ويلي دي:

دهغه شاعر مخ تور شه چې په طمع      و هر در و هر دربارو ته ولاړ دى

## د خان اولاد :

خوشحال خان خان ختك څو ودونه کړي وو. له نکاحي مېرمنو سربېره ده په حرم کې وینځې هم درلودې له دغو مېرمنو او وینځو یې د شپېتو شاوخوا زامن او یو دېرش لونې زېږېدلي وو. (خوشحال خان ختك ۲۳۰مخ).

دتاریخ مرصع په ۲۵۸ - ۲۵۹ مخونو کې راغلي دي: (( .... واضح دې شي ، خان علیین مکان ته حق تعالی شپږپنځوس فرزندان نارینه کرامت کړه، په دا واړو کې خان جنت مکان والا تنبان چې والد د مولف دی، ارشد او ولي عهد و.... سعادت خان خان، بهرام خان، نظام خان، یحیی خان او شهباز خان داشپږ واړه له یوې مورنه و...))

( دزنځیرونو شاعر، ۱۴ مخ).

خان هم په خپل دیوان کې وخت په وخت دخپلو زامنو شمېره ښودلې ده ، داشمېره یو ډول نه ده. کله زیاته او کله لږه ، لکه په یوه رباعي کې وایي:

په شمار مې زویه تر شپېته زیات دي
نیمګي به مړه وي نیمګي حیات دي
چې راخرګند شول په کاروبار کې
تر دې ژوندیو بهتر اموات دي

(دیوان ، ۲/ ۱۳۹ )

په یوه بله قطعه کې بیا ویلي دي:

که پنځوس دي که شپېته دي داغ د زړه دي
یو څولا پکې افت شول تر دامیانه

بله قطعه کې وایي:

اته ویشت لرم زویه نشته یو د بل په رنګ .

د خان دخپلو ځینو زامنو د زوکړې تاریخي قطعې په دری نظم کې ویلې دي او دا قطعې افضل خان ختك په تاریخ مرصع کې را اخیستې دي.

له اشرف خان ، سعادت خان ،بهرام خان، نظام خان، يحيی خان او شهباز خان سربېره چې له يوې موره وو، دنورو څو زامنو نومونه يې چې د خان له کلامه او تاريخ مرصع نه لاس ته راغي دا دي: عبدالقادر خان ، صدرخان، عابد خان ، نصرت خان ، سکندر خان ، ګوهرخان ، عجب خان ، ازاد خان، عبدالعزيز خان ، خالد خان، طاهر خان ، بختناك، جلال خان، عادل خان ، جعفر خان ، اکبر خان ، عبدالرحمن خان ، نجابت خان ، ابوالخير خان ،فرحت خان، مومن خان ، زاهد خان، حامد خان، عادل خان ، بشير خان، اسمعيل خان، يوسف خان ، کمال خان ، محبت خان علاءالدين ،فتح خان ،نوروزخان ،شاه علي خان ،جنګي خان ،شکرالله خان اونور. د خان د لوڼو شمېر تاريخ مرصع ۳۱ ښودلی دی، خو په فراقنامه کې خان داشمېره دوه د پرش ښودلې ده.

د لوڼو په نومونو کې يې د دوو نومونه موږ ته ښکاره دي. يو بي بي تاج اوبله حليمه . خان دخپلو اولادونو روزنه زياتره په خپل لاس کړې ده. په زامنو لوڼو او لمسيانو کې يې هم ډېر لوی شاعران ، عالمان اوليکوال تېر شوي دي، چې د خان پراپستلې فرهنګې لار يې قدمونه ايښي دي. وروسته په يو بل څپرکي به زه د خان د کورنۍ د شاعرو او ليکوالو غړيو يادونه هم وکړم.

((٦))

# شپږم څپرکی
# فرهنګيالی خوشحال خان

نه به زما غونډې بل ننګيالی راشي
نه به زما غونډې بل جنګيالی راشي
څوک لا پرېږده په درست افغان کې
عجب که هسې فرهنګيالی راشي

(ديوان، ٢/ ٢٢٨ مخ)

په تېرو څپرکو کې مو د خوشحال خان د تورې او ننګ خبرې ولوستې، داخبره سمه ده چې خان دخپل وخت ستر توريالی او ننګيالی و، مګر تر ده وروسته په افغانانو کې داسې توريالي او ننګيالي پيدا شول چې دده هيلې او ارزوګانې يې په افغاني ننګ او توره تر سره کړې، افغاني ملي حکومتونه او افغان امپراتوری يې جوړې کړې.

مګر دفرهنګ په برخه کې د خان پېش ګويي سمه ده. پښتو زاړه ادب کې دخان جوګه بل فرهنګيالی موږ نه لرو. خان د خپل دوران او تر ده د وروستيو

د ورانو نو واحد فرهنګیالی دی، چې اثاریې د کمیت او کیفیت، فکر او هنر له نظره بل ساری نه لري.

خان علیین مکان خوشحال خان د خپلې مورنۍ ژبې په علمي فقر پوه او دا ورته ښکاره وه، چې داژبه د نورو ژبو په پرتله څومره فقیره ده. چا ورته څه نه دي ورکړي او دده په اصطلاح ((بکره)) پرته ده. لکه چې خان په خپله یوه رباعي کې ویلي دي:

که تازي ژبه هر ګوره ښه ده
فارسي هم ډېره په خوند خوږه ده
چایې پلو دجمال وانه خیست
پښتو لاهسې بکره پرته ده

(دیوان، ۲/ ۸۶ مخ)

دوکتور راج ولیشاه خټک د خان په اثارو کې له دغسې اشارو -، لوړه نمونه – نه دا نتیجه اخیستې ده: ((نوېه دا سبب هغه د خپل مثالي علمیت او قابلیت په وجه په ډېرو سنګینو او ناوزګارو حالاتو کې دومره څه تصنیف کړل چې پښتو یې یو دم د تکمیل بام ته وخېژوله.

خوشحال خان د یو شعوري زیار په سبب خالص نوی اد بي تحریك شروع کړو...))[81]

خوشحال خان خټك چې کله میدان ته راغی، نو ده ته یوازې دروښانیانو او اخوند درویزه ننګرهاري (۹۴۰- ۱۰۲۸) هغې اثار معلوم وو، دغه اثار یې پدې ډول نقد کړل:

په پښتو شعر چې ما علم بلند کړ
دخبرو ملك مې فتح په سمند کړ

---

[81] پښتو ادبي تحریکونه، ۱۶۴ -۱۶۵ مخونه

يو په حال او په ماضي کې هسې نه و
چې ښکاره يې دخبرو راته خوند کړ

د ميرزا ديوان مې ومانده په ګوډي
مسخره مې ارزاني خيشکی زمند کړ

دروېزه مې له مخزن سره ونغړد
پير روښان مې ياوه ګوی سره مانند کړ

که دولت و، که واصل وکه دا نور وو
په خبرو مې د هريوه ريشخند کړ

قتلمې مې ورته سازې کړې د قندو
د وربشو په ډوډيو چې چا شخوند کړ

لال ودر مې ورته وپيل د نظم
د مشکېو بنجاره مې مستمند کړ

(خوشحال خان خټک کليات ۲/ ۴۶-۴۷ مخونه)

د خان ادبي او علمي مقام ته په درناوي د خان په دې لوړ نقد کې يو څه شاعرانه تصلف خپله برخه لري، که نه وي په نورو ځايوکې يې بيا د يو واقعبين د اور په توګه د همدغو ځينو يادو شويوا نورو شاعرانو په باب ويلي دي:

له چا نه په پښتو کې ما ميزان ليدلی نه دی
ميرزا په دا زبان کې ويل کړي دي تللی
(د خوشحال خان خټک کليات ۲/ ۱۷۶ مخ)

چــې لاف وهــي دشــعر
نــن پــه دادور دي ډېر

خدای دې نـه کـا چـې بـه وایم
حــال ددويــو تــېرو بــېر

څوک پاوي څوک نيم پـاوي دي
قلنــدر پکــې نيــم ســېر

زمــوږه پــه حســاب دی
هيڅ مـې نـه دی واصـل هـېر

بــل دولــت فقــير درې پــاوه
زه تـرې څو شــېر شـاهي تـېر

(ديوان ۲/ ۳۵۳-۳۵۴ مخونه)

خان عليين مکان خوشحال خان دده د محيط فرهنګي وضعې تـه پـه پاملرنه د خپلې ژبې د مروڃتيا او غښتلتيا لپاره متې راونغښتې او د خپل عالي استعداد په وجه يې داسې اثار پښتو ادب تـه وبخښل، چې د پښتانـه فرهنګ يې په سيمه کې د سيلانو سره سيال کړ.

خان په پښتو نظم او نثر ډېر اثار کښلي او ترجمه کړي دي، چې شمېره يې په بېلا بېلو اثارو کې ډول ډول ښودل شوې ده.

په پښتو څېړنو کې مونږ لولو، چې هانري جارج راورټي (۱۸۲۵-۱۹۰۶ م) د خوشحال خان د اثارو شمېره (۲۵۰) ښودلې ده[۸۲].

[۸۲] پښتانه شعرا ۶، ۱/ ۱۴۷ مخ.

فرانسه يي پښتو پوه جيمز دارمستتر ( ۱۸۴۹-۱۸۹۴ م ) بيا ويلي دي: (( خوشحال خان خټك د تاليفاتو د شمېر له مخې تر اخوند درويزه كم نه دی او په نظم او نثر يې د پنځوسو ټوكو په شا او خوا كې اثار كښلي دي )) [۸۳].

اروابښادې مېرمن خديجه فېروز الدين چې ، دخپلې P.H. D تيسس يې په ۱۹۴۲ م كال كې پر خوشحال خان باندې بشپړ كړی دی د خوشحال خان د اثارو شمېره درې نيم سوه ښودلې ده( پشتون كون؟ ۳۱۷ مخ ) .

استاد كامل د خوشحال خان ختك ، په ۲۲۴ مخ كې ويلي دي چې د خان عليين مكان د تصنيفاتو اوتاليفاتو د شمېر په اړه له مبالغې څخه كار اخيستل شوی دی . ځينو ددغو اثارو شمېر ۲۰۰ او ځينو تر ۳۵۰ پورې بيان كړي دي.

له دغو ټولو يادونو سره تر اوسه پورې دده ځينې منظوم او منثور اثار ښكاره شوي دي، دځينو يې نومونه ښكاره دي او اثار لاتراوسه نه دي پيدا شوي. تاسې به لږ وروسته په همدې څېركي كې وګورئ ، چې د خان ځينې اثار د شلمې پېړۍ په وروستيو دوولسيزو كې راپيداشوي دي او اميد دی ، چې نور اثار يې هم را پيداشي.

تر دغه لوړ مقدماتي بحث وروسته ، زه پدې څېركي كې لومړی دده منظوم اثار ښيم ،بيا منثوراثار. منظوم به يې دوې برخې ولري، لومړی دده خپل نظم كړي اثار او وروسته منظومې ترجمې ، بيا به يې د هغو اثارويادونه وشي چې نومونه يې ښكاره دي. خو اثار تر اوسه ورك دي. د ځنځيري ليكدود پرايجاد خبرې وروسته راځي او بيا به په نورو ژبو دخان د اثارو پېژندګلوي وشي. او په پای كې به په نورو ژبو د خوشحال د اثارو پر ترجموهم اجمالي خبرې وشي.

---

(۸۳) جيمز دارمستتر: د پښتو نخوا د شعر هارو بهار، مقدمه ، ددوكتور فرهادي ژباړه ، دحبيب الله رفيع په زيار ، پښتوټولنه ، كابل،د ښوونې او روزنې مطبعه ، ۱۳۵۶ هـ ش ، ۱۲ مخ .

## الف: منظوم اثار:

د خان د منظومو اثارو تر پېژندنې د مخه لازمه ایسي، پدې وپوهېږو چې خان کله په شعر ويلو شروع کړې ده.

د خان د يوې قصيدې په يوه بيت کې راغلي دي:

په شل کاله کې ديګ زما د شعر په اور بارشو
په دا دورمې پوخ کړ چې شپېته کاله مې تللي

(دخوشحال خان ختك كليات ، ۲/ ۱۷۷)

دپورتنی يادونې له مخې ويل کېږي چې خوشحال خان ختك په شل کلنۍ کې په شعر ويلو پيل کړی دی او کال به يې نو ۱۰۴۲ هـ ق وي.

خوشحالپوهان ده دا لاندې شپږ بيتيزه غزله ، د خان لومړنی غزل بولي:

عقل سل د مصلحت بندونه جوړ کا
چې د عشق سېلاب پرې راشي واړه توړ کا

ماته مه وايه عاقله چې عشق څه دی ؟
که مين شي تابه هم له عقله موړ کا

زه به هيڅکله له عشقه وانه وړم
عقل څه په قهر تل د ګوتو مروړ کا

زه که هر څو خپل پيوند شلوم له عشقه
ولې ما او عشق به خدای له وبله جوړ کا

زما عمـر پـه حسـاب تـر شـلو زيـات دی
د عشق غم به مـې پـه دېرش کاله کـې زوړ کـا

کـه يې چـېرې د خپـل يـار پـه وصـال لاس شـي
بيچاره خوشحال بـه هـم خـاطر پـرې سـوړ کـا

(دخوشحال ختك کليات ۱/۳۱)

پروفيسور پرېشان ختك وايي : (( د ده لومړی غزله چې لاس تـه راغلـې کـلام کې شـامله ده او د شـاوخوا شـلوکلو پـه عمر يې ليکلې ده، د يوه پاخـه شاعر کلام ښکاري او ابتدايي شاعري يې سرې نشي منلای)).

پروفيسور پرېشان پدې عقيده دی ، چې ده بـه لـه هلکتوبـه پـه شعر ويلو پيل کړي وي او په شل کلنۍ کې به يې څرګنده کړې وي (پښتون کون؟ ۳۶۵ مخ)

داسې ښکاري چې خان عليين مکان دژوند تر پايه.د شعر ويلو مشغله پالله.دخان د ديـوان هغـه خطـي نسـخه چـې دده پـه ژونـد ليکلـې شـوې او د ۱۰۹۹ هـ ق سـنه څو ځايـه پکې راغلې ده، د استـاد حبيب الله رفيـع پـه قبول چې پدې نسخه کې وروستـه ليکـل شوې برخې - چې پـه حاشيـو او سـپينو ځايوکې دي- بې لـه شکـه د خوشحال خـان پـه خپـل قلـم دي [۸۴] هغـه وروسـتـی تاريخ چې له دې نسخې ښکاري، هغه د ۱۰۹۹ هـ ق د ذيقعدې دی. دا تاريخ ديوې رباعۍ په پای کې کښل شوی دی.

نو پدې حساب تردغې نېټې د خان شعر ويل بې شکه موږ تـه ښکـاره دی. تر دې نېټې کابو پنځه مياشتې وروسته نور هم زموږ شاعر ژوندی و. امکـان لري پدې پنځو مياشتو کې يې هم شعرونه ويلي وي؟.

[۸۴] رفيع، حبيب الله : زنځيري ، پښتو اکادمي ، پېښور پوهنتون ، جدون پريس، ۱۹۸۵ ، ۱۷ مخ.

د لوړ تفصيل په پای کې موږ ويلای شو ، چې خان له ۱۰۴۲ هـ ق نه تر ۱۱۰۰ هـ ق کال پورې شاوخوا اته پنځوس کاله باقاعده شاعري کړې ده ، او پدې اته پنځوسو کالونو کې يې په پښتو نظم کې د هر څه موږ ته پريښي دي ، چې شرح يې لاندې وړاندې کېږي:

## (۱) کليات:

د خوشحال خان خټك دشعر ديوان چې په پښتو خپرنو کې دکليات په نامه يادېږي او د کليات په نامه چاپ شوی هم دی ، د خان دغه اثار پکې شامل دي.

**الف: غزلې** : د خان دديوان يوه غټه برخه دده غزلونه دي، چې ټولې ۸۶۰ غزلې پکې شته. داغزلې په کابل کې لومړی ځل په ۱۳۵۸ هـ ش کال او دويم ځل په ۱۳۵۹ هـ ش کال ځانته په يوه ټوك کې چاپ شوې دي( پښتو برخه ۵۰۴ مخه). په نورو چاپونوکې له نوروشعري اصنافوسره يو ځای راغلې دي.

**ب - قصيدې** : دديوان بله غټه برخه دقصيدو ده ، دخان ټولې ۵۲ قصيدې په کليات کې موجودې دي.

**ج: رباعيات** : که څه هم په ځينو ماخذوکې رباعيات دخوشحال خان يو ځانته اثر ښودل شوی دی [۸۵] ، خوپه عام ډول رباعيات د ديوان جز بلل کېږي. دخان د ديوان (کليات) په اکثرو چاپي نسخو کې ددغو رباعياتو شمېره (۱۶۰۴) ده. خو د خان د رباعياتو هغه مجموعه چې په کابل کې دمعتبرو خطي نسخو له مخې تهيه شوې او په ۱۳۴۹ هـ ش کال ۳۰۳ مخه ( دخوشحال رباعيات) په نامه په يوه ځانګړې مجموعه کې دپښتو ټولنې له خوا چاپ شوې ده، ټولې ۱۶۷۴ رباعی پکې راغلې دي. بايد يادونه وکړم ، چې د پېښور د اسلاميه کالج دکتابخانې په خطي مجموعه کې د خوشحال خان د

(۸۵) پښتانه شعراء ، ۱ / ۱۴۸ مخ ، نوميالي شاعران ، ۸۷ مخ

رباعياتو يوه خطي نسخه موجوده ده، چې ټولې ۸۸ پاڼې لري. په پای کې يې ليکل شوي دي((درمقام جلال اباد شروع شده .فی مقام پشاور به اتمام رسيد.....)) . دانسخه په پيل کې ميناتوري لوحه او څه تذهيب شوې پاڼې هم لري.

**د - ټوټې (قطعې)** : د خان په ديوان کې يوه بله غوښنه برخه د قطعاتو ده، دکليات په عامو نسخو کې دده د ۴۰۵ شاو خوا قطعې خوندي دي. پدې قطعو کې له دوه بيته قطعو نيولې د پنځوسو بيتونو ټوټې هم شته. څو يوبيتي ( فردونه ) هم ددغو قطعو په لړکې راوړل شوي دي. په کابل کې چې دخان د کليات کوم متن تهيه شوی دی، دا کليات ۷ ټوټې ( قطعې) زياتې لري، چې په نورو نسخو کې نشته [۸۶] بايد ووايو چې د کابل چاپ ( خوشحال خټك کليات) په دويم ټوك کې قطعات خوندي شوي دی.

**هـ : مثلث**: د خوشحال خان دديوان په کابو ټولو چاپي نسخو کې د خان مثلث نه ليدل کېږي. د کابل چاپ کليات په دويم ټوك کې د خان يو مثلث خوندي دی، [۸۷] چې ټول ديارلس بنده لري .اما اروښاد استاد روهي دکليات دلومړي ټوك په مقدمه کې چې دخان نوي لاس ته راغلي شيونه معرفي کړي دي هلته يې ليکلي دي .

(( هـ - دوه مثلثونه:چې يويې ۱۴اوبل يې (۶) کړی دي)) (۸۸) خو ، لکه چې مايې يادونه وکړه په چاپي نسخه کې همدا يو مثلث دی. هغه هم (۱۲) کړی. کېدای شي ، دابل مثلث او د راغلي مثلث يو بندله چاپه پاتې وي. بايد يادونه وشي، چې دغه چاپ شوی مثلث له هغې خطي نسخې اخيستل شوی چې په ۱۰۹۹ هـ ق کال ليکل شوې ده.

**و- نور اصناف**: د خان دکليات د متفرقاتو په برخه کې دوه ټوټې مربعونه، يو ه ټوټه مثنوي ، څلور مخمسونه ، دوه مسدسونه ، يو معشر ، يو

---

(۸۶،۸۸) دخوشحال خان خټك کليات (مقدمه) ۱ / ووه دېر شم مخ
(۸۷) دخوشحال خان خټك کليات ، ۲/ ۲۸۱- ۲۸۲ مخونه

ترکيب بند، يو ترجيع بند خوندي دي. همدا راز دخان مشهور ترکيب بند ذولقافيتين هم د خان دکليات دمتفرقاتو په برخه کې خوندي دی. که به ما ځوك ګرم نه کړي، زما په پوهه دا ترکيب بند ذولقافيتين د خان يو ځانګړی اثر دی، چې دا اثر خپل ځانګړی موضوعي ارزښت هم لري.

بيتونه يې دوه سوه شل (ديوې منظومې رسالې هومره) او په رښتهبور کې يې ويلی دی. څنګه چې خان د خپلې نيونې او بند حالات رښتهبور ته تر رسېدو پورې پکې راوړي دي، نو ما چې په هند کې د خان پر ويلو او ليکلو ا ثاروکومې خبرې کړې دي. هلته مې دا ترکيب د خان ديو ځانګړي اثر په توګه معرفي کړی دی [89].

خان دخپل ديوان په باب په خپله يوه قصيده کې ويلي دي:

قصيدې لرم غرا له هره بابه
په حکمت په نصيحت کې ما لامال

په تعريف ددلبرانو غزلونه
په صفت دسترګو، ورو ځو، زلفو خال

رباعي ده که قطعه که مثنوي ده
همګي واړه ګوهر دی در و لال

درست ديوان مې لکه باغ د علم ګنج دی
پکې هررنګه ګلونه هر نهال

(89) په هند کې د پښتو ژبې او ادبياتو د ايجاد او ودې پړاوونه، ۲۰۶ - ۲۰۷ مخونه.

**ددیوان که مې بینت ،بیت سره حساب کړې**
**تر څلوښت زره به تېر شي په سرګال**

دغه قصیده - چې لوړ بیتونه یکې راغلي دي- خان په ۱۰۹۵ ق کال دمحرم په میاشت کې ویلې ده. مانا دا چې دديوان بیتونه یې ترهغه وخته څلوښتو زرو بیتونو ته رسېدل . لکه چې ښکاره ده خان دژوند تر وروستیو میاشتو له شعر ویلو لاس نه دی اخیستی نو د ژوند په پاتې پنځو کلونو کې به یې هم شعرونه ویلي وي. نو که اوسني چاپ شوي دیوانونه وګورو د خان ښوولې شمېره نه پوره کوي او دا خبره ترې څرګندېږي ، چې دخان د دیوان ډېر شیونه لا تر اوسه نه دي کشف شوي.

د ټولو معلومو خطي نسخو لټون هم ښايي یو څه مرسته وکولای شي . د خوشحال خان د دیوان ( کلیات) خطي نسخې په افغانستان پښتونخوا ، پاکستان ، هندوستان، بریتانیا او ځینې نورو ځایونو کې پیدا کېږي. یوازې ښاغلي رفیع یې ده ته معلومې څوارلس خطي نسخې موږ ته راښودلې دي. (۹۰) د خان د دیوان نورې نسخې هم شته .له دغو نورو نسخوڅخه چې ماته معلومې دي ، یوه هم د بنګال ایشاټك سوسایټي (کلکته ) نسخه ده ، چې په ۱۱۵۶ هـ ق کال په شاه جهانپور کې کښل شوې ده. (۹۱) دغسې نورې هم وزیسې درواخله.

دخان کلیات (دیوان ) په څرګندو نسخو کې زړه نسخه د ۱۰۹۹ هـ ق لیك، چې د افغانستان د علومو اکادمي په کتابخانې پورې اړه لري.بله نسخه یې د ۱۱۰۸ هـ ق کال ده او د هند د رامپور په رضا لایبریری کې ساتل کېږي.( دانسخه په دوو ټوکو نو کې ترتیب شوې ده . لومړی ټوك کې قصاید او رباعیات او په دویم ټوك کې غزلونه ،قطعې او متفرقات راغلي دي).

---

(۹۰) زنځیري ، ۱۳۴- ۱۴۱ مخونه.
(۹۱) هېواد مل ، زلمی : د هند د کتابخانو پښتو خطي نسخې، د پښتو ټولنه ، کابل ، دښوونې او روزنې مطبعه ، ۱۳۶۳ هـ ش ۶۳-۶۵ مخونه.

د خان د بشپړ دیوان تر چاپ د مخه یې د کلام منتخبات چاپ شوي دي. د خان څه شعرونه تر هر چا د مخه هانري جارج راورټي په ګلشن روه [92] کې چاپ کړي دي. بیا پادري هیوز په کلید افغاني [93] کې هم دده منتخبات خوندي کړل.

بهارستان افغاني [94] او شکر ستان افغاني [95] د پښتو نظم و نثر هغه پخوانۍ دوې مجموعې دي، چې د خان د دیوان منتخبات پکې چاپ شوي دي. وروسته بیا دخان منتخبات ډېر چاپ دي، چې تفصیل یې اوږد بړي. د پېښور پښتو اکادمي د (منتخبات خوشحال خان خټک) په نامه دخان د اثارو یو منتخب په ۱۹۵۶ م کال کې د یو ځانګړي کتاب په شکل چاپ کړی دی.

د خان دیوان لومړی ځل پېښور د جیل په مطبعه کې د دوکتور بلیو په زیار د سلطان بخش داروغه په اهتمام چاپ شوی دی. ددې نسخې لومړۍ برخه ۸۹ مخه ده په ۱۸۶۹ م کال چاپ شوې. دویمه برخه یې چې په ۶۰۸ مخ کې پای ته رسېدلې په ۱۸۷۰ م کال چاپ شوې ده. دواړه برخې یې یو ځای صحافي شوې او په یوه ټوك کې وړاندې شوې دي. دا چې د پښتو نخوا د شعر هاروبهار په مقدمه کې د دوکتور بلیو په زیار چاپ شوی دیوان دچاپ کال ۱۸۶۹ م ښودل شوی سم نه ښکاري [96].

دا دیوان دویم ځل په ۱۹۲۹ م کال د پروفیسور عبدالمجید افغاني په مقدمه په هوتي مردان کې چاپ شو. د خان د دیوان تحقیقي متن لومړی ځل پوهاند عبدالحی حبیبي تهیه او په ۱۳۱۷ هـ ش / ۱۹۳۸ م اکال یې په

(۹۲) راورټي ، هانري جارج : ګلشن روه ، هر تفرد ، ۱۸۶۰ م کال ، ۱/ ۳۲ - ۷۲ مخونه .
(۹۳) پادري هیوز : کلید افغاني ، لاهور ، ۱۸۷۲ م کال ، ۳۲۹ - ۳۶۰ مخونه ، ۳۷۴ - ۳۷۵ : ۳۹۶ مخونه .
(۹۴) رضواني میرا احمد شاه : بهارستان افغاني: لاهور ، ۱۸۹۸ م : ۸۳-۹۰ مخونه
(۹۵) رضواني میر احمد شاه : شکرستان افغاني ، لاهور ، ۱۹۰۵ ، ۱۹-۳۸ مخونه .
(۹۶) د پښتونخوا د شعر هارو بهار (مقدمه) ۱۲ مخ .

کندهارکې چاپ او خپور کړ. بل تحقیقي متن یې داستاد کامل مومند دی. چې لومړی ځل په ۱۹۵۲م کال او دویم ځل په ۱۹۶۰ م کال د اداره اشاعت سرحد پېښور له لوري چاپ شوی دی.[۹۷]

ارمغان خوشحال اروانباد رسا تهیه کړی دی. پدې متن کې له دیوان سر بېره د خان ځینې نور اثار هم راغلي دي. د خان دیوان نیمګړی په لاهور کې هم چاپ دی. دا دیوان نور چاپونه هم لري، چې تفصیل یې دلې نه ځایېږي.

په کابل کې دپښتو ټولنې ځینو غړیو هم د خان دکلیات پر ترتیب کار کړی دی. د دیوان برخه یې په دوو ټوکونو کې چاپ شوې ده. لومړی ټوک کې غزلې او دري اشعار راغلي دي. په دویم ټوك یې، قصیدې قطعې او متفرقات راوړل شوي دي. رباعیات پدې دوو ټوکونو کې نه دي شامل، دا ځکه چې پښتو ټولنې رباعیات تر دوو ټوکونو ډېر د مخه په ځانګړې مجموعه کې چاپ کړې وو.

دخوشحال خان کلیات د کابل چاپ د موادو په لحاظ غني دی، اما دمتن څېړنې دموازینو له پلوه ډېرې تشې لري او له دې سر بېره ډېر غلط چاپ دی- په تېره دویم ټوك- د چاپ موظفینو خپل مسئولیت په ښه ډول نه دی سرته رسولی نو ځکه ډېره ویسا نشي پرکېدای.

د خان دکلیات شکلي معرفي تاسې ولوسته او دا ښکاره شوه چې د خان په دیوان کې کوم ژانرونه موندل کېږي او شمېره یې څومره ده؟ اوس باید پوه شو، چې دکلیات شعرونه څه ډول مضامین رانغاړي. کاندید اکادمیسین محمد صدیق روهي یوځای لیکلي دي: « دخوشحال خان په اثارو کې هر ډول مضامین پیدا کېږي: عشقي، اجتماعي، سیاسي، فلسفي،علمي، عرفاني، تربیوي، تاریخي، انتروپالوجیك، مذهبي،طبي، جغرافیائي، دیالکتیکي،

(۹۷) هېواد مل زلمی: فرهنګ ادبیات پښتو، جلد دوم، کمیته دولتي طبع و نشر، کابل، مطبعه دولتي ۱۳۶۵ هـ.ش ص ص ۱۶۶-۱۶۷.

نجومي،هزلیات،اوداسې نور...)) (۹۸) له ټولـو اثاروکـه ورتېرشـو ، د خـان کلیات دغه لوړ یا دشوي مضامین رانغاړي او په دغو ټولوموضوعاتو کې موږ دخان په کلیات کې شعرونه او نظمونه پیدا کولای شو، چې د خان د ذهني وسعت اومعلوماتي احاطې ښکارندویي کوي.

هانري جارج راورټي په دې اړه نسبي ښه ارزیابي کړې ده(( دشاعرانه مضامینو په تنوع کې خوشحال خان دمشرق د شاعرانو په نسبت دمغرب شاعرانو ته نژدې دی. دهغه د شاعرۍ د پاره د انساني ژوند هر اړخ یو موزون مضمون دی ،ځکه چې هغوی په قادر کلامي سره په ادبي رنګ کې پېش کولی شي، پدې (برخه ) کې دی دپښتو ژبې په ادب کې یکتا دی. )) (۹۹)

مارتیروس ګریګوروویچ اسلانوف ( ۱۸۹۷-۱۹۷۷ ) چې د خوشحال خان د دیوان مطالعه درلوده، ددغه دیوان په باب راورټي ته کابو نـژدې نظرلري: (( دده (خوشحال خان خټک ) دیوان چې څوځله چاپ شوی دی دده ستره هنري شهکاري ګڼله کېږي. دده ژبه ساده او نه صلابت نه ډکه ده . خوشحال د اسې نظمونه لیکلي دي، چې تقریباً هر ډول اجتماعي پېښې او دده شخصي ژوند پکې انځور شوی دی. دده د موضوعګانو لړۍ ډېره پراخه ده)). (ادبي څېړنې ، ۲۳۴ مخ)

له دغو خارجیانو نه ډېر پخوا د سوزندې وینا خاوند پیرمحمد کاکړ( ۱۲۱۶ هـ ق ژوندی) هم د خوشحال خان خټك د دیوان د رنګارنګۍ یادونه یو ځای داسې کړې ده:

که څوک بحر مواج وایي ورته ښایي
په دیوان کې یې مونده شي هر سان شعر

(پېر محمد کاکړ دیوان ، ۴۲مخ)

---

(۹۸) روهي، کاندید اکادمیسن محمد صدیق،دخوشحال په اثارو کې دمضمون او شکل تنوع، زیري (جریده ) د ۱۳۵۸ هـ ش کال ۳۳ ګڼه.

(۹۹) بریکوټي ، شېر افضل خان : د پښتو شعراو ادب تاریخ ، ملت پرنټرز ، لاهوري ، ۱۹۹۵ ، ۲۹۵ مخ

## (۲) فراقنامه :

د خان بل موږ ته رسېدلی اثر دده فراقنامه ده، چې د بند په دوران کې يې درنتهبور په مهيب کوټ کې په ۱۰۷۵ هـ ق کال بشپړه کړې ده. په فراقنامه کې باید د خان د بند د دوران ټول شعرونه موجود وای ، مګر داسې نه ده. د فراقنامې کومه خطي نسخه ، چې د پېښور موزيم کې ساتل کېږي، دخان ځينې محدود حبسيات پکې خوندي دي. د حبسياتو يوه درنه برخه په کليات کې شامله شوې ده. د فراقنامې په موجود متن کې ځلورويشت بشپړې غزلې راغلې دي، چې له دغو ځلورويشتو څخه درويشت يې په کليات کې هم خوندي دي. دوې نيمګړې غزلې دوې رباعی ، درې فردونه ، دوې ټوټې او يوه قصيده هم پکې راغلې ده، قصيده يې په ديوان کې موجوده ده. د فراقنامې اساسي برخه مثنوي ده. ددې مثنوي ځينې بيتونه په تاريخ مرصع او دستار نامه کې هم راغبرګ شوي دي.

د فراقنامې مثنويات د اجتماعي او سياسي انتقاد يوه درنه پانګه لري. د وطن ، يارانو کورنۍ او د خان د مينو په فراق او بېلتانه کې له سوزه ډک بيانونه لري.

د فراقنامې يوازينۍ نسخه د پېښور په ميوزيم کې خوندي ده. لومړی ځل ما دا متن رانقل کړ، بيا مې حاشيې پر وليکلې، مقدمه ، تعليقات او لغتنامه مې ورسره مله کړل او متن مې چاپ ته چمتو کړ. زما تهيه کړی متن په ۱۳۶۳ هـ ش / ۱۹۸۴ م کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي له خوا چاپ شو. فراقنامه په پېښور کې هم د ښاغلي همېش خليل په زيار چاپ شوې ده.

## (۳) پښتو منظومه بازنامه :

د بازونو له ساتلو ( باز دارۍ ) او پر بازونو له ښکار سره د خوشحال خان د زړه مينه وه. باز دده په شاعرۍ کې د تورې او مېړانې د سمبول په حيث جوت ځای لري. د بازونو روزنې او ساتنې چمونه ورښکاره وو. پر ناروغيو پوهېده او درمل يې هم ور معلوم وو. د خان په قصيدو کې دوې قصيدې هم د

باز داری په باب دي. له دې سربېره په ۱۰۸۵ هـ ق کال یې په (رستم) نومي ځای کې ځانګړې باز نامه هم په پښتو مثنوي نظم کړه. خان د همدې باز نامې په پای کې ویلي دي:

په نهه سوه نولس بیته تم شوه
خاتم ددې ښه نظم په رستم شوه
که ښینه، که علاج که غزلونه
همګي لري اوه څلویښت فصلونه
زر پنځه اتیا کلونه دهجرت دي
درجب ورځې اخر شوې نهایت دي
په لړم کې مې شروعه باز نامه کړه
په شپږ ورځې مې تمامه په خامه کړه

باید ووایو چې خان سوات ته د تګ په لاره کې د مردان په رستم نومي ځای کې ایسار شو او د تمېدو د دوران په شپږو ورځو کې یې باز نامه په ۹۱۹ بیتونو کې بشپړه کړه. د باز نامې خطي نسخې پیدا کېږي. د افغانستان په ملي ارشیف کې یې یوه نسخه شته (۱۰۰)نورې نسخې یې هم لیدل شوي. لومړی ځل د ارواښاد استاد رښتین په زیار په ۱۳۳۲هـ ق / ۱۹۵۳ م کال د پښتو ټولنې له خوا په کابل کې چاپ او خپره شوه. باز نامه وروسته بیا هم په کابل او پېښور کې چاپ شوې ده.

## (۴) سوا تنامه:

خان د سوات د سفر په ترڅ کې په پښتو مثنوي کښلې ده، ټول بیتونه یې ۳۹۱ دي. د خان له بهترینو اثارو څخه شمېرل کېږي.

---

(۱۰۰) مشتری، عبدالقدیر: فهرست نسخ خطي پشتوی ارشیف ملي، ریاست کلتور و هنر، کابل، مطبعه دولتي، ۱۳۶۵ هـ ش ص ۴.

اروابناد کانديد اکاډميسن محمد صديق روهي چې دا کتاب څېړلى دى، وايي چې سواتنامه د ټولنيزو اصلاحاتو هنداره ده. او دغه لانديې موضوعات يې پکې مرلي دي: جغرافيايي برخه ، اقتصادي برخه ، سياسي برخه ، کلتوري برخه او د ادبي نقد برخه.

سواتنامه ، افضل خان خټك په تاريخ مرصع کې هم را اخيستې ده. نورې نسخې يې هم شته. لومړی ځل اروابناد رسا په ارمغان خوشحال کې چاپ کړه، بيا د تاريخ مرصع په چاپي نسخه کې هم راغله. تحقيقي متن يې د تاريخ مرصع او ارمغان له مخې اروابناد استاد عبدالحی حبيبی چاپ ته اماده کړ او په ۱۳۵۸ هـ ق کال ددوی لـه شروحو او مقدمې سره د افغانستان د علومو اکاډمي له خوا چاپ شو.

## (۵) فضل نامه :

دا د خان يو بل منظوم اثر دى ، چې د خفيف بحر په مثنوي کې يې په ۱۰۸۹ هـ ق کال نظم کړی دی او نوم يې پرې فضل نامه ايښی دی،ده ويلي دي:

چې تمام مې په خامه کړ مايې نوم فضلنامه کړ

خان د ۱۰۸۹ هـ ق کال په روژه کې د فضل نامې به نظمولو پيل کړ او د اختر په ورځ ترې فارغ شوی دی. لکه چې ويلي يې دي

په روژه کې التيام شه د اختر په ورځ تمام شه

د فضل نامې خطي نسخې په کابل ، پېښور، رامپور او بريتانيا کې موندلې کېږي، [۱۰۱] لومړی ځل په ۱۹۵۲ م کال د محمد عبدالشکور په

(۱۰۱) د هند دکتابخانو پښتو خطي نسخې، ۲۲۱ مخ

اهتمام په پېښور کې د اداره اشاعت سرحد له خوا چاپ شوې ده. په ارمغان خوشحال کې هم راغلې ده.[۱۰۲]

نور چاپونه هم لري[۱۰۳] چاپي نسخې يې نيمګړې دي.

چاپي مثنوي يوولس بابه او ۱۱۸ فصله لري. ما د رامپور په رضا لايبريري کې د فضل نامې يوه داسې نسخه ليدلې ده، چې ۱۴ بابه او ۱۵۶ فصله لري. حمد، نعت، سبب تاليف او خاتمه هم ورسره مله دي.

په فضل نامه کې ديني او فقهي مسايل بيان شوي دي. د بيتونو شمېر يې څلور زرو شاو خوا دى.

استاد کامل ويلي دي: «په دې کتاب کې خان عليين مکان د عقايدو و اعمالو ډېر زيات مسايل ډېر اسان او په قريب الفهم طريقه بيان کړي دي. د تاليف مقصد يې دا دى چې طالب العلم ضروري احکام او مسايل په اسانى سره زده کړي».[۱۰۴]

## (٦) فالنامه:

د فال ايستلو داکوچنى رساله، ټول ۷۲ بيتونه لري. ددې رسالې خطي نسخې، ځانګړې هم پيدا کېږي او له فضل نامې سره يو ځاى هم راغلې ده. دا رساله هم، لکه فضل نامه د خفيف بحر په مثنوي کې نظم شوې ده.

فالنامه د خوشحال خان د ځانګړي اثر په توګه، لومړى ځل د استاد حبيب الله رفيع په زيار ميدان ته راووتله. دده له مقدمې، شروحو او تعليقاتو سره په ۱۹۸۵ کال د پېښور اکادمى له خوا چاپ شوې ده.

خان ددې رسالې په پيل کې ويلي دي:

لون - لون دي فالونه          طور- طور دي فالونه
درمال، د منجم دي          د جفري د نورو هم دي

---

(۱۰۲) ارمغان خوشحال: دسيد رسا په زيار، يو نيورسټي بک ايجنسي، پېښور ۱۹۶۴، ۸۰۱-۹۷۲ مخونه.

(۱۰۳) ګام په ګام له خوشحال سره، ۱۱۴ مخ.

(۱۰۴) خوشحال خان خټک، ۲۲۶ مخ.

هر سړی چې مسلمان وي　د هر کار پېشوا قران وي
په قران دې يې نظر شي　کا دې هسې چې فال ورشي (۱۰۵)

استاد حبيب الله رفيع په فضل نامه کې راغلې د خان لاندينی بيت :

(( ترجمه يې هم يو نوم دی　که يې بولې څوک موسوم دی))

په استناد وايي چې خان فضل نامه ترجمه کړې ،خو دا چې فالنامه د فضل نامې جز هم ده ، نو ځکه امکان شته چې دا دې هم ترجمه وي.[۱۰۶]

د خان خپل صراحت او د استاد رفيع تفسير دواړه سم دي، چې دا دواړه اثره بايد ترجمه وي. خو دا چې اصلي ماخذ يې نه دی ښودل شوی ، نو ځکه مو ذده په تاليفاتو کې راوړل . که ترجمه هم وي، ډېره ازاده او روانه ترجمه ده ، چې سړی يې د خان له نورو منظومو اثارو سره فرق نه شي کولای.

(۷)　طب نامه :

د زاړه طب نسخې يې په پښتو نظم کې راوړې دي. دنسخو تر څنګه ځيني نور له صحت سره مربوطې خبرې هم پکې بيان شوې دي. دا کتاب زياتره په مثنوي دی. يوه قصيده ،يوه غزله هم پکې راغلې ده (زنځيري ۶مخ).

ارواښاد پروفيسور تقويم الحق کاکا خېل دطب نامې په باب ليکلي دي:
(( ددې کتاب مختلفې نسخې د طب خوشحال خان او صحة البدن په نوم ځای په ځای مونتې شي. په کليات خوشحال خان او فضل نامه کې هم د طب په باب کې څه قصيدې او ابيات شامل دي))[۱۰۷]

---

(۱۰۵) ختک ، خوشحال خان : فالنامه دمصحف ، دحبيب الله رفيع په زيار ، پښتو اکېډمي – پېښور دجدون پريس ۱۹۸۵ م کال ، ۳۸ مخ .

(۱۰۶) رفيع، حبيب الله : د فالنامې مقدمه ، ۲۳ مخ .

(۱۰۷) کاکاخېل ، پروفيسور تقويم الحق : د طب نامې مقدمه ، پښتو اکېډمي – پېښور ، جدون پرس ، ۱۹۸۵ م، ۷مخ.

د طب نامې خطي نسخې پیدا کېږي. لومړئ ځل په ۱۳۴۵ / ۱۹۶۶ م کال د استاد رښتین په زیار پښتو ټولنې چاپ کړې ده. بل چاپ یې د پېښور پښتو اکاډمۍ دی ، چې متن یې د پروفیسور تقویم الحق کاکا خېل په زیار تهیه شوی دی. بیتونه یې تر شپږ و سوو اوړي.

دلته د یوې بلې خبرې یادونه ضروري ایسي اوهغه دا چې د طب نامې نسخې د طب شهاب افغاني په نامه ، له ځینو نورو پښتو طبي متونو سره یو ځای په ۱۳۰۷ هـ ق کال د لاهور په مجتبایي مطبعه کې چاپ شوې دي. د خوشحال خان د طب نامې نسخې د هغه کتاب په ۲-۳۷ مخونو کې راغلې دي.

غالب ګمان دی، چې مېرمن خدیجه فېروز الدین همدغه طب شهاب لیدلی دی او په خپل تیسس (دخوشحال خان ژوند او اثار) کې یې د صحت البدن تر څنګه طب شهابي هم دخوشحال په اثارو کې شمېرلی دی.

## ب: منظومې ترجمې:

منشي ګوپالداس د تاریخ ضلع پشارو په ۳۰۸ مخ کې لیکلی دی ، چې خوشحال خان د لوی علم خاوند و ، د بېلا بېلو علومو کتابونه یې په پښتو ترجمه کړي دي. په ځانګړي ډول یې په طب کې ډېر کتابونه ترجمه کړي دي (پشتون کون؟ ۳۱۶ مخ).

د منشي ګوپالداس له خبرو خو دا څرګندېږي چې خان ډېر اثار پښتو کړي دي خو موږ ته معلوم یې دادي:

### (۱) نام حق:

د ماوراء النهر، افغانستان او هند تر نیمې وچې پورې د پرتو سیمو دمسجدونو په درسي نصاب کې د پنج کتاب یا پنج ګنج په نامه یو دري کتاب شامل دی. ددې پنج کتاب دویم کتاب د نام حق منظومه رساله ده. د هرمان اته په قول : مقدمة الصلوة یا نام حق د مولوي شرف الدین بخاري

تاليف (د ۷۰۳ هـ ق د جمادی الاول وسط) دی، چې د نمانځه، روژې او غسل عمده احکام بيانوي.[۱۰۸]

خوشحال خان خټک ته به د خپلې سيمې د جوماتونو په نصاب کې ددغه کتاب ارزښت څرګند و، نو يې ځکه غوښتی دی چې خپلو خلکو ته يې د دوی په ژبه په پښتو ترجمه کړي. نام حق په ۱۰۶۶ هـ ق کال د دولس څپيزې مثنوي په کالب کې پښتوشوی دی.

د خوشحال خان بابا په اثارو کې دنام حق يادونه دمخه چا نه وه کړې. ښاغلي همېش خليل ته دنام حق د پښتو ترجمې دوې پاڼې په لاس ورغلې او په ۱۹۹۶ م کال کې يې له مقدمې شروحوو او حواشيو سره په يوه رساله کې چاپ کړې او دا خبره ترې څرګنده شوه، چې خوشحال خان بابا نام حق هم پښتو کړی و. اميد دی، چې يوه ورځ يې بشپړه نسخه هم تر لاسه شي.

ددې ترجمې په پای کې خان ويلي دي:

دا کتاب مې ترجمه په افغاني کړ
افغانانو ته مې کار په اساني کړ

که خبرپه ډېر دانش په دانايي يم
په دا کار کې هم پيرو د سنايي يم

که غلط پکې واقع وي ويې ګوره
په کرم يې اراسته کړه د ما وروره

چې يې لولي يا يې ياد کا يا يې کښينه
په خوشحال دې د دعا مهرلړينه

---

(۱۰۸) اته، هرمان: تاريخ ادبيات فارسي، ترجمه دکتر رضا زاده شفق، تهران، ۱۳۵۱ هـ ش، ص ۱۱۹

هغه کال چې مې مقال ددې کتاب کړ
د هجرت سن مې زر شپږ شپېته حساب کړ[۱۰۹]

## (۲) اخلاقنامه :

داسې ښکاري ، چې خان عليين مکان د خپل ژوند په وروستيو کلونوکې دحسين واعظ کاشفي (۹۱۰ هـ ق مړ) اخلاق محسني په پښتو نظم اړاوه . اوه لس بابه چې يې ترجمه کړې، نو يې بيا د پاتې برخې دترجمې سپارښت خپل کوم زوی ته کړی دی. دا خبرې د چاپي اخلاقنامې په وروستي باب کې داسې زاغلې دي:

اغازکړمـه اوس لـه مانـه
واوره نـوم د کتـاب جانـه
نـوم يـې شـه اخلاقنامـه
پـرې د نظـم خاتمـه
تـر اووه لـس بابـه يـاره
بابـا ووې لـه ګفتـاره

* * *

چـې بابـا فرمـايش ماتـه
کـړی وه نمـايش ماتـه
پـس لـه مـا کـه زمـا زويـه
چـې قـوت لـرې دابويـه
تـر څلوېښتـو بـابوپـورې
دا کتـاب کـړه وبلـه پـورې

[۱۰۹] ختك ، خوشحال خان : نام حق، دهمېش خليل په زيار، ارټ سنټر پرنټرز، پېښور، ۱۹۹۴ م کال ، ۲۷-۲۸ مخونه .

په خپل نام یې تمام ته کړه
په ښه رنګ یې انجام ته کړه
او که نه تر څلوېښت بابه
داقوت نه وي له تابه
په شل بابه اکتفا کړه
په هر پندیې عمل واکړه
زه قوت هومره لرمه
چې ترشل که وړسمه
دا ستا د مهر، دعا وه
چې وماته یې عطا وه
او کنه زه چې ضعیف یم
ددې کار کله حریف یم
زما شعر خوارو زاردی
لږ قوت اوم مې اشعار دی (۱۱۰)

له لوړه بیانه داسې ښکاري چې د احلاقنامې او وه لس بابه د خان علیین مکان خوشحال خان ختك ترجمه ده.

د اخلاقنامې په پیل کې ترحمد و مناجات وروسته نعت . بیا د څلورو یارانو مناقب او ورپسې حسب حال راغلی دی. بیا ابتدا د کتاب. تر دې بحث وروسته ، لومړی باب دی، او لکه چې وویل شول او وه لس بابه یې د خان او پاتې یې د کوم زوی ترجمه ده.

د اخلاقنامې په باب د لاندې خو یادونو له راوړو هم چاره نشته .

(۱۱۰) اخلاقنامه ، د همېش خلیل په زیار، قامي ، مکتبه ، پېښور، خیبر پرنټرز، اول چاپ ۱۹۸۲م، ۱۷۰- ۱۷۱ مخونه .

۱ / څنګه چې مو یې د مخه یادونه وکړه، اخلاقنامه د اخلاق محسني ترجمه ده .اخلاق محسني په ۹۰۰ هـ ق کال په څلوېښتو بابونو کې تالیف شوی دی. دهند په نیمه وچه کې یې لوست ډېر رواج پیدا کړی و.[۱۱۱]

۲ / څیني پښتانه څېړونکي ، لکه : ارواښاد عقاب ختټك او.پروفیسور قلندر مومند ، خوشحال خان ختټك ته د اخلا قنامې په نسبت کې شك کوي ددې شك یو ښکاره علت دادی چې د خان نوم ښکاره پدې کتاب کې نه دی یا د شوی. دغو دواړو پوهانو پدې اړه خپلې نظرېې او دلایل د مقالو په ترځ کې د پېښور اکادمی په نشراتي ارګان پښتو مجله کې خپاره کړي دي.

په دغسې مواردو کې متني قرینې او د شاعر له نورو اثارو سره د اثر کتنه اوڅېړنه موضوع روښانوي او سړی یوې نتیجې ته رسوي. زما په پوهه خان ته د اخلاقنامې د اوولسو بابو د ترجمې په نسبت کې شك کول سم نه برېښي .که د اخلاقنامې د (حسب حال ) تر سرلیك لاندې راغلي بیتونه سړی ولولي ، نو د سړي شك زایلېږي. او دا ځکه چې حسب حال بیتونو ته ورته خبرې خان په خپلو نورو اثارو کې په لسګونو ځایو کې کړې دي او دغسې ردې او سپیني خبرې له خوشحال خان بابا پرته بل څوك نشي کولای.

۳ / د اخلاقنامې له اووه لسم بابه وروسته برخې ضرور د خان کوم زوی ترجمه کړې دي. ددغه زوی نوم یې هم متن کې نه دی څرګند. د محققانو سترګې عبدالقادر خان او یا صدر خان ته وراوړي. خو ماته دا دواړه نه ښکاري ، ځکه دا دواړه د اوچتې پایې شاعران دي او د ټول کتاب د ترجمې قوت هم د عمر په لحاظ او هم د استعداد په لحاظ ورسره و. زما په پوهه دا ترجمه به دخان کوم بل زوی کړې وي چې د خان د مړینې ۱۱۰۰ هـ ق شاو خوا کې یې عمر ډېر وي . دا وخت د عبدالقادر عمر کابو ۳۵ کالو او د صدر خان هغې د ۳۲ کالو شاو خوا و.

---

(۱۱۱) کمیا ، خانلری،داکتر زهرا : فرهنګ ادبیات فارسی، انتشارات توس ،تهران ۱۳۶۶ ش ،ص ۳۸.

۴ / د اخلاقنامې متن دُ دستار نامې د هغې خطي نسخې په حاشيو کې راغلی دی، چې د پېښور پښتو اکادمي په خطي مجموعه کې ساتل کېږي. دا متن تر هر چا د مخه استاد حبيب الله رفيع پيدا او بيا يې را نقل کړ. څو کاله يې پر کار وکړ مقدمه او شروح يې پر وليکل خطاطي هم شو، خو دچاپ وار يې لانه و راغلی، چې رفيع صاحب مهاجر شو او دا کتاب پاتې شو. د ښاغلي همېش خليل وار ړومبی شو. ده هم دا متن رانقل او چاپ ته اماده کړ او لومړی ځل په ۱۹۸۲ م کال د پېښورپوهنتون د پاکستان سټډي سنټر له خوا چاپ شو.

د خان د معلومو منظومو ترجمو په اړه بايد دا يادونه ضرور وکړم، چې ده ترجمې ازادې، روانې او په دواړو ژبو کې يې لاسبري ځنې څرګندېږي. د اخلاقنامې ترجمه هم ازاده ترجمه ده او دا څو بيته يې د نمونې لپاره وړاندې کېږي.

درتــه ووايم د عــــزم
چــار د عــزم ګنه جــزم
عــزم قصــد دی د مردانـــو
نــه چــې چـارده د زنـانو
مرد چې قصد وکـا د چـارې
وبـــه نـــه دري پـــه لارې
څو تمـام هغـه کـار نـه کـا
نـه غفلت نـه بـه نـورڅه کـا

* * *

يـا دمـاغ د تــورې پـرېږده
يـا وتــورې تــه ســرکښېږده
يــا هوډونـو و تــه شــاکړه
يا پـه هـوډ کې کوربيديا کـړه

يـا مـــلا مـــه تـــره وکارتـــه
يـا تـرې مـــه ګرځه پـــه بيارتـــه

(اخلاقنامه ، ۱۳۳ مخ)

## ج : منثور اثار:

د خوشحال خان ختک کوم نثرونه چې موږ ته رسېدلي دي، پدې نثرونو کې د تاراګړه د مهم د پېښو حالونه هم شامل دي. لکه افضل خان ختک چې ليکلي دي:

((هر ګاه چې بادشاه بهادر خان او اصالت خان په مهم د تارا ګړه تعيين کړه خان عليين مکان يې هم وباله له قبيلې له قومه له اولسه سره ورغی. د هغه مهم احوال ده په خپل د سختط ليکلي دي)) [۱۱۲]

د تارا ګړه مهم په ۱۰۵۱ هـ ق کال کې پېښ و. [۱۱۳] ، که خان دا احوالونه هماغه وخت ليکلي وي ، نو په معلومو نثرونو کې موږ ته رسېدلې پخوانۍ نمونه همدا د تارا ګړه د مهم احوال دي. بنايي خان همدا د ، ۱۰۵۰ هـ ق کال شاو خوا په پښتو نثر ليکلو پيل کړی وي او يا تر دې د مخه [۱۱۴] دا هم امکان لري ، چې د تاراګړه د پېښې احوال دې يې په حافظه کې ساتلي وي او وروسته دې ليکلي وي؟ البته دا يو احتمال دی.

هسې چې د خان منظوم اثار له خپلو ځانګړيو فکري او هنري ارزښتونو برخوردار دي ، دغسې يې په نثر کې موږ ته داسې څه راپرېښي دي، چې موضوعي ارزښتمني يې تر منظومو هغو څو چنده زياته ده . د خان دا لاندې منثور اثار موږ ته ښکاره دي.

---

(۱۱۲) تاريخ مرصع ، ۲۱۶ مخ

(۱۱۳) په دانشنامه ادبيات فارسي ج ۳ ص ۳۷۷ کې يې ددغه مهم کال ۱۰۵۲ ه ش ښودلی چې سم نه دی،

(۱۱۴) هېواد مل، زلمی: د پښتو نثر اته سوه کاله ، ملت پرنټرز، لاهور، ۱۳۷۵ ه ش، ۲۸۷ مخ.

## (۱) بیاض:

د خوشحال خان د منثورو لیکنو درنه برخه هغه متفرقې نوشتې دي، چې په بېلا بېلو وختونو کې یې لیکلي دي. سفري او جنګي ګزارشونه، شخصي او کورني حالونه، وصیت نامه او ځینې تاریخي پېښې پکې راغلې دي. ددغو نوشتو اصلي مسودات تر اوسه نه دي موندل شوي. خو افضل خان له دغو نوشتو څخه په تاریخ مرصع کې د خان د بیاض په نامه ټکي ټکي اوږده اقتباسونه کړي دي او دخان د منثورو نوشتو یوه ذخیره یې تر موږه رسولې ده.

افضل خان په تاریخ مرصع کې د خان د راوړو دغو اثارو اصلي منبع د خان علیین مکان بیاض ښودلی دی، نو ځکه په پښتو ادبي څېړنو کې بیاض دخان یو ځانګړی اثر ښوول شوی دی. او ماهم د بیاض په نامه دلې دروپېژانده.

اروانښاد عقاب ختټک ویلي دي، چې افضل خان په تاریخ مرصع کې د خان له بیاض نه شپږ شله ځایه اقتباسات کړي دي. (خوشحالنامه).

نوموړي عقاب یو بل ځای ویلي دي، د خان له بیاض او بیاضونو چې په تاریخ مرصع کې کوم اقتباسونه شوي دي، وروستی اقتباس یې د ۱۰۸۶ هـ ق کال پېښې بیانوي [۱۱۵]. تر دې نېټې وروسته خان څوارلس کاله نور هم ژوندی و ضرور به یې نور منثور اثار هم کښلي وي.

په تاریخ مرصع کې د خان راغلي منثور اثار استاد رفیع پرموضوعي لحاظ سره بیل کړي او څو رسالې یې ځینې جوړې کړې دي. لکه:

<u>هندکوه نامه</u>: د بلخ او بدخشان د سفر ګزارش، چې د یوې سفرنامې حیثیت لرلای شي او په پښتو کې تر ټولو زړه سفر نامه همدا هند کوه نامه کېدای شي.

---

[۱۱۵] عقاب، سرفراز خان ختټک: تاریخ مرصع د چا دی؟ پښتو مجله، پښتو اکادمي، پېښور، د ۱۹۶۹ کال د جون ګڼه ۲۴ مخ.

. وصيت نامه : دا وصيت نامه ، خان د ۱۰۷۶ هـ ق کـال دروژې پر لسـمه د اشرف خان هجري په نامه د رنتهبور په کوټ کنبلـې او د عمر اسمعيل خېل په لاس يې روه ته را استولې ده.

ځان نامه : نسبنامه او تاريخنامه . درې نورې نامې دي چې د خان عليين مکان له همدغو منثورو نو شتو څخه ترتيب شوې دي.

## (۲) دستار نامه :

د خان ډېر ويا ړمن اثر د ستاّر نامه ده .دا کتاب خان د ۱۰۷۶ هـ ق د ربيع الاول پر اووه لسم / ۱۶۶۵ م کال د رنتهبور په کوټ کې بشپړ کړی دی. خان دا کتاب په داسې شرايطو کې ليکلی دی چې کتابونه ورسر نه وو. خان خپله دې نقيصې ته داسې اشاره کړې ده: (( کتابونه را څخه نه وو او که نه بنې ټکې مې به په دا کتاب کړې وې))[۱۱۶]

اما موږ ګورو چې په دستار نامه کې د ځينو کتابونو د نومونو يادونه هم شوې. د استشهاد لپاره دری ژبې د ډېرو شاعرانو بيتونه او نور اقـوال او امثال پکې راغلي دي. دا ګرده مطالب ده له خپلې حافظې په دستار نامه کې خوندي کړي چې هم يې د قوي حافظې او د مطالعې د وسعت ښکارندويي کوي

د ستار نامه يوه مقدمه لري. دا مقدمه پر دوو فصلونو وېشل شوې ده. لومړی فصل يې د دستار او د دستار د قابليت په باب دی. دويم فصل يې : (( ذکر د ولايت او اسباب سياست او رياست )) .

د کتاب متن پر دوو بابو وېشل شوی دی په لومړي باب کې دا الاندې شل هنرونه : د ځان معرفت ، علم ، خط ، شعر ، تيراندازي، اب بازي، اسپ تازي ، ښکار، شجاعت ، سخاوت، د ازواجومعاشرت، د اولاد تربيت ، تاديب خدم اوحشم اسباب معيشت ، زراعت ، تجارت او تحقيق نسب څېړل شوي دي.

---

(۱۱۶) دستار نامه ، ۲۳۸ مخ

په دويم باب کې د سياست په لوازمو کې شامل، دا لاندې شل خصلتونه بيان شوي دي (( مشورت، عزم ، خاموشي، راستي، شرم حيا، خلقت ، مروت، عفوکرم ، تميز، عدل و انصاف، توکل، دخپل نوازش ،شرم ، خوف و رجاء، دملک انتظام ، همت، حلم، غيرت، حزم، احتياط،طاعت ورع، استغفار)).

دستار نامه په پای کې يوه خاتمه لري، چې د حماقت علامتونه يې پکې ښودلي دي.

د دستار نامې په مقدمه کې د هدف او د متن له مطالعې ځرګندېږي چې په دستارنامه کې خان د مشرۍ صفات ښوولي او دا يې ويلي دي چې ملوک بايد د دستار قابليت ولري، د دستار مقام و منزلت وساتي او درياست او سياست له لوازمو دا شل هنرونه او شل خصلتونه بايد خپل کاندي اوکه دا يې خپل کړل نو بيا په چې دغه ملوک يا امير د دستار سړی او يا مشرته قابل وويل شي.(١١٧)

دستار نامه د خپلو محتوياتو له پلوه د شرقي له ځينو نورو کلاسيکو اثارو سره شباهتونه لري.

علامه عبدالحی حبيبي (١٣٢٨ - ١٤٠٤ ه ق) په خپله يوه څېړنه کې ويلي دي چې د دستار نامې ځينې فصلونه له قابو سنامې او سياست نامې سره موافق دي او ځينې يې د خان ابتکار ګڼل کېږي، د ماوردي، جاحظ او غزالي له آثارو سره نزديکتونه هم پکې ليدل کېږي.(١١٨) استاد حبيبي په دې عقيده دی چې له دستار نامې د خوشحال بابا د جهانداری نظريه ځرګندېږي.

د ستار نامه له بېلا بېلو اړخونو د څېړنې موارد لري، ځينې خواوې يې لږ و ډېر څېړل شوې او نورې ډېرې برخې لا پاتې دي.

(١١٧) د پښتو نثراته سوه کاله ، ٢٩٠ مخ.

(١١٨) حبيبي ، پوهاند عبدالحی: د خوشحال ختک د جهانداری نظريه ، ننګيالی پښتون ، د معتمد شينواری په زيار ، پښتو ټولنه کابل دولتي مطبعه ، ١٣٤٥ ه ش ١٢ مخ.

د دستار نامې په بېلا بېلو برخو کې د خان نظريه د ډېر دقت وړ دی.

د دستار نامې خطي نسخې په پېښور او هند کې شته. لومړی ځل دا کتاب په ۱۹۵۲ م کال د محمد عبدالشکور په اهتمام چاپ شو، دويم ځل په ۱۳۴۵ /۱۹۶۶ م کال په کابل کې هم چاپ شوی دی. نور چاپونه هم لري.

(۳) **ساعتنامه:**

د خوشحالپوهنې په مطالعاتو کې د خان ددغه اثر نوم لومړی ځل ښاغلي رفيع ياد کړی دی. د زنځيري په ۸ مخ کې يې ددې رسالې په معرفي کې کښلي دي: ((دا د خان يوه ډېره کوچنۍ رساله ده، چې د ښه او بد شاګوم (شګون) په اساس د اوونۍ بېلا بېل ساعتونه ويشي. متن يې راقم الحروف چاپ ته چمتو کړی دی)).

دارساله د خان د دستار نامې د هغې خطي نسخې په ځنډو کې راغلې، چې اخلاقنامه يې هم په ځنډو کې راغلې ده. د ساعتنامې متن ما خپله نه دی ليدلی، نو ځکه تبصره هم پر نشي کېدای، يوازې د استاد رفيع د ليکنو په استناد يې پر لوړه پېژندنه بسنه وشوه.

## د ، هغه آثار چې نومونه يې ښکاره دي:

د خوشحالپوهنې په څېړنو ، تذکرو او ادبي تاريخونو کې د خوشحال خان د ځينو داسې اثارو يادونه هم شوې ، چې تر اوسه نه دي ميندل شوي. زه ددې څېرکي په دې برخه کې دا کتابونه ښيم:

(۱) **هدايه** : د محمد هوتك په پټه خزانه کې راغلي دي: ((نقل کا چې خوشحال بېګ هدايه په فقه کې په پښتو راوا ړوه)) [۱۱۹]

هدايه يو فقهي کتاب دی ، چې عبدالله الزبير بن احمد الشافعي (۳۱۷ مړ) تاليف کړی دی. سړی نشي پوهېدای، چې دا ترجمه به نثر

(۱۱۹) پټه خزانه ، ۸۰ مخ

وي او که نظم. خو په ځینو ځایونو کې یې دستار نامې او بیاض تر ځنګه هدایه هم په نثري کتابونو کې یاده کړې ده.[۱۲۰]

(۲) **ریاض الحقیقت** (۳) **فرخنامه** : دا د وه کتابونه میرمن خدیجه فیروزالدین په خپل تیسس : Life and works of .... Khushal Khan) کې د انګریز ختیځ پوه بدولف په حواله یاد کړي دي. په (خوشحال خان ختک) ۲۲۶ مخ کې یې ویلي دي چې فرخنامه د توري او قلم مناظره راغلې ده.

(۴) **عنایه** : دا کتاب د هانري جارج راورټي په حواله د خوشحال په اثارو کې یاد شوی دی. د پښتو نشر هنداره نومي کتاب په ۹۸ مخ کې لولو : (( مستر راورټي د خوشحال خان په نثري کتابونو کې عنایه هم راوړې ده او وایي چې له عربي څخه یې پښتو کړې ده)).

(۵)**ائینه** : استاد کامل لیکلي دي: (( ایئنه فقهي کتاب دی ، چې له عربي څخه پښتو شوی دی)) (خوشحال خان ختک ۲۲۵ مخ)

(٦)**رسالهء مناظره** : میرمن خدیجه فیروزالدین وایي : دا رساله یې د سوات په سفر کې له میانور سره د بحث په نتیجه کې لیکلې ده[۱۲۱] نوموړې میرمنې په خپلو ماخذوکې چې د خوشحال کوم اثار ښوولي دي. هلته یې درسایل مناظره یادونه هم کړې ده اودا ترې زباتیږي چې دا رساله یا رسایل میرمن خدیجه لیدلي وو.

---

(۱۲۰) رښتین ، پوهاند صدیق الله : د پښتو نثر هنداره، یونیو رستي بك ایجنسي ، پېښور ۱۹۹۲ م ، ۹۷ مخ

(۱۲۱) KhadiJah begem. ferozuddin : life and works of .... Khushal Khan . 1942 p. 291.

دا خبره باید هېره نه کړو چې په سوات نامه کې هم له میانور سره د خوشحال خان د مباحثې بیانونه راغلي دي[۱۲۲]، خو مېرمن خدیجه د خپلو ماخذو په فهرست او همدارنګه د خوشحال د اثارو د معرفی په برخه کې سواتنامه بېله او رسایل یا رساله مناظره بېل راوړي . (۲۸۴ مخ).

(۷) **کفایه** : مېرمن خدیجه ، کفایه هم د خوشحال په اثارو کې یاده کړې ده. خوشحال خان یو ځای د هدایې او کفایې یادونه داسې راوړې ده :

هدایه ، کفایه دواړه په پښتو کاندي موزون •

(۸)**تفسیر سوره یوسف**: د اروابناد محمد نواز خټک ( ۱۹۱۱-۱۹۸۳ م ) په زیار تهیه شوې ( د تورې او قلم خاوند ) نومې مجموعې په ۲۹ مخ کې د خوشحال خان په تالیفاتو کې د سوره یوسف د تفسیر یادونه هم شوې ده.[۱۲۳]

دغه لوړ یاد شوي اته اثرونه چې څېړونکیو د خوشحال خان په تالیفاتو کې شمېرلي دي، زما د معلوماتو له مخې دغه اثار تر اوسه نه دي لیدل شوي. امید دی، چې یو وخت پیدا شي.

له دې سربېره په ځینو څېړنوکې دنورو کسانو اثار هم خوشحال خان ته منسوب شوي دي. دا چې اوس موږ د خوشحال خان پر اثارو بحث کوو، نو بویه چې دهغو اثارو یادونه هم وکړو، چې ده ته منسوب شوي، خو دده نه دي.

مونټ ستوارټ الفنستن ( ۱۷۷۹-۱۸۵۹ ) د کابل سلطنت بیان کې لیکلي دي چې خوشحال خان ، د بابل له اسارته تر خپله دورانه پورې د افغانانو تاریخ لیکلی دی[۱۲۴] د الفنسټن د همدې یادونې پر بنا به وي چې

---

(۱۲۲) خټک ،خوشحال خان: سواتنامه . د همېش خلیل په زیار ،مرکزي خوشحال ادبي ثقافتي جرګه ، شرکت پرنټنګ پریس لاهور ۱۹۸۶ ، ۸۱-۸۲ مخونه .

(۱۲۳) نومیالي شاعران، ۸۷ مخ.

(۱۲۴) افغانان، ۱۹۴ مخ.

په ځينو څېړنوکې يې د خوشحال خان په اثارو کې يو کتاب (د پښتنو تاريخ) په نامه ښودلی دی. سره له دې چې تر ټولو د مخه هانري جارج را ورټي د الفنستن دغه نظريه ناسمه بللې وه او د خپل ليکلي پښتو ګرامر په مقدمه ۲۸ مخ کې يې ويلي چې الفنستن چې د کوم تاريخ يادونه کړې، دا د افضل خان تاريخ مرصع دی (خوشحال خان ختك ۲۲۹مخ) که څه هم خوشحال خان په دستار نامه کې د يو تاريخ د ليکلو وعده کړې وه، لکه چې ليکلي يې وو: (( که حق تعالی نجات راکړه و داغ ورکړه شي درنتبور ورغلم په کور عليحده تاريخ به انشا شي ، چې يې تماشه شي)) (دستار نامه ، ۱۵۴ مخ) . د بياضونو (ډايري) له ترتيبه داسې ښکاري، چې خان ددغه تاريخ ليکلو نيت درلود ، خو بريالی نشو اولمسي يې داکار وکړ. دغه ډول دکليله و دمنې پښتو ترجمه هم خوشحال خان ته منسوب شوې ده . دا تېروتنه تر ټولو د مخه پروفيسور برنهارد دورن ( ۱۸۰۵-۱۸۸۱ م ) کړې ده. د پښتو منتخبات په مقدمه کې يې ليکلي دي چې عيار دانش ملك خوشحال ژباړلی دی [۱۲۵]

دغه نظريه هم له پخوانه تر اوسه پورې ډېرو پوهانو رد کړې ده او دا يې ويلي دي چې د عياردانش پښتوترجمه د خوشحال خان د لمسي افضل خان ختك ده، چې دخوشحال خان تر مړينې اته ويشت کاله وروسته يې په ۱۱۲۸ ﻫ ق کال کې دا کار سرته رسولی دی. ( د پښتو نثر اته سوه کاله ۲۱۹ مخ ) .

دخواشينی خبره ده ، چې ددې تېر وتنې له سمون سره سره بيا هم دا تېروتنه تکرارېږي هغه اثار چې په وروستيو پنځو کلونو کې چاپ شوي دي، او دا تېروتنې پکې راغلې دا دي:

(۱) **دپښتو ادبياتو معاصر تاريخ** : پدې کتاب کې د پښتو تاريخ او عياردانش دواړه د خوشحال خان بلل شوي دي [۱۲۶]

---

(۱۲۵) دورن ، پروفيسور برنهارد: پښتو منتخبات (مقدمه ) ژباړن.محمد صديق روهي، پښتو ټولنه ، کابل، دولتي مطبعه ۱۳۵۶ ﻫ ش شپږم مخ.

(۱۲۶) سنګروال، شهسوار برنهارد: پښتو منتخبات (مقدمه) ژباړن ، محمدصديق روهي، پښتو ټولنه ، کابل ، دولتي مطبعه ۱۳۵۶ ﻫ ش شپږم مخ .

(۲) **د استاد رښتین**، دپښتو ادب تاریخ دریم چاپ (۱۳۷۷ هـ ش / ۱۹۹۸ م) کې هم دا دواړه کتابونه د خوشحال خان بللي شوي دي او د عیار دانش د پښتو ترجمې د نثر نمونه یې هم د خوشحال خان د نثر د نمونې په توګه راوړې ده[۱۲۷].

(۳) **دانشنامه ادبیات فارسي**: پدې کتاب کې سره له دې چې دا دواړه کتابه د خوشحال خان بلل شوي دي ورسره یې دوې غلطۍ نورې هم کړې دي یو دا چې د پښتو تاریخ یې (تاریخ پشتو) لیکلی دی او بل دا چې ویلي یې دي: ((عیار دانش چې د کاشفي د انوار سهیلي ترجمه ده))[۱۲۸] باید یادونه وکړو، چې عیار دانش په دری ژبه ابوالفضل لیکلی او افضل خان عیار دانش د علم خانه دانش په نامه ترجمه کړی دی. انوار سهیلي بل کتاب دی. دغه تېروتنه د استاد رښتین د پښتو ادب تاریخ په درېیم چاپ کې هم راغلې ده.

## هـ، زنځیری:

د خوشحال خان په باب مطالعاتو کې د زنځیري یادونه تر ټولو د مخه . هانري جارج راورټي کړې ده. ده د خپل لیکلي پښتو ګرامر (دویم چاپ) په ۲۸ مخ کې لیکلي دي: ((خوشحال خان یو ډول مخفف نویسي هم ایجاد کړې وه، چې په دغه مخفف نویسۍ باندې یوازې دده کورنۍ پوهېده او بس. دې مخفف نویسۍ ته به دوی (زنځیري) ویل)).

د راورټي دهمدې یادونې له مخې زیاترو خوشحال څېړونکیو او خوشحالپوهانو د زنځیري په باب دراورټي نظر ته وړته خبرې کړي او د خان د اثارو په لړ کې یې زنځیري هم یاده کړې ده.

استاد حبیب الله رفیع لومړنی څېړونکی دی ، چې د زنځیري مساله یې پسې وسپړله او وخېړله او د زنځیري په نامه یې ځانګړی اثر وکېښ. چې

(۱۲۷) دپښتو ادب تاریخ ۴۸ مخ.

(۱۲۸) د انشنامه ادبیات فارسي ۳۷۹/۳.

لومړی ځل په ۱۳۶۱ / ۱۹۸۲ م کال په کابل کې او بیا وروسته په پېښور کې چاپ شو. ده د خپلو څېړنو او پلټنو په مرسته کړه، چې زنځیري نه مخفف نویسي ده او نه مختصر نویسي، بلکې لیکدو ددی. چې د پښتو د خاصو ږغو لپاره خوشحال خان ختک تاکلی دی او زموږ دلیکدود په تاریخ کې د ختکو د لیکدود په نامه یادېږي.

د خبرې د ښې روښانتیا لپاره، مزه دلته د استاد رفیع خپلې خبرې را اخلم:

(( .......له زنځیري نه مطلب کومه مرموزه ژبه، نه بلکې د خوشحال لیک دود بېل مکتب دی او هم زنځیري دده کوم ځانګړی اثر نه، بلکې د پښتو د ځانګړو غږونو له پاره د ځانګړو توررو هغه شکلونه دي چې دده او دده د کورنۍ د ټولو اثارو په خطي نسخو کې یې مومو.........)) (زنځیري، ۱۸ مخ) یو بل ځای لیکي:

(( زنځیري له دې امله ورته ویل شوې چې خوشحال خان ختک د پښتو د خاصو غږونو دتورو له پاره ( ء ) (همزه) ورکړی او پرې نښنه کړي یې دي ....)) چې دا نښنه د زنځیر د ماتې شوې کړۍ غوندې ښه لري او دځو ( ء ) همزه سره نښلول د زنځیر ښه غوره کوي ....)) ( زنځیري ۲۳ مخ).

## و، په نورو ژبو لیکلي اثار:

د خوشحال خان ختک د اثارو له مطالعې څرګندېږي چې دی په عربي، دري او هندي ژبو پوهېده. دخان زوی عبدالقادرخان (۱۰۶۳ - ۱۱۲۶ هـ ق) دګلدستې په مقدمه کې لیکلي دي: (( ... په علم عربي کې یې لږ د خل و، په فارسی کې سرآمد د خپل عصر و. شعر یې فارسي - پښتو انشا کاوه.....)) [۱۲۹] خان د خپلې مورنۍ ژبې ( پښتو ) تر څنګه په نورو ژبو کې هم د څه

(۱۲۹) ختک عبدالقادر خان: ګلدسته، دخیال بخاري په زیار، پښتو اکادمي، پېښور، جدون پریس، ۱۹۸۹، مقدمه.

لیکلو او ویلو توان درلود، چې دا دي دا ډول اثارو یې اوس پدې برخه کې در پېژندل کېږي.

## الف، دري اثار:

خوشحال خان ختک د دری ژبې د ډېرو شاعرانو له کلام او اثارو سره اشنا و.

دده د پښتو اثارو له دقیقې مطالعې سړي ته څرګندېږي، چې ده د دري ادب دسترو شاعرانو ،لکه: فردوسي،ناصر خسرو، سنايي، نظامي، معزي، مولانا جلال الدین محمد، سعدي، امیر خسرو، حافظ، کمال خجندي او نورو د اثارو مطالعه درلوده، پر علمي مقام یې پوهېده، په خپلو پښتو شعرونو کې یې د سعدي، حافظ، مغزي او نورو أشعارو ته پاملرنه درلوده.

دوکتور عارف عثمان د خوشحال خان په رباعیاتو کې ځینې رباعۍ په نخښنه کړي، چې فکر او نظر یې دخیام له رباعیاتو سره یوشانوالی ښیي. (۱۳۰)

ماته خپله د خان د لاندې رباعي:

«ګوره پرې غوږ کړه شپیلۍ څه وايي
بېلتون پرې ورغی هر ګوره ښه وايي
سینه یې ګوره څو ځایه شوې ده
زار د فراق کا نور څه هیڅ نه وايي»

د حضرت مولانا جلال الدین محمد بلخي(۶۰۴-۶۷۲ هـ ق) دمثنوي معنوي د لومړنیو بیتونو ازاده ترجمه ښکاري،لکه دا بیتونه:

بشنو از نی چون حکایت میکند
از جدایيها شکایت میکند

---

(۱۳۰) دیوان خوشحال خان ختک، ۲۱۶مخ.

کـــز نیســـتان تـــامرا بـــبریده انـــد
از نفـــیرم مـــرد وزن نـــالیده انـــد))

زموږ استاد اکادمیسین پوهاند عبدالشکور رشاد په خپله یوه مقاله کې چې (د کدو او چنار مناظره) نومېږي او په پنځوسمو کلونو کې دزېري جریده کې خپره شوې ده. د خوشحال خان د دې لاندې توتې:

((کدوچې د چنار په ونه وخوت
و چنار ته یې اغاز کړه دامقال))

منبع هم پارسي ادب ښوولی دی. له دې سربېره نوموړی استاد په خپله یوه بله مقاله کې چې (دخوشحال په دیوان کې دګلستان او بوستان د ورمو څرک) نومېږي، د خان ددیو ان هغه اشعار ښودلي، چې د سوري شېرازي له بوستان او ګلستان نه ترجمه شوي دي.[۱۳۱]

لنډه دا چې خان له دري او ورسره عربي ادبیاتو او اثارونه (د استفادې او ترجمې له لارې) د خپلو اثارو د په غنا کې استفاده کړې ده. ددې استفادې تر څنګه ده خپله هم په دري ژبه نظم او نثر دواړه لیکلي دي.

## - دخوشحال خان دري شعرونه:

خان په دري ژبه شعر ویل له پښتو سره کابو همزمان پیل کړی دی. دده تر اوسه ښکاره پخواني تر لاسه شوی دري شعر، هغه دري قطعه ده چې یې د اشرف خان هجري پر زوکړه ۱۰۴۴ هـ ق یې ویلې او دده د زوکړې تاریخ یې پکې ښودلی دی:

بـــه زاویـــای مـــه روزه پـــاس اول شـــب
بـــزاد اشـــرف وانـــدر کنـــار دایـــه بخفـــت

(۱۳۱) رشاد، پوهاند عبدالشکور: د خوشحال په دیوان کې دګلستان او بوستان د ورمو څرک، د زرغونې یاد، دزلمي هېواد مل په زیار، د پښتو څېړنو بین المللي مرکز، کابل، دولتی مطبعه، ۱۳۶۲ هـ ش

چـو بـود وقـت بـهار و شـګفتن ګلـها
حساب سـال وی امـد ((بـهار اهـل شـګفت))

د خوشحال خـان د دري اشـعارو کومـه ځانګړې خطي نسخه مـا نـه ده ليدلې. دري شعرونه يې دپښتو اثارو او اشعارو په مسودو او بيانونو کې متفرق خوندي شوي دي. دده ددري شعرونو دلټون منابع يو تاريخ مرصع او بل هم دده د کلياتو او ديوانونو خطي او چاپي نسخې او د دستارنامه دي. که يو څوك وغواړي د امکان تر حده د ده ټول دري شعرونه راټول کاندي، په بشپړ باور سره ويلای شي، چې يو وړوکی ديوان به ځينې جوړ شي.

دده د کليات په لومړي چاپي نسخه کې - د دوکتور بليو په زيار- يو څلوېښت دري غزلې، څلور دري رباعي او يوه دري قصيده چاپ شوي دي. د کليات په نورو چاپونو کې دغه شمېره ډېره لږه ده. يوازې څونمونې يې ځينې اخيستې دي. اما په ارمغان کې دري برخه ځانګړې ده. د غزلو شمېره يې ۴۴ دي، قصيده يوه، رباعي درې او يوه قطعه هم پکې شته[۱۳۲]
پروفيسور صاحبزاده حميد الله دده پارسي شعرونه په يوه ځانګړې کوچنۍ مجموعه کې چاپ کړي دي. اما ډېردري شعرونه يې د کابل چاپ کليات کې راغلي دي. په دې کليات کې ۴۵ غزلې يوه قطعه ۹ رباعي، يو فرد او يوه قصيده خوندي دي په دغو دري شعرونو پسې يې د خان هغه شپږ غزلې هم راوړي دي چې ملمع دي (پښتو - دري)[۱۳۳]

په پېښور کې د ايران فرهنګي خونې په ۱۳۷۱ هـ ش کال د خان څه دري شعرونه د ښاغلي ابو طالبي له مقدمې سره د (خوشحال خان ختك) په نامه خپاره کړي دي.

سملاسي د خان همدومره پارسي شعرونه موږ ته معلوم دي. البته په دې شمار کې د دستار نامې او تاريخ مرصع دري شعرونه نه دي حساب.

---

(۱۳۲) ارمغان خوشحال ۷۸۸-۸۰۰ مخونه.
(۱۳۳) دخوشحال ختك کليات ۱/ ۵۰۵ - ۵۲۸ مخونه.

د خان د دري شاعرۍ په باب - زما د معلوماتو له مخې - تر ټولو پخوانۍ تبصره دمېرمن خديجه فېروزالدين ده [۱۳۴] تر دې وروسته په افغانستان او پښتونخوا کې دده پر دري سرايۍ بحثونه شوي او اکاډميسين پوهاند دوکتور عبدالاحمد جاويد يو ځانګړې رساله پرکښلې ده. دلته زيات تفصيل ګنجايش نه لري ، صرف دومره بايد ووايو چې :

د خوشحال خان د دري وينا په باب عام نظر دا دی !

(ترجمه) : (( دخوشحال خان په دري شاعرۍ کې شعري موازين سم رعايت شوي دي. له دريځ ځلور ځايه پرته - چې سم ضبط يې موږ ته نه دی رسېدلی - نور ټول د لفظ او معنی له نظره سالم دي او څه کمبودۍ نه پکې ليدل کېږي او هيڅ تياره نقطه او بازيکه نکته پکې له پامه نه ده غورځول شوې )) [۱۳۵]

د خوشحال د دري شاعرۍ په باب د څېړنو يو اجمالي جاج مايه خپل يو بل اثر ( رشد زبان و ادب دري، درګستره فرهنګي پشتو زبانان ) کې اخيستی دی [۱۳۶] که څوک له موضوع سره دلچسپي لري کېدای شي هلته يې وګوري.

## د خوشحال خان ختک دری نثر:

خان د نظم تر څنګه په دري ژبه نثر هم ليکلی دی او يوه منثوره رساله يې پدې ورو سيتو کلونو کې کشف شوه.

د خوشحال خان په پښتو باز نامه کې يو بيت راغلی دی:

په فارسي مې باز نامه دنثر کښلې
په پښتو مې ورته وکښه نظم کښلی

---

(۱۳۴) Life and works of Khushal Khan Khatack, pp 338-340

(۱۳۵) جاوېد ، اکاډميسين پوهاند ؛ دوکتورعبدالاحمد ، نګاهی به اشعار دري خوشحال خان ختك ، اکادمي علوم مطبعه تعليم و تربيه کابل ۱۳۶۴ ص ۱۵ .

(۱۳۶) هېواد مل زلمی: رشد زبان وادب دري در ګستره فرهنګي پشتو زبانان ، اتحاديه نويسنده ګان افغانستان از اد ، ټاپ پر نتېرز ۱۳۷۶ هـ ش . ض ص ۲۸- ۴۰ .

څنګه چې خان پښتو باز نامه په ۱۰۸۵ هـ ق کې بشپړه کړې ده ، نو داسې ښکاري چې دا دري باز نامه به يې تر پښتو هغې دمخه ليکلې وي، خو په موجود متن کې يې څرګند تاريخ نشته.

د خان د دري باز نامې متن هم په وروستيو دوو لسيزو کې پيدا شوی دی، پخوا په ځينو ځايونو کې يوازې د خان د همدې يادونې له مخې پر دې باز نامه خبرې شوې دي.

په ۱۳۶۱ هـ ش / ۱۹۸۲ م کال ما د افغانستان په ملي ارشيف کې خطي کتابونه کتل. د دري باز نامو په يوه مجموعه کې مې د خوشحال خان خټک پارسي باز نامه پيداکړه. بيا مې کار پر وکړ .لومړی ځل زما د ناچاپو مقالو په يوه مجموعه (( د جاج په تله )) کې چاپ شوه چې د استاد واصف باختري يوه سريزه هم ورسره مله ده. او بيا په ۱۳۶۵ هـ ش کال د خراسان مجلې خپره کړه.(۱۳۷)

دا پارسي رساله د باز د رنګ او تر کيب په باب خبرې لري. بيا يې د باز ساتنې او د باز دناروغيو د درملنې او د ښکار لپاره د تيارولو په خصوص کې لارښوونې ورسره مله کړې دي. ددې پارسي باز نامې محتوی د خان د هغو دوو قصيدو – چې يې د باز دارۍ پر موضوع ليکلې دي – سره يو شانوالی لري.

## پښتو هندي ملمع شعرونه:

د خان په ديوان کې دوې پښتو – هندي ملمع غزلې هم شته. د يوې مطلع يې دا ده:

سور پيزوان دې په زرګربانډې سنواريا
بيا د زړو نو ازار اخلې بارياباريا

او دبلې هغې يې :

(۱۳۷) هبواد مل ،زلمی : خوشحال خان خټك و باز نامه نګاری ، خراسان ، شماره مسلسل ۲۷ ، ۱۳۶۵ هـ ش ، ص ص ۹۷-۱۳۱.

په سینه کې مې اوده مینه پهرجاګې
زما ستامحبت ګوره کیسې لاګې

پروفیسور افضل رضا دا غزل، د خوشحال خان پښتو نما اردو غزلې بللې دي [۱۳۸] اما موږ دومره ویلای شو، چې خان له هندي ژبې سره بلد و او د هغې ژبې الفاظ یې د ملمع غزلو په ویلو کې راوړل.

د خوشحال خان خټك د فرهنګي فعالیتونو له دې لنډه جاجه به لوستونکي ته څرګنده شوې وي چې زموږ په زاړه ادب کې خوشحال خان یوازینی سړی دی، چې د پښتو ادب لمن یې له رنګا رنګ ګلانو او مضامینو ډکه کړې ده.

پښتو ته دخوشحال خان بخښنې د کمیت او کیفیت په لحاظ دومره دي. چې موږ یې د پښتنو په پخواني فرهنګي چاپېر کې بل ساری نشو پیدا کولای، او بویه چې د پښتنو تر ټولو ستر فرهنګي شخصیت یې وبولو. پرپښتو او پښتنو یې حقوق ډېر دي. لکه چې خپله خان هم یوځای ویلي دي:

که دنظم، که د نثر، که د خط دی
په پښتو ژبه مې حق دی بې حسابه
نه پخوا پکې کتاب و، نه یې خط و
دا دي ماپکې تصنیف کړل څو کتابه

(دیوان. ۲- ۴۱۵)

څنګه چې مې دمخه یادونه وکړه، په خپله برخه کې د خان فرهنګي زیار او مښود دستاینې څه چې د نمانځنې وړ دی.

پرپښتو ژبه یې حقوق واقعاً له شماره تېر دي. پښتو کلاسیك نظم او نثر واقعاً خوشحال خان بشپړ کړي دي. مګر دا چې: ((پخوا پکې نه کتاب و او

(۱۳۸) رضا، پروفیسور محمد افضل: اردوکي قدیم پشتون شعراء، پشتو اکادمي، پشاور یو نیورستي، ملت پرنټرز لاهور، ۱۹۹۸ ص ۶۶

نه یې خط و)) . یو څه شاعرانه تعالي ښکاري . خان خپله د پیر روښان ، درویزه ، میر زاء ارزاني ، واصل ،قلندر د اثارو او دیوانو نو یادونه کوي. هغه اثار که هر څنګه وي ، د پښتو کتابونه دي. له دې سربېره دهماغه زمان افغانستان په جنوبي او جنوب غربي برخو کې ترخان پخوا کتابونه لیکل شوي وو. داسې ښکاري چې هغه اثار خان ته نه وو رسېدلي . په پټه خزانه کې یا د شوي پخواني کتابونه چې زیاتره د افغانستان د جنوبي او جنوب غربي برخو کې لیکل شوي دي، هغه هم خان ته نه وو معلوم . له پټې خزانې چې ورتېر شو ، په جنوب غربي برخو کې ځینې نور کتابونه هم لیکل شوي . چې تر خان پخواني دي، لکه د امیر تجوید، چې خطي نسخه یې ۱۰۲۳ هـ ق کال ده . ښایي تردې نېټې دمخه نظم شوي وي . خطي نسخه یې دخان تر زوکړې یو کال وروسته لیکل شوې . تر خطي نسخه د افغانستان ملي ارشیف کې خوندي ده [۱۳۹] دغه راز د عیسی کاکړ دیوان د اکبر زمینداوري دیوان [۱۴۰] درحمکار کاکا صاحب یو مرید یو شیخ ادین (۱۰۷۴ هـ ق مړ) د خان د بند پر کال وفات شوی ، دغو ث الاعظم د مناقبو او غزلو خاوند [۱۴۱] همدارنګه ملا الف هوتك چې دخان تر زوکړې د مخه په ۱۰۱۹ هـ ق کال اثار لیکلي دي او دوه کتابونه بحرالایمان او نصیحت نامه یې موږ ته رسېدلي دي. باید یادونهٔ وکړو ، چې د ملا الف هوتك دا دوه کتابه اروانباد استاد حبیبي ته نظر محمد خان بارکزي امانت ورکړي وو، چې بیا یې بېرته ورسپارلي دي. په دې اړه په طلوع افغان کې لولو: (( نظر محمد خان بارکزي معروف به کاکاجان علاقه دار اتغر کتاب قلمي ملا الف را به ما مرحمت فرموده اند )) [۱۴۲]

---

(۱۳۹) فهرست نسخه های خطي ارشیف ملي ۷-۸ مخونه.

(۱۴۰) پښتانه شعراء ۱/ ۳۱-۲۵ : ۱۸۷-۱۸۸ مخونه.

(۱۴۱) زیارتي ، قاضي عبدالسلام : ادبي سوغات، منظور عام برقي پریس : پېښور، ۱۳۷۰ ، ۲۱۶ مخ.

(۱۴۲) حبیبي ، پوهاند عبدالحی: تاریخچه شعر پښتو ، طلوع افغان. د ۱۳۱۴ هـ ش سنبله ۲۸ / ۱۹۳۵ م سپتمبر ۲۱ دیارلسم کال ۱ ګڼه.

ترجمه: ((دا تغر علاقه دار نظر محمد خان برکزي - چې په کاکا جان مشهور دی - د ملا الف قلمي کتاب پرموږ لور ولی دی))

ملا څالاك او ملا مست دوه نور لکیوال دي چې اثار يې موږ ته رسېدلي او د مست خو بشپړ کلیات له موږ سره دی[143] له دې سربېره د يوولسمې پېړۍ په جريان کې ډېر زيات مسجع ليکونکي او شاعران موږ پېژنو چې په پښتو يې اثار ليدل شوي دي.

• ابابکر کندهاری (۱۰۳۴ هـ ق مړ) په هندکي او سيدلی افغان د ی په چې پښتو د سراج العارفين په نامه د نظمونو کتاب لري[144] تر ابابکر د مخه د شېر شاه سوري (۹۴۶-۹۵۲ هـ ق) معاصر شيخ عيسی مشواني په پښتو، دري او هندي يوه رساله تصنيف کړه[145]

نو له دغو ټولو کتابونو سره سره څنګه سړی منلای شي، چې پښتو کتاب نه درلود؟ دغه رنګ د خط موضوع يو څه د تامل وړ ده. څنګه چې د مخه به تاسې لوستي وي، خان د پښتو خاصو ږغونو لپاره ځينې نخښې جوړې کړې، چې له خط نه مراد همدا ليکدود دی. بايد ووايو چې پښتو ته ليکدود پخوا جوړ شوی د سلطان محمودغزنوي په دوران (۳۸۷-۴۲۱ هـ ق) کې حسن ميوندي اصلاح کړی دی. د خوشحال خان بابا نه د مخه بايزيد روښان او بيا اخوند درويزه د پښتو د خاصو ږغونو لپاره ليکد و د وضع کړی دی. چې تفصيل يې موږ د استاد رفيع په زنځيري کې کتلای شو[146].

---

(۱۴۳) فرهنګ ادبيات پښتو ۲/ ۱۷۰ – ۱۷۱ مخونه.

(۱۴۴) حالنامه، ۵۸۷ مخ.

(۱۴۵) هروي، نعمت الله: مخزن افغاني، دويم ټوك. د سيد محمد امام الدين په زيار، ډاکه، زيکو پريس، ۱۹۶۲ م، ۸۲۲ مخ.

(۱۴۶) زنځيري: ۳۴-۳۶ مخونه.

# ز، د خوشحال خان د اثارو ترجمې:

د خوشحال خان د اثارو د ترجمه ، څېړنه او فهرست د يو ځانګړي اثر د ليکلو ايجاب کوي. که به داسې څوك پيداشي، چې دغه ترجمې ارزيابي هم کړي، زما په پوهه بويه چې د P.H.D د تيسس په توګه ومنل شي . مانا دا چې دا تر جمې ډېرې دي، په شرقي ژبو هم دي او په غربي هغو هم.

زما دمعلوماتو له مخې پر دغو لاندې ژبو د خوشحال خان ختك اثار ترجمه شوي دي: دري، عربي ، هندي، پنجابي اردو، بلوڅي، ازبکي پښه يي، روسي ،چکي ، الماني، دنمارکي، انګرېزي، فرانسه يي او نورو.... زه ددغه اثر له شرايطو سره سم پرځينو ژبو دخوشحال د اثارو زړې ترجمې ښيم:

(۱) **په دري ژبه** : دخوشحال خان ختك د يوې قصيدې يوه برخه ،په دري نظم د دريارلسمې پېړۍ د اواخرو او د څوارلسمې د اوايلو شاعر مسافرمروت ترجمه کړې ده. له دې ترجمې کابو تر سلو زيات کلونه تېرېږي.

مسافر دخان د دې قصيدې :

«اې چې خيال کړې په دنيا
دنيا څه ده بېوفاه»

ټولس بيته منظوم ژباړلې دي ،څو بيته يې دادي:

ګرتصور کني تو در دنيا
تو نه بيني دران نشان وفا
يک زمان ګر ترا اکند دلشاد
باز زود اور د به ګريه ترا (۱۴۷)

---

(۱۴۷) مسافر مروت : ديوان ، خطي نسخه ، د افغانستان د علومو اکادمي

باید ووایو چې د خان دا قصیده اوږده ده پښتو متن یې ۱۱۳ بیته دی( دخوشحال خان ختك کلیات ۲/۱-۵ مخونه ) .

اروابناد لوی استاد پوهاند عبدلحی حبیبي چې پټه خزانه په دري ژباړله ، نو یې دخان یوه غزله دوې رباعی او یوه قطعه هم په دري وژباړلې [۱۴۸]

دغه رنګه دوکتور عارف عثمان دخوشحال خان دسلو رباعیو دري ترجمه د نورو محلي افغاني ژبو سره یو ځای په شپېتمو ( هجري شمسي تقویم ) کلونو کې خپره کړه.

د الغنستن د کابل سلطنت بیان په دري ترجمه کې بناغلي محمد اصف فکرت هم د خان راغلي منتخبات په دري ژباړلي دي.[۱۴۹]

## (۲) په اردو ژبه :

زما دمعلوماتو له مخې په اردو ژبه د خوشحال د اثارو تر ټولو پخوانی ترجمه د قاضي عبدالسلام عمر خېل ده .دا ترجمه په نسب افاغنه کې چاپ شوې ده [۱۵۰]

دشلمې پېړۍ په جریان کې چې په اردو ژبه د خوشحال خان په باب او یا د پښتو شعر او ادبیاتو په باب څېړنې شوې په زیاترو کې دخان اشعار په اردو

---

(۱۴۸) پټه خزانه ، ۸۱، ۸۳ مخونه ، دیادونې وړ ده . چې پټه خزانه په بشپړ ډول په انګرېزي، روسي او الماني ژبو هم ترجمه شوې او په ځانګړې ډول چاپ شوې ده. انګرېزي ترجمې یې دوې دي. یوه ترجمه د اروابناد غلام حضرت کوشان ده چې په کابل کې چاپ ده. دویمه ترجمه یې دخوشحال حبیبي ده چې دا هم چاپ شوې ده. روسي ترجمه یې اروابناد دوکتور دولت محمد لودین کړې ده او الماني ترجمه یې بناغلي نظام الدین سلیمانخیل کړې ده. الماني او روسي ترجمې دواړه دپښتو څېړنو د بین المللي مرکز له خوا چاپ شوې دي .په دغو ترجمو کې هم د خوشحال خان د کلام منتخبات ترجمه شوي دي.

(۱۴۹) افغانان ۱۹۲-۱۹۸ مخونه

(۱۵۰) عمر خېل ، قاضي عبدالسلام. نسب افاغنه ، رامپور، ۱۹۱۴م ، ۹۳ مخ.

ژباړل شوي دي. چې تفصیل یې اوږدېږي . دخان د اثارو د اردو ترجمو په باب دغه لاندې یادونې ضروري بولم

۱/ دخوشحال خان خټک د منتخب کلام منظومه ترجمه فارغ بخاري او رضا همداني کړې ده، چې د (خوشحال خان خټک کي افکار) ترنامه لاندې په ۱۹۵۱ م کال کې چاپ دی [۱۵۱] دا مجموعه وروسته بیا چاپ شوې ده.

۲/ دخان د بېلا بېلو کتابونو د منتخباتو یوه منثوره اردو ترجمه د پېښور پښتو اکادمي په ۱۹۵۶ م کال کې (منتخبات خوشحال خان خټک) په نامه چاپ کړې دي. ددې منتخباتو مترجم سید انورالحق دی.

۳/ د خوشحال د منتخب کلام اردو منظومه ترجمه ښاغلي خاطرغزنوي هم کړې ده او د (خوشحال خان خټک کی شاعری) په نامه چاپ شوې ده [۱۵۲]

۴/ د خوشحال خان خټک د منتخب کلام اردو منظومه ترجمه په (پشتو کا عظیم شاعر) نومې کتاب کې هم راغلې ده [۱۵۳]

۵/ د خوشحال خان د ټول دیوان (کلیات) اردو ترجمه هم شوې او په اتو جلدونو کې ترتیب شوې ده. دا اته سره جلدونه د اکادمي ادبیات پاکستان له خوا چاپ شوي دي

- لومړی ټوک کې یې غزلیات راغلي دي له ۱۱- ۷۰ مخ پورې مقدمه ده. ټول مخونه یې د اعلامو له فهرست سره (۳۰۳) دي . دا ټوک په ۱۹۸۷ م کال چاپ شوی دی.
- دویم ټوك ،غزلیات ، ۳۰۹ مخه ، د ۱۹۸۷ م کال چاپ.
- درېیم ټوك ، غزلیات ۳۰۱ مخه ، د ۱۹۸۷ م کال چاپ.

---

(۱۵۱) (۱۵۲) خټك ، دوکتور خالد خان : خوشحالیات ، خوشحالنامه ، مرتبین : پرېشان خټك ، خاطر غزنوي ، اباسین ارټس کونسل پشارو ، ۱۹۸۰ ، ۲۱۹ مخ.

(۱۵۳) تقوی ، نعیم : پشتو کا عظیم شاعر. تجارتي پریس کراچي ، ۱۹۸۱ م ،۱۲۹ – ۱۴۲ مخونه

- څلورم ټوک ، غزليات ۶ ۳۰ مخه ، د ۱۹۸۷ م کال چاپ
- پنځم ټوک ، قصيدې ، ۲۹۳ مخه ، د ۱۹۸۷ م کال چاپ
- شپږم ټوک رباعيات ، ۲۷۹ مخه ، د ۱۹۸۹ م کال چاپ.
- اووم ټوک رباعيات ،۲۷۸ مخه ، د ۱۹۸۷ م کال چاپ.
- اتم ټوک ، قطعات او متفرقات ، ۳۱۱ مخه د ۱۹۸۷ م کال چاپ.

ددې تر جمې بېلا بېل ټوکونه د ( خوشحال خان خټک ) په نامه چاپ شوي دي. د خان د کليات ددې ترجمې په تهيه او چاپ کې دنوميالي خوشحالپوه او مؤرخ پروفيسور پرېشان خټک هڅه مشکوره ده.

۶/ د خوشحال خان خټک ډېر مهم اثر ( دستار نامه ) هم په اردو ژبه ترجمه شوې ده . دا ترجمه پروفيسور خاطر غزنوي کړې ده . دا ترجمه په ۱۹۸۰ م کال په کتابي شکل د پېښور - پښتو اکادمي له خوا چاپ ده.

(۳) په انګرېزي ژبه :

د نړۍ په ژبو کې انګرېزي لومړنۍ ژبه ده چې د خوشحال خان خټک شعرونه پرې تر ټولو دمخه ترجمه شوي دي . زه دلته د خوشحال بابا دا ثارو ځانګړې او ځيني مهمې ترجمې ښيم، متفرقې يې زياتې دي چې راوړل يې دلې اوږدېږي .

**الف:** د خوشحال خان خټک د دووقصيدو انګرېزي ترجمې ترهر چا دمخه مونت ستوارت الفنستن ( ۱۷۷۹ - ۱۸۵۹ م ) په خپل کتاب د کابل سلطنت بيان کې راوړې دي. ددې کتاب مقدمه د ۱۸۱۴ م کال د جون په ۴ مه په پونه کې ليکل شوې ده.ما نا دا چې کتاب تر دې کال دمخه بشپړ شوی دی. دکابل سلطنت بيان کې دخوشحال خان خټک ددې قصيدې :

راشه واوره دا داستان — نېک وبدپکې عيان

ځينې برخې او دا بله قصيده :

بیا له کومه راپیدا شو دا بهار
چې په هر لوري یې ملک کړ یو ګلزار

په انګریزي ترجمه کړي دي. پر دې قدیمه ترجمه زمونږ استاد اکادمیسین پوهاند عبدالشکور رشاد یوه مقاله لیکلې چې د خوشحال خان خټک د درې سوم تلین د بین المللي سیمینار په مناسبت په ۱۳۵۸ هـ ش کال د اریانا مجلې خپره کړه.

ب، د خوشحال خان خټک د ځینو اشعارو دویمه انګریزي ترجمه د هانری جارج راورتي ده. راورتي د خوشحال خان هغه ۹۸ شعرونه چې یې په ګلشن روه کې انتخاب کړي وو، هغه یې په انګریزي ژباړلي او په خپل بل کتاب Selection From the poetry of the Afghans کې یې په ۱۸۶۲ م کال لندن کې چاپ کړي دي.

ج: دریمه ترجمه دتریور چیچلي پلاوډن ده. پلاوډن د کلید افغاني په انګریزي ترجمه کې دخوشحال خان خټک منتخبات انګریزي کړي دي. دا ترجمه په ۱۸۷۵ م کال په لاهور کې چاپ شوې ده.

د، څلورمه ترجمه ، د بډلف ده. پدې منتخب کې پښتو متن او انګریزي ترجمه یو ځای په ۱۸۹۰ م کال په لندن کې چاپ شوي دي. ددې ترجمې پښتو متن ۷۴ مخه دی او قاضي محمد حسن پېښوري لیکلي دي. د ترجمې نوم دی Selection from the poetryof Khushal Khan Khatack

هـ، معاصر نومیالی ختیځ پوه پروفیسور ګیورګ مارګنستیرن (۱۸۹۲-۱۹۷۸ م) په خپل اثر (خوشحال خان او د هغه کلام) کې او په خپله بله مقاله Khushal Khan the National poet of the Afghans کې د خان دځینو شعرونو ترجمې وړاندې کړې دي.

و ، هاول او سراولاف کرو [154] په ګډه د خوشحال خان ختك . اووه قصیدې ، درې قطعې او شپاړس غزلې په انګریزي ژباړلې دي [155] ددوي دا ترجمې په یوه مجموعه کې دپېښور د پښتو اکادمي له خوا چاپ شوې دي. یوه مقدمه پرې ارواښاد مولانا عبدالقادر لیکلې . د مترجمانو له لوري مقدمې او په پای کې نوټونه (۷۷ -۹۸ مخونه) هم ورسره مله دي. دا ترجمه لومړی ځلې په ۱۹۶۳ م کال چاپ شوې ده. دویم چاپ هم لري .

ز ، دوکتور میکنزی بل معاصر ختیځ پوه دی ، چې د خان د اشعارو ترجمه یې په یوه ځانګړې مجموعه په ۱۹۶۵ م کال له لندنه خپره کړې ده. ددې ترجمې نوم دی : Poems from the Diwan of Khushal Khan Khattack .

ح ، دخوشحال خان ختك سواتنامه ، صاحبزاده شکیل احمد په انګریزي ژبه ترجمه کړې ده او دا ترجمه په وروستیو کلونو کې د پېښور اکادمي له خوا په کتابي بڼه چاپ شوه.

## (۴) روسي ژبه :

د خوشحال خان ختك متفرقه شعرونه د پخواني شوروي ځینو جمهوریتونو او روسیه کې په متفرق ډول ترجمه شوي او چاپ دي. اما دخان د شعرونو د یو منتخب روسي ترجمه په یوه مجموعه کې هم چاپ شوې ده. زه ددې مجموعې یادونه پدې برخه کې ځاني بولم

دخوشحال خان ۷۰ قصیدې ، غزلې او نور له پښتو نه روسي ته تکي په تکي ولاد یمیر. انتونوویچ لیفشیځ ترجمه کړي دي. ددې ترجمې مسوول کتونکي فقید ګیورګ فیو دوروویچ ګیرس دی. مجموعه ۹۴ مخه په ۱۹۸۳

---

(۱۵۴) د کرو ، پښتانه نومي کتاب په پنځلسم څپرکي (خوشحال خان او اورنګزېب) کې هم د خان باباد اشعارو انګریزي ترجمې راغلې دي. دا کتاب اول ځل په ۱۹۵۸ م کال کې چاپ شوی دی

(۱۵۵) Howell. Coroe: the poems of Khashal Khan Khatak . pashto Academy of peshawer or university . Jalal abad 1988 p. 12.

م کال مسکو کې چاپ شوې او لس مخيزه مقدمه هم ګيرس پر کښلې ده [156] دمجموعې نوم دی : خوشحال خان ختټک .

## (۵) ډنمارکي ژبه :

پادري جونزانيولډسن ډنمارکي پښتو پوه دخوشحال خان خټک د شعرونو يوه برخه په ډنمارکي ژبه ژباړلې ده. دا ژباړه په ۱۹۶۶ م کال چاپ شوې ده [157] بايد ووايو چې نوموړي پادري په خپل يو بل درسي کتاب An Introduction to pakhto د درسونو په پای کې د خوشحال خان بيتونه راوړي او ورپسې يې انګريزي ترجمه هم ورسره مله کړې ده [158].

ما پدې ځای کې د نمونې په ډول دځو ژبو ترجمې هغه هم په نمونه يې ډول يادې کړې ، که نه دا داستان ډېر اوږد دی ، چې دفترونه ورته بويه .

د همدغو ترجمو له لارې خوشحال خان خټک او دده فکر نورو تولنو او فرهنګونو ته ورپېژندل شوی دی. او د نړۍ ښېلا ښېل ولسونه دده له درانه نامه او ژورو مفکورو سره اشناشوي دي. همدغه ترجمو ډېر لوی لوی کسان دخوشحال خان او دده افکارو ته متوجه کړي دي او پر خان باندې يې کار کولو ته هڅولي دي.

علامه اقبال لاهوري د خوشحال خان د اثارو د انګريزي ترجمو له لارې د خان له افکارو سره اشنا شوی دی.

---

[156] د پښتو کيسو او شعرونو دترجمو د يوې بلې پخوانۍ مجموعې په ۱۸۹-۲۱۴ مخونو کې د خوشحال خان ۱۸ پارچې شعرونه په روسي ترجمه شوي دي. دخان غزلې رباعۍ او قطعې پکې راغلې دي. دا مجموعه په ۱۹۵۸ م کال په مسکو کې چاپ شوې ده.

[157] روهي ادب ، ۴۷۹ مخ

[158] Jens Enevoldsen: An Introduction to Pakhto, Koben haven, 1968 ,pp 13,14,25.27.31,33,39-40,42,43,45,46,48,49,50,51,62,63,68,69,74,75,77,78,84,98,99 .

(( ۷ ))

# اووم څپرکی

# شاعر او ليکوال خوشحال خان

**ما خوشحال چې په پښتو شعر بيان کړ**

**د پښتو ژبه . به اوس په اب و تاب شي**

**همېشه به پرې نارې وي دبلبلو**

**دا چې ساز کړ نن خوشحال په ويل باغ**

په دې څپرکي کې ما دخوشحال خان خټک پښتو او دري اثار وښودل. په عام ډول شرقي فرهنګ او په خاص ډول پښتني فرهنګ ته مو د خان پرېښنو دکميت له پلوه خبرې وکړې. د اثر له شرايطو سره چې څه لازم وو هغه مې د خپلو معلوماتو داحاطې په چوکاټ کې تنظيم او وړاندې کړل.

اوس ددې خبرې اړتيا محسوسېږي چې دخان ددغو فرهنګي بخښنو پرکيفي اړخونو او ارزښتو خبرې وشي. پدې څپرکي کې به هغه مسايل مطرح شي ، چې د خان عليين مکان د شاعرۍ اوليکوالۍ ځانګړنې مشخصوي.

ددې بحث په پیل کې به د خان منظوم اثار . بیا منثور اثار او ورپسې دري اثار له دغو جهتونو ارزيابي شي:

( ۱ ) د خان منظوم اثار یا زموږ د پښتو نخوا د ورونو په اصطلاح شاعري: موږ دژانر پوهنې له نظره گورو او داځانته ځرگندوو. چې کوم ژانرونه (اصناف ) ده نوې پښتوته را داخل کړي او تر دې پخوا معمولو ژانرونو کې دده ابتکارونه کوم دي؟

د خان دديوان او نورو منظومو اثارو له مطالعې ځرگندېږي ، چې دده ټوله شاعري دشرقي شاعرۍ په شعري قالبونو کې ده. دپښتو دملي شعر په اوزانو او اشکالو کې يې شاعري نه ده کړې. د پښتو ملي اوزان ده ته معلوم وو، ځکه په خپله یوه قصیده کې یو ځای د پښتو شعر دغو اصلي شعري اشکالو ته یوه اشاره لري.

دده په دیوان کې راغلي اصناف ځینې نوي دي، چې پخوا تر ده بل چا پدې اصنافو کې په پښتو شعرنه دی ویلی او ځینې داسې اصناف دي چې تر خان دمخه پښتو ته راغلي وو، لکه:

## الف: قصیده:

موږ پوهېږو چې په پښتو کې قصیده تر خان دمخه هم وه. لرغونې پښتو قصیده د شیخ اسد سوري (۴۲۵ هـ ق مړ) ده او بله د ښکارندوی غوري . دا دوې قصیدې په پښتو کې د قصیده سرايۍ یوه عالي لرغونې سابقه موږ ته ښیي. خو زموږ خان ته ذا قصیدې نه وې ښکاره. اما د روښانیانو څه دغسې اثار يې لیدلي وو. په روښاني اثارو کې هم قصیده وه ، خو په خپل رنګ کې ، چې نه يې دغوري دوران د قصیدو فني مزیتونه لرل او نه هم پکې د ژوند خبرې وې . د اروانباد استاد حبیبي خبره ، چې خوشحال خان قصیده له لاسه د روښانیانو له خانقاه یې را وایسته او بیا یې د بزم او رندانوټولي ته راوسته . خان په قصیده سرايۍ کې ادبي زور وازمایه . پښتو ته يې داسې قصيدې ور و بخښلې چې دشرقي قصیده سرايۍ د عنعني پالونکي او د

شکل او مضمون له پلوه د سيمي له نورو ادبي اثارو د دربدو او مقابلو جوګه دي، جامعيت او فني اقتدار يې ثابت دی او هغه د استاد علامه حبيبي په وينا : (( دخوشحال خان قصيده دده د شعر يوه جامعه برخه ده، چې دشاعر پياوړ توب او فني اقتدار او ادبي مهارت ښه ښکاره کوي . هم د فرخي او منو چهري د قصايد و صنعتي ښېګړې لري، او هم د سنايي د حکمت او موعظت معنوي مزايا پکې پراته دي او هم د پښتو او پښتونوالي يوه رڼه هنداره ده)) (۱۵۹) له دې لوړ بيانه موږ دا نتيجه اخلو که پښتو کې پخوا قصيده وه هم، خوشحال خان په نوي رنګ ورنګوله او د قصيدو يو غټ ديوان يې موږ ته پرېښود چې په کمي او کيفي لحاظ د پښتو قصيده سرايۍ په ميدان کې بل څوك ورسره د منډې توان نه لري.

## ب: غزل:

زموږ په ادبياتو کې له قصيدې نه د غزل روايت وروستی دی، زموږ پخوانی غزل داتمې هجري پېړۍ دی. لکه قصيده زموږ لرغوني غزلې هم موږ ته ډېر لږ رارسېدلې دي او څو محدودې نمونې يې لرو، چې شکلي رغښت يې د شرقي غزلسرايۍ له عنعنو سره سم لرغوني ځانګړنې لري، خو مضامين يې د ميني تومنه او عرفاني ريښه لري. اما تر خان د مخه د روښانيانو په ديوانونو کې موږ د پښتو غزل يوه درنه ذخيره مومو، خو دا غزل بيا هم لکه ددوی قصيدې هومره رنګا رنګي ، د شرقي غزل ټول شرايط او اداب نه لري. له ځينو ځانګړو مواردو پرته د روښانيانو غزل محدود مضامين رانغاړي او هغه د استاد تړي خبره : (( د روښانيانو د وخت د غزلو نو ساحه دمضمون په لحاظ ډېره تنګه او په عمومي ډول په عرفاني روحاني او ځينو اخلاقي مضامينو پورې محدوده ده )) . اما خوشحال خان ختك لکه قصيده. غزل هم له هغه محدود ميدان نه راوايست او شرقي غزل يې په نوي جامه کې خپل

---

(۱۵۹) حبيبي ، پوهاند عبدالحی : د پښتو ادب په تاريخ کې قصيده ، د افغانستان علومو اکادمي کابل ،دولتي مطبعه ، ۱۳۵۷ هـ ش ۷۸-۷۹ مخونه

فرهنګ ته ورډالی کړ. دپروفیسور رجنا خبره چې ژوند ته یې نزدې کړ[۱۶۰] هومره غزلې چې خان موږ ته پاته کړې دبل هیڅ کلاسیك شاعر په دیوان کې یې نشو میندلای.

دده غزلې د خپل شکلي جوړښت له پلوه دغزلسرایی لرغونې عنعنه پالي مانا دا چې دده غزلې زیاتره لنډې د ۵-۸ بیتو دي. اوږدې غزلې یې دغزلونوپه دفتر کې لږې دي. ادبیات پوهان وایي چې لرغونې غزلې معمولا لنډې وې او بیا وروسته اوږدې غزلې پیدا شوې دي.[۱۶۱]

د خان غزل نه یوازې دا چې دپښتو لهٔ لرغونو غزلو او یا د(۱۰-۱۱ هجري پېړیو ) له نورو غزلو امتیازي خصوصیات او برجسته ګۍ لري ،بلکې ځینې کسان د خوشحال خان په غزلوکې ځینو نورو ابتکارونو ته هم اشارې لري. چې دا ابتکارونه خان ته دسیمې او نړۍ په فرهنګي بهیر کې د دریڅو ځای ور په برخه کوي.

پوهاند دوکتور حبیب الله تږي لیکلي دي: (( د روښاني عصر دغزلو نو په تناسب دخوشحال خان غزلونه یو بل لوی مزیت هم لري او هغه د مضمون تنوع او غنا ده. اما کوم شی چې خوشحال خان کلام ته دپښتو ژبې څه چې حتی دمنطقې د شاعرانو په تناسب ببخي خاص امتیاز ورکوي هغه دده دخپلو تجربو ، د شخصي ژوند د بېلا بېلو اړخونو او انساني غرایزو ، د اجتماعي او طبیعي محیط د واقعیتونو او مظاهرو رښتینی برالا او مستانه بیان دی))[۱۶۲]

---

[۱۶۰] رضا، پروفیسور افضل : دپښتو غزل ، پښتو اکادمي ،پېښور ، سپین زر سرو سز ، ۱۹۷۸ م ، ۷۳ مخ.

(۱۶۱) موتمن ،زین العابدین : تحول شعر فارسي ، چاپ چهار م ، کتابخانه طهوري تهران ۱۳۷۱ ه ش ، ص ۵۳

(۱۶۲) تږی ، پوهاند دوکتور حبیب الله : د پښتو غزل په غنا کې د خوشحال خان ختك برخه ، ناچاپه مقاله ( د استاد تږي په مننه)

پروفيسور صاحبزاده حميد الله په خپل اثر ( پښتو غزل) کې د خان پر غزلو لنډ خو زما په پوهه جامع بحث کړی دی. او د خان په غزلو کې يې هغه ښېګنې ، برجسته ګۍ او لطيف اندوزنې ليدلې دي، چې د سيمې د ځينو نامتو دری ژبيو او اردو ژبيو شاعرانو د شاعرۍ مميزه ده. ده د خپلو تبصرو په ترڅ کې د خان د غزل په باب ويلې دي : (( خوشحال خان جنت مکان پښتو غزل د عظمت او رفعت اولوړتيا او سپېڅلتيا وکهکشان ته ورسوله او د پياوړتوب، بشپړتوب او فصاحت وبلاغت ثريا د بابا د تغزل لومړی منزل و))[۱۶۳]

## ج: رباعي :

زه د ستر خوشحال بابا پر رباعي سرايي خبرې ، د پروفيسور جهانزېب نياز له دې خبرو پيلوم : (( دفارسۍ د طرز د رباعۍ بابا ادم په پښتو کې خوشحال خان ختك ښکاري .... ))[۱۶۴] دا خبره په عام او خاص دواړه ډوله سمه نه ده. ځکه تر خان د مخه موږ رباعي لرو او ډېرې لرو . البته د لومړۍ ادبي دورې په اثارو کې موږ ته دوې رباعۍ رسېدلې دي، خو تر خوشحال خان دمخه روښاني شاعران رباعۍ لري. په تېره ارزاني روښاني پدې برخه کې د ځانګړې يادونې حق لري. ده خو رسايل د رباعيو په کالب کې بيان کړې دي . حکايت رسول يې هم درباعيو په کالب کې بيان کړی دی. څومره رباعۍ چې موږ ته له ارزاني پاتې دي ، زما د معلوماتو له مخې د بل شاعر دومره ډېرې رباعۍ ماته نه دي معلومې. له ښاغلي حمد الله صحاف کندهاري سره د يو بې نومه شاعر درباعياتو د دفتر خطي نسخه وه ، خو د هغه دفتر رباعۍ هم د ارزاني هغې هومره نه وې . د خان د رباعياتو دفتر ما

---

(۱۶۳) پروفيسور صاحبزاده حميد الله : پښتو غزل ، افضل شريف پر نټرز، لاهور ۱۹۹۳ ، ۳۰ مخ.

(۱۶۴) نياز پروفيسور جهانزېب : ددېوان خوشحال خان ختك د يباچه دويمه حصه محکمه ، ثقافت صوبه سرحد ( د چاپ کال نلري) ۹ مخ

شکل او مضمون له پلوه د سيمې له نورو ادبي اثارو د دريڅو او مقابلو جوګه دي، جامعيت او فني اقتدار يې ثابت دی او هغه د استاد علامه حبيبي په وينا : (( دخوشحال خان قصيده دده د شعر يوه جامعه برخه ده، چې دشاعر پياوړ توب او فني اقتدار او ادبي مهارت ښه ښکاره کوي . هم د فرخي او منو چهري د قصايد و صنعتي ښکړې لري، او هم د سنايي د حکمت او موعظت معنوي مزايا پکې پراته دي او هم د پښتو او پښتنوالې يوه رڼه هنداره ده)) (١٥٩) له دې لوړ بيانه موږ دا نتيجه اخلو که پښتو کې پخوا قصيده وه هم ، خوشحال خان په نوي رنګ ورنګوله او د قصيدو يو غټ ديوان يې موږ ته پرېښود چې په کمي او کيفي لحاظ د پښتو قصيده سرايۍ په ميدان کې بل ثوك ورسره د منډې توان نه لري.

## ب: غزل :

زموږ په ادبياتو کې له قصيدې نه دغزل روايت وروستی دی، زموږ پخوانی غزل داتمې هجري پېړۍ دی،لکه قصيده زموږ لرغونې غزلې هم موږ ته ډېر لږ رارسېدلې دي او ځو محدودې نمونې يې لرو، چې شکلي رغښت يې د شرقي غزلسرايۍ له عنعنو سره سم لرغونې ځانګړنې لري، خو مضامين يې د مينې تومنه او عرفاني ريښه لري. اما تر خان د مخه د روښانيانو په ديوانونو کې موږ د پښتو غزل يوه درنه ذخيره مومو، خو دا غزل بيا هم لکه ددوی قصيدې هومره رنګا رنګي ، د شرقي غزل ټول شرايط او اداب نه لري. له ځينو ځانګړو مواردو پرته د روښانيانو غزل محدود مضامين رانغاړي او هغه د استاد تړي خبره : (( د روښانيانو د وخت د غزلو نو ساحه دمضمون په لحاظ ډېره تنګه او په عمومي ډول په عرفاني روحاني او ځينو اخلاقي مضامينو پورې محدوده ده )) . اما خوشحال خان ختك لکه قصيده. غزل هم له هغه محدود ميدان نه راوايست او شرقي غزل يې په نوي جامه کې خپل

(١٥٩) حبيبي ، پوهاند عبدالحی : د پښتو ادب په تاريخ کې قصيده ، د افغانستان علومو اکادمي کابل ،دولتي مطبعه ، ١٣٥٧ هـ ش ٧٨-٧٩ مخونه

ځېږه مثنوي کې نظم کړي دي [۱۶۶] دغه وروسته کشف شوي د نام حق مثنوي او ديوان (کليات) مثنويات يې هم دولس ځپيز دي. مثنوي ويل هم په پښتو کې له اتمې هجري پېړۍ نښلېدلی دی. په اوله ادبي دوره کې موږ دمثنوي په کالب کې نظم شوي کتابونه درلودل، چې نمونې يې ترموږ رسېدلې دي. په دويمه ادبي دوره کې هم موږ تر خان د مخه مثنويات لرو، لکه دملا الف هوتك بحرالايمان، د امير تجويد او د ځينو روښانيانو متفرق مثنويات او نور.... خان دغه عنعنه ښه پاللې ده او د مستقلو اثارو د ليکلو او ترجمه کولو لپاره يې دغه شعري قالب ټاکلی دی.

## ه ، قطعه (ټوټه):

دخان کليات (ديوان) د قطعا تو يا ټوټو هم يو دفتر لري. چې معرفي يې په تېر ځېرکي کې راغلې ده. دقطعو ويل په پښتو کې لرغوني دي ان دريمې هجري پېړۍ ته تقارب کوي. ابو محمد هاشم سرواني (۲۲۳- ۲۹۷ هـ ق) چې ابي الفيا (۱۹۱ - ۲۸۲ يا ۲۸۳ ه ق) کوم شعر له عربي نه ترجمه کړی دی، د قطعې په کالب کې دی (پټه خزان ، ۶۰ مخ). تر دې وروسته دخان تر دورانه نور قطعات هم لرو، خو د خان هومره قطعات د بل شاعر نشته. د خان قطعات غني محتوی لري . هرډول مضامين يې پکې راوړي دي. دخان د قطعاتو د دفتر معنوي ارزښتونه تر شکلي هغې لوړ دي.

## و، مخمس :

مسدس او مربع هم داسې اصناف دي، چې تر خان دمخه په پښتو کې وو او خان هم پدې اصنافو کې شاعري وکړې.

## ز، ترکيب بند:

---

(۱۶۶) پوهنوال جلال الدين: په پښتو ادب کې د مثنوي پيدايښت، تاريخي او تکاملي سير، د افغانستان د مطالعات مرکز، پېښور ۱۳۷۸ ه ش ، ۳۵ ، ۶۷ مخونه.

ترجیح بند ،ترکیب بند ذولقافیتین معشر او مثلث داسې اصناف دي، چې تر خان د مخه دِ پښتو نظم په تاریخ کې بل ساری نه لري. دا صنفونه خان پر موږ راپېژندلي دي.

د خان دیوان او نور منظوم اثار د ژانر پوهنې له نظره لږ لږ وښول شول لکه چې تاسې ته څرګنده شوه خان د شرقي شاعرۍ کابوټول اصناف راخپل کړي دي او پښتو نظم په شکلي لحاظ د خان خوشحال خان ختک په اثارو کې بشپړ شو.

تر ده په پخوانیو موجودو ژانرونو کې چې ده کومه شاعري کړې ده، دکمیت او څانګړیو کیفیتو نو له پلوه پرپخوانیو ډېر زیات مزیتونه او ښېګنې لري. ابتکار یې مسلم دی او نوي ژانرونه خو یې پوهیږو چې د خپلې ژبې د غنا لپاره دده لورونه ده.

خوشحال خان د خپل دیوان د رنګیني او جامعیت په باب دده خپله ویلې توته زما په پوهه خورا صادقه خېژي:

د خوشحال دیوان د کان دجوهري دی
پکې واړه لعل و در یاقوت الماس دي
د جوهر و قدر چا زده جوهري زده
نه هغه چې مرغیچې یې په لاس دي

(دیوان ، ۲ / ۴۰۷)

(۲) د ختیځ دزړې ادبپوهنې په اساساتو کې د اشعارو معنوي ډولونه هم شته او منظوم اثار له دې جهته هم ارزیابي کېږي . زه دلته دُ خان منظوم اثار له دې جهتونو هم ګورم . دده په شاعرۍ کې دغه انواع پیدا کېږي.

## الف: حماسه:

د افغانستان په زياترو ادبي څېړنو کې هغه منظومات، چې د جنګ او وياړ او رزم ارايو خبرې پکې راغلې وي، دحماسې په نامه يادوي. حال دا چې خبره داسې نه ده. يوازې هغه اثار حماسه بلل کېداى شي، چې د يو شخص، يوې کورنۍ او يو قوم د رزمونو او جنګونو کيسې او قهرمانۍ په حکايتي ډول پکې بيان شوې وي. حماسې تاريخي، ديني او عشقي دي. هغه اشعار چې د رزم و حماست خبرې لري هغه حماسي شعرونه دي، موږ بايدحماسي شعر او حماسه سره بېل کړو.

دخوشحال خان خټک په منظومو اثارو کې حماسي شعرونه هم ډېر دي او زما په پوهه حماسه هم پکې شته. زما په نظر د خان هغه قصيده: ((راشه واوره دا داستان)) ديوې تاريخي حماسې شرايط بشپړوي. کېداى شي موږ دا يوه بشپړه حماسه وبولو.

په پښتو کې حماسي اشعار تر خان د مخه هم ويل شوي دي، مګر زما د معلوماتو له مخې ليکلې تر اوسه ښکاره حماسه به همدا د خان وي. ځکه زموږ نورې ليکلې تاريخي حماسې وروستۍ دي. که څه هم موږ په فوکلور کې حماسې لرو، خو هغه شفاهي دي.

اروابناد کانديد اکادميسين سر محقق محمد صديق روهي (۱۶۷) او اروابناد سر محقق دوست شينواري (۱۶۸) د فتح خان او رابيا او ادم خان درخانۍ نکلونه حماسې ګڼلې دي. کانديد اکادميسين محمد ابراهيم عطا-

---

(۱۶۷) روهي، کانديد اکادميسن محمد صديق: دامير کروړ او خوشحال خان د حماسي شعرونو پرتلنه، دامير کروړ ياد، د زلمي هېواد مل په زيار پښتو ټولنه، کابل، د ښوونې اوروزنې مطبعه، ۱۳۶۴ هـ ش، ۶۱ مخ.

(۱۶۸) شينواري، سرمحقق دوست: د پښتو د اولسي ادب لارې، پښتو ټولنه، کابل، دولتي مطبعه ۱۳۵۶ هـ ش، ۴۱ مخ.

يي بيا يوازې فتح خان نکل (حماسه) بللې ده. [۱۶۹] خو ما چې د پښتو نکلونو کومه مطالعه کړې، له دغو دوو نکلو سربېره د موسی جان او ولي جان نکل هم دحماسې ټول شرايط لري. ما دا نکل هم زموږ په زړو حماسو کې ورګډيات کړي دي. [۱۷۰]

ځنګه چې موږ دمخه يادونه وکړه دخان په ديوان کې حماسي شعرونه شته. دا شعرونه هم، لکه دخان ټوره شاعري له پوره قوت او پياوړتيا نه برخورداره دي. ارواښاد فضل حق شيدا (۱۹۱۰-۱۹۸۴) دخان پر حماسي شاعرۍ يوه خونده وره مقاله ليکلې او دخان دا ډول اشعار يې له بېلا بېلو اړخونو کتلي او ارزيابي کړي دي او د خپلې مقالې يو ځای، دخان د حماسي شعرونو ارزښتونه او پيغام داسې موږ ته راښيي: ((د خوشحال رزميه شاعري کې قوت، غيرت، جدت، طاقت او رجائيت دی. دده حماسي نظمونو کې ټنګ ټکور او زور شور دی. لوستونکي نه افسرده کي، نا اميدي او خفګان لرشي. دننګ او غور ځنګ د غېرت او عظمت خبرې زړه له ډاډ ورکوي، پړيوتې حوصلې اوچتوي. دغه شاعرۍ کې دخود دارۍ، برابرۍ اوکامګارۍ درس دی، حرکت او عمل دی، حدت او شدت دی، سره وينه ګرموي اوکلک زړونه نرموي. انسان کې اميد، د ننګ شوق، هنګامو سره بلدتيا او د پرزولو زور پيدا کوي. انسان جدو جهد ته اماده کوي، سربازي او جان نثاري ورته ښيي، د عزت او ناموس د حفاظت د پاره يوه نوې ولوله او جذبه راپيدا کوي...)). [۱۷۱]

---

(۱۶۹) عطايي، کانديد اکادميسين محمد ابراهيم: د پښتو پرشفاهي داستان يوه څېړنه، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۷۰ هـ ش، ۱۰۳ مخ

(۱۷۰) د پښتو نثر اته سوه کاله، ۱۱۰ مخ.

(۱۷۱) شيدا، فضل حق: د خوشحال حماسي شاعري، پښتو (مجله) پښتو اکادمي، پېښور د ۱۹۷۶ کال د اپريل ګڼه، ۱۳ مخ.

**ب، وياړنه :**

دخان په ځينو قصيدو کې د وياړنې ټول هغه اداب مراعات شوي دي، چې دختيځ پخوانيو اد بپوهانو ددغه معنوي ډول لپاره ټاکلي دي.
زما په پوهه دا قصيده :

په پښتو شعر چې ما علم بلند کړ — دخبرو ملک مې فتح په سمند کړ

د وياړنې شرايط لري. خو ښاغلی مشتاق مجروح يوسفزي دا قصيده دستاينې (مدحيه ) قصيدې په مثال کې راوړې ده.[۱۷۲] زما په پوهه دا قصيده مدحيه نه ده، بلکې فخريه يا وياړنه ده، چې شاعر پکې خپل کارونه او افتخارونه ستايلي دي. هغه اشعار چې دا ور خصوصيات ولري ، هغه په وياړنو کې حسابيږي [۱۷۳]

**ج: ستاينه :**

د خوشحال په شعرونو کې مدح ، لکه چې درباري شاعران شاهانو او اميرانو ته کړې دي، نه ليدل کيږي. خو ځينې مدحې پکې شته ، چې ديني او مذهبي ارزښتونه لري او يايې دمحسنانو او دوستانو مديحيه يادونې دي.

**د، غندنه :**

خان پخپله ويلي دي:

که له هجوې له غندنې درته وايم
فردوسي مې په داکار کې نه دی سيال

(۱۷۲) يوسفزی ، مشتاق مجروح: زرکانی ، تاج کتب خانه ، تاج پرنتنګ پريس ، پېښور ، ۱۹۹۸ م ، ۱۵۶ مخ.
(۱۷۳) هېواد مل ، زلمی : فرهنګ ادبيات پښتو ، جلد سوم :کميته دولتي طبع ونشر، مطبعه دولتي ،کابل ۱۳۶۶ ه ش ص ۲۲۰.

فردوسي لري ځوبيته له محموده
زه لرم د اورنګزېب د ذم جوال

د اورنګزېب او همدارنګه د خپلو ځينو زامنو غندنې يې ډېرې کړې دي. دشعر دا معنوي ډول هم دده په ديوان کې پيدا کېږي. خان ددې هجوو لپاره خپل دلايل لري او هر ځای چې د وخت پاچا يا خپل زامن او نور څوک هجو کوي، دليل يې هم څرګند وي . دلايل زياتره معقول دي.

هـ ، د اردو ادب د ژانر پوهنې د اثارو له مخې (۱۷۴) زموږ د پښتو نخوا ځينې څېړونکي حمداو نعت هم د شعر په معنوي انواعو کې راولي. بايد ووايو چې دخان په اثاروکې دا ډول هم شته او د ده دراسخې اسلامي عقيدې ښکارندويي کوي.

**و، ويرنه (مرثيه) :**

د خان په ديوان (کليات) کې د کورنۍ د غړيو او ځينو نورو د مرګ تاريخي قطعې ډېرې موندلې کېږي او مستقلې مرثيې يې هم ويلې دي. د نظام خان ، طاهر خان، معظم خان او نورو مرثيې دده په ديوان کې شته .

د خان ويلې مرثيې دمرثيه ويلو د ادابو تابع دي. الفاظ يې جذبه پارولی شي ، خو د ده د مرثيو په - تېره د نظام خان د مرثيې - اجتماعي او ملي اړخ ډېر دروند دی. شاعر هلته پدې خبره ډېر خوابدی دی چې ځوان په تلتک کې ومړ، کاشکې د پښتانه په ننګ کې مړ وای. پدې مرثيه کې هغه ملي روح ډېر ښه پالل شوی دی، چې شېخ اسعد سوري د امير محمد سوري پر مړينه ويلې رثائيه قصيده کې پاللی و. سره له دې چې خان ته د شيخ اسعد قصيده نه وه ښکاره ، اما دپښتانه د فکري تسلسل يو څرک په لاس راکوي.

**ز، سفر نامه :**

(۱۷۴) هاشمي ، رفيع الدين : اصناف ادب. سنګ ميل پبلکشنز. زاهد بشير پرنټرز ، لاهور. ۱۹۹۸م ،ص ص ۲۳ . ۲۵.

خوشحال خان خټك د سوات د سفر په نتیجه کې سواتنامه نظم کړه. که څه هم دا اثر د اجتماعي علومو د بېلابېلو څانګو له پلوه ځینې ځانګړې ارزښتونه لري، خو له دې سربېره سرې یو ډول سفر نامه هم ورته ویلای شي. د پښتو په زاړه منظوم ادب کې د خوشحال سواتنامه یو سفرنامه ډوله اثر دی، چې تر دې اثر وړاندې موږ بل معلوم دغسې اثر نه لرو.

## ح، حبسیات :

د پښتو ادب په تاریخ کې تراوسه خوشحال خان خټك لومړنی پښتون شاعر دی چې زندان ته تللی دی. خپل ټول ارمانونه ، هیلې ، نا امیدۍ ، بې وسۍ ، بې کسۍ او د بې وطنۍ ، بې کورۍ او بندو قید دردونه یې د خپل هنري استعداد په برکت په خپلو اشعارو او نظمونو کې رانغښتي دي او د حبسیاتو یوه درنه مجموعه یې موږ ته پرېښې ده. دده دحبسیاتو ځانګړې مجموعه (فراقنامه) نومېږي. مګر د ده په کلیات کې نور ډېر شعرونه او نظمونه شته، چې د خان د قید او نظر بندۍ په دوران کې ویل شوي دي.

د خان د حبسیاتو له مطالعې څرګندېږي چې خان په زندان کې هم د وچتې حوصلې او لوړ عزم خاوند و، د پاچا او حکامو اعمال یې غندلي او کړلي دي. سیاسي وضعې ته پر قراینو استواره کره کتنه لري. پدې حبسیاتو کې ځینې مثنویات داسې دي چې خان پکې خپل وطن ، خپل یاران ، کابل ، اټك او پېښور یادوي او د خپلې کورنۍ د غړیو او اولادونو یاد پکې کوي. دا مثنویات تر ځانګړیو رواني شرایطو لاندې ویل شوي دي. خاص درد او سوز یې پکې نغښتی دی. د خان حبسیات هم فکري ارزښتونه لري او هم یې شعریت لوړ دی او هنري مزایاوې یې عالي دي.

د خان ددې دوران پر شعرونو د استاد تړي تبصره ډېره پر ځای ښکاري :
(( همدا د رنتهبور جبل دی چې خوشحال خان د خپل خواږه وطن په یاد ډېرې

له درد او سوزه ډکې او ذاسې سندرې پکې ليکلې دي ، چې هنري ارزښت يې تر ملي ارزښت نه غوره دی او ملي يې تر هنري نه ....)) [175]

## ط، هزليات :

محمد هوتك د خوشحال خان په شرح حال کې راوړي : ((او کله کله هزل هم په شعر وايي)) (پټه خزانه ، ۸۰ مخ ). د خان کليات چې سړی وګوري، د هزل نمونې پکې شته .

د (هزل ) معنی فرهنګونو مزاخ او شوخي کښلې ده. هغه اشعارو ته چې شوخي او طنز ومسخرې پکې وي مزاحيه شاعري وايي. تر خان د مخه په لومړی ادبي دوره او بيا وروسته د روښانيانو ، دروېزه او د خان د معاصرو نورو شاعرانو په کلام کې د هزل نمونې نشته. خان لومړنی شاعر دی ، چې هزليات يې پښتوشاعری کې د اخل کړل. له پخوانيو ادبي نقادانو او څېړونکيو سربېره اوسنيو هم چې دده اثار صنف بندي کړي دي ، دده په شاعری کې يې د هزلياتو يادونه کړې ده. [176]

استاد کامل د (خوشحال خان خټك) په ۳۸۸ مخ کې ليکلي دي: ((خان ځينې داسې نظمونه هم ليکلي دي ، چې هزل ورته ويل کېږي .))

خو دی خپله د هزل ويلو او منلو ته تيار نه دی، لکه چې يې ويلي دي:

((که څوك شته چې يې د زړه په غوږ و واروي

مسخرې مذاق مې نه دي دا ارشاد کړم))

دا خبره هم نا سمه نه ده، ځکه د خان مقصد له دواړو نظمونو څخه فحش اوهزل نه. بلکې د بديو عکاسي او پند ونصيحت کول دی)).

---

(۱۷۵) تړی، پوهاند دوکتور حبيب الله : د خوشحال خان د ظهور اقتصادي او اجتماعي عوامل، ننګيالی پښتون ، پښتو ټولنه . کابل دولتي مطبعه ۱۳۴۵ ه ش . ۲۰۲ مخ .

(۱۷۶) روهي ، کانديد اکاډميسن محمد صديق : دخوشحال خان د مفکورو يو لنډ جاج، د خوشحال خټك کليات ( مقدم) دويم ټوك. ۱۳۶۹ ه ش ، اتم مخ.

ميرزا حنان کندهاري ( ۱۲۹۲ هـ ق ژوندی) هم دخان د شاعرۍ په باب مشابه نظر لري. لکه چې ويلي يې دي:

دخوشحال ختک ويل کل نصيحت دی
په ظاهريې مسخرې بوله بلکل

(ديوان ، ۶۳ مخ )

دخان په منظومو اثارو کې چې مو دختيځې شاعرۍ کوم معنوي ډولونه وکتل. له سفر نامې او حماسې پرته دده نورټول اقسام تر ده د مخه موږ د پښتو په زاړه ادب کې موندلای شو. لومړی ادبي دوره کې يې نمونې ډيرې دي. په دويمه ادبي دوره تر خوشحال دوران دمخه پړاو کې بيا ځينې انواع لږ څه تت غوندې دي. يا نشته او که وي هم د لفظ او معنی له پلوه يې سطح وچته نه ده. خوشحال خان د شعر دغه معنوي اقسام په خپله شاعرۍ کې له شرقي عنعنو سره سم وپالل په ځينو مواردو دده زيار او منبود پر عنعنو لاسبرى بنيي او ځينې داسې اثار ايجادوي چې د شرق د کلاسيکو اثارو په کتاز کې د ودريدو حق لري.

(۳) د شکل او معنی له پلوه د خان د منظومو اثارو د ارزښتونو د ښوولو تر څنګه اوس بايد دې خبرې جاج هم واخلو ، چې د خان په منظومو اثارو کې شعريت په کوم حد کې دی؟ مانا دا چې په منظومو اثارو کې يې نظمونه څومره دي او شعرونه څومره؟.

د خان د کليات او نورو منظومواثارو له مطالعې څرګندېږي، چې دده منظوم ديداکتيک اثار چې يې د خپلو خلکو د ښوونې او ديني ، اخلاقي روزنې لپاره دترجمې له لارې نظم کړي دي . لکه فضل نامه اخلاقنامه او نام حق د اثارو شرايطو او موضوعي ځانګړنو ته په پاملرنه ګرده نظمونه دي.

دغه راز د خان ځينې علمي او تجربي اثار ، لکه طب نامه ، باز نامه او سواتنامه هم دغسې خصوصيات لري. مانا دا چې ګرده نظمونه دي ، د هنر او شعريت څرک نه پکې لګي. خو په وروستيو دوو کې ښايي ندرتاً سرى يو نيم

بيت داسې پيدا کړي، چې دشعر درشل ته قدمونه ږدي. اما د کليات زياته برخه يې شعريت لري. ځينې اخلاقي او ديني موعظې ځينې هجوي او اجتماعي پندونه پکې داسې دي چې شاعر خپلې خبرې سکې سيخې ښځه کومې تخيلي ارايې وړاندې کوي. ما نا دا چې شاعر غوښتی دی چې خپل پيغام د نظم په کالب کې وړاندې کړي.

د خان د کلياتو د بېلا بېلو اصنافو يوه درنه ذخيره دشعريت او هنر په ګانه پسولل شوې او د خيال صورته يې ډېر ښکلي او عالي دي.

دي دځينوقصيدو د تشبيبونو په ښکلي کولو او منظر نګارۍ د پوره استعداد خاوند دی. په رباعياتو ځينو قطعو او نورو متفرقو اصنافو کې داسې ښکلي او په زېور اراسته شعرونه لري، چې زړونه اوبه پر ځنبې او ديو ښه شعر خوند ځينې اخيستل کېدای شي.

يوه، دوې رنګينې رباعۍ يې دادي:

په زړه کې ستا دکوڅې غبار لرم
په سر کې ستا د پيالې خمار لرم
پرېشان دزلفو بيمار د سترګو يم
زه دا دوه توکه له تا يادګار لرم

چرګان نارې وهي سحر سبا شه
يار په ارمان کې له ما جدا شه
غم مې هيڅېږي په عشق کې نشته
د عشق په کار کې رقيب بلاشه

خان د خپلو اشعارو د ښکلي کولو او په ادبي صنايعو په پسوللو کې بريالی دی. دده په شعرونو کې دا لاندې ادبي صنايع موندل کېږي: (( تجنيس، حسن تعليل، تلميح، طباق، الاضداد، ابهام، تنسيق الصفات، لف و نشر

مرتب او غیر مرتب، ردالعجز علی الصدر ،ترصیح، متوازي، المدح بمایشبه الذم،برائمه الاستهلال ،الذم بمایشبه المدح اونور....)) له دې سربېره د خان شعرونه د تشبیهاتو ، استعارو او کنایو هم ښه غوښنه برخه لري او دغه بیاني اجزا هم دده د شاعرۍ په ځینو برخو کې دکمال تر حده ښکلي استعمال شوي دي.

دخوشحال خان خټك دشاعرۍ له مطالعې یو بل تکی سرې ته دا څرګندېږي ، چې ده دتصویرونو جوړولو ،د اسطورو او تلمیحاتو په انتخاب کې او د شعر د ښکلي کولو د نورو نزاکتونو په کارولو کې زیار ایستلی دی، چې له خپل محیط او فرهنګ نه مواد واخلي. دی که په دې برخه کې دشرقي عنعنې تابعیت کوي، ورسره په څنګ کې زیاته پاملرنه خپل فرهنګ ته او کله چې یې سوچونه د تخیل په نیلي سورېږي، نو جولانګاه یې دلرغوني تاریخي افغانستان دننه .محیط او مناظر دي. ددې خطې مست سیندونه ښکلي رودونه ، ښکلې طبیعي مناظر،ښکلې درې او بیدیاوې ، دغره سرې اوبه او ددغه غرني محیط د خلکو عام فرهنګ دده شعر ته هستي ورکوي. د تصویر جوړونې پر وخت یې همدا محیط او مناظر او فرهنګ پرخیالونو حاکمیت لري. کله چې اسطورې او تلمیحات راوړي په شرقي فرهنګ کې له عامو استعارو او تلمیحاتو سر بېره دده خپل پښتني فرهنګ هم نه دی هېر او د خپل کلام د رنګینولو او پیاوړتیا لپاره یې خپل متلونه هم له پامه نه دي غورځولي.

دکلماتو په انتخاب کې د شعر دښکلا معیار ته په پاملرنه د نورو ژبو ، لکه : دري ، عربي، ترکي او هندي لغات را اخلي ، خو دا لغات د اعتدال په حد کې دي او د شعر د ښکلا لپاره د ښکلو کلماتو په انتخاب کې چې د هرې ژبې وي ، لوی استعدادخدای (ج) ورکړی دی.

د خان په باب اوس دا خبره ټول نقادان مني، چې دی په پښتو کې لومړنی شاعر دی ، چې د خپل شعر د ښکلا دماښی د هسکو لو لپاره دخپل هېواد او خپل فرهنګ ، له کاڼو ، ختیو او نورو کار امد موادو څخه کار

اخیستی دی. په دانشنامه ادب فارسي [۱۷۷] کې لولو: «او (خوشحال) نخستین کسی است که تشبیه ها، استعاره ها وکنایه های ویژه طبع افغانها را در زبان پشتو به کار برده و انها را به پایه فارسی رسانده است....».

ترجمه: «هغه (خوشحال) لومړنی شخص دی چې د پښتنو د طبعې تشبیه ګانې استعارې اوکنایې یې په پښتو کې کارولې دي او هغه یې فارسي پایې ته رسولې دي....».

د دانشنامې دا خبرې مطلقې نه، بلکې په عام ډول تر ډېره حده سمې دي، ځکه موږ تر خوشحال بابا د مخه هم یو ځای نیم په پښتو شعرکې پښتانه خیالونه او دغوخیالو نو زړولي انځورونه وینو او همدارنګه دفارسي شاعرۍ له ارزښتونو سره د خان بابا د شاعرۍ د ارزښتونو د پرتلنې په باب بیا لویدیځ کره کتونکي بل ورڅ فکر کوي. پر خوشحال مین فقید پروفیسور مارګنستیرن په خپله مقاله Khushal Khan the national poet of the Afghans کې وایي: «دفکر ژوروالی، د لفظي ترکیب باریکیو او د شاعرانه اظهار له مخې په فارسي شاعرانو کې د خوشحال مساوي هیڅوك کېدای نشي» [۱۷۸]

د خان بابا پر هنري کمال د یو کتاب پر حوصله خبرې کېدای شي. زما په پوهه بویه چې د P. H. D یوتیسس دې موضوع ته اختصاص شي. که به د تیسس لیکونکي دموضوع حق ادا کاندي نو به یې په حقه دا تحصیلي درجه تر لاسه کړې وي.

د شعر په ښایسته کولو کې دخان دکمال دڅرګندولو لپاره دا څو بیته له( خوشحال خان ختك ) نومي اثر او کلیات څخه را اخلم

تورې تورې زلفې کبود خال پکې کوتره
راشه که یې ګورې پرې بندي یو څه شهباز دی

(۱۷۷) دانشنامه ادب فارسي، ج ۳ ص ۳۷۹.

(۱۷۸) دخوشحال ختك کلیات، لومړی ټوك، د دوکتور ګل محمد نورزي مقدمه، شپږویشتم مخ.

مـرګ لـره يـې واړه ددهلـې لښکـر راغلـې
نه لا د خوشحال په مرګ خان روغ نه ګنې ننګ کړې

---

مـګر تـا څخـه سـامان د سـلطنت دی
چې په هـوډ مـې سپينه خولـه غـواړې ختکـه

---

زړه مـې سـتا پـه زلفوبنـد شـو تـا کبـاب کـړ
څوک شـهباز هـم د کبـاب د پـاره نيسـي

---

زمـا زړه مـې دمـزري تـر زړه تـيری کـا
سـتا د سـترګو وکبليـو و تـه زيـر دی

---

کـه پـه زړه شـوای زه بـه اوس د يـار څخـه وم
چا وې دا چې پښې هورې درومې چې زړه ځي

---

خيال يې د زلفينو عقـل و صـبرو ديـن و زړه وړي
نه پرېږدي په کـور کې ښه کـالي ، د خونې غـل دی

---

په مخ چې ښايسته شوې که په پسـول پسوللې نـه وې
ساده دوروځيو خال دې د درسـت حسن کفايت دی

---

ګل چې شګفته شـي عندليـب بـاندې نـارې کـا
نشـته يـوه کبنلـې چـې پـرې وبـوله بدلـه

د خان د شعر جوړ کړی ګلستان له ډېرو نايابو ګلانو ډک دی، چې په تماشا يې سړی نه ستړی کېږي. د خان د شاعرۍ بله ښېګنه داده چې، دی د شعر د ښکلا پيژ او فکري اړخ دواړو ته توجه لري.

د دوکتوراقبال نسيم خټک بيانونه دا ځای د توجيه ښه مورد لري: ((خوشحال د جذبې د امتزاج په برکت، د شعر فن هغه اعلی معيار ته رسولی دی ، چې د راتلونکو دپاره نمونه ګرځېدلې ده. خوشحال خان دفن دجمپالي اړخ او مقصديت دواړو خيال ساتلی دی)).(۱۷۹)

((خوشحال د خپل فن د ښکلا او تکميل دپاره په زړه کې ليونی جذبه ،او ولوله لرله، ځکه د هغه فن ژوندی او معياري دی. خوشحال د خپل فن اغاز اګرکه د اخلاقياتو د تبليغ نه کړی دی، خو د دغه تبليغ دپاره هغه د جرات رندانه او شوخي رندانه انداز خپل کړی دی.....))(۱۸۰)

ددې بحث په وروستيو برخو کې ددې خبرې هېرول نه دي په کار چې د خان ابداعي قوت بې سارۍ دی. دی کله کله داسې مضامين او انځورونه وړاندې کوي ، چې بې بديله دي.

د استاد نوميالي د خوشحال خان په شاعرۍ کې پدې اړه يوې ښې موضوع ته پام وراوښتی دی. او په خپله رساله پښتو ادبيات کې د خوشحال بابا پر ابتکارونو، د فکر پرنويوالي يو ځای کاږي: ((خوشحال خان سربېره پر هغه چې دپښتو دکتبي ادبياتو ذخيره په ټولو لازمو موضوعاتو کې شتمنه کوي، خو د تخيل په نړۍ کې له پښتني کلتور څخه د پېړيو پېړيو په واټن مخ په وړاندې يو ابتکاري ټوپ وهي او د ايجاد يوه داسې کلتوري پديده تصويروي چې تر اوسه لاهم په عملي توګه دنړۍ په پرمختللو کلتورنو کې

---

(۱۷۹) نسيم خټك پژوفيسور دوکتوړ اقبال: خوشحال او جماليات ، پښتو اکادمي ، پېښور ، ريسرج سل ، جدون پريس ، ۱۹۸۷ م ، ۴۹۵ مخ.

(۱۸۰) نيسم خټك: پروفيسور دوکتور اقبال- د خوشحال خان د فن نظريه ، جشن خوشحال، مرکزي خوشحال ادبي ثقافتي جرګه (اکوړه خټك) شرکت پرنټنګ پريس ، لاهور ، ۱۹۸۶ م ، ۷۵ مخ.

دنهایي رشد په سویه نه ده پلې شوې. مثلاً دی په هغه کلتور کې چې یوازې د ترهځه په رسمیت پېژني پر ښځه باندې ځان کنجوي او خپل ارزښت په ویني:

**که زه نه وای تابه خان لره بلل څوک**

**په پالنګ به دې داهسې درختل څوک**

په دې بې ساري ابداع سره دپښتو ادب د تخیل برخه ډېره وړاندې بیایي او د ځان د پاره د نړۍ په سویه د ادبي ابتکار جایزه ګټي.)) [۱۸۱]

سرې چې د خان د شاعرۍ دغسې بې سارېو ادبي ابتکارونو او له خپل فرهنګ سره په اړیکه کې دخیال ډېر دنګ پروازونه ویني ، بې شکه یې دښاغلي شفق دا لاندې نتیجه ګیري زړه ته پرېوزي . ښاغلي شفق په خپله یوه لیکنه کې کښلي دي ((... د خپل منفرد انداز ، رنګین بیانۍ ، ژورې مطالعې ، بې پناه مشاهدې او د ګڼو علمونو د زده کړې په وسیله چې خوشحال خان پښتو شاعرۍ کې په کوم مقام ولاړ دی ، باور مې نشي ، چې د دنیا لوی شاعران هم دغه مقام ته ورسي. ډېر کم شاعران به ده سره سیالي وکړی شي)) [۱۸۲]

په بیان کې صداقت او رښتنوالی ، له مسایلو سره انتقادي برخورد هغه امتیازي تکي دي ، چې د خان شاعرۍ ته دپښتو زاړه ادب تاریخ کې خاص امتیازي مقام ور په برخه کوي. د پښتو بل کلاسیك شاعر لا دا مقام نه دی تر لاسه کړی او دسیمې په شاعرانو کې هم د دغسې ځانګړنو لرونکي شاعران ښایي ډېر لږ وموندل شي.

---

(۱۸۱) نومیالی، کاندید اکادمیسین محمد انور : دپښتو په کتبي ادبیاتو کې دخوشحال دوران ، لېمه ، ۱۱ ګنه ، ۱۹۹۹ م ، ۵ مخ.

(۱۸۲) شفق ، مشتاق الرحمن : کلام دخوشحال رنګین د بوډۍ تال. جشن خوشحال ، ۱۱۴ مخ.

علامه اقبال لاهوري په خپله مقاله : Khushal Khan Khatack the Afghan
warier poet کې د خوشحال دشاعرۍ دغو خصوصیاتو ته متوجه شوی دی او په همدې بنا یې ویلي دي ، چې دده په شاعرۍ کې د عربو د ابتدایي شاعرۍ سا چلېږي . کله چې موږ دده دشاعرۍ مطالعه کوو ، په هغې کې د بیان فطري اصلیت او صداقت په څرګند ډول لیدلای شو. پدې شاعرۍ کې دعربي شاعرۍ په څېر له ازادۍ او جنګ سره اظهار نظر پیدا کېږي، د ژوند په باره کې نقطه نظر او د نقد رنګ او سلیقه هم یکې هماغسې ده))[۱۸۳]

دخان پر شعر-ددې بحث په ترڅ کې دې خبرې ته هم لږ تمبدل په کار دی ، چې خپله د شعر په باب دی څه ډول فکر کوي اوڅه شي ته دی شعر وایي. یو څوك چې په خپل فرهنګي چاپېر کې - ده ته ښکاره - تر خان د مخه - شفاهي او لیکلي ادبیات نقدوي ، نو دی په خپله هم باید د شعر په باب نظر ولري.

خان د شعر په باب خپل نظر په یوه غزله کې داسې ښوولی دی:

لکـــه غشـــي لـــره بویـــه تـــیرانداز
هســـې شـــعر لـــره بویـــه ســـحر ســـاز

همېشــــه دزړه پـــه لاس تلــــه د وزن
زیـــات وکـــم د وزن یـــو تـــوری غمـــاز

په تـــور اس د حقیقـــت نـــاوې ســـوره کـــا
پـــه ســـپین مـــخ پلونیـــولی د مجـــاز

---

[۱۸۳] دوکتور سید عبدالله : کلام خوشحال مین شعر عرب کي جهلك ،خوشحال نامه ، ۱۱۷مخ.

سل جلوې ، شل کرشمې سل مکيزونه
په نظر کې يې ښکاره دسترګو ناز

دصنعت زېور په څورنګه پرېوزي
دتشبيه چندنې ،چووه باندې طراز

دتجنيس پايلې څرې په پښو کړي
دترصيح منې په غاړه اوږد ، دراز

دمضمون د نزاکت غمزه ور څخه
سرتر پايه درست صورت سره يو راز

که په نظم کې کار ګه ټپوس راوړي
هم د زړونو په ښکار ګرزي لکه باز

چې يوه وينا يې وکړه هوښيار هغه
عاقلان به ويل کاندي په ايجاز

و پښتو ژبې يې ډېره خوبي ورکړه
چې خوشحال کړ په پښتو شعر اغاز

( د خوشحال خان ختك كليات، ۱ ۸۰-۸۱مخونه )

د خان بابا له دې نظر يې څخه ښکاري، چې خان هر ډول منظوم کلام ته شعر نه وايي ،بلکې ده چې په کوم هنري انداز کې دشعر لوازم موږ ته ښودلي دي ، پرې پوهېږو،چې دی د هنر په زېور اراسته کلام شعر بولي او دا نظريه او ـ سنې نقادان هم وړاندې کوي. د شعر او نظم تر منځ پوله،همدا تخيل او

هنري اسباب او ښيګڼې وباسي. د شعر په باب د خان نظريه له اوسنيو معيارونو سره برابره ده.

له هنري زېور سر ببره ،لکه چې اروابناد استاد الفت هم ورته اشاره کړې ، (۱۸۴) . خان (وزن) د شعر لپاره اساسي شرط بولي او بې وزنه کلام ته شعر نه وايي.

لنډه دا چې د ابداعي قوت، د خيالونو د ژور والي او دشعر د لوازمو د رعايت دمضمون او شکل دتناسب ،د ژوند د مسايلو د شاعرانه انځور او نورو رندانه او مستانه شوخيو دبريالي مراعت له پلوه موږ په خپل زاړه ادب کې دخوشحال ساری بل نه لرو. او لکه چې زموږ نقادان ادعا لري خان د خپلو ځينو نوښتونو له امله په سيمه کې د ډېرو پرمختلليو ژبو له لويو شاعرانو سره د ودرېدو جوګه اوپه ځينو ځانګړنو کې تر ډېرو د مخه دی.

دده بل ستر ابتکار دا دی ، چې د شرقي ادبياتو جوليزه او مانيزه اډانه يې له پښتني فرهنګ سره پخلا کړه او زه خپله پدې برخه کې ددوکتور راج وليشا ختڼك له دې وينا سره موافق يم : (( د خوشحال نه وړاندې په پښتو شاعرۍ کې يو قامي رجحان خو ښکارېدو ولې د فورم په حيث هغه پښتنه شاعري نه وه او نه دمضمون په لحاظ . خوشحال هغه وړومبی پښتون شاعر دی، چا چې شاعري هم ، پښتنه کړه او په شعر کې يې پښتون مزاج واچولو. او دغه هماغه امتيازي نښه ده، چې خوشحال خان ختڼك ته پرې د پښتو پلار ويلی شي ....)) (۱۸۵)

(۴)په تېر څېرکي کې مو د خان دمنظومو اثارو تر څنګه ددوی منثور اثار هم معرفي کړل دی ، لکه چې د پښتو نظم په تاريخ کې د خپلو تلپاتې اثارو سره د يو نامي اتل حيثيت لري . دغسې دنثر په تاريخ کې

---

(۱۸۴) الفت ، ګل پاچا: ادبي بحثونه ، سازمان مهاجرين مسلمان افغانستان، شرکت پرنتنګ پريس لاهور۱۳۷۳ هـ ش ،۸مخ

(۱۸۵) ادبي تحريکونه ، ۱۷۶ مخ.

هم دده خپل مقام دی. سره له دې چې تر اوسه لاس ته راغلي منثور اثار يې دمنظومو هغو په څېر ډېر او پراخ نه دي.

هغه وخت چې له بايزيد پرته د نورو روښانيانو نثرونه نه وو ميندل شوي د اخوند درويزه او اخوند کريم داد د مسجع نثرونو تر څنګه روان او ساده نثرونه هم نه وو پيدا شوي، نو دپښتو نثر په تاريخ کې خوشحال خان لومړنی ليکوال ګڼل کېده، چې د پښتو نثر ليکنې مخه يې له مسجع ليکنې څخه بېرته ساده ليکنې ته راوګرځوله.

خو چې کله د ارزاني ، مخلص، درويزه، کريمدار او تاريخ افاغنه ساده او روان نثرونه وموندل شول، نو بيا دخان د نثر نګارۍ په باب لوړ حکم د تامل وړوګرځېد او دا ځکه چې تر خان نه وړاندې ځينو نورو ليکوالو ساده او روان نثرونه ليکلي دي. نو ځکه دبازګشت د دغه جريان استازي ، نورکسان دي، نه خوشحال خان.

دخان په نثرونوکې موږ عادي اوعلمي نثرونه موندلای شو. دده عادي نثرونه په مجموعي ډول د بياض په نوشتو کې او علمي نثرونه يې زياتره د دستار نامې په نثرونو کې ليدل کېږي . البته په دستار نامه کې دعادي نثرونو بېلګې هم ميندلې کېږي .

دخان په نثرونو کې د بياض نثرونه په عام ډول ډېر پاخه ،روان او محاورې ته نژدې دي.

دده د بياض د نثر يوه وړه نمونه دلته راوړم : « په دا منځ کې خبر راغی چې شجاعت خان د ډېر لښکر سره په ګنداب کې ډوب شه.

جسونت سنګه وتښ . ايمل خان لويه فتح وکړه، ډېر پښتون په دا کار خوښ شه ، شېرمحمد خوار حيران شه هيڅ يې نه زده وو، چې څه وکړم. شجاعت خان دده وسيله و. ورك شه ، دی مغل و ، دمغل زور کم شه . دريا خان لره چې د ما خطونه ورغلل، مصلحت يې دا وکړ، چې د نوښار کوټ فلا- نه مات کړ. ايمل خان شجاعت خان ډوب کړ زه به ګوښې په کوهاټ ورشم . د

بل چا نوم راسره نه وي دا فتح به زما په نام شي)) ( خوشحال خان ختك ، ۳۹۴ مخ ).

استاد کامل دخان د بیاض د نثرونو په باره کې لیکي: (( د خان علیین مکان وړې وړې فقرې ،عبارت ترحده زیات زړه وړونکی کوي او لطف وربخښي او هغه ته د خبرو اتر رنګ ورکوي. داسې ښکاري چې خان په هوجره کې ناست دی اوله چا سره خبرې کوي. هغه څه پوښتي او خان نهایت برجسته او لنډ ځواب ورکوي)) [۱۸۶]

دخان د بیاض په باب دپښتو نثر ټول نقادان هم دا وړ نظریه لري. دا نثر ډېر روښانه ،ساده ، ښکلی او خوږ نثر بولي.

پروفیسور قلندر مومند دخان ټول نثرونه بې تکلفه ګڼي، خو د بیاض دنثرونو په باب کاږي: (( ... دخوشحال خان بابا ذاتي ډایري چې اکثره حصه یې افضل خان په خپل تاریخ مرصع کې دبیاض په نوم عینا نقل کوې ددې نه هم زیات شګفته نثر لري)) [۱۸۷]

اما د خان د دستار نامې نثر چې پوخ ، قوي له کړکېچونو ازاد او په ډېرو ځایونو کې خوږ نثر دی. خو د بیاض یا د پروفیسور قلندر مومند په اصطلاح د ډایري دنثرونو دخوږ لت، رواني او ساده ګي پایې ته نشي رسیدای. اروانباد استاد رښتین (۱۲۹۸-۱۳۷۷ هـ ش) لیکلي دي: (( د دستار نامې په نور نثر کې دجملو د جوړښت له کبله یو څه ګراني او سختي لیدل کېږي او په ځینو ځایونو کې ډېر عربي او پارسي کلیمې هم راوړي ....)). [۱۸۸] دموضوع د وضاحت لپاره د خان د دستار نامې یوه ټوټه هم د کتو ده :

(( جهان په دوه توکه انتظام اوقوام لري. په علم په توره . که توره نه وي ، علم

(۱۸۶) خوشحال خان ختك، ۳۹۸ مخ.

(۱۸۷) مومند ، قلندر : پښتو ته دخوشحال بخښنې ، توریالی پښتون ، پښتو ټولنه ،کابل ، دولتي مطبعه ، ۱۳۵۰ هـ ش ۲۷۱ مخ.

(۱۸۸) رښتین ،پوهاند صدیق الله: خوشحال او دهغه دنثر څېړنه ، ننګیالی پښتون، ۲۶۳ مخ.

بې قوت دی، قوت يې توره دی، دعلم ښبنتن محتاج د تورې دښبنتن دی، دتورې ښبنتن محتاج دعلم د ښبنتن دی. ښه ځوانان هغه دي چې دواړه توکه لري. په يوه لاس کتاب په بل لاس توره. ددې جهان په دولت دهغه جهان دولت حاصل کا)) (دستار نامه ۶۷۰ مخ).

(۵)د خان دری منظوم او منثور اثار هم موږ په تېر ځپرکي کې معرفي کړل، ددغو اثارو دکيفي ځانګړنو په باب بايد ووايو ، چې :

الف: يوه پارسي قصيده يې چې ترموږ ه رسيدلې ده ، ۲۶ بيته لري او پدې مطلع پيل کېږي:

چشم ظاهر بين مردم ،مردم چشم سراست

عاشقان رادر درون چشم ، چشم ديگر است

خوشحال خان خپله دغه دري قصيده په هغه وزن او بحر کې ويلې ده، چې امير خسرو دهلوي ( ۶۵۱-۷۲۵ ه ق ) د بحر الابرار قصيده، جامي هروي ( ۸۱۷ -۸۹۸ ه ق ) دلجه الاسرار قصيده ، امير علي شېر نوايي ( ۸۴۴-۹۰۶ ه ق ) د تحفه الافکار قصيده، کليم کاشياني (۱۰۶ ه ق مړ) د نسايم الاسحار قصيده ، ابو المعاني بېدل ( ۱۰۵۴ - ۱۱۳۳ ه ق ) د سواد الاعظم قصيده په همدې بحر او وزن کې ويلې دي.

دوکتور روان فرهادي په خپله يوه مقاله (امير علي شېر نوايي و خوشحال خان ختك در ميدان مشاعره) کې د خوشحال خان او نوايي قصيدې څېړلې دي. په خپلو تبصرو کې يې ويلي دي چې، که څه هم ددغو شاعرانو مورنۍ ژبې دري نه وې خو ددوی ادبي پايه د ومره لوړه او قوي وه، چې دواړه د دري ژبې له سترو شاعرانو څخه هم ګڼل کېږي او هر يوه يې په دري ژبه هم موږ ته خپل ديوانونه پرېښي دي .[۱۸۹]

---

[۱۸۹] فرهادي روان ،دوکتور عبدالغفور : امير علپشير نوايي وخوشحال خان ختك درميدان مشاعره ، امير علي شېر نوايي کابل ۱۳۶۰ ه ش

ځینې نور څېړونکي هم خان د دري ژبې له ښو شاعرانو څخه ګڼي. نعیم تقوی لیکلي دي ( ترجمه ) : (( خوشحال خان ختټک سره لدې چې د پښتو عظیم شاعر و د فارسۍ هم د لوړې پایې شاعر و. هغه په فارسۍ کې داسې غزل او نظمونه ویلي دي چې د فارسي په معیاري شاعرۍ کې شمارل کېدای شي)) (۱۹۰)

ب: دده د دپارسي شاعرۍ عمده برخې غزلې دي، چې د حافظ او سعدي څه اثرات پرښکاره دي ، خو ږلت، ساده ګي او رواني یې عمده خاصه ده .

اروانباد ګویا اعتمادي هم دغسې نظر درلود او په خپله یوه مقاله کې یې لیکلي و، چې دبیان رواني او خوږلت، لفظي ساده ګي او معنوي ښکلا ، خواږه اهنګ او لطیفې موسیقۍ دده کلام ته ځانګړې امتیاز ور بخښلی دی. (۱۹۱) دخان دري قطعې او رباعۍ زیاتره تاریخ ګویۍ ته وقف شوې دي. یوه نیمه یې اخلاقي او اجتماعي مفاهیم هم ښندي. دخان دری اشعار یې د الفاظو د انتخاب له پلوه د عراق سبک تابع بللي دي ، او په عام ډول ،رندانه او عاشقانه مضامین ، پندونه او نصایح او اخلاقي مفاهیم رانغاړي . ځینې انتقادي اجتماعي نکات یې هم په دري شاعرۍ کې بیان شوي دي. د خان دري نثر د هند د نیمې وچې له دری نثرونو رنګ اخلي او په هغه سیمه کې د دري لیکنې له مروج سبک تابع ښکاري.

(۶)خوشحال خان ختټک په نظم او نثر کې دځانګړي سبک خاوند دی.

دده دنثر اونظم سبک ځانته خپلې ځانګړنې لري. دده د شعر دسبک ځانګړنې لومړی ځل په ۱۳۱۹/ ۱۹۴۰ م کال اروانباد استاد حبیبي په

---

(۱۹۰) پشتو کا عظیم شاعر ، ۹۱ مخ ،

(۱۹۱) اعتمادي، ګویا: اشعار دري خوشحال خان ، ننګیالی پښتون ، ص ۲۷

تاریخچه سبکهای اشعار پشتو [۱۹۲] کې بیان کړې وې او وروسته بیا دده پر سبک نوروهم خبرې کړې دي.

ما چې د افغانستان د ښوونځیو دلسمو او یو ولسمو ټولګیو لپاره د پښتو ادبیاتو تاریخ کښلی دی، په هغه کې مې د خوشحال د نظم ونثر دسبك پر ځانګړنو خبرې کړې دي [۱۹۳] او د نثر هغې مې یې د ائانګړنې لړ مفصلې ( دپښتو نثر اته سوه کاله ) [۱۹۴] نومي کتاب کې راوړې دي. ماته دلې د هغو لیکنو غبرګون د هر ورنه ایسي، که څوك په دې برخه کې دځانګړې مطالعې شوق ولري کېدای شي هلته رجوع وکاندي. که نه وي په هغو دوو کتابونو کې چې دخوشحال د شاعرۍ او نثر نګارۍ دسبکونو کومې ځانګړنې ماده وار بیان شوي دي، دحاضر کتاب په دغه څپرکي کې او وړومبي څپرکي په یو څه زیات تفصیل بیان دي.

دخوشحال د نظم او نثرسبك دده د کورنۍ شاعرانو او هم ځینو نورو پښتنو شاعرانو پسې پاللی دی. زه دلته ددغه اثر له شرایطو سره سم دخوشحال خان دسبك پیروان ښیم.

(۱) **اشرف خان هجري**: دخوشحال خان مشر زوی دی، دزوکړې تاریخ یې ۱۰۴۴ هـ ق کال د رمضان د میاشتې نهم یا اوه لسم دی. د اشرف خان هجري د ژوند پېښو په اړه ځینې بیانونه په دې کتاب کې راغلي دي. دی په ۱۰۹۲ هـ ق کال په پېښور کې نیول شوی او بندي یې هند ته بیولی دی. دګوالیار، کړکی او بیجاپور په کوټو نو کې یې بند تېر کړی دی او په ۱۱۰۶ هـ ق کال په بیجا پور کې مړشوی دی.

---

(۱۹۲) حبیبي، عبدالحی: تاریخچه، سبکهای اشعار پشتو، سالنامه کابل،۱۳۱۹ هـ ش، ص ۲۰۴.

(۱۹۳) هېواد مل، زلمی: دپښتو ادبیاتو تاریخ لومړی ټوك، دانش خپرندویه ټولنه ،پېښور ۱۳۷۹، ۱۴۶ -۱۴۷ مخونه

(۱۹۴) دپښتو نثر اته سوه کاله، ۲۹۷- ۲۹۸ مخونه

اشرف خان هجري دپښتو ژبې زبردست شاعر دی. پښتو او دري ديوانونه ترې پاتې دي. د اشرف خان هجري پښتو او دري ديوانونه د ښاغلي همېش خليل په زيار پېښور کې چاپ شوي دي. ښاغلي انځور دهجري پرشرح حال يوه رساله ليکلې چې ( د زنځيرونو شاعر ) نومېږي او په ۱۳۶۴ هـ ش کال په کابل کې چاپ شوې ده.

هجري دخوشحال خان دسبک په مقدرو پيروانو کې شمار شاعر دی. په ديوان کې يې غزلې ،قصيدې قطعې او رباعی پيدا کېږي ( دزنځيرونو شاعر ۶۵ مخ).

(۲) **عابد خان**: دخوشحال خان ختک زوی دی. په ۱۰۵۸ هـ ق کال زوکړی دی. دمړينې تاريخ يې نه دی ښکاره .په ډېرو جنګونو کې يې ګډون درلود. خان په ډېرو ځايونو کې دعابد خان ډېره ستاينه کړې ده، خو د خان د ژوند په وروستيوکلونو کې دخان دازار سبب شو. دده دمړينې تاريخ نه دی څرګند. دی هم د پښتو ژبې شاعر دی دوې غزلې او يوه قصيده يې استاد حبيب الله رفيع موندلې دي او په ادبي ستوري کې يې خوندي کړې دي.. دعابد خان دا درې واړه لاس ته راغلي شعرونه مرثيې دي چې شاعر دخپل ځوانيمرګ زوی شاهد خان ( ۱۰۹۰-۱۱۱۸ هـ ق) په وير کې ويلې دي [۱۹۵]

(۳) **عبدالقادرخان** : د خوشحال خان ختک له عالمو او دانشمندو زامنو څخه يو هم عبدالقادر خان ختک دی، چې د ۱۰۶۳ هـ ق کال د ذولحجې پر ۲۵ مه زوکړی دی. خوشحال خان به له نازه د (بابا دل) باله .

ده د نوښار اوګنبت په جنګونو کې ګډون درلود ، اما په عام ډول صوفي مشربه سړی و. دنقشبنديه تصوفي طريقې پيرو او په دې طريقه کې دشېخ سعدي لاهوري مريد او خليفه و. دپښتنو په فرهنګي حلقو کې په خليفه مشهور و.

---

[۱۹۵] ادبي ستوري ، ۲/ ۲۹-۴۱ مخونه.

عبدالقادر خان دژوند په وروستیو کلونو کې په نوښار کې اوسېده. له افضل خان ختك سره د مخالفت له امله په ۱۱۲۵ ﻫ ق کال افضل خان بندي کړ (تاریخ مرصع ۴۰۸ مخ). په ځینو ځېړنو کې راغلي دي، چې عبدالقادر خان، افضل خان وژلی دی. دګدستې کومه خطي نسخه چې د پېښور اسلامیه کالج دکتابخانې په خطي مجموعه کې موجوده ده او د ۱۱۲۶ ﻫ ق درجب المرجب پر ۲۷ مه کښل شوې، په دې نسخه کې دکاتب (قطب الدین) له اختتامیه لیکنې ښکاري چې عبدالقادر خان به دا وخت مړ و.

ده د تالیف او ترجمې له لارې ډېر څه موږ ته پرېښي دي هانري جارج راورټي دغه شمېره تر شپېتو پورې ښودلې ده(۱۹۶) اما ټول اثار یې موږ ته نه دي رسېدلي. معلوم اثار یې دا دي:

**الف : د اشعارو دیوان** : چې لومړی ځل لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي په ۱۳۱۷ ﻫ ش کال په کندهار کې چاپ کړی دی.

**ب : ګلدسته** : دسعدي شېرازي دګلستان ګلچین دی، چې نظم یې په نظم اونثر یې په نثر ژباړلی دی. ددې کتاب له ترجمې په ۱۱۲۴ ﻫ ق کال کې فارغ شوی دی. ګلدسته لومړی ځل په ۱۹۶۱ م کال د پېښور پښتو اکادمي چاپ کړې ده.

**ج: یوسف زلیخا**: د عبدالرحمن جامي هروي یوسف زلیخايې ډېره خوږه پر ۱۱۱۲ ﻫ ق کال په پښتو نظم راژباړلې ده. لومړی ځل په ۱۲۸۸ ﻫ ق کال په دهلي کې چاپ ده. (فرهنګ ادبیات پښتو ۲/ ۲۱۹).

**د : نصیحت نامه** : ددې رسالې له وجوده موږ محمد هوتك خبر کړي یو. ځینې برخې یې په چاپي دیوانونو کې راغلي دي.

**ﻫ : څلوېښت حدیثونه** : عبدالقادر د حضرت پیغمبر(ص) څلوېښت حدیثونه په پښتو نظم ترجمه کړي دي. مایې متن د دوو معلوموخطي نسخو

(۱۹۶) راورټي، هانري جارج: دپښتو ګرامر مقدمه، دویم چاپ، لندن، ۱۸۶۰ م. ۲۹ مخ.

له مخې چاپ ته اماده کړی دی او مقدمه مې هم پر کښلې ده . تر اوسه دا رساله نه ده چاپ .

و: **دقصیده برده پښتو ترجمه** : د امام بوصیري قصیده برده عبدالقادر خان ډېره ښکلې ترجمه کړې ده ،دا ترجمه دمیاشرف ننګرهاري او محب الدین له ترجمو سره یو ځای په ۱۳۲۶ هـ ق کال په دهلي کې چاپ ده.

عبدالقادر خان ختك دنظم او نثر دمیدان پهلوان او په دواړو برخو کې دخپل نومیالي او فرهنګیالي پلار پیرو دی.

(۴) **سکندر خان ختک** : شیرین بیان شاعر سکندر خان ختك دخوشحال خان بل زوی دی، چې دزوکړې کال یې ۱۰۶۸ هـ ق اوازي. دتیرا په سفر کې د خان ملګری و. دکابل صوبه دار امیر خان سره کابل ته هم تللی و. دکورنیو شخړو په دوران کې د افضل خان طرفدار و. ژوند یې تر ۱۱۱۶ هـ ق یا ۱۱۱۸ هـ ق پورې یقیني دی.

دیوان یې په ۱۹۵۳ هـ ق کال د استاد کامل په زیار پېښور کې چاپ دی. دا نسخه ناقصه ده. دده د دیوان یوبشپړه نسخه د پېښور دپښتو اکادمی په خطي کتابخانه کې شته ،چې یوه ښکلې قصیده او یو ښکلی ترجیح بند ترې استاد رفیع په ادبي ستوري کې رااخیستې دي.

**لیلی ومجنون** : دا مثنوي سکندر خان په ۱۰۹۰ هـ ق کال بشپړه کړې ده. لومړی ځل په ۱۲۹۴ هـ ق کال په دهلي کې چاپ ده. دویم ځل په ۱۳۵۸ هـ ش کال پښتو ټولنې په کابل کې چاپ کړه.

**شمایل نامه او پند نامه** : دا دوې وړې منظومې رسالې دسکندر خان د دیوان په چاپي نسخه کې ناقصې دي. ما د خطي نسخې له مخې بشپړې کړې او په ۱۳۶۴ هـ ش کال په کابل کې یو ځای چاپ شوې. له مقدمې او تعلیقاتو سره .

د سکندر په دیوان کې دیوسف زلیخا د داستان یوه برخه او د ختم احزاب مثنوي هم شته. هانري جارج راورتي د سکندر په اثارو کې دمهر و مشتري د کیسې یادونه هم کړې ده، چې تر اوسه نه ده ،پیدا شوې.

(ادبي ستوري ۲/ ۳۲۵ - ۳۳۱ مخونه)

(۵) **صدرخان خټک** : د صدر خان خټك دزوکړې تاریخ ۱۰۶۵ هـ ق ښودل شوی دی. ژوند یې تر ۱۱۲۴ هـ ق کال پورې یقیني دی. د دوډې په جنګ (۱۰۹۱هـ ق) کې شریك و. په کورنیو شخړو کې یې دریځ ثابت نه و. کله دبهرام او کله د افضل خان ملګری و، په ۱۱۲۰ هـ ق کال دتېرې فوجداري ده ته سپارل شوې وه. هغه وخت چې لوی خان خوشحال خان خټك په ۱۰۷۴ هـ ق کال مغلو ونیو اوبندي یې هندوستان ته واستاوه، لوی خان ته لومړنی لیك دصدر خان رسیدلی و.

صدر خان په خپلو شعرونو کې صدر خوشحال او ابن خوشحال د تخلص په توګه راوړی. ده هم په پښتو ډېر اثار موږ ته پرېښي دي:

**الف: دلی او شهو**: دپښتو دغه فوکلوري داستان لومړی ځل ده د نظم په قالب کې واچوه او لیکنی بڼه یې ورته ورکړه. دا داستان ده په ۱۱۰۰ هـ ق کال نظم کړی دی. دا مثنوي دپېښور پښتو اکادمي چاپ کړې ده. سریزه پرې خیال بخاري لیکلې ده.

**ب: ادم خان درخانی**: دا هم د پښتنو په فوکلور کې شامله یوه عشقي حماسه ده. چې صدر خان د نظم په کالب کې اچولې او له نظمه یې په ۱۱۱۸ هـ ق کال کې فارغ شوی دی. ددې حماسې د نظم سپارښتنه ورته لوی خان کړې وه. ادم خان درخانی لومړی ځل په ۱۹۵۹ م کال دپېښور پښتو اکادمی له خوا د پروفیسور نواز طایر له خوا کښل شوې ده.

**ج: معجزات**: صدرخان خټك د اسلام دستر پیغمبر حضرت محمد (ص) معجزات هم پښتو نظم کړي دي. د معجزاتو دا مثنوي تر اوسه نه ده چاپ شوې. خطي نسخې یې ډېرې پیدا کېږي.

د : **جنګنامه شېر علي**: دا يوه بله منظومه رساله ده، چې په پای کې يې د (صدر) نوم د ناظم په توګه راغلی دی. خو تقطعي ډول يې نسبت ده ته ثابت شوی نه دی. سره له دې چې ما په فرهنګ زبان و ادبيات پښتو [197] کې دده بللې ده.

ه : **ديوان** : دده بشپړ ديوان ورك دی. دښاغلي انځور صاحب په وينا ديارلس غزلې، يوه قصيده او دوه مخمسونه يې تر اوسه پورې معلوم شوي او خوندي دي (۱۹۸). د صدرخان نورې غزلې هم په چمن بې عديل وګلشن بې تمثيل او د حسيب ګل ميا په بياض کې موندلې کېږي.

هانري جارج راورتي دا هم ويلي دي ، چې صدر خان دخسرو شرين کيسه هم په پښتو نظم کړې ده، خو تراوسه نه ده موندل شوې.

(۶) **ګوهر خان ختک** : د خوشحال خان ليکوال ، ناظم او مترجم زوی دی. ما دفراقنامې دتعليقاتو په (يوڅلوېښت مخ) کې ويلي دي چې د ګوهر خان دزوکړې او مړينې نېټې نه دي څرګندې. د زوکړې په باب يې زما خبره سمه نه ده، ځکه چې د تاريخ مرصع په **۲۵۹** مخ کې دده د زوکړې تاريخ دلوی خان په يو دري بيت کې راغلي دی او اروابناد استاد کامل ترې ۱۰۷۰ هـ ق کال استخراج کړی دی ( تاريخ مرصع ، ۱۱۸۰ مخ ). دا خبرې په لوړ ډول ما ( دپښتو نثر اته سوه کاله ) په ۳۲۸ مخ کې راوړې دي. خود نثرتركتاب پخوا ليکل شوي او وروسته چاپ شوي (د پښتو ادبياتو تاريخ ) ۱۶۰ مخ کې د ګوهر خان د زوکړې تاريخ په باب ليکل شوي دي: (( دګوهر خان دزوکړې تاريخ صريح نه دی

(۱۹۷) هېواد مل ،زلمی : فرهنګ زبان و ادبيات پښتو ، ج ۱ ،رياست تاليف و ترجمه ،مطبعه تعليم و تربيه ، ۱۳۵۶ هـ ش ، ص ۲۶۷ .دغه راز فرهنګ ج ۲ ص ۴۹ .

(۱۹۸) انځور : زرين ، دصدر خوشحال ژوند او اثار ، پښتو اکاډمي ، پېښور ،ملت پرنټرز لاهور، ۱۹۹۶ ، ۷۲ مخ.

ذکر شوی. خو په تاريخ مرصع کې دخوشحال خان له يو بل زوی نصرت خان سره دده نوم يوځای راغلی دی. څنګه چې د نصرت خان دزوکړې تاريخ استاد کامل مومند ۱۰۶۹ ه ق استخراج کړی دی،نو کېدای شي چې مونږ دغه وخت دده د زوکړې کال هم وګڼو)) دا روايت ضعيف او د نصرت خان د زوکړې پراساس راغلی دی. غالبا چې ۱۰۷۰ ه ق به دده دزوکړې تاريخ وي. دمړينې نېټه يې نه ده څرګنده.

ده په ۱۱۲۰ ه ق کال کې دحضرت پيغمبر(ص) د سيرو يو پند کتاب د افضل خان په غوښتنه په پښتو ژباړلی. مقدمه يې خپله پرې ليکلې ده.

تر دې وروستيو وختونو پورې دده همدا يو اثر مونږ ته معلوم و. درې څلور کاله دمخه د پېښور پښتو اکادمي ته دده يوه بله ترجمه را ورسيده چې د-يني مسالې يې پکې پښتو کړې دي. ددې ترجمې په پای کې وايي :

د تاريخ يې خاتمه شوه (( قوي افضل نامه))

له (قوي افضل نامه ) نه ۱۱۲۳ ه ق راوزي ،نو کېدای شي چې ګوهر خان ختک به دا ترجمه پدې کال بشپړه کړې وي. داکتاب يې له فارسي نه ترجمه کړی دی. ده ويلي دي

دفارسي ترجمه ګرانه په پښتو کړه ما اسانه

ددې ترجمې خاتمه په نظم ده او نور کتاب په پښتو نثر دی. خطي نسخه يې ۲۵۰ صفحې ده.

ګوهر خان دپښتو او دري ژبو ناظم او شاعر هم دی. له نثرونو سربېره پښتو او دري نظمونه يې مونږ ته رسېدلي دي. په پښتو نظمونو کې يې قصيدې ،رباعی، اوغزل شته ( پښتو ادبياتو تاريخ ۱۶۱ مخ)

د خان دکورني له دغو شپږو تنو چې ياد يې تېر شو ، دخان دکورنۍ دځينو داسې غړيو نومونه مخې ته راځي ، چې يويو پارکي يې راپاتې دي، ياپې دشاعرۍ خبرې شوې خو اثار يې نه دي معلوم.

په دې ډله کې دخان دکورنۍ دوې ښځمنې هم شاملې دي ، چې يوه يې مېرمن اوبله يې لور ده.

(١) توتيا: د اشرف خان هجري مور او دخوشحال خان مشرې مېرمنې د شاعرۍ خبره هانري جارج راورتي د پښتو ګرامر مقدمه او دپښتو اشعارو منتخبات کې کړې ده. مولوي نورمحمد افغان په تحفة الامير کې دتوتيا يوه غزله خوندي کړې ده.

خو ددې د نامه په باب په ورو ستيو څېړنو کې دوه ډوله روايتونه راغلي دي. زموږ استاد پوهاند عبدالشکور رشاد دګلشن روه ددرېيم چاپ مقدمه کې چې پر اشرف خان هجري کومې خبرې کړې دي هلته يې ويلي دي ، چې مور يې مرجانۍ نومېدله ،چې د الف خان لور ، د ملك سرور لمسۍ او دميرك کړوسۍ ،سينۍ ختکه وه [١٩٩]

زموږ د استاد اکادميسين پوهاند رشاد پاملرنه به پدې برخه کې دلوی خان لاندې بيت ته وي:

دنطفې اثر مې لاړ پکې ضايع شو
واړه پې دمرجانۍ لري تاثير

اما اروابناد عقاب ختك بيا په خوشحاليات کې ليکلي دي: «دخان اولنۍ تبر توتيا ګله ده. دخان تول مشران زامن دتوتيا ګلې نه شوي وو.....» (خوشحاليات، ٢٤ مخ ) دزنځيرونو شاعر ١٥)

لوی خان په خپله يوه رباعي کې ويلي دي:

---

[١٩٩]- رشاد ، پوهاند عبدالشکور : دګلشن روه د درېيم چاپ مقدمه : دپښتو انکشاف ، دولتي مطبعه ،کابل ، ١٣٥٦ هـ ش ٨٢ مخ .

خوشحاله مه يې په زوی والي وياړه
هم ځينې مهر وفا مه غواړه
هر چه زوولي دي دتوتيا له نسه
دپېدر کشو په بوی دي واړه

(ديوان ، ۲/ ۹۵)

خپله دلوی خان په وينا وو کې هم دده دمشرې مېرمنې يا دمشرانو زامنو د مور نوم يو ځای مرجانی او بل ځای توتيا راغلی دی.

څنګه چې دا نوم په ادبي څېړنو کې توتيا راغلی دی ، نو ځکه ماهم د توتيا په نامه ضبط کړ.

ددې يوه غزله په تحفة الامير کې راغلې ده. دا غزله د خان په ديوان کې هم شته. ډېرو د خوشحال خان بللې ده، اما اروانباد عقاب پدې عقيده و، د خان په ديوان کې ددې يوه قطعه يو فيصده او دوې غزلې راغلې دي. د يوې غزلې مطلع او مقطع يې دا دي.

نور به مخ په ائينه برابر نه کړم
نه به دواړې سترګې تورې په رانجه کړم
هغه يار مې چېرته دی خوشحال دې اوسي
دی دې خپله خوشحالي کا غم به زه کړم

يو روايت داسې موجود دی ، چې دا شعرونه توتيا هغه وخت ويلي وو، چې خان په هندوستان کې بندي و او دې به هند ته ور استول ( دپښتو ادبياتو تاريخ ۱۵۰ مخ ). بايد ووايو چې توتيا په ۱۰۴۰ هـ ق کال له خان سره واده کړی و او په ۱۰۸۰ هـ ق کال مړه شوې ده.

(۲) **حليمه** : دخان لور او د عبدالقادر خان ختك سکنی خور وه. دا هم لکه خپل ورور د شيخ سعدي لاهوري مريده وه.

حليمه فاضله او عارفه ښځه وه، قران عظيم يې حفظ کړی و او د قران حافظه وه. محمد هوتك په پټه خزانه کې ددې يو غزل راوړی دي چې مطلع يې داده:

**د اشنا ی په فکر خوښه هسې شان شوم**

**نه پوهېږم چې ممتاز که نورجهان شوم**

(پټه خزانه ، ۱۸۱ ، ۱۸۲ مخونه)

اوس څرګنده شوې ده، چې د اکوړي په زړه کلي کې د بي بي حليمې جوړ کړی جومات اوس هم شته ، چې پدې ورو ستيو کلونو کې له سره مرمت شوی دی.(۲۰۰)

(۳) **ازادخان**: دخوشحال زوی دی. دزېږېدو تاريخ يې ۱۰۶۵ هـ ق راوزي. دی هم دپښتو شاعر و د اشرف خان هجري دمرګ تاريخ يې په يوه قطعه کې ويلی دی. دا قطعه افضل خان په تاريخ مرصع کې اخيستې ده (دپښتو ادبياتو تاريخ ۱۶۲ - ۱۶۳مخونه) .

(۴) **عجب خان** : داهم دخوشحال خان زوی دی. اشرف خان هجري يې پۀ يوه بيت کې د سخن شناسۍ يادونه کړې ده. او افضل خان يې په تاريخ مرصع کې يو بيت راوړی دی. (فرهنګ ادبيات پښتو ۲/ ۲۷۷)

(۵) **بهرام خان** : دی دخوشحال خان زوی دی ،دزوکړې تاريخ يې ۱۰۵۳ هـ ق او مړينې هغې يې ۱۱۲۴ هـ ق دی. دلوی خان ددې بيت :

((عطارد دې نور قلم له لاسه کښېږدي

چې په دا خوبي بهرام املا انشا کا))

له مخې ادبپوهانو ويلي دي، چې بهرام خان هم دپښتو شاعر او ليکوال و. اما اثار يې تر اوسه نه دي ليدل شوي.

---

(۲۰۰) انشاً دوکتور سهيل : پټې شاعرانې ، شمشاد (مجله) دخوشحال فرهنګي ټولنه ،د۱۳۷۵ هـ ش کال دويمه ګڼه ۳۶۷ مخ.

(۶) **عبدالرحمن خان**: دا هم د خوشحال خان زوی دی،چې دشاعرۍ یادونه یې اشرف خان هجري کړې ده، دده کلام هم تر اوسه تر موږه نه دی رسیدلی.

دخان له زامنو ، لور او لمسیو او ګرمنې سر ببره دده دکورنۍ وروستیو غړیو، لمیسانو او کړوسیانو په شاعرۍ او نثر نګارۍ کې د خان د سبك اغېزې منلې دي او دده دسبك په پېروانو کې شماره شي. یوازې شیدا او کامګار له دې سنته عدول کړی دی او هندي سبك یې خوښ کړی دی.

د خان د کورنۍ نور وروستي غړي چې دده د سبك پیروان بلل کېږي دادي:

(۱) **بابا سعید خټک**: ښاغلي همیش خلیل د بابا سعید پښتو د یوان دوه ځله چاپ کړی دی او د دري دیوان له وجوده یې موږ خبر کړي یو. د ده پرغزلو او قصیدو د خوشحال خان دسبك اغېزې ښکاره دي. ښاغلي همېش خلیل ویلي دي، چې دی د خوشحال خان د کورنۍ یوفرد و او ژوند یې تر ۱۱۲۴ هـ ق پورې یقیني بللی دی (۲۰۱)

(۲) **افضل خان خټک**: د اشرف خان هجري زوی او دخوشحال خان لمسی دی چې له بهرام سره یې د شخړو یادونه ځای ځای پدې کتاب کې هم راغلې ده. دده زوکړه ۱۰۷۵ هـ ق کال ښودل کېږي او دمړینې کال یې استاد رشاد د وروستۍ څېړنې له مخې ۱۱۵۳ هـ ق سم راخېژي. افضل خان هم دسیاسي او فرهنګي سیرت خاوند دی. پر سیاسي چال چلند او د کورنۍ له غړیو سره یې پر کړنو دېرې نیوکې شته ، خو د پښتو د ودې او د پښتنو د ښه ژوند لېوال سړی و.

---

(۲۰۱) (۲۰۲) خلیل همېش: ورکه خزانه لومړی ټوك دارالتصنیف ، پبلك ارټ پریس ،پېښور ، ۱۹۶۰ م ، ۳۶۸ مخ ، ۳۵۶ مخ.

ده تاریخ مرصع لیکلی دی. چې یوه برخه یې د نعمت الله هروي د مخزن ترجمه ده. په پاتې برخو کې یې د خپل نیکه ټول کښلي یا د ښتونه عیناً راغبرګ کړي دي. ځیني نور مطالب یې پرې خپله لیکلي دي. له دې سربېره افضل خان کلیله و دمنه یا عیار دانش هم د علمخانه پې دانش په نامه په پښتو ژباړلی دی. ا فضل خان د پښتو نثر یو درنه ذخیره موږ ته راپرېښې ده. منظومات یې هم شته. دده په غوښتنه ډېر اثار په پښتو ترجمه شوي دي. او له دې سربېره د لوی خان ټول اثار ده ترتیب او تنظیم کړي دي.

(۳) **خوشحال خان شهید**: د سعد الله خان زوی او د افضل خان لمسی ، د پښتو غزلسرا شاعر دی. د خوشحال سبک پېروي یې ډېره ښه کړې ده. د پلار د سرداری په زمانه کې د تېري حاکم و. د احمد شاه بابا په پوځي کار روايیو کې دخیل سړی و او په ۱۱۷۲ کال په جنګونو کې وژل شوی دی.

(۴) **نواز خټک** : دا سړی لومړی ځل ارواښاد دوست محمد خان کامل پرموږ راوپېژاند. بیا وروسته ښاغلي همېش خلیل په ورکه خزانه کې ځای ورکړ. دا سړی د سعد الله خان لمسی او د افضل خان کړوسی ښودل شوی دی. (۲۰۲) خو پروفیسور افضل رضا د خوشحال خان شهید زوی ښودلی دی. (۲۰۳) دی هم د پښتو غزلسرا شاعر او د هغه سبک پیرو دی ، چې خان یې اساس ایښی دی.

دخان د کورنۍ له غړیو چې ورتېر شو ، د سیمې ځینې نورو شاعرانو په نظم او نثر کې هم د خان د سبك اثرونه منلي دي ، او یایې هم دخان د شاګردانو اغېز منلی دی او په ادبي څېړنو کې دده پیروان بلل شوي دي. زه دلته د دوی یوازې نومونه اخلم:

---

(۲۰۳) د پښتو غزل ، ۱۰۹ مخ .

(۱) **شاعران** : اشرف خليل، فيض محمد، فاضل، حسين، عليم، موسى، افضل، عبدل، عثمان، ابراهيم، فضل او احسن ځينو اد بپوهانو، لکه استاد رښتين [۲۰۴] او پروفيسور رضا (پښتو غزل، ۱۱۶ مخ) مسري خان ګګياني هم د خوشحال خان د سبك په ملګرو کې ياد کړي دي. دمسري خان د ديوان له مطالعې دا نظر په دسړي زړه تـه پرېوزي.

ما د پښتو ادبياتو تاريخ کې دا شاعر د خوشحال په پيروانو کې نه دی ياد کړی. دلته بايد داخبره وکړو چې ځينو ادبپوهانو ځينې نور شاعران هم د خوشحال بابا دسبك په پيروانو کې شامل بللي وو. دا هغه وخت و، چې ددغو خلکو اثار نه وو کتل شوي. کله چې يې اثار وکتل شول، نو ښکاره شوه چې دا شاعران د بابا د سبك پيروان نه دي. دا ډله شاعران ما د پښتو ادبياتو تاريخ (۱۶۷-۱۶۸ مخونه) کې په نخښه کړي دي.

(۲) **نثر ليکونکي** : محمد مظفر د تاريخ اعثم کوفي ژباړن، عبدالحليم، د اختيارات بديعي او نورو ډېرو اثارو مترجم، فخر الدين صاحبزاده، مسعودبن عبدالله (دواړه د ادم خان درخانۍ د کيسې ليکونکي). د قايدالاثام الى البيت الحرام ليکوال او نور ...

د خان بابا د سبك په پيروانو کې يو هم په ژانري او موضوعي پراختيا کې د خان پايې ته نه دي رسېدلي، خو په هنري ارائيه او دليك په روش کې د ده دسبك د پيروانو په اثارو کې ښايي ځينې داسې برجسته ګۍ تر سترګو شي، چې د سبك د موسس پر اثارو څه برلاسی و ښيي. دا کار طبيعي هم دی. که به داسې يو حرکت اوتمايل په ادبياتو کې ونه ليدل شي، نو به دا وايو چې د انکشاف څرك په ادبياتو کې نه ترسترګو کېږي.

(۲۰۴) رښتين، پوهاند صديق الله : د پښتو ادبي مکتبونه، يو نيورستي بك ايجنسي، پېښور، ۱۹۸۸ م. نوميالي شاعران، ۱۲۷ مخ.

ښاغلي ضيا جعفري يو ځای د خان او پېروانو د اثارو د پرتلنې پر وخت دغسې خبره کړې ده (ترجمه):

«عبدالقادر خان له خپل پلار نه هم سليسه او زياته صافه ژبه ليکلې ده او د پښتو نثر د سلاست او روانۍ خواته يې يو قدم وچت کړی دی» (۲۰۵)

ددې بحث په پای کې دا يادونه لازمه بولم ، چې که خان بابا له يوې خوا ګرانبيه او نه پناه کېدونکي اثار خپلې ژبې او خپلو خلکو او فرهنګ ته ډالۍ کړي دي، ددې تر څنګه يې د خپلې کورنۍ د غړيو يوه ډله هم خپلې ژبې او فرهنګ ته د خدمت لپاره وروزله. دې ډلې هم په خپل وار سره د پښتو ژبې د اثارو په بډاينه کې پوره برخه واخيسته او پرهغې لارې يې قدمونه کښېښودل ، چې خان د خپلې ژبې او ادب د روزنې په منظور ايستلې وه.

---

(۲۰۵) جعفري ، ضيا: پښتو ادب ، کراچي ، ۱۹۵۶ م ، ۵۳ مخ.

# اتم څپرکی
## (( ۸ ))

# مفکر ، عالم او فیلسوف خوشحال خان

**مګر زه يې چې ګويا په شاعري کړم**
**پښتانه به پوهول ايزد تعال**

**د خوشحال خټک په ژبه برکت شه**
**چې ويل کا په پښتو له هره بابه**

ما په تېرو دوو څپرکو کې په عام ډول زموږ فرهنګ ته د خان پربخښنو خبرې وکړې او هم مې هغه نظريې او خبرې راوړې چې دلوی خان دشاعرۍ او ليکوالۍ د ځنګه والي پر مساله يې رڼا اچوله او دده څېره يې تر يوه حده د ليکوال او شاعر په توګه موږ ته راوښودله .

اوس به پدې څپرکي کې دده د اثارو پر فکري ، نظرياتي او علمي خواوو خبرې وشي او زيار به وايستل شي ، چې دده د خپلو اثارو او دنورو پوهانو نظريوته په پاملرنه دده پر علمي اوفکري صلاحيتو نو او نظريو خبرې وکړو.

د خوشحال په اثارو کې د اجتماعي علومو دبېلا بېلو څانګو او حتی د طبيعي علومو د ځينو څانګو مستقل اثار او د نورو اثارو په ترڅ کې ضمني بيانونه ميندل کېږي. هغه علوم چې ده په خپلو بېلا بېلو اثارو کې بيان کړي دي ، دا دي:

## الف، ديني او فقهي علوم :

تاسې دده د اثارو په لړ کې وليدل چې خان هدايه اوځينې نور فقهي او ديني اثار ترجمه کړي، چې تر اوسه موږ نه دي تر لاسه کړي ، خو په ديني او فقهي اثارو کې يې فضل نامه او د نام حق پښتو ترجمه زموږ په واک کې دي.

## ب: تصوف :

موږ پوهېږو چې خان په خانقاه کې ناست صوفي نه و، خو دده د مطالعې وسعت ، د شرق د سترو صوفيانو له اثارو سره دده اشنايي او بيا دده دخپل دوران لويو روحاني او علمي شخصيتونو ، لکه لوئ ولي الله حضرت شيخ رحمکار کاکا صاحب ، مولانا عبدالحکيم سيالکوټي او شاه اويس ملتاني سره دده ناسته ولاړه ، دا ټول روابط او مطالعات دده پر روان ، ذهن او ضمير اغېز من وو. دعرفان او سلوك پلوشو يې هم زړه روښانه کړی او د باطن په صيقل کې يې ترې ګټه اخيستې وه.

استاد کامل په دې باب ويلي دي (( څه د علمي تبحر او مطالعې د پراختيا او څه دروابطو په وجه د خان په کلام کې د صوفيانه مذاق د لوړې پايې نظمونه پيدا کېږي)) (خوشحال خان خټك ، ۲۵۲ مخ ) . لکه چې استاد کامل ويلي دي د خان د کليات پرځينو نظمونو صوفيانه رنګ خپلې وزرې غوړولې دي. دا لاندې صوفيانه قطعه يې د کتو ده:

راشه وګوره ستر ګې دجهان ننداره ګوره
چې ښايست لري په ستوريو د اسمان ننداره ګوره
ددې خپل وجود په باغ کې په هر شان ننداره ګوره
چې هر ګل وته نظر کړې دباغوان ننداره ګوره

( خوشحال خان ختك ۲۵۳مخ ).
باید ووایو چې دخان صوفیانه ویناوو هم زموږ د څېړونکیو پام وراړولی دی. اروابناد استاد حمزه شینواری ( ۱۹۰۷ - ۱۹۹۴ ) دخان د یوه بیت :

(( په هر څه کې ننداره د هغه مخ کړم
چې له ډېرې پیدایېې ناپدید شو.))

په عارفانه تشریح کې یو کتاب لیکلی دی، چې د ( خوشحال خان ختك یو شعر ) نومېږي.

## ج . اخلاقي مضامین :

د خان د کلیات یوه برخه د اخلاقي مسایلو بیان ته وقف شوې ده. له دې سربېره د اخلاقنامې په نامه یې د اخلاق محسني اووه لس فصله هم پدې نیامت ترجمه کړي دي، چې له مطالبو او حکایاتو یې پښتانه پند واخلي او په خپله اخلاقي روزنه کې ترې استفاده وکړي.

دا خبره باید هېره نه کړو ، چې تر خان د مخه چې موږ کوم پښتو اثار لرو، په زیاترو کې دیني او اخلاقي مسایل بیان شوي دي. البته خان ددغو اثارو په ترجمه او نظمولو سره زموږ د ژبې د دیني او اخلاقي اثارو پله درنه کړې ده او اخلاق محسني او هدایه او نام حق تر خان پخوا چانه وو پښتو کړي - که وي تر موږه نه دي رسېدلي - خان تر اوسه پدې برخه کې داولیت حق لري.

## د : طب :

تر خان د مخه په پښتو کې موږ داسې اثار نه لرو چې طبي موضوعات او مسایل دې پکې بیان شوې وي . خوشحال خان ختك لومړنی عالم دی، چې د خپل دوران د مروج طب نسخې او لارښوونې یې په پښتو نظم کړي دي . ما دمخه دده طبعي اثار ښودلي دي.

اروابناد پروفیسور تقویم الحق کاکا خیل ( ۱۹۹۹ م مړ) له طب سره دخان تعلق په اړه ډېره ښه توجیه وړاندې کړې ده ، چې دلې یې راوړل مفید

ايسي: ((خوشحال خان ختټك ددې هر څه سره سره طبيب او حكيم هم و. طب دهغه كسب نه و، او نه دطب عمومي استعمال ته هغه وزګار و. خو طب په هغه زمانه کې د علم و ادب يوه حصّه وه او د ضرورت مطابق ددې علم حاصلول ضروري وو .... په انساني طب کې هغه خپل تجربات راجمع کړي دي)). (۲۰۶)

دطب نامې له مطالعې څرګندېږي چې ځينې نسخې يې د خان د خپلو تجربو زېږنده ده. ځينې نسخې يې د زاړه طب له ښلا ښلو كتابونو را اخيستې او بيايې چې نسخه تړې جوړه كړې خپله يې هم ازميلې ده. لكه چې په طب نامه كې يوځاى لولو:

په لوى طب كې مې ليدلي          بيا په خودمې ازمايلي (۲۰۷)

## ه : هيئت او نجوم :

د خان د كليات له ځينو اشارو او ځينو نظمونو په ډاګه څرګندېږي، چې ده د هيئت په علم كې مطالعه درلوده.

په يو غزل كې يې راغلي دي :

ودې زېږي فرزنـــــــــــد
د بابـــا پـــه غـــولي، ونـــد
د مريـــخ پـــه كوكـــب شـــوى
شـــوخ، بـــې بـــاک بـــلا لونـــد
دزهـــره پـــه ســـتوري زيـــږه
خوښ، خرم خوشحال خورســـند

(۲۰۶) طب نامه (مقدمه)، ۷ مخ.

(۲۰۷) ختټك، خوشحال خان، طب نامه، پښتو (اكادمي، پېښور، خوشحال ريسرچ سل، جدون پريس، ۱۹۸۵ م، ۳۹ مخ.

نحـس او سـعد اووه سـتوري
تـــر دا نورشـــته لا بلنـــد

( د خوشحال خان ختك كليات، ۱/ ۴۶)

يو بل ځای ستور پوهنه کې د خپل صلاحيت په باب وايي :

چې کوکب مې ياري نه کا
په دا څه که کوکب دان شوم

( ديوان ، ۲/ ۳۲۳ )

ادبپوهانو هم زياتره په نجوم اوهيئت کې دخان لاس لرلو ته اشارې کړې دي. پروفيسور محمد نواز خان طاير ، خوشحال خان ختك د يو ذهين او وچت خياله هيئت دان په توګه پر مور راپېژندلی دی (۲۰۸)

## و ، جغرافيا:

دخان د بياض له ځينو کښنو او په سواتنامه کې دسوات د جغرافيي حدودو له ښوولو دا خبره څرګندېږي چې خان په جغرافي مسايلو پوهېده. له دې سربېره دخان په ديوان کې دفصلونو د تغير، د مياشتو، ورځو فلکي اجرامو او دې ته ورته ځينو نورو مسايلو په باب هم اشارې او يادونې لري. لکه پروفيسور طاير چې کښلي دي ( ترجمه ) « دزمکې ګرځېدل دفلکي اجرامو حرکات ، دستوريو اوسيارو مشاهده له ډېرې پخوا زمانې دمفکرينو او فلاسفه وو ترکتنې لاندې وو . خوشحال هم پر دې موضوع پوره قلم فرسايي کړې ده .....» (خوشحالنامه ۱۴۲ مخ)

دخان دا ډول اثار د طبيعي جغرافيا له بېلا بېلو ځانګو سره اړه پيدا کوي . او مور ده په اثارو کې د جغرافيا په ځينو ځانګو پورې مربوط اثار مونداې شو. دا اثار او اشارې مور ته دا افاده راکوي چې خان د پخوانيو جغرافيا والو

(۲۰۸) طاير ، پروفيسور ، محمد نواز خان : جغرافيه دان خوشحال ، خوشحالنامه ، ۱۴۲مخ.

اثار لوستي وو. ماته خپله ترخانه دمخه په پښتو اثارو کې جغرافي مسایل او بیانونه نه دي تر سترګو شوي.

## ز: تاریخ:

دخان په کلیات کې ځینې واغلي قصیدې ، قطعې، ترکیب بند ذوالقافیتین او ځینې نور پارکي تاریخي ارزښت لري. دخان د بیاض نوشتې زیاتره تردغه حکم لاندې راځي او موږ دخان له دغو لیکلیو او نظم کړیو موادو د هغه دوران د تاریخ په لیکلو کې ښه استفاده کولای شو. خوشحال څېړونکیو ډېرو دخان بابا په اثارو کې تاریخي موادو ته اشارې کړې دي او دی یې مورخ بللی دی.

ما چې د ۱۹۴۹ م کال چاپ یوه درسي کتاب کې دخوشحال کوم بحث لیدلی دی (۲۰۹) په هغه کې تر بېلا بېلو عناوینو لاندې پر خان بحث شوی دی ، یو بحث یې ( مورخ خوشحال خان) دی. دغه راز ښاغلي شاه جهان انور هم پر خوشحال خان بابا خپله یوه څېړنه کې د (مورخ خوشحال) تر سرلیك لاندې دخوشحال خان پر هغو اثارو خبرې کړې دي، چې تاریخي ارزښت لري اودی یې ښه مورخ بللی دی. (۲۱۰) ښایي ځینې ښاغلي دا اعتراض وکړي چې تاریخ لیکل خوځانته میتودونه لري ، ایا دخوشحال ددغو څو نظمونو او د بیاض دنوشتو له مخې موږ ده ته مورخ ویلی شو؟ ددغسې احتمالي اعتراضونو او پوښتنو په ځواب کې ژما په پوهه سړی ویلای شي، دده کوم منظم تاریخ زموږ په لاس کې نشته چې سړی یې دتاریخ دمیتودولوجۍ له نظره وګوري. دده په ځینونظمونو کې تاریخي پېښې بیان شوې دي، او د ځینو واقعاتو یادښتونه یې لیکلي دي، چې لمسی یې په تاریخ مرصع کې اخیستي دي. دغه اثار

(۲۰۹) محمد ایازخان: پښتو انرزګایید ، ما ستر خان ګل منظور کتبخانه ، منظور عام پریس ، پېښور، ۱۹۴۹ .۵-۱۸ مخونه .

(۲۱۰) انور ،نور شاه جهان : د خوشحال خان خټك قطعات او متفرقات ( سریزه )دیوان خوشحال خان خټك ۲۹۰ - ۲۹۴ مخونه .

تاريخي ارزښت لري او په تاريخ ليکنه کې د استفادې وړ دي. په تاريخ پوهېدنه او له تاريخ سره مينه دده له اثارو څرګندېږي.

د تاريخ يو معاصر متخصص دوکتور وقار علي شاه کاکاخېل، دخوشحال ختك پر تاريخ ليکنه يو ځانګړی کتاب ليکلی دی او دده د تاريخي ارزښت لرونکي اثار يې پکې څېړلې دي او په تاريخ کې يې د خوشحال خان ختك دصلاحيتونو په باب کښلي دي:

((تاريخ نويسي يو ګران فن دی، ولې سړی چې د خان بابا په کلام کې د تاريخ نويسې ځينې نمونې وګوري، نو ګوته په خوله حيران پاتې شي چې دا فن هم دخوشحال خان بابا لاس کې و. او نه صرف، داچې هغه پرې پوهېدو، بلکې پوره پوره عبور يې پرې لرلو. د خان بابا پدې فن کتابونه ليکل کېدای شي....)) (۲۱۱)

## ح: اتنوګرافي او اتنولوجي:

د خان اثار له دې پلوه هم غني مواد لري. په تاريخ مرصع کې دخان دبياض ځينې راغلې نوشتې، ددستار نامې ځينې بخشونه او دمنظومو اثارو ځينې يادونې او اشارې، د نن ورځې اتنولوجست او اتنوګرافر ته د کار مواد برابروي. کانديد اکاډميسين محمد ابراهيم عطايي د خان ځينې اثار له دې جهته کتلي دي. (۲۱۲)

## ط: کلتوري انتروپالوجي:

ارواښاد کانديد اکاډميسين محمدصديق روهي په خپله يوه ليکنه کې په دې اړه راوړي دي:

---

(۲۱۱) کاکاخېل دوکتور وقار علي شاه: خوشحال خان ختك او تاريخ نويسي، يونيورستي بك ايجنسي ماستر پرنټرز، پېښور ۱۹۹۲م، ۲مخ.

(۲۱۲) عطايي، کانديد اکاډميسين محمد ابراهيم: د ختکو په ادبي اثارو کې د اتنوګرافيکي څېړنو لپاره د پاملرنې وړ مواد: هجري ياد. دزلمی هېواد مل په زيار، پښتو ټولنه، کابل دولتي مطبعه ۱۳۶۴ هـ ش. ۱۰۳ - ۱۳۴ مخونه.

(( دسواتنامې له لوستلو نه په اسانۍ سره پوهېدای شو چې خوشحال خان د (کلتوري انتروپالوجي) متخصص دی او تر اوسه پورې پښتنو کې داسې شخص نه دی پیدا شوی ، چې دده په اندازه د پښتنو اجتماعي سایکالوجي تشخیص کړي)) (۲۱۳)

د استاد روهي په لوړه اقتباسي ټوټه کې راغلي وو. چې پښتنو لا دخان په سویه بل څوك نه دی پیداکړی چې د پښتنو اجتماعي روان تشخیص کړي . ده ته دخپلې ټولنې او خپلو خلکو روان ډېر ښه معلوم و ،اجتماعي نیمګړتیاوې یې ښې ورڅرګندې وې او ده هم هغه د علامه اقبال خبره بې باکانه او یا په عامه اصطلاح بې هر اسه په خپلو تلپاتې اثارو کې منعکسې کړې.

## ی: بازداري:

موږ دخان د اثارو د معرفۍ په څېرکي کې دده دپښتو او دري څانګړیو بازنامو یادونې ولوستې دغسې په کلیات کې په دې ارتباط دوې قصیدې، دوې پښتو غزلې ، او یوه دري غزله ، هم لري. پدې اثارو کې دباز او نورو ښکاري مرغانو د ډولونو روزلو او ددوی د ناروغیو دعلاج ، ښکار او دې ته ورته مسایلو په باب بیانونه راغلي دي. زموږ دفرهنګ په تاریخ کې دخان دا کار بې سارې دی. دی لومړنی افغان عالم دی ، چې دې مسالې ته یې توجه کړېده او د پښتو لمن ته یې دباز دارۍ مسایل هم ورغور څو لي دي. له دغو اثارو سربېره خان ددستار نامې دهنرونو دبرخې اووم هنر دښکار تشریح ته وقف کړی دی . (۲۱۴)

پروفیسور تقویم الحق کاکا خېل لیکلي وو، چې : (( د هغه (خوشحال) زیات شعف خو د مرغیو د طب سره و او پدې سلسله کې دهغه باز نامه جواب نه لري)) ( دطب نامې مقدمه ، ۷مخ ) خان د بازونو له ښکارسره لېونۍ مینه

---

(۲۱۳) دخوشحال خان خټك دمفکورو یولنډ جاج ، دخوشحال خټك کلیات ، ۲/ پنځم مخ.

(۲۱۴) دستار نامه ، ۵۴-۶۷مخونه .

درلوده او پر بازونو ښکار يې د هر چا کار نه باله. په يوه غزله کې يې ويلي دي:

د بـــازونو ښکـــار دچـــا دی دزردار
هـــم زردار هـــم بـــې پـروا قلنـــدروار
دهغــه سـړي څه کـار دی پـه بـــازونو
چـــې ښــــده دی د درم او د دينـــار
دښکـار کـار پـه مصلحـت پـه سـيالی نـه دي
د ايـو عشـق دی چـې يـې ورکـا کـرد ګار
زه خوشـحال بـه دبـازونو ښکـار پـرې نـږدم
څو ژونـدی يم دا مـې کـار دی دا روزګار

(کليات ، ۱/ ۵۹)

دهمدې مينې له امله يې د بازونو د تربيې لارې چارې په نظم ونثر په پښتو او دري ژبو په بېلا بېلو اثارو کې راوښودلې. د بازونو دناروغيو دعلاج لپاره يې تجربې وکړې او خپلې دغه تجربې يې هم په کتابونو او دفتر ونووخېژولې.

په يو غزل دوله نظم کې يې چې د باز يوه ناروغي او بيا يې دناروغی علاج ښودلی ،نو بيا په پای کې ويلي دي:

دا سـنګتاو کـه د اوبـو سـره بـاز څښينـه
فـايده يـې تجربـه ده د خوشـحال
کـه يـوه ذره لونـګ ،هـم پکـې وينـه
په ښيښـه کـې يـې سـاته پـه مـاه وسـال

## ک ، حربي مسايل :

موږ تاسې پوهېږو چې خوشحال خان ختك په يوه داسې کورنی کې پيدا شوی و، چې د خپلې سرداری ،منصب اوجاګير دساتنې لپاره جنګ ته اړ و. د

وخت د حکومتونو لپاره يې له خپلو او پردو دواړو سره جنګونه کول.سيمې اوقبيلې يې په توره ايلولې. تاسې خپله ولوستل چې خان خپله جنګي سردار و. دحکومت په طرفدارۍ او پر ضد يې په لسګونو جنګونو کې ګدون کړی و.

خان په خپلو اثارو کې هر ځای خپلو جنګي کار روايیوته اشارې لري ، خپلې ماتې اوبرياوې دواړه يادوي ، په جنګونو کې د خپلو ټپونو خبرې کوي او دا وايي چې يو پرهار به مې جوړ نه و، چې بل به راپورې شو. ددې ټولو خبرو مانا داده ، چې خان دخپل وخت د جنګونو په فنونو پوهېده او دجنګ ډولونه اوشرايط ور معلوم وو. ده پخپلوياديښتونو (بياض) او دستار نامه کې دحرب په فنونو او ډولونو هم خبرې کړې دي، او دخان ځېره تر ې ددې فن ديوماهر په توګه راڅرګندېږي.

په دستار نامه کې يو ځای لولو: « درې وجې دجنګ لويې وجې دي: يوصف جنګي ، بل قذاقي ،بل شبخون» دهغه زمان په جنګونو کې د جنګ له دغو روشونو استفاده کېده.

که څه هم خان يو جنګيالی سردار و،خو ددې ترڅنګه د يو پوه او مدبر مفکر په توګه پدې پوهېده، چې هغه کار چې سياست او تدبير کولای شي، جنګ يې نشي کولای. خان يو ځای ويلي دي:

خو په تورو په توبريو په نيزوشي
صد چندان شي په تدبير په هنرونه

(کليات ۱/ ۲۴۷)

## ل، ادبپوهنه :

دخان په اثارو کې موږ ځينې داسې بيانونه او خبرې هم پيدا کولای شو، چې د ادبپوهنې د ځينو څانګو په کالب کې د مطالعې ځای لري. که به موږ د پښتو ادبپوهنې په دغو څانګو کې کار کوو، د خان دغه وړ اثار يې د اساس حيثيت پيدا کوي.

د خان په دستار نامه کې يو بحث دی ( هنر د شعر چې پيرو د علم دی)
پدې بحث کې خان د شعر او د شعر د لوازمو په باب خبرې لري. د شرفي شاعرۍ ژانرونه ، لکه : قصيده، غزل ، رباعي، قطعه ،مخمس ، مسدس او نور را معرفي کوي او تعريفوي.

دپښتو په زړو اثارو کې ماته خپله تر خان د مخه او وروسته تر معاصر دورانه پورې بل داسې اثر نه دی ښکاره چې دا ورې معلومات دې ولري. دخان دا لنډې يادونې په پښتو کې د ژانر پوهنې اساس ږدي.

دغه راز په سواتنامه کې دی د اخوند درويزه د مخزن الاسلام يو نقد ورې اندې کوي، چې دا نقد هم په خپله برخه کې يو پخوانی نقد دی او زموږ د ادبي کره کتنې د تاريخ په پيلامه کې د مطالعې ځای لري. ددې نقد څو بيتونه دا دي:

درويزه چې بيان کړی خپل کتاب دی
نوم يې مخزن الاسرار کړی خباب دی
که يوه مسره په شل بله په سل ده
نامربوطه ناموزونه په ويل ده
قافيه يې لام و دال سره وهلې
په رديف کې يې نون واو سره پيلې
قصيده دبو صيري ترجمه کړې
عربي يې تر پښتو مضحک راوړې
هر هر بيت د قصيدې چې درمرجان دی
په پښتو کې تر اوربشو لا ارزان دی

* * *

مسالې يې نظم کړې په پښتو دي
درته څه وايم چې څه دي د ايستودي

په دا هسې شان کتاب يې مباهات دي
دجامي تر هفت اورنګ ورته ناويات دي
ګنده پز، د ګنده خور سره جوړېږي
خاص په خاص او عام په عام ويل خوښېږي

(سواتنامه ، د کابل چاپ، ادبي څېړني ۲۵۲ - ۲۵۳ مخونه)

د خان په دستار نامه کې د بېلا بېلو علومو او فنونو ، لکه : موسيقي ، نقاشي، شطرنج ، تجارت، تيراندازي ، زراعت او نور و په باب خبرې او بيانونه شته او له دغو علومو او فنونو د خان د خبرتيا او پوهېدنې ښکارندويي کوي . د خان دستار نامه له دې پلوه د څېړنې ډېر مواد لري چې له بده مرغه د چا پام لانه دی وراوښتی . اروانباد کانديد اکاډميسين محمد صديق روهي پر ځای ويلي دي : ((سره له دې چې د دستار نامې له ليکلو څخه د خوشحال خان هدف د مشرۍ د اوصافو او خواصو او د پښتنو دپاره د ليډر شيپ دخصوصياتو بيانول دي، خو په ضمن کې يو زيات شمېر فلسفي ، تربيتي او اجتماعي مسايل طرح شوي دي، چې زياتو څېړنو ته انتظار باسي)) [۲۱۵]

* * *

تر دې ځايه مو د خان پر علمي صلاحيتونو يوه تته رڼا واچوله ، اوس به دخان د اثارو پر فکري ارزښتونو څه خبرې وکړو او دده مفکورې او نظريې به لږ څه وڅېړو.

## ۱ د ښوونې او روزنې نظريه :

دخوشحال خان د ستارنامه کې ډېر مهم او اساسي مسايل بيان شوي دي . اروانباد استاد روهي په خپلو بېلا بېلو مقالو کې د خان دا ډول نظريې څېړلې دي. يو ځای يې کښلي دي:

---

[۲۱۵] روهي ، محمد صديق : د خوشحال د روزنې فلسفه ، د زيري فوق العاده مجله ، ۱۳۵۵ هـ ش ، ۷ مخ.

(( د خوشحال خان دستار نامه د ښوونې او روزنې ټول عمده مسایل ، لکه د ښوونې او روزنې ایډیال او هدف ، تعلیمي نصاب، د تدریس میتود ، د چاپیریال او وراثت موضوع او داسې نور په ډېره عالمانه توګه څېړي....))

استاد روهي ویلي دي چې خوشحال خان د ښونې او روزنې په برخه کې له اروپایي فیلسوفانو سره د پرتلې وړ دی. استاد زیاتوي:

د ساري په ډول انګرېز فیلسوف جان لاك د سپینې لوحې Tabularasa د نظریې په وړاندې کولو سره په فلسفه کې انقلاب راووست . په تعجب سره وینو چې خوشحال خان بابا په همدې وخت کې د سپینې لوحې نظریه وړاندې کړې ده. جان لاك (۱۶۳۲-۱۷۰۹ م ) عقیده درلوده ، چې د ماشوم ماغزه د سپینې لوحې په شان دي او له تجربې نه مخکې په ماغزو کې کومه فطري مفکوره نشته . خوشحال خان ( ۱۶۱۳-۱۶۸۹ م ) وایي: (( د هلك زړه لکه سپین کوره کاغذ هسې دی، هر څه چې پرې وکاږې هغه حرف پرې پرېوزي))د جان لاك جنټلمین د خان د (دستارسړي) سره ورته والی لري.

خوشحال خان په ښوونه او روزنه کې د جنس ،طبقې او اجتماعي-اقتصادي موقف توپیر نه کوي. د خان په نظر بادار او غلام ، نر اوښځه ټول د علم په زده کړه مکلف دي. پدې برخه کې دده نظر یې د کامینیوس له نظر یو سره ورته والی لري.

دغه راز خان بابا د نرانو او ښځو لپاره سره جلا نصاب ټاکي ، تشویق ته هم ارزښت ورکوي او د چاپېریال او وراثت کومه نظریه چې خوشحال خان وړاندې کړې ده ، د استاد روهي په قول دا نظریه د زیاترو څېړنو په وسیله تایید شوې ده. (۲۱۶)

په ښوونه او روزنه کې د خان د نظر یو د څېړلو او د غربي فیلسوفانو له نظریو سره د کتنې په صورت کې استاد روهي یو ځای ویلي دي: (( دخوشحال د ستار نامه څلو معیارونو ته اشاره کوي چې د دستار سړي دپاره لازم شرایط

(۲۱۶) د خوشحال خان د مفکورو لنډ جاج، د خوشحال ختك کلیات ، ۲/ پنځم -اتم مخونه .

ګڼل کېږي. د ښوونې او روزنې د فلسفې په تاریخ کې د پلوتارك (مورالینه) او دکوینټلیان (د بلاغت اصول) چې د محتویاتو له پلوه د خوشحال له دستار نامې سره پوره شباهت لري، د نور ماتیف فلسفي غوره نمونې دي. هماغسې چې پلوتارك، کوینټلیان، کامینیوس او داسې نور د ښوونې او روزنې د نور ماتیف فلسفې په وړاندې کولو سره د فیلسوفانو په حیث شهرت موندلی دی، خوشحال خان هم ددغه لقب مستحق دی....)) [217]

ددې خبرې یادونه ضرور ده، چې خان ته په ځینو نورو ځایونو کې دفلسفي خطاب شوی دی. د مثال په ډول محمد ایازخان چې په خپل ترتیب کړي درسي کتاب (۱۹۴۹ م کال چاپ) پر خوشحال بابا کوم بحثونه کړي دي، یو بحث دی، (فلسفي خوشحال). د استاد روهي او نورو له څېړنو دا راوزي چې خان ته موږ په زغرده د ښوونې او روزنې فیلسوف ویلی شو.

د خان د کلیات له دقیقې مطالعې څرګندېږي چې د خان پر ځینو پارکو د فلسفي افکارو نری شمال لګېدلی دی.

دخان بابا په آثارو کې د جمال دتصور لټون هم د فلسفي نظریو څرك پر لاس راکوي. اروابناد پروفیسور تقویم الحق کاکاخېل په خپله یوه مقاله کې چې (خوشحال خان کا تصور جمال) نومېږي، دخپل عصر پر فلسفه باندې د خوشحال خان د عبور او پوهې خبرې کړې دي. [218] له فلسفې نه د خان خبر تیا، لکه د نورو پوهنو په څېر دده پر ځینو اثارو خپلې اغېزې ښکاره کړې دي. د فلسفي افکارو د بېلا بېلو خانګو له نظره د خان د اثارو کتل هم د یوه تیسس موضوع کېدای شي.

---

(۲۱۷) روهي، کاندید اکادمیسین محمد صدیق: د خوشحال د ښوونې او روزنې فلسفه، ادبي څېړنې، ۲۱۱ مخ.

(۲۱۸) کاکا خېل، پروفیسور تقویم الحق: خوشحال خان کا تصور جمال، خوشحالنامه، ۱۳۱-۱۳۹ مخونه.

## ۲ ملی نظریه :

په مخنیو څپرکو کې مو ولوستل چې خان د خپل ژوند په یوه خاصه زماني مقطع کې له یو فکري تحول سره مخامخېږي، او دده په اصطلاح لویې اندېښنې ورسره پیدا کېږي. ددغسې اندېښنو دعملي کولو لپاره فرهنګي پشتوانه هم ضرور ده. ده د همدې اړتیا په بنا چې لادهند مغلو د رنتهبور په کوټ کې بندي و، د مشری دخصوصیاتو د څرګندولو لپاره یې دستار نامې غوندې یو کتاب وکېښ، چې د استاد حبیبي په قول دده دجهانداری د نظریو ښکارندويي کوي. کله چې له بنده خوشې شو کورته راغی، او هغه وخت راورسېد چې عملي مبارزه پیل کاندي، له نورو مشرانو سره جرګې مرکې وکړي، خلك اتفاق او اتحاد ته راوبولي او د پردو پر ضد توره په لاس میدان ته راووزي. نو یې دخپلې نظریې د تقویې لپاره ځینې داسې اثار نظم کړل، چې دده ملی نظریه جوړوي او دی په افغانانو کې د یو منظم ملي (نشنلستي) فکر بنسټ اېښودونکي په توګه راپېژني.

تر خان دمخه رو ښانیانو هم له مغلي واکمنو سره په توره مبارزه وکړه، خو په نظر یاتي لحاظ ددوی په لاس ته راغلیو کتل شویو اثارو کې لکه د خان هغې څه ځانګړې اشارې نه لیدل کېږي.

د خان په کلیات، سواتنامه او فراقنامه کې مورِ دا وړ یادونې ډېرې پیدا کولای شو، چې دا یادونې په عام ډول دده د ملي نظریې بنسټ جوړوي. زه به دلته دنمونې لپاره څوبیتونه راواخلم:

په یوه ژبه خبرې په پښتو کړو
ولې هیڅ نه شوله یو بل خبر دار

---

د افغان په ننګ مې وتړله توره
ننګیالی د زمانې خوشال خټک یم

درست پښتون تر کندهاره تر اټکه
سره يو د ننګ په کار پټ و اشکار

زه په لويو اندېښنو کې
دی په کور کې دی غران

ومغل وته به نن کړم اټک پوله
ملک به خلاص کړم دمغل له غلاغوله

د یوې رباعۍ په يو نيم بيتي کې يې ويلي دي:

غم د يارانو درد د وطن لري
داهم ځای د تعجب دی که يې وينې
چې مغل کاندي بازيې په افغان

دا لوړ راوړل شوي بيتونه او دده د کلام ځينې نورې برخې په کامل ډول يو ملي (نشنلستي) فکر ارائه کوي.

دلته بايد دا خبره ياده کړو چې په غرب کې د نشنليزم مفکوره د خان له زماني وروسته پيداشوې ده. دوکتور راج وليشاه خټک ليکلي دي: ((د ژبې په بنا د قوميت تصور چې په مغرب کې د فرانس له انقلاب نه پس پيدا شوی دی.... خوشحال خان خټک هغه ړومبنی عالم دی، چا چې په وړومبی ځل د پښتون نشنليزم تصور وړاندې کړو)).

(پښتو ادبي تحريکونه ، ١٦٠)

استاد روهي بيا د خوشحال خان نشنلستي مفکورو په باب وايي چې دا مفکوره يې دايتاليايي هېواد پال مبارز مادژيني له مفکورو نه کمه نه ده:

(دخوشحال خان خټک سواتنامه ، ادبي څېړنې ، ٢٣٣ مخ).

## (۳)انتقادي مفکورې:

د خان په دیوان (کلیات)، سوانامه او فراقنامه کې موږ له ځینو داسې نظمونو سره مخامخیږو چې د خان د انتقادي افکارو ښکارندویي کوي او دا اثار موږ ته راښیي ، چې خان له قضایاوو سره انتقادي برخورد لري. ځینې مسایل په منظم ډول نقد وي.

دده په اثارو کې موږ ادبي نقد ، اجتماعي اوسیاسي او دده پر خپل ځان نقدونه پیدا کوو. په تېر بحث کې مویې د ادبي نقد مساله یاده کړه ، دلته به یې په سیاسي او اجتماعي نقدونواو پر ځان انتقاد خبرې راوړو. دلته زه څو نمونې راوړم:

### الف سیاسي انتقادونه : .

خان د خپل دوران په سیاسي نظام ډېرې نیوکې اوکړه کتنې لري، د باچا اعمال او ځینو درباریانو کړه وړه غندي. زما په پوهه ددغو انتقادي برخوردونو او هجوو تر منځ باید موږ ترپیر قایل شو.

زه له فراقنامې دده ددغه ډول انتقادونو نمونې دلته را اخلم:

يا پاچاه په ځان جهود دی
د مومن ازار یې سود دی
په دا منځ کې داور خدای دی
ورمعلوم د هر چا رای دی
بادشاهان چې ستم ناک شي
په خلل د خلقو ژواک شي
بادشاهان چې نا انصاف شي
خلق خوار په هر اطراف شي
پادشاهان چې بې تمیز شي
چې عزیز وی ناعزیز شي
خدای خبر په دا بادشاه دی
چې گمراه دی ډېر گمراه دی

که رښتیا وایم ابلیس دی
ډک په مکر په تلبیس دی
ظلم کار دی ستم کار دی
نه په زویه نه په پلار دی
ټول ارکان دده ګوډګان دي
تعیین شوي په جهان دي

* * *

پلار تړلی پادشاهي کا
سل ناحقه ګمراهي کا
د داد خواه وزر اهونه
لور په لور او جاړملکونه
سکه وروني قتل کړي
ده یې مال ګنجونه وړي
د سکه و راره عورته
په ستم کړه فضیحته
زر ناسازي زر فساده
دم وهه له عدله داده
په دا هومره رسوایي
دم وهه له پارسایي
الحذر له دې زمان
الامان له دې سلطان
دا بادشاه نه دی بلادی
چې راغلی په دنیا دی

(فراقنامه، د کابل چاپ ۱۳۶۳ هـ ش )

په يوه رباعي کې د درباري خانانو او امراګانو وضعې ته دا وړکره کتنه کوي:

دا چې خانان دي يا امراګان دي
په هند کې ګرځي په هر مکان دي
غوښې هډونه دمظلومانو خوري
زما ترفهمه واړه ددان دي

(ديوان ۲/۱۸۰ )

**ب : اجتماعي انتقادونه** : خان خپله ټولنه او د ټولنې جوړونکي اقشار تر هر چاښه پېژندلي او هغه يې انتقاد کړي. دده کليات او په نورو اثاروکې په تېره سواتنامه کې دا ډول انتقادونو ډېرې ښې نمونې وړاندې کولای شي. دلته يې څو نمونې وړاندې کوم:

دسوات دخلکو کړه وړه داسې ښيي:

چې د سوات په ملک کې ما نيداره وکړه
بل ولس تر يو سفزيو نشته خوار

زورزياتي خود پسندي خصلت د واړو
هر سړی يې طمع خواست وته تيار

که په کور کې .مال دولت لري ستر ګوړی
ملکان يې لا تر نورو دي مردار

حقه چار به د عزيزکاندي ناحقه
که په بدې رشوت مومي يو دينار

خټکی لـه خټکـي نـه رنـګ اخلـي
عالمـان ، شـېخان يـې لا دي نابـه کـار

چې مې وليدل لـه نـورو خـبر نـه يم
ها خـو واړه يـا غوايـه دي يـا حمـار

(کليات ، ۱/ ۶۹)

پښتانـه د بدنيتـي ، د خصومـت دي
پـه حيـا پـه شـجاعت يـې وکـړه شـاش

قديمـي د پښتنـو جـهل ، خـر تـوب و
اوس پـه طمع پـه خـرص دروغـي لـه ميانـه
کـه رښتيـاوايم شېرشـاه دا هسـې نـه و
لکـه مـوږ يـو نـن پيـدا لـه کوهسـتانه

که پـه نـور خلکـو کې ښه سړي مونډل شي
ولـې ښه سـړي بـه لـږ وي افغانـان
د عفريـت دي کـعه دديـو دي کـه ددد دي
د الام لـه نسـله نـه ګنم افغـان
کـه هـر خو ورتـه د پنـد خـبرې وايـې
د پـلار پند يـې هـم نـه لـګي پـه ځان
هـره چـارد پښتانـه تـر مغـل ښه ده
اتفـاق ور ځخـه نشـته ډېر ارمـان
دبـهلول او د شېرشـاه خـبرې اورم
چـې پـه هنـد کـې پښتانـه وو پادشـاهان

شېر، اووه پېرې يې هسې پادشاهي وه
چې په دوى پورې درست خلک وو حيران
يا هغه پښتانه نور وو،داخه نور شول
يا د خداى دى اوس داهسې شان فرمان
که توفيق دااتفاق پښتانه مومې
زوړ خوشحال به دوباره شي په دا ځوان

(کليات ۱/ ۱۵۳-۱۵۴ مخونه )

دا جاهل شېخان ، شېخان نه دي شېطان دي
چې فساد يې پيدا کېږي له تهليله

دا چې وتاته شېخان پيران دي
بد خوا دخلقوبد خوا دځان دي
علم وعمل بويه مرشد د لارې
چې دا يې نه وې واړه سګان دي

(ديوان۲/ ۱۷۲ مخ)

ملا هر ګوره په ځان مغرور يې
بحث جدل کړې په هر چا سور يې
زه دې دننه په حال خبريم
زما په پوهه يوتش تنبور يې

پښتانه واړه بدخوى دي
ګورپه کور کاندي غوزى
بو چې سر کاندي په پورته
بل يې ووهي مغزى

دمغـــــل دســـــــترکوته یــــــې
ای خوشــــحاله نـــــن اغــــــزی

ج: پر ځان انتقاد: خوشحال خان دیوه زړه وراو سترګه ورنقاد په حيث که د نورو اعمالوته کره کتنه کوي خپله ټولنه او خلك راسپړي، دغسې يې خپل ځان هم هېر نه دی. پر ځان هم انتقادونه لري. يوځای يې ويلي دي:

دمغــل نمــک مــې وخــوړ شــېږ پــېړی
مــا د زرو پکــې روغـــې کــړې بــېړی

رعيــت مــې يوســفز يــه، درســت خــتک وو
په عـزت او پـه حرمـت کـې مـې څه شـک و

دمغـــل د پـــاره مـــاتورې وهلـــې
پښتـو بـــه راتـــه کـــړې دېرې ښکنځلـــې

ګـه ورکـز يـه کـه بنـګښ او کـه يوسـف دي
ديوهمـــه د مـــا د تـــبغ پـــه تاسـف دي

پښتانـــه مـــې پـــه زرګونـــه دي وژلي
پـه ســرونو بـه يـې خـېره غوايـه وولښلـې

لا تـــر اوســـه د ســرونو يـــې انبـــار دی
پـه اټـک پـه پـېښور کـې يـې منـار دی

په دوران د اورنګزېب پادشاه په بند شوم
بې تقصيره ، بې ګناهه دردمند شوم

درې ، څلور کاله په بند د اورنګزېب شوم
خداى چې خلاص کړم انتقام ته ناشکېب شوم

نن د وارو پښتنو په ننګ ولاړ يم
دا چې هسې په هر در ، هر درنګ ولاړ يم

چې پښتون شوم په داهسې سپينه ږيره
نور مې خداى مه کړه مغل وايم په خيره

دا پوهېږم چې مغل لره که ورشم
تر اوله به زه لا ، په چار بهتر شم

مخامخ به يو څو ورځې ښه نمانځه شم
پسې شابه حرام خور ګيدى ښکا ښځه شم

په ورتله به بيا خدمت را څخه غواړي
پښتانه چې سره وژنو ديو پرې وياړي

(سواتنامه ، د ادبي څېړنې ، ۲۴۵-۲۴۶ مخونه)
خان له دې لوړه انتقاده سر بېره پر خپل ځان نور انتقادونه هم لري او خپلو ټولو کړوړو ته کره کتنه کوي. دخان دا لوړه کره کتنه د هغو کسانو لپاره ډېر ښه ځواب دى ، چې وايي خان تر نيول کېدو اوبند دمخه دمغلي

دربار منصبدار و ،هغوی ته یې تورې وهلې ،خو کله چې مغلو بند کړ، نویې بیا دعقدې له مخې خپل فکري مسیربدل کړ او د مغلي دربار پرضد شو.

اروانباد استاد روهي پدې برخه کې یوه توجیه لري ، چې زمایه پوهه په زړه پورې ده: ((... هیڅوك دمور له ګېډې نه عالم فیلسوف او سیاستمدار نه زېږېږي بلکې تولنیزشرایط: (روزنه ، طبقاتي او اجتماعي موقف . د ژوند پېښې ناسته ولاړه ، دشعور سطح او نور) د انسان پر شخصیت باندې اغېزه کوي. ډېرې یو زیات شمېر انقلابیون ،له لومړۍ ورځې څخه انقلابیون د نیا ته نه دي راغلي، هر وخت چې دوی سمه اراده پیداکړې ده.له هماغه وخته دکرېدت مستحق دي) (ادبي څېړنې ، ۲۴۵).

دخان د اثارو انتقادي پانګه ډېره ګټه وزه او زموږ د زاړه ادب یوه درنه فکري ذخیره جوړوي د اراپې روش یې کله مخامخ اوسك سیخ وي او کله هم دطنز او ادبي نغښتو په کالب کې . اروانباد لوی استاد پوهاند عبدالحی خبیبي ، دخان د انتقادي اثارو دځانګړنو په باب یوځای کښلي وو: ((دخوشحال دهنر یوه غوره پانګه هغه ده ، چې دې ازاد او دکره کتنې خاوند شاعر د خپل عصر او ضاع او اخلاق اوسیاسته‌او دخلکو کره وره یعنې ځان او جهان دواړه په کره سترګه کتلی او په خپل شعر کې یې په خورا ساده ګۍ اوملاحت او ازاده ژبه اوکله کله په طنزي او هنري توګه هم انتقاد کړی دی....)) [۲۱۹]

د لوی استاد په خبرو کې د طنز یادونه وشوه. دخان د طنزونو او نقدونو په اړه یو وخت ما د استاد اجمل ختك په اردو رساله (پښتو ادب ) کې لوستي وو( ترجمه) : (( طنز اومزاخ او نقد (کره کتنه ) چې د ادب دپرمختللي دوران پیدا واردي ، خوشحال خان یې له نن نه درې نیم سوه کاله مخکې په پښتو شاعري بنسټ ایښی دی)). [۲۲۰] د استاد اجمل ختك خبرې پر خپل

---

(۲۱۹) حبیبي ، پوهاند عبدالحي: دخوشحال خان په شعر کې انتقادي پانګه ، عرفان مجله ، د ۱۳۶۰ هـ ش کال ۳۰-ګڼه ، ۶۴-۶۵ مخونه

(۲۲۰) ختك، اجمل :پښتو ادب ، اټك کی اسپار ، ۱۱۰ مخ.

ځای د اهمیت ورړدي ځکه چې د خان د اثارو دغه ابتکاري اړخ ته يې نظر وراوښتی دی. د خان د اثارو ډېر اړخونه دغسې نوې او ابتکاري خو اوې لري او د نن ورځې له ادبي او علمي معیارونو سره برابر راځېږي.

دخان د اثارو پیاوړي انتقادونه ،چې دخپل قوم ځان ، قبیلې ، کورنی ، تولنې او د وخت حکومت او عمالو ډېر رازونه يې موږ ته پکې رابرسېره کړي دي او پرته له ملاحظې او وېرې يې بیان کړي دي، که ترخه هم وي پرچا بد نه لګي او دیواجتماعي مصلح ، ملي بومیا او یو مشر دپندونو په څېر دمننې اولوستې وړ دي. علامه اقبال لاهوري ، له همدې امله خان ته دحکیم ملت او افغانشناس خطابونه ورکړي وو. علامه ویلي دي:

خوش سرود ان شاعر افغان شناس
ان که بیند باز گوید بې هراس
ان حکیم ملت افغانیان
ان طبیب علت افغانیان
راز قومی دیدو بې باکانه گفت
حرف حق باشوخی رندانه گفت

د خان بابا اثار دومره جامع او پراخ دي ، دومره عام او خاص موضوعات پکې رانغښتل شوي او دومره باریکو او تالیکو نکاتو ته پکې اشارې شوې چې کتابونه او دفترونه يې څېړلو ته په کار دي. دهغه دوران د فرهنګي ،سیاسي او اجتماعي وضعې یو کامل جاج موږ د خان له اثارو اخیستلای شو.

دپېښو او مسایلو په بیان او ارائه کې خان دهیڅ ډول ملاحظې خیال نه دی ساتلی. څه يې چې لیدلي ، کتلي او حس کړي دي ،هغه يې همغسې بیان کړي دي. که به ده دملاحظو خیال ساتلی او یایې څه پټولای نو به يې پر خپل ځان ، خپله قبیله او خپله کورنۍ ډېر شدید او بې رحمانه انتقادونه نه کول.

دی که د مغلو منصبدار و او که بيايې ضد و ، خپل ځان هغسې ښيي ، لکه چې و.

دخان د فکر او نظر جاج اخيستل او دده پر علمي صلاحيتونو بحث کول اسانه خبره نه ده. ما پدې څېړکي کې دخان دخپلو اثارو او خوشحالپوهانو د اثارو پر بنا څو اساسي اوکلي کرښې راوايستلې ، پر فروعاتو او جزئياتو يې لاډېر کار ته اړتيا ده. بويه چې نور ښاغلي دالار پسې ښه وپالي.

# نتيجه او وړانديزونه

دا حاضر کتابګوټی چې په پيل کې يوه سرېزه او بيا په اتو څېړکيو کې دلوی خان خوشحال خان ختک احوالونه له زوکړې او کوچنيوالي تر ځوانی اوبيا تر مړينې پورې لنډ لنډ بيانوي ، دده د منصبداری ، بند او بيا دمبارزې د دوران حالونه هم تر ممکنه حده لنډ راښيي او له هغو بخښنو او لور يينو مو خبروي چې لوی خان خوشحال خان ختک پر خپل فرهنګ کړي دي.

ددې لنډې څېړنې په پای کې ويلای شو چې :

١ / دپښتنو په سياسي تاريخ کې خوشحال خان د يو سياسي اوملي نهضت بنسټ اينبودونکی دی، چې د ا نهضت د روښانيانو په ملي مبارزو پسې جوخت راوتوکېد او د روښانيانو له نهضت نه يې جوت او ځرګند توپيرونه درلودل او د تورې تر څنګ يې دملت ديو ځای کولو اودوی د وينښولو لپاره فرهنګي پشتوانه هم ورته برابره کړې وه.

د خوشحال خان ختک له خپلو ځينو اشارو ، يادونو او د دستار نامې له ليکلو او هدفونو سرې پوهېدای شي چې خان دپښتنو د افغاني حکومت دجوړولو خوبونه ليدل ، حتی دا ارمان يې هم ښودلی که همسنګره ، همدله او همرازه ځوانان ورسره وي د پنجاب نيول هم ورته ببخي اسان کار دی. په هند کې دافغانانو دلرغونيو حکومتونو او پادشاهيوله بيانونو ، د بهلول

اوشېرشاه بيابيا يادونې او دمغلو پر لاس دپښتنو دحکومت نسکورېدلو پر مساله تأسف ، دده د ژورو او لويو اندېښنو ښکارندويي کوي او دا خبره هم دسړي زړه ته غورځوي چې په هند کې د افغانانو دحکومت دبيا احيا فکر هم ورسره و.

۲/ د پښتنو په اجتماعي تاريخ کې دخوشحال خان غونډې پياوړې اجتماعي مصلح اودخپلې ټولنې او خلکو اجتماعي کمبوتيو او روان پوه شخصيت د اسلامي دوران په يو ولسو لومړنيو پېړيو کې بل نه دی تېر شوی.

دخان په اثارو کې چې د پښتنو اجتماعي روان او ددوی اجتماعي ناروغۍ په کوم ډول تشريح شوې او ښودل شوې دي، له بده مرغه چې په دې ځلور سوو کلونو کې يې ډېر جزيي تغير هم نه دی کړی. هغه رواني اواجتماعي ناروغۍ چې د هغه په وخت په پښتنو کې وې حتی، ډ اوسني دوران په تعليميافته دلوړو زده کړو خاوندا و جهانديده پښتون کې هماغسې ليدل کېږي. دبېسواده او کليوال پښتون په برخه کې خو دا پوښتنه هيڅ مطرح کېدای نشي . له دې يادونو دا مساله دسړي ذهن ته پرېوزي چې پښتنو کې د اجتماعي رشد مساله ډېره سوکه روانه ده. ډېر لږ پښتانه ښايي موږ اوس ومومو چې پر هغو ناروغيو نه وي اخته چې لوی خان موږ ته په نخښه کړې دي. دا لاځه کوې، دهند په نيمه وچه کې له مارګلې او د سند هـ د ايالت له حدودو نيولی تر تاميل ناډو اوشرقي بنګاله پورې په مېليونونو خواره پښتون کې د خپلې ژبې اوفرهنګي خصوصياتو له لاسه ورکولو سره سره لاتراوسه دپښتنو د اجتماعي ناروغيو ځينې توکي ،لکه بې اتفاقي ، تربګني اوهنډه ليدل کېږي.

۳/ د پښتنو په لرغوني فرهنګي تاريخ کې دخوشحال خان ختک هسې بل لوی مفکر او د ژوند د چارو دسمون لپاره بل داسې نظر يه پردازنه دی تېر شوی.تر خان دمخه موږ يوبل مفکر هم لرو، چې هغه بايزيد روښان دی،مګردهغه فکر ي چوکاټ محدود دی ، او دعرفان پر محور چورلي. اجتماعي اوملي مسايلو ته که متوجه شوی هم دی هغه دخوشحال خان په

اندازه جامعيت ، صراحت اوپراختيا نه لري. خوشحال خان ته موږ د پښتنو دملي اجتماعي اوفرهنګي سمون د پر ستر نظريه پرداز ويلای شو.

خوشحال خان که له يوې خوا پښتانه اتفاق ، توري ،جنګ او دپردو له يوغه خلاصون ته هڅوي ، ددې تر څنګه دوی اجتماعي پرمختګ ، دژوند ښه والي او ابادۍ ته يې هم پام دی. د سواتنامې زياتره بيانونه دخان د اجتماعي اصلاح دنظريو ښکارندويي کوي. په کليات کې هم موږ دغسې بيا نونه وينو.

۴ / خان ته دخپلې ژبې او خپلو خلکو علمي فقر تر هر چا ښه څرګندو او دا چې ويلي يې وو:

(( چاپې پلو دجمال وانخيست پښتو لاهسې بکره پرته ده))

هسې تشه ياېيزه خبره يې نه وه کړې او په تمام قوت ده د خپل قوم فرهنګي فقر احساس کړی و. په شعوري دول يې خپلې تولې قواوې ددې ژبې دخدمت لپاره په کار اچولې وې. روان پوهان عقيده لري چې شعور بشپړ په کار اچول يو نادر عمل دی. موږ وينو چې خان دخپلې ژبې دفکري هنري او فرهنګي ذخيرې د پياوړتيا لپاره ددغه نادرعمل مرتکب شو.

دوکتور درويش د خوشحال د رواني څېړنې په ترڅ کې يو ځای ليکلي دي (( دشعور د پوره قوت په کار رلوستل هغه نادر عمل دی چې خوشحال ته يې د امتياز تاج په سر کړی دی)) [۲۲۱]

## خان دخپلو شعوري فرهنګي هڅو په نتيجه کې :

- ده د پښتو نظم ذخيره په کمي لحاظ پياوړې کړه اوپه کيفي لحاظ يې دومره زموږ ادبيات ښکلي ، رنګين او له محتوا ډک کړل ، چې د

---

(۲۲۱) دوکتور درويش : د خوشحال نفسياتي څېړنه ، جشن خوشحال ، ۱۰۶ مخ.

خوشحال په برکت موږ د سیمې اوحتی نړۍ له کلاسیکو ادبیاتو سره خان په یوه ردیف کې د ودریدو جوګه یولو.

- پښتو نظم دده د هڅو په نتیجه کې بشپړ شو. ما نادا چې پښتو د خان په شاعرۍ کې دشرقي شاعرۍ کابو ټول صنفونه خپل کړل.
- په نظم او نثر کې یې ځانګړې لارې وایستې، چې د خپلو مشخصاتو له پلوه دپښتو سبکپوهنې په تاریخ کې ساری نه لري. دېر پیروان یې وموندل او پیروانو یې هم دېر ښه زموږ ژبې ته ورکړل.
- خان له فکري او فرهنګي هڅو سربېره خپل زامن داسې وروزل چې زیاتره د وچتې پایې شاعران او لیکوال شول. د پښتو ځولۍ یې له رنګارنګ ګلانو ډکه کړه. یوه مېرمن یوه لور او یو ورور یې هم شاعران وو.
- خان او دده کورنۍ له پښتو سربېره د افغانستان پر بله ژبه (دري) هم اثار وکښل او د هغې ژبې له غني فرهنګ نه یې اثار په پښتو وژباړل. دا دواړه فرهنګونه یې سره نږدې کړل او د افغانستان د قومونو او ولسونو دفرهنګي اتحاد او همکارۍ کوم اساسات چې پخوانیو اېښي وو، روښانیانو ښه وپالل. خان او دده کورنۍ یې په روزنه کې ډېره ستره ونډه واخیسته.

(۵)دپښتنوپه تاریخ کې د خان هسې ګن اړخيز یا څو بعدي شخصیتونه ډېرلږ پیدا شوي دي او که دي هم د ګوتو په شمار دي او هغه نبوغ چې لوی خدای (ج) ده ته ورکړی و، بل چا ته لا زموږ په تاریخ کې دغسې نبوغ نه دی په برخه شوی. زه خپله د پروفیسور طایر له دې خبرو : ((که په حقیقت کې وکتی شي ،نو که په پښتو نخوا کې چېرې هم څوك نابغه زېږېدلی دی، نو هغه د خان علیین مکان د ذات دی)) (روهي ادب، ۲۹۲ مخ) سره سل په سلو کې موافق یم او دا پر زیاتوم ، چې خان داسې نابغه و، چې له خپل نبوغ نه یې دخپل فرهنګ په ګټه ښه استفاده وکړه.

که څه هم دخوشحالپوهنې بنسټ څه کم درې سوه کاله دمخه په پټه خزانه کې محمد هوتك اېښی دی او د نولسمې پېړۍ په دویمه لسیزه کې الفنستن

دا پوهنه په نوې بڼه او نوي رنګ بيا پيل کړه او له هغه دورانه تردې دمه دېرو څېړونکېو او فرهنګي تحليلګرو د خان د جوړ کړي نه زمولېدونکي فکري اوفرهنګي بڼ د بېلابېلو ګلانو او ګلبوټو ننداره کړې او ددې ګلبوټو او ګلانو په وصف کې يې څه ليکلي او ويلي او يا يې دا بڼ خلکو ته تفسير او تشريح کړی دی، خو زما په پوهه دخان له دې بڼه لا د استفادې دېر نور موارد شته او د ګلانو او ګلبوټو او نورو جوړوونکيو توکيو د پېژندنې لپاره يې لا نور کار ته اړتيا ليدل کېږي.

معاصر فرهنګي شخصيت او په خوشحالپوهنه کې د ځينو باريکو نکتو راسپړونکی اروانباد کانديد اکادميسين سرمحقق محمد صديق روهي يو ځای دېريه ځای ليکلي دي: «له علمي تحقيقاتو څخه دا خبره اثبات ته رسېدلې ده، چې دخوشحال په اثارو کې داسې مهم او جالب ټکي شته، چې کېدای شي د غرب له مفکرينو سره دده افکار مقايسه کړو. پدې اساس خوشحال خان ختك نه يوازې د پښتو نخوا مثلي شخصيت دی، بلکې د خپل عصر يو جهاني شخصيت هم ګڼل کېږي. دا د پښتنو ليکوالو او محققانو وظيفه ده، چې ددغه عظيم انسان افکار او اثار د دنيا په مشهورو ژبو نورو خلکو ته هم ورو پېژني» (۲۳۲)

د استاد روهي لوړې يادونې ته په پاملرنه، زما په پوهه په خوشحالپوهنه کې دغولاندې کارونو ته اړتيا ليدل کېږي.

**الف:** که څه هم دنولسمې او شلمې پېړيو په ترڅ کې د خان د اثارو منتخبات دنړۍ په دېرو ژوندېو ژبو ژباړل شوي دي، مګر زما په پوهه په اروپايي عمده ژبو دفراقنامې او سواتنامې او د کلياتو د يو منتخب ترجمې ته نهايي اړتيا ليدل کېږي، دا کار بايد وشي. سربېره پر دې دخان په منثورو اثارو کې د دستار نامې او د بياض د ځينو رسالو ترجمه تر منظو مو هغو هم ضروري ايسي.

---

(۲۳۲) روهي، کانديد اکادميسين محمد صديق: خوشحال پېژندنه په معاصر افغانستان کې، کابل مجله د ۱۳۶۶ کال لومړی ګڼه ۱۹ مخ.

ب: دخوشحالپوهنې د کارونو یوې منظمې ببلیوګرافۍ ته ډېره شدیده اړتیا حس کېږي. که څه هم په ۱۳۵۸ / ۱۹۸۱ م کال ښاغلیو ستوده او مدرسي دغه کار په دریو ټوکونو کې بشپړ کړی دی. خو ما چې هغه وخت هغه ببلیو ګرافي (کتابپوهنه) کتلې وه، نیمګړې راته ښکاره شوه. د اوسني او تاریخي افغانستان دننه ددې ساحې ډېر کارونه پکې نه دي راغلي اوس له چاپه هم څه د پاسه شل کلونه تېرېږي، پدې دوران کې هم د خان په باب ډېر کتابونه مقالې او رسالې لیکل شوې دي. دا اثار باید ګرده پدې نوې ببلیو ګرافۍ کې معرفي شي. دا ببلیو ګرافي باید په یوه ژوندۍ ازوپایي ژبه هم ترجمه شي. دلته باید داخبره هم توضیح کړو، چې خوشحالپوهنه کې دخان په باب له لیکنو او مطالعاتو سر بېره دده دکورنۍ او سبك دپیروانو مطالعه هم شاملېږي. دا کار بویه چې دغه اصل ته په پاملرنه بشپړ شي.

(ج) : د خوشحال خان د درې سوم تلین د بین المللي سیمینار دمقالو چاپ له دوو جهتونو ډېر مهم دی:

اول دا چې دهغه سیمینار تاریخي ارزښت پرې خوندي کېږي او دویم دا چې په هغو مقالو کې ځینې ډېرې عمده مقالې وې چې هغه باید چاپ شي.

(د) : که څه هم ښاغلي دوکتور یارمحمد مغموم خټك (دخوشحال فرهنګ) جوړ کړی او چاپ کړی دی، ددغه کار دسمون اوبشپړتابه لپاره ضرور دی چې زموږ د استاد اکادمیسین پوهاند رشاد جوړ کړی دخوشحال فرهنګ هم بشپړ او چاپ شي. زه د خپل استاد له درانه حضور نه هیله کوم چې له خوشحال څېړونکیو سره دمرستې په خاطر دا کار ژر بشپړ کاندي.

(ه) د کابل پوهنتون، ننګرهار پوهنتون، پېښور پوهنتون کوټې پوهنتون او ګومل پوهنتون په پښتو څانګو کې دې د خوشحالپوهنې کرسۍ تقویه شي. او په نصاب دې یې تجدید نظر وشي. د نویو منابعو او معلوماتو په رڼا کې درسي مواد تهیه شي. د کندهار، هرات او مزار شریف په پوهنتونونو کې که د پښتو دیپارټمنتونه جوړېږي، نو بویه چې هلته هم د

خوشحالپوهنې مضمون په نصاب کې شامل وي ، څکه د پښتو ادبياتو مطالعه بې خوشحال خانه نيمګړې څه چې ناشونې ده.

(و) : دخان پر باب په کښل شويو ،کتابونو ،رسالو، مقالو، او يادونو کې چې کومې تېروتنې راغلې دي، دا تېروتنې بايد يو څوك راټولې کړي او په يو ځانګړي اثر کې يې دې چاپ کړي ، چې نور څېړونکي دخوشحالپوهنې د خارجي منابعو دغه تېروتنې تکرار نه کړي.

(ز) د خوشحال په باب چې د نړۍ په کومو هېوادونو کې مقالې ليکل شوي ، دغه مقالې دې تشخيص ، دنورو ژبو مقالې دې په پښتو ترجمه او ټولې عمده مقالې دې ، په يوه مجموعه کې چاپ شي.

(ح) : د خوشحال فرهنګي ټولنه او د بابا په نامه په اکوړه کې دوه نور موجود انجمنو نه بايد خپل کار ونه له سره منسجم او خپل منځني روابط بايد ټينګ او دوستانه کړي. د بابا د لوړ نامه او دده فرهنګي ميراث دځلولو په برخه کې بايد کار وکاندي.

(ط) د پېښور پښتو اکادمي کې جوړ شوی (خوشحال ريسرچ سل) او ددې (سل) خپرنی ارګان (خوشحال ريويو ) دې بېرته فعال شي او هغه رکود چې د (سل) اومجلې په کارونو کې راغلی و، هغه دې تلافي شي.

(ی) د خان دري ديوان او دري بازنامه دې په ځانګړي ډول ترتيب او چاپ شي . دخان د ورکو اثارو د لټون سلسله دې جاري وساتل شي . د اکوړې شيدو ، تيري او نورو خان خېلو خټکو کتابخانې او د خطي اثارو مجموعې دې وپلټل شي او نا ياب ، ناچاپ اثار دې ځينې راوايستل شي.

(ك) په اکوړې کې جوړه شوې دخوشحال خان ليبرېري بايد دومره بشپړه شي ،چې دخوشحالپوهنې لپاره په خاص ډول او دپښتو ادبياتو لپاره په عام ډول يوازينۍ منبع وي. پښتو خطي اثار هم بايد ورته ورټول شي.

ومن الله التوفيق:

# ماخذونه


(۱) اته ،هرمان : تاریخ ادبیات فارسي، ترجمه ، دکتر رضا زاده شفق . تهران ، ۱۳۵۱ هـ ش.

(۲) ارونووا ، اوگېرس: خوشحال خان،ختك ستر روسي دایرة المعارف مسکو، ۱۹۹۰ م .

(۳) اعتمادي گویا : اشعار دري خوشحال خان ، تنکیالی پښتون، کابل ، ۱۳۴۵ هـ ش .

(۴) الفنستن ، مونت ستوارت : گذارش سلطنت کابل (افغانان ) ترجمه ، محمد اصف فکرت ، بنیاد پژوهشهای اسلامي ، ایران، ۱۳۷۳ هـ ش .

(۵) الفت، گل پاچا : ادبي بحثونه ، پېښور ، ۱۳۷۳ هـ ش .

(۶) انځور ،زرین : د زنځیرونو شاعر ( د اشرف خان هجري ژوند لیك ) ، کابل ، ۱۳۶۴ هـ ش .

(۷) انځور ،زرین : د صدر خوشحال خان ژوند او اثار ، لاهور، ۱۹۹۶م.

(۸) انشأ، دوکتور سهیل: پټې شاعرانې ،شمشاد مجله ، پېښور، ۱۳۷۵ هـ ش .

(۹) انوشه ،حسن : د انشنامهٔ ادب فارسي، جلد سوم، تهران ، ۱۳۷۵ هـ ش .

(۱۰) انیولډسن، جونز : An Introduction To Pakhto ، کوپن هاگن، ۱۹۶۸ م .

(۱۱) بارکزی،حنان : د حنان بارکزي دیوان . د محمد دین ژواك له مقدمې سره ، کابل ، ۱۳۳۶ هـ ش.

(۱۲) بچکا، ژیري: (خوشحال خان) د اسیا او افریقا دلیکوالو فرهنگ ،لومړی ټوك ، پراگ ، ۱۹۶۷ م .

۱۳) بریکوټي ، شبر افضل خان: دپښتو شعر او ادب تاریخ ، لاهور ۱۹۹۵ م.
۱۴) تره‌ی، پوهاند دوکتور حبیب الله : پښتانه ، پېښور، ۱۳۷۷ هـ ش.
۱۵) تره‌ی، پوهاند دوکتور حبیب الله : دپښتو غزل په غنا کې د خوشحال خان ختك برخه ، (ناچاپه مقاله)
۱۶) تره‌ی: پوهاند دوکتور حبیب الله: د خوشحال خان د ظهور اقتصادي او اجتماعي عوامل ، تنکیالی پښتون ،کابل، ۱۳۴۵ هـ ش.
۱۷) تقوی ، نعیم: پشتو کا عظیم شاعر ، کراچي، ۱۹۸۱ م.
۱۸) جاوید، پوهاند دوکتور عبدالاحمد : نگاهی به اشعار دری خوشحال خان ختك، کابل ، ۱۳۶۴ هـ ش.
۱۹) جلال الدین : په پښتو ادب کې د مثنوي پیدایښت تاریخي او تکاملي سیر، پېښور، ۱۳۷۸ هـ ش.
۲۰) جعفري، ضیاء: پشتو ادب ،کراچي ، ۱۹۵۶ م.
۲۱) جیمز دارمستتر: د پښتو نخوا د شعر هار و بهار ، د حبیب الله رفیع په زیار ، کابل ۱۳۵۶ هـ ش.
۲۲) حبیبي، پوهاند عبدالحی : تاریخ مختصر افغانستان، چاپ دوم،پشاور،۱۳۶۸ هـ ش.
۲۳) حبیبي، پوهاند عبدالحی : پښتانه شعراء ، لومړی ټوك، لاهور، ۱۹۹۳ م.
۲۴) حبیبي، پوهاند عبدالحی : د خوشحال خان د جهانداری نظریه ، تنکیالی پښتون ، کابل ، ۱۳۴۵ هـ ش.
۲۵) حبیبي، پوهاند عبدالحی: تاریخچه شعر پشتو ، طلوع افغان ، کندهار ، ۱۳۱۴ هـ ش.
۲۶) حبیبي، پوهاند عبدالحی : دپټې خزانې – دری ژباړه (له پټې خزانې سره یو ځای) تهران – ۱۳۳۹ هـ ش.

(۲۷ حبيبي، پوهاند عبدالحی : دپښتو ادب په تاريخ کې قصيده، کابل ، ۱۳۵۷ هـ ش.

(۲۸ حبيبي، پوهاند عبدالحی : تاريخچهٔ سبکهای اشعار پشتو ، کابل کالنی ، کابل ،۱۳۱۹ هـ ش.

(۲۹ حبيبي، پوهاند عبدالحی : د خوشحال خان په شعر کې انتقادي پانګه ، عرفان (مجله ) کابل، ۱۳۶۰ هـ ش .

(۳۰ پروفيسور حميد الله (صاحب زاده ) : پښتو غزل ، لاهور ۱۹۹۳ م.

(۳۱ ختـَک ، اجمل : لعل او ايرې، پلوشه ، کليزه ګنه پېښور ، ۱۹۹۸ م .

(۳۲ ختـَک ،اجمل : پښتو ادب ، اټک کې اسپار ، (د چاپ کال نه لري) .

(۳۳ ختـَک، افضل خان : تاريخ مرصع، د دوست محمد خان کامل مومند په زيار ، پېښور، ۱۹۷۴ م .

(۳۴ ختـَک ، دوکتور اقبال نسيم: خوشحال خان او جماليات ، پېښور، ۱۹۸۷ م.

(۳۵ ختـَک، دوکتور اقبال نسيم : د خوشحال د فن نظريه ، جشن خوشحال ، لاهور ، ۱۹۸۶ م.

(۳۶ ختـَک ، پروفيسور پرېشان: پښتون کون؟ پشارو، ۱۹۸۴ م .

(۳۷ ختـَک ،دوکتور خالدخان : خوشحاليات ، خوشحالنامه ۱۹۸۰ م.

(۳۸ ختـَک ، خوشحال خان : د خوشحال خان ختـَک کليات، لومړی ټوک ، کابل ، ۱۳۵۹ هـ ش .

(۳۹ ختـَک ، خوشحال خان :طب نامه ، د پروفيسور تقويم الحق کاکاخېل په زيار ، پېښور، ۱۹۸۵ م

(۴۰ ختـَک ، خوشحال خان : دستار نامه ، د پروفيسور پردل خان ختـَک په زيار ، پېښور، ۱۹۹۱ م.

(۴۱ ختـَک ، خوشحال خان : دخوشحال ختـَک کليات، دويم ټوک، کابل، ۱۳۶۹ هـ ش.

(۴۲) ختټک ، خوشحال خان : ديوان خوشحال خان ختټک ، دويمه حصه ، پېښور ( دچاپ کال نه لري)
(۴۳) ختټک ، خوشحال خان : فراقنامه ، د زلمي هېواد مل ، په زيار، کابل ، ۱۳۶۳ ه ش .
(۴۴) ختټک ، خوشحال خان : باز نامه ، دزلمي هېواد مل په زيار ، کابل ، ۱۳۶۴ ه ش .
(۴۵) ختټک ، خوشحال خان : فالنامه دمصحف ، دحبيب الله رفيع په زيار ، پېښور، ۱۹۸۵ م .
(۴۶) ختټک ، خوشحال خان : نام حق ، د همېش خليل په زيار، پېښور، ۱۹۹۶ م .
(۴۷) ختټک ، خوشحال خان : اخلاقنامه ، دهمېش خليل په زيار، پېښور، ۱۹۸۲ م.
(۴۸) ختټک ، خوشحال خان : سواتنامه د همېش خليل په زيار ، پېښور ، ۱۹۸۶ م .
(۴۹) ختټک ، دوکتور راج وليشاه : د پښتو ادبي تحريکونه ، پېښور ، ۱۹۸۹ م .
(۵۰) ختټک ، سرفراز خان عقاب : خوشحاليات ، پېښور، ۱۹۷۵م .
(۵۱) ختټک ، سرفراز خان عقاب : خوشحال نامه ، دزلمي هېواد مل په زيار ، کابل ، ۱۳۶۵ ه ش .
(۵۲) ختټک ، سرفراز خان ، عقاب : تاريخ مرصع د چا دی ؟ پښتو مجله پېښور، ۱۹۶۹ م.
(۵۳) ختټک ، عبدالقادر خان : د عبدلقادر خان ختټک ديوان ، دنورالله ولسپال په زيار ، کابل ،۱۳۶۸ ه ش .
(۵۴) ختټک،عبدالقادر خان : ګلدسته ، د خيال بخاري په زيار ، پېښور ۱۹۸۹، م .

(۵۵) خدیجه بېګم : د خوشحال خان ژوندا و اثار ، (تیسس) ناچاپ ،پنجاب ، ۱۹۴۲ م.

(۵۶) دوکتور درویش : دخوشحال نفسیاتي څېړنه ، جشن خوشحال، لاهور ، ۱۹۸۶ م.

(۵۷) دورن ، پروفیسور برنهارد : پښتو منتخبات (مقدمه ) د محمد صدیق روهي پښتو ژباړه کابل ، ۱۳۵۶ هـ ش.

(۵۸) راورټي، هانري جارج : ګلشن روه ، هر تفرد ، ۱۸۶۰ م.

(۵۹) راورټي ،هانري جارج ، د پښتو ګرامر مقدمه ، لندن، ۱۸۶۰ م.

(۶۰) رسا ، سید رسول : ارمغان خوشحال ، پېښور ، ۱۹۶۴ م.

(۶۱) رشاد پوهاند عبدالشکور : د خوشحال په دیوان کې د ګلستان او بوستان د ورمو څرك، د زرغونې یاد ، د زلمي هېواد مل په زیار ، کابل ، ۱۳۶۲ هـ ش.

(۶۲) رشاد ، پوهاند عبدالشکور : دګلشن روه ،د دریم چاپ مقدمه ، کابل ، ۱۳۵۶ هـ ش.

(۶۳) رښتین ، پوهاند صدیق الله : نومیالي شاعران ، ۱۳۷۰ هـ ش.

(۶۴) رښتین ، پوهاند صدیق الله : خوشحال او د هغه نثر څېړنه ،ننګیالی پښتون ، ۱۳۴۵ هـ ش.

(۶۵) رښتین ، پوهاند صدیق الله : د پښتو ادب تاریخ ، دریم چاپ ، پېښور ، ۱۳۷۷ هـ ش. رښتین ، پوهاند صدیق الله : دپښتو ادبي میتودونه پېښور ، ۱۹۸۸ م.

(۶۶) رښتین ، پوهاند صدیق الله : د پښتو نثر هنداره ، پېښور ، ۱۹۹۲ م

(۶۷) رضا ، پروفیسور ، محمد افضل : دپښتو غزل ، پېښور ، ۱۹۷۸ م.

(۶۸) رضا ، پروفیسور ، محمد افضل: اردو کي قدیم پشتون شعراء ،پشاور ، ۱۹۶۸ م.

(۶۹) رضواني ، میراحمدشاه : بهارستان افغاني، لاهور ، ۱۸۹۸ م

(۷۰) رضواني ،میراحمد شاه : شکرستان افغاني ، لاهور ، ۱۹۰۵ م .

(۷۱) رفیع، حبیب الله : ادبي ستوري ،دویم ټوک ، کابل ،۱۳۵۹ ه ش .

(۷۲) رفیع، حبیب الله : زنځیري ، پېښور ، ۱۹۸۵ م .

(۷۳) رفیع ، حبیب الله : دفالنامه مصحف ،مقدمه ، پېښور ، ۱۹۸۵ م .

(۷۴) روهي، کاندید اکادمیسین محمد صدیق: د خوشحال خان دښوونې او روزنې فلسفه ، ادبي څېړنې ، کابل ، ۱۳۶۰ه ش

(۷۵) روهي، کاندید اکادمیسین محمد صدیق: د خوشحال خټک سواتنامه ، ادبي څېړنې، کابل ۱۳۶۰ ه ش.

(۷۶) روهي، کاندید اکادمیسین محمد صدیق: د خوشحال خټک لنډه پېژندګلوي ، د خوشحال خټک کلیات (مقدمه ) لومړی ټوک کابل ، ۱۳۵۹ ه ش .

(۷۷) روهي، کاندید اکادمیسین محمد صدیق: دخوشحال په اثارو کې دمضمون او شکل تنوع ، زیری (جریده) ۱۳۵۸ ه ش.

(۷۸) روهي، کاندید اکادمیسین محمد صدیق: د امیرکروړ او خوشحال دحماسي شعرونو پرتلنه د امیر کروړ یاد ، د زلمی هېواد مل په زیار ، کابل ۱۳۶۴ ه ش .

(۷۹) روهي، کاندید اکادمیسین محمد صدیق:د خوشحال خان د مفکورو یولنډ جاج د خوشحال خټک کلیات دویم ټوک ، کابل ۱۳۶۹ ه ش .

(۸۰) روهي، کاندید اکادمیسین محمد صدیق: د خوشحال خان د روزنې فلسفه، زیری، کابل ۱۳۵۵ ه ش.

(۸۱) روهي، کاندید اکادمیسین محمد صدیق: خوشحال پېژندنه په معاصر افغانستان کې ، کابل مجله کابل، ۱۳۶۶ ه ش .

(۸۲) زیارتي ، قاضي عبدالسلام : ادبي سوغات ،پېښور ، ۱۳۷۰ ه ش

(۸۳) سعید، سراج الدین او مولوي صالح محمد هوتك: تذکرة الشعراء ،دڅېړندوی عبدالله بختاني په زیار ، کابل ، ۱۳۶۶ ه ش .

۸۴) سنګروال ، شهسوار : د پښتو ادبياتو معاصر تاريخ ، پېښور ، ۱۹۹۷ م.

۸۵) شفق ، مشتاق الرحمن : کلام دخوشحال رنګين دبوډی ټال ، جشن خوشحال ، لاهور ۱۹۸۶ م .

۸۶) شيدا ، فضل حق: د خوشحال خان حماسي شاعري ، پېښورمجله پېښور ۱۹۷۶ م.

۸۷) شينواری ،سر محقق دوست : دپښتو اولسي ادب لاري، کابل ، ۱۳۵۶ هـ ش .

۸۸) کاکا خېل، پروفيسور تقويم الحق: د طب نامه ، (مقدمه) پېښور ، ۱۹۸۵ م .

۸۹) کاکا خېل،پروفيسور تقويم الحق : خوشحال خان کا تصور جمال ،خوشحالنامه پېښور ، ۱۹۸۰م.

۹۰) کاکا خېل ،وقار علي شاه : خوشحال خان خټك او تاريخ نويسي ،پېښور ،۱۹۹۲ م.

۹۱) صميم،محمد اصف: ګام په ګام له خوشحال سره ،پېښور ، ۲۰۰۰ م

۹۲) طاير ، پروفيسور محمد نواز خان : روهي ادب ، پېښور ۱۹۸۶ م .

۹۳) طاير ، پروفيسور محمد نواز خان: جغرافيه دان خوشحال ، خوشحالنامه ،پېښور ، ۱۹۸۰ .

۹۴) دوکتور سيد عبدالله : کلام خوشحال ميں شعر عرب کی جهلك ، خوشحالنامه ، پېښور، ۱۹۸۰ م.

۹۵) عثمان ، دوکتور عارف: خوشحال خان خټك او دده ادبي مکتب ،کابل ، ۱۳۶۱ هـ ش .

۹۶) عمر خېل ، قاضي عبدالسلام : نسب افاغنه ، رامپور، ۱۹۱۴ م.

۹۷) عطايي ، کانديد اکادميسين محمد ابراهيم : د پښتو پر شفاهي داستان يوه څېړنه ، کابل ۱۳۷۰ هـ ش .

(۹۸) عطايي كانديد اكادميسين محمد ابراهيم : دختكوپه ادبي اثارو كې د اتنوګرافيكي څېړنو لپاره د پاملرنې وړ مواد ،دهجري ياد دزلمی هېواد مل په زيار ، كابل، ۱۳۶۴ ه ش .
(۹۹) فرهادي روان ، دوكتور عبدالغفور : امير علي شېر نوايي وخوشحال خان ختك درميدان مشاعره ، امير علي شېر نوايي د زلمی هېواد مل په زيار ،كابل ، ۱۳۶۰ ه ش .
(۱۰۰) كاكړ، پير محمد : دپيرمحمد كاكړ ديوان ، د استاد بينوا په زيار ، كابل ، ۱۳۲۵ ه ش .
(۱۰۱) كامل ،دوست محمد خان: خوشحال ختك (اردو )اداره اشاعت سرحد ، پشارو ۱۹۵۱ م .
(۱۰۲) كامل ، دوست محمد خان : خوشحال خان او د هغوی شاعري ، اتك كي اسپار، د رضا همداني او فارغ بخاري په زيار ، لاهور ، (چاپ كال نه لري).
(۱۰۳) كامل ، دوست محمد خان : دكليات خوشحال خان ختك مقدمه ، پېښور ، ۱۹۵۲ م .
(۱۰۴) كرو، سراولاف : پښتانه ، دالحاج شېر محمد كريمي پښتو ژباړه ، پېښور ۱۳۷۸ ه ش .
(۱۰۵) كيا ، دكتر زهرا خانلري : فرهنګ ادبيات فارسي ، تهران ، ۱۳۶۶ ه ش .
(۱۰۶) لاهوري ، علامه محمد اقبال : كليات اشعار فارسي علامه محمداقبال لاهوري ، به كوشش احمد سروش ، تهران ، ۱۳۴۳ ه ش

(۱۰۷) مارګنستېرن ، ګيورګ : پښتو ادبيات ، اسلامي دايرة المعارف ، لومړی چاپ، ۱۹۶۰ م.
(۱۰۸) محمد اياز خان : پښتو انرزګائيد ، پېښور ، ۱۹۴۹ م .

۱۰۹) مخلص ، علي محمد : حالنامه ، به کوشش نورالله ولسپال ، کابل ، ۱۳۶۴ هـ ش .

۱۱۰) مشتري ، عبدالقدير : فهرست نسخه های خطي پشتوی ارشيف ملي ، کابل ، ۱۳۶۵ هـ ش .

۱۱۱) موتمن ،زين العابدين : تحول شعر فارسي ، تهران ، ۱۳۷۱ هـ ش .

۱۱۲) مومند ، قلندر: پښتو ته د خوشحال بخښنې ،توريالی پښتون ،کابل ، ۱۳۵۰ هـ ش .

۱۱۳) ميلنزي: خوشحال خان، د ختيځو ادبياتو فرهنګ ، لندن، ۱۹۷۴ م

۱۱۴) نورزی ، پوهندوی دوکتور ګل محمد : سريزه د خوشحال ختمك کليات ، لومړی ټوك ، کابل ، ۱۳۵۹ هـ ش .

۱۱۵) نوميالی ،کانديد اکاديميسين محمد انور : دپښتو په کتبي ادبياتو کې د خوشحال دوران ، لېمه ،مسکو، ۱۹۹۹ م .

۱۱۶) نياز، پروفيسور جهانزېب : د ديوان خوشحال خان ختمك د يبا چه ، پېښور ( دچاپ کال نه لري).

۱۱۷) هاشمي : رفيع الدين : اصناف ادب ، لاهور ، ۱۹۹۸ .

۱۱۸) هاشمي ،عبدالقدوس : تقويم تاريخي ، اسلام اباد ، ۱۹۸۷ م.

۱۱۹) هاول اوکرو : د خوشحال خان ختمك اشعار ، پېښور ، ۱۹۸۸ م

۱۲۰) هجري ، اشرف خان : ديوان هجري ( پښتو ) د همېش خليل په زيار ، پېښور۱۹۵۸ م .

۱۲۱) هجري ،اشرف خان : ديوان اشرف خان هجري (فارسي) به کوشش همېش خليل ، پېښور، ۱۹۹۴م .

۱۲۲) همېش خليل: ورکه خزانه لومړی ټوك ،پېښور ، ۱۹۶۰ م .

۱۲۳) هروي ، نعمت الله : مخزن افغاني ، دويم ټوك دسيد محمد امام الدين په زيار ، ډاکه، ۱۹۶۲ م .


PROPERTY OF ACKU
9764

۱۲۴) هوتك ،محمد : پټه خزانه ، دعبدالحی حبيبي په زيار ، دويم چاپ، د دارالتاليف رياست ، تهران ، ۱۳۳۹ ه ش .

۱۲۵) هېواد مل ، زلمی : دغلام محی الدين افغان افکار او اثار ، کابل پوهنتون ، ۱۳۶۰ ه ش .

۱۲۶) هېواد مل ، زلمی : په هند کې د پښتو ژبې او ادبياتو د ايجاد او ودې پړاوونه ، لاهور ، ۱۹۹۴م .

۱۲۷) هېواد مل ، زلمی : دخوشحال خان خټك دفراقنامې مقدمه ، کابل ۱۳۶۳ ه ش .

۱۲۸) هېواد مل ، زلمی :دهند د کتابخانو پښتو خطي نسخې ، کابل ۱۳۶۳ ه ش .

۱۲۹) هېواد مل ، زلمی : فرهنګ ادبيات پشتو ، جلد دوم ، کابل ، ۱۳۶۵ ه ش .

۱۳۰) هېواد مل ، زلمی : دپښتو نثر اته سوه کاله ، لاهور ۱۹۹۶ م .

۱۳۱) هېواد مل ، زلمی : فرهنګ زبان و ادبيات پښتو ، جلد اول ، کابل ، ۱۳۵۶ ه ش .

۱۳۲) هېواد مل ، زلمی : رشد زبان و ادب دری در ګستره فرهنګي پشتو زبانان ، پشاور، ۱۳۷۶ ه ش.

۱۳۳) هېواد مل ، زلمی : خوشحال خان خټك ، و باز نامه نګاری، مجله ، خراسان ، کابل ، ۱۳۶۵ ه ش .

۱۳۴) هېواد مل ، زلمی : فرهنګ ادبيات پښتو ،جلد سوم، کابل ، ۱۳۶۶ ه ش .

۱۳۵) هېواد مل ، زلمی : دپښتو ادبياتو تاريخ، لومړی ټوك ، پېښور ، ۱۳۷۹ ه ش .

۱۳۶) هيوزدپادری : کليد افغانی ، لاهور ، ۱۸۷۲ م .

۱۳۷) يوسفزی،مشتاق مجروح : زرکانی ، پېښور ، ۱۹۹۸ م .

## په دې کتاب کې:

- دخوشحال کورنۍ زوکړه، دکوچنيوالي اونوې ځوانۍ حالونه
- دقبيلې مشر، سرداراومنصبدارخوشحال
- دمغلي امپراتورۍ قيدي خوشحال
- مبارز اوملي اتل خوشحال
- په کړاوونوکې راګيرخوشحال
- فرهنګيالی خوشحال
- ليکوال اوشاعرخوشحال
- مفکر، عالم اوفيلسوف خوشحال

پر عمومي سرليکونو سربېره ترنورو لسګونو عنوانو لاندې د خوشحال بابا پر ژوند، مبارزې، فرهنګي نوښتونو او برياوو رڼا اچول شوې ده. پر خوشحال بابا دليکل شويو اثارو په لړکې دا خورا ډېر مهم اثر دی چې کېدی شي د ژبو او ادبياتو پوهنځي په پښتو څانګه کې د (خوشال پېژندني) مضمون په برخه کې ديوتدريسي کتاب په توګه تدريس شي.

دافغانستان دکلتوري ودې ټولنه - جرمني

VEREIN ZUR FORDERUNG DER
AFGHANISCHEN KULTUR E.V

د خپرونولړ (۳۱)